دافغانستان تاریخي پښتلیک

لومړی ټوک

له تاریخ دمخه بیاد ۱۳۴۱ش ترپایه

دکلونوپه ترتیب

مؤلف

پوهاند عبدالحی حبیبي

خپروونکی

دبیهقي کتاب خپرولو مؤسسه

کابل - دافغانستان جمهوریت

۱۳۵۳ش

پیل

دلوی څښتن په نامه

د افغانستان د اوسنی جمهوریت تأسیس اود افغان اولس د مترقی ژوندانه پیلامه خود۱۳۵۲لمرنی کال دچونګاښ په شپږویشتمه دسه شنبی په ورځ (۱۷ جولای ۱۹۷۳م) ټینګه سوه چی راتلونکی وختونه به یی دافغانستان په نیکمرغی او لوړتیا ډیر روښانه اود ویاړ وړوی .

مګر دالوی ملت اودا هیواد خویو رون تاریخ هم لری، چی په دی کتاب کی یی ما دسیاسی او اجتماعی تاریخ پیښلیك یانیټه لیك ، لـه تاریخه دمخه بـیاد ۱۳٤۱ ش کال ترپایـه پوری دکلونو په ترتیب سره راټول اولنډ کړی دی .

دا یـوازی سیاسی اود جـګړو پیښ لیك ندی، بلکه دلـوی افغان اولس د اجتماعی ژوندانه : یاندی پـوهنی ، ژواك (کلتور) اود هـنر (آرټ) پیښی هم لری، اود خلکو د ژوندا نـه اړخونه گـرده ښیی، او ترمیلاد دمخه له پنځوس زرم کاله هود غسی کال په کال، تر اوسنی زمانی را رسوی اودهرکال داورید لو وړ پیښی، په لنډه توگه څرگندوی .

ددی کتاب دوهم ټوك به هم پر خپل وخت ترتیب او خپور سی .

امید لرم چی دا افغـا نستان آینـده تاریخ به دجمهوریت په سیوری کی ترپخوا لا رون اوداجتماعی سرلوړی او هوسایی سره وی .

کابل، جمال مینه، دوری دریمه ۱۳۵۳

عبدالحی حبیبی

دافغانستان تاریخی پیښلیك

CHRONOLOGY

(۱)

ترتاریخ دمخه

پنځوس زره کاله ترمیلاد دمخه (قبل المیلاد = ق،م)تر٤٠زرو پوری

ـپـــه دره دادل ـهره چخـماخ ـ هزار سم ـدره کور کی دبکری لرغونی دوره (ماو ستیرین) .

دلس زره پنځه سوه اتیایم ق،م شاوخوا :

ـ په قره کمر (خلم) کی دډبری دمنځنی دوری آثار .

داته زره شپږ ســوم ق،م کـال شاوخوا :

ـ په آق کپروك کی داردهزاراوآس دآثارو سره دډبری نوی دوره چی خاورین لوښی لانسته .

داوه زره دوه سوم ق، م کال شا و خوا :

ـ په آق کپروك کی دډبری نوی دوره دخاورینو لوښو سره .

داوه زرم ق ، م کال شا وخوا :

ـ په آق کپروك ـ دیمراسی ـ منډی گك ـ سیستان کی دصیقلی ډبری او خاورینو لوښو او ګلدورکی (کلکو لیتك)

پنځه زره تردری زره کاله ق ـ م :

(دمفرغ دوره په آق کپروك ـدیمراسی منـــډی گـــك ـ سیستـا ن کی دانځور سوو کودرو دوره په منډی گك اوناد علی کی. دبلوچستان په سیدکلا او قلعه گل محمد او دقندهار دمنډی گك په لاندی بر خه کی دلر غونیو کرونکو ځای .

د دری نیم زره کاله ق ـ م شا و خوا :

ـ په دره کور کی د ډبری نوی دوره او دوزي پرستی دوره .

دوه نیم زره کاله ق ـ م :

ـ آریایی خلك په آریانا ویجه کی ـ دآر یك ژبی دوره .

ددوو زرو کالو ق ـم شاو خوا :

ـ دآریائی لېږد (هجرت) لومړی ځپه ـدآس دسپر لو دوره ـ

تاریخی دوره

دیونیم زرو کالو ق ـم شاوخوا:

دویدی مدنیت دوره ـ په ریگو یدکی دپکهت (پښتون) او نو رو افغا نـی قبیلو ذکر ـ دافغانستان دځینو غرو او رودو نو مو نه په ریگو ید کی :

دیوزردوه سوم کال ق ـم شاوخوا:

داوستایی مدنیت دوره ـ دبخـدی زراعتی اوښاری ژوند ـ دپیشدادی شاهی رژیـم بنیاد ـ دفـر دوره ـ دبخدی واره اویما اولوړ بیرغو نه ـ دبیو راسپ سپاك یرغل.

دزرم کال ق ـم شاوخوا :

په آق کپروك ـدیمراسی ـمنډی گك ـنادعلی اونور سیستان کی دمفرغ او داوسپنی داستعمال لر غو نـــی دوره ـ دآریایی لېږددو همه څپه له شمالی افغا نستان د آمو له سیمو تر هند و کشه او جنوبی څنډوته.

د ٦٠٠ ق‌ـم شاوخوا :

دزر دشت پاڅېدنه ـ د ښې مننی اوښی کړنی او ښی وه ینی دوره ـ شپاړس آریایی سیمی ـ په بخدی او آریا ناکی دکاوی (کیان) شاهی کهول ـ او ستائی پهلوا نان ـ د اوستا لر غونی کتاب گیتو نـه ـ داهوره مزده مننه ـ داهریمن غندنه.

٦٥٠ ق‌ـم شاوخوا :

له ٦٥٥ تر ٦٣٣ ق،م پوری فره اوتس ددیوکس زوی دوهـم مـادی پادشاه تر باختر اوآمو پوری سیمی ونیولی .

٥٦٦ ـ٤٨٦ ق، م :

دگوتمه بوده ژوندون .

٥٥٩ ـ٣٣٠ ق،م

دهخامنشی امپراتوری اقتدار .

٥٣٩ ـ٥٣٠ ق ـ م :

کو روش (سیر وس) دکمبوجیه زوی دهخا منشی کهول اوم پا چـا (٥٥٠ـ٥٢٩ ق،م) ټول افغانستان ونیوی‌ع .

٥٢٢ـ٤٢١ ق،م :

په اراکوزی (ارغنداو) او مرگیان (مرو) کی پرهخا منشیانو بانـدی ښورښت. دلومړی‌داریوش هخامنشی شهنشا هی (٢٢ـ٤٨٦ ق،م)

٥٢٠ـ٥١٨ ق،م

د لومړی داریوش ډبرلیك پـه بیستون‌کی چی‌په هغه‌کی دافغانستان دسیمو نومونه یاد سوی دی .

٥١٧ـ٥١٢ ق،م :

دسند ترغاړ وپوری دهخامنشیانو رسیدنگ .

٤٦٥ـ٤٢٤ ق،م :

دلومړی اردشیر دخشیارشا دزوی شاهنشهی .

٤٨٦ـ٤٠٤ ق،م :

خشیارشا اودوهم‌داریوش هخامنشی پاچهانو مستقیما پرگندهارا حکومت لاره چـی شـرقـی پـایتخت ئـی کسپا تورس(پېښور)اوپرو کیلاوتس (چارسده) وه .

٣٣٤ ق،م :

د مقدونی اسکندر دیرغلونو پیل پرآریانا باندی .

٣٣٠ ق،م :

اسکندر په آریاناکی آریه (هرات) درنگیانـه (سیستان) اراکـوز یـه (ارغنداو) ونیول (اکتوبر) .

٣٢٩ ق،م :

د اراکوزیه اسکندریـه (قندهار) ودا نول (جولائی)ممنن د ارغنداود سیمی والی سو.

اسکندر کابل هم‌نیوی (نومبر ـ ٣٢٩ ق،م) اود پسرلی په‌ای کی‌ئی په هوپیان کـی (دقفقاز اسکندریه) ښار ودان کی‌ع .

ساتی بارزانس دهرات ملی‌سردار اسکندر ته‌پورته‌سو ،مگرژرمړکړسو اواسکندر دقفقاز له‌اسکندر پی ځخه رهی سو تر هندو کش و او ښـت باختر ئی ونیوی‌ع اوترآموهم واوښت سغدیانه‌ئی ونیوله (٣٢٨ ق،م) .

٣٢٧ ق،م :

دباختریانو مقاومت داسکندر پـه مقابل کی‌ختم سواواسکندر روښانه دهو خیار لور باختری ملکه واده‌کړه (د ٣٢٧ ق،م مارچ)

اسکندر تر هندو کش او کابل تېر سو، دکنړ اوبا جوړ له‌لاری داباسین

سیمو ته ورسېد د٣٢٦ ق ،م کال په فروری تراټك واوښت .

٣٢٦ ق،م :

اسکندر د تکسیلا ښارونیو اود جیلم ځنډو ته ورسېدی (مـئی) د جولائی په میاشت پورو س(فور) دهند پاچا ورته ایل سو اسکندر د اباسین پرشرقی سیمو باند ی سی سی کوتوس والی کی‌ع اوشر قـی سیمی ئی‌نیکا تور ته ورکړ ی.

٣٢٥ ق،م :

پـه جولائی کـی اسکندر د یبل (اوسنی کراچی ته‌نژدی) ورسید اود گدروزیا (اوسنی بلوچستان) له‌خوا پارس ته ولاړ .

٣٢٤ ق،م :

تـر نیکا تور وروسته فیلپس د اباسین دغربی‌سیموحکمران سوی ؤ خو پـه دغـه کال یونانی سپایانـو وواژه .

٣١٧ ق،م :

ایودا موس یونانی حکمران دهند پاچا پوروس وواژه. د اباسین پـر ځنډو یونانی حکمر انی ختمه سو ه.

٣١١ ق،م :

سیلیو کوس نیکاتور (د اسکندر یونانـی جنرال) اود بابـل حکمران (٣٦٤ـ٣٢١ ق،م) آریانا ونیوله .

٣٠٥ ق،م :

سیلیو کوس دکابل له خوا دابا سین سیمی ته ولاړ، اودهندی پاچاچندره گوپته سره ئی‌صلح وکړه .

گندهاره ـ اراکو زیه‌ـ گدرو زیه ـپاروپا میزاد ئی چندره گوپته تـه پریښوول ، اودیـو دوتس‌ئی پـر باختر حکمران کی اودهندیانو نفوذ تر منځنی افغانستا نه راورسید.

٣٠٠ ق،م :

دچندره گوپته مرگ اودده دزوی بیندوساره دوستانه‌روابط دگندهاره اوپاروپامیزاد له‌خوا له‌سیلیو کوس سـره .

٢٩٢ ق،م :

انتوهید دلومړی سیلیوك زوی د مشرق حکمران سو .

٢٧٣ ق،م :

بیند وساره مـړ سو اودده زو ی اشوکا پاچا سو .

٢٦٠ ق،م :

اشوکا دبودا دین‌ومانه اوخپرولو ته‌ئی ملاوتړله، اوپه افغانستان کی ترقندهار خپورکی‌ع .

٢٥٦ ق،م شاوخوا :

دیو دوتوس‌په‌باختر کی دیونانیانو مستقل سلطنت جوړ کی‌ع ،دگریکو باختری مدنیت خپر یدنه .

٢٥٠ ق،م :

په قندهار کی داشوکا ډبرلیك‌په یونانی اوآرامی ژبو. داشوکادکهول (موریا) سیاسی نفوذ پری سو،خود بودا دین په افغا نستان کی ترلسو پپړیو پوری‌پاته‌سو، دیونانی مدنیت اوخط نفوذ په‌اراکوزیه کی .

٢٥٠ـ ٢٣٠ ق،م :

په باختر کی ددوهم دیودوتوس د لومړی دیود وتوس دزو ی پاچهی.

د ٢٢٠ ق،م شاوخوا :

ایوتید یموس دسغد حـکمران د باختر مستقل پاچا سوتر ١٩٠ق، م پـوری .

د ۲۰۸ ق،م شاوخوا :

دریم انتیو کوس پرپارت حمله وکړه‌اوپه‌هریرودکی‌ئی‌دایو تیدیموس سره هم‌جنگ وکړ‌ه‌اودی‌ئی مات‌کړ‌ه درنگیانه اواراکوزیه‌ئی ونیول .

۲۰۷ـ۲۰۶ ق،م :

انتی اوهید باختر کلا بند کړ‌ه.

۱۹۰ ق،م :

دیمتر یوس دایوتید یموس زو ی دباختر پاچاسو،دده‌سپه سالارمناندر تکسیلا اوهند دگجرات ترخنه‌وپوری ونیول، اوتر ۱۰۰ ق،م پوری دده کهول په‌هندکی حکمرانان وو ، دیمتریوس تراراکوزیا پوری‌ونیول.

۱۸۱ ق،م :

ایوکراتید یس د (باز یلو ز میکا لیوس)په لقب دباختر پاچا سواود باختر دیونانی پاچهانو دریم کهو ل ئی جوړکړ‌ه تر۱۵۵ ق،م پور ی.

د ۱۷۵ ق،م شاوخوا :

دیمتر یوس له‌هند وستانه باخترته راستون سواو دده زوی دو هم‌دیمتر یوس دباختر پاچاومگر ددوی کهول ایو کراتیدیس ورك کی ع.

د ۱۳۵ ق،م شاوخوا :

لومړی مهرداد پارتی پاچا دباختر سلطنت وخابه، اومرکزئی له‌باختره کاپیسا د کابل شمال ته رانقل سو .

۱۳۰ ق، م:

یویه‌ـ چی قبیلی دآمو په شمال کی‌وی ، چانگ‌ـچی‌ـین دچین له‌خوا دهون دامپراتور دربارته استا خی راغی ع.

۱۲٤ ق،م :

پراشکانی دوهم ارتبان باندی د تخار یانو بری‌ـ سکاقبیلو پرهند یرغل وکړ‌ه‌او دانه‌وسیتهین حکومت ئی‌هلته جوړکړ‌ه .دو هم مهر داد ارتبان‌زوی‌اشکانی‌لوی‌په‌چایرسکایانو باندی بری وموند، باختر اوسیستان اوشمالی هندئی ونیول .

د ۱۲۰ ق،م شاوخوا :

په سیستان او اراکوزیه کی د پهلواله قبیلی ځخه د ونونیس سلطنت :

۷۸ ـ۷۵ ق،م

مایوس‌سکایی داراکوزیه(ارغنداو) اوسند سیمی ونیولی ، او سکه‌ئی ووهله ، اوتر تکسیلا پوری لاس وغځا وه .

د ۷۰ ق،م شاوخوا :

یویه‌ـ چی‌یعنی کوشانیان ترآمورا واوښتل اود تخاریانو په کومك‌ئی باختر ونیو .

د ۵۰ ق،م شاوخوا :

دباختری‌یونانیانو مستقل‌سلطنت تردوی نیمی پیړی وروسته دسکا ـ سیتی‌ـ تخاری قبیلو په یرغلونو ختم سو. دسکایی پاچهانواز یس‌ـ ازیایسس دوره ـ

۳۰ـ۲۰ ق،م :

دسکا اوتخاریانو جگړی دپارفیان له اشکا نیانو سره .

۲۹ ـ۲۸ ق،م :

د پارفیان پاچا دوهم فرهاد دسکایانو په‌جنگ کی وواژه سو او دوی درنگیانه ونیوله، چی‌هم ددوی په‌نامه سکستان سو .

(۳)

ترمیلا دوروسته

(م)

٤۰ـ۷۸م

لوی کوشا نشاه کوجو له کره‌کد فیزیس دکوشانیانو شهنشاهی په آریانا کی جوړه‌کړه .

۱۹ـ٤۸ م :

دپهلوا قبیلی گند وفاریس له سیستانه ترسند او پنجابه ونیول ، اودده دربارته دحضرت مسیح‌شاگرد سنت توماس راغی‌ع اوده مسیحی دین ومانه‌اوپه افغانستان‌کی لومړی پلاد مسیحی دین‌اغیزه ښکاره سوه.

۵۰ م:

دگندو فاریس لوی سلطنت دده د زامنو ترمنځ وویشل سو .

۷۸ـ۱۱۰ م:

ویمه کد فیزیس‌دلومړی‌کد فیزیس زوی دکوشانی کهول دوهم لوی پادشاه خپل سلطنت دگنگا ترخنه‌و پوری ورساوه .

۱۲۵ یا ۱٤٤ م:

کنیشکه لوی کونشا نشاه ددنیا

ځلورمه لویه امپراتوری جوړه‌کړه، د دوبی مرکزئی دکاپیسا بگرام‌اودژمی داپیښورؤ. دگریکو بودیك گډ هنر خپریدنه .

۱۵۰م شا خوا:

دبودایی دین اوم وا سو میشره گندهاری په مشری د بودایی ۵۰۰ پوهانو لو جرگه دکنیشکه په‌فر مان په‌کشمیرکی جوړه سوه، دهینه یانه کوچنی مذهب پرځای مهایا نه لوی مذهب‌غوره‌سو. اود کنیشکه په روزنه بودایی دین دارغنداو ترخنه‌و او شمالا ترسیر دریا پوری خپور سو. د بغلان مهاد ژاومندر د کنیشکه‌په فرمان جوړ سو، دپیښور دبودا د کچکول مندر په شا جی ډیری کی جوړسو. دبگرام دشترك پرغو نه‌ی دشا‌ـ لوـکیا معبد جوړ سو .

د ۱۵۱ م شاوخوا :

د دنیا لویه ځلورمه کوشانی امپراتوری دگنگا له‌خنه‌و د خراسان ترپایه اوله بحیره عرب ځخه تر سیر دریا اوختنه‌دکنیشکه ترفرمان لاندی جوړه سوه اوپه همدغه وخت کی کنشکه مړ سو .

۱۵٤ـ۱٦۰ م:

دواسیشکه دکنیشکه‌زوی اودوهم کنیشکه دوره ـدبغلان‌دمهادژد مندر په‌یونانی خطدتخاری ژبی‌ډبرلیك.

د۱٦۹م شاو خوا :

مهاراجه دیوه پتره هو ویشکه د کنیشکه زوی .

۱۸۰ م :

دخوات په خروشتهی لرغون لیك کی دهوویشکه لوی پاچا یادونه. د افغانی کوشانی مد نیت او کلتور جوړ یدنه.

۱۸۲ـ ۲۲٦م

دهوو یشکه مړینه اودواسو شکه (واسو د یوه) پاچهی .

۲۲٦ ـ۲۵۱ م

دساسا نیانو شهنشهی

۲٤۱م

دلومړی شاپور ساسا نی پا چا یرغلونه ترابا سینه،له۲٤۱م تر۳٦۵م پوری دساسانی اقتدار اوږ دیدنه ـپه بامیان کی‌په ساسانی ډو ل دیوالی انځور .دهډی دستو پو هنر دمانی دین جوړ ښت .

۲٦۰ـ۲۷۳ م

دلومړی ساسانی شاپور د نقش رستم په ډبرلیك کی دابگان (افغان) او پسکی باوره (پیښور) یا دونه. دکوشا نیانو دا مپرا توری سقوط.

د۳۵۰م شاو خوا :

کیداره (قیدار)کوشانی شهزادگان له‌کابله ترکشمیره ـ دهفتلیانو ظهور او راوتل.

۳۸۵م:

شاپور ساسانی د گـرو مبـاتس هفتلی پاچا سره روغه وکړه.هفتلیان دجنوب خواته راو خو ځید ل.

۳٦۷ م

کیداره په‌گندهاره کی‌سکه وو هله.

د۳۷۵ م‌شاوخوا :

پیرو شاه د کیداره زوی .

۳۸۰م شاو خوا :

ورهران کیداری پاچا.

٤۲۵م

پرباختر دهفتلیانو بری .شیر مه په‌با میان کی .

٤۵۹ـ ٤۸٤م

پیرو ز د بهرام ساسانی زو ی‌د کیدار یانو سره په شخړو بوخت ؤ او کنگخاس کیداری ته‌یی خپله خور ور کوله خو هغه ونه منله.دکیداریانو پایتخت کاپیسا اوبیا پیښور و .

٤٦۰ م

د هفتلیا نو بشپړ ا قتدار پـر ټول افغانستان اوشمالی هند.

٤۸٤م

دافغانستان د هفتلی دو لت‌مقابله له ساسانی شا هانو سره ـ خشو نور هفتالی لوی پاچا ساسانی‌پیروز مات کیء اوپه جنگ‌کی‌وواژه سو .د پیروز لورخشو نور وکړه شیـر ی با میکان په بامیان او خودویه کـه کابلشاه په کابل کی .

٤۸۸م:

ساسانی کواذ دا یرا ن پر تخت کښینو ست اوهفتلیانو ته‌یی ججـه ور کوله .

٤۹۹م

کواذ چی‌هفتلیانو ته‌یی پناه‌راوړی وه ددوی په مرسته بیا دپارس‌تخت ونیو یء.

۵۰۰م

توره من‌هفتالی زاو لی‌پاچا ټـول افغانستان او شمالی هند ونیـول هندی پایتخت یی سکله (د پنجاب اوسنی سیا لکو ټ)و. سپاله پتـی کابلشاه .

۵٤۰م:

مهیره‌کوله د توره من زو ی پر ټول ا فغانستان اوشمالی‌هند پاچهی کوله په هندکی دده سخت جنگو نه او په ۵٤۲م کی دده مړینه .

۵۵۰م شاوخوا :

په هندی کتاب بهر یته سمه یته (۱۱ر٦۱) او (۱٦ر۳۸) دوه ره هه میهیره تالیف کی او ه‌گه نه(افغان) یا دسوی دی . پد مه‌کابلشاه.

۵٦۸م

د هفتلیانو دلوی دو لت سقو ط. .دنیز کانو اوپیغوانو اور تبیلانو او کابلشاهانو اقتدار . و که د یـوه کابلشاه .

۵۸۸ـ ۵۸۹ م:

د بهرام چوبین جنگ له‌ترکانـو سره .

٦۰۰م

په افغانستان کی ملوك طوایف:د روزگان ،جغتو ،گومل، کوشانی او هفتلی شاهزادگان. دغزنی لویکان ـ کابلشاهان ـدزابل‌رتبهیلان ـنیزکان ـ پیغوان ـ سوریان ـدبامیان شیران ـ دغرستان شاران ـتگینان ـپه‌شمالی افغانستان کی دری ژبه ـپه غربی افغانستان کی‌پهلوی ژبه ـ په‌شرقی افغانستان کی دد ری شر قی‌لهجه (تخاری) ـ د پهلوی ـیونانی ـسره داناگری لیك دودو نـو روا ج ـ د بو دایی‌او زر د شتی عقاید و گډون. په‌غور اوکسی غره‌کی دپښتوځرك .

٦۳۰م:

هیون ـتسنگ چینی گر زندوی له سمر قنده په (۲۰) مارچ‌خلم او په (۲۰) اپریل بلخ او په(۳۰)اپریل با میان ته راغی او تر د سمبرپوری له اباسین څخه‌تیرسو . دی د هندله خوا بیرته پر ا فغانستان راغی ا وپه ۲۰جون ٦٤٤ مداو ـپو ـکین (افغان) سیمه د بنو او غزنی ترمنځ یادوی او دا د نقش رستم ترډبرلیك ا و بهریته‌سمهیته وروسته د (ا فغان) دریم ذکر دی .

هیون ـ تسنگ په هم د غه کال (۸ستمبر٦٤٤م)بد خشان‌ته ورسید اوپه ۱۲ ستمبر ترپا میر تیـر او یارکند او ختن ته ولاړ .

اسلامی دوره

خلافت

۶۳۹ ـ ۶۴۲ م ۱۸ ـ ۲۲ ق

احنف د قیس زوی په‌ختیه تمیمی دیز گرد په تعاقب دطبسین له لاری خراسان ته راغی او هرات ئی ونیو. د رتبیلانو کهول په زابلستان کی تر ۲۵۸ ق پوری . دلو یکانو کهول به غزنی او گردیز کی تر ۴۰۰ ق .

۶۴۲ م ۲۲ ق :

عبد الله بن عامر دکرمان له خوا د حضرت عمر فاروق په امر پـــر سیستان راغیء او دده اسلامی لښکر تر قندهار او سنده ورسید ه.

۶۴۴ م ۲۴ ق :

د اسلامی لښکرو او رتبیلا نـو مقابله په سیستان او هلمند اوزابل کی .

۶۴۵م ۲۵ق شاو خوا :

د عبد الله بن عامر عربی لښکرو کابل کلا بند کیء دلته کابلشا هانو اقتدار لاره .

۶۴۸ م ۲۸ ق :

عمیر بـن عثمـان د خرا سان حکمران .

۶۴۹ م ۲۹ ق :

عربی سپه سالار مجاشع بن مسعود جنوبی افغا نستان اوگرمسیر ونیوی او ربیع بن زیاد سیستان لاس ته راوړ .

۶۵۰م ۳۰ق:

عبد الله بن قیس دخـرا سـان حکمران سو ،عبدالرحمن بن‌سمر ه دهلمند سیمی ونیوی اوپه زمینداور کی د زون (زور) معبد ونړا وه .

۶۵۱ م ۳۱ ق :

یزد گرد په مرو کی ما هوی سوری ته پناه راوړه او دیوه ژرنده گری په لاس مړ سو .له دهسره دساسانی کهول پا چهی سوه .او اسلا مـی حکمران احنف بن قیس پرمرو باندی بری وموند .

۶۵۲ م ۳۲ ق

باذان دهـرات او فـو شنج او بادغیس پاچا دعربی حکمران عبدالله بن عامر سره دروغی معاهده وکړه او یو ملیون درهمه ئی ورکړه .

احنف بن‌قیس بلخ او طخارستان او سمنگان او گوز گانان او تالقان ونیول ـ دغسی هم خالد بن عبدالله هرات او باد غیس اوغور او سرخس او ټول خراسان ونیو ، که څه هم هراتی قارن ولاړ سو خوعبدالله بن خازم دی وځابه .

۶۵۳ م ۳۳ ق :

اپرو یز دسیستان د زرنج پـاچا عربوته تسلیم سو اودوی دا سلا م خپر ولو ته دلته ملاوتړ له .

عبد الرحمن بن سمره د حضرت عثمان په فرمان دسیستان والی سو، او داسـلام دتبلیغ له پاره ئی حسن بصری او نور فقیهان له ځانه سره راوستل ، د زرنج دمسجد آد ینـه محراب ده جوړ کیء .

د ۶۵۵م۳۵ق شا وخوا

په غور او مرو کی دماهوی‌سوری پاچهی .

۶۵۶م۳۶ق :

ثاغر بن دعور عربی سالار تـــر قیقان (دبلو څو قلات) پوری و لاړ. او عبدالرحمن بن سمره کابل ونیو، او کابلشاه ایل سو .

په غور کی دشنسپ ابـن خرنك امارت .

خلید بن کاس دحضرت علی لـــه خوا دخراسان حکمران سو .

د ۶۶۰م۴۰ق شا وخوا :

سرود کر کوی د دری ژبی‌پخوانی شعر .

۶۶۱ـ۷۴۹ م ۴۱ـ ۱۳۲ق :

دعربی اموی خلافت دوره ـ قیس بن هیشم سلمی دبادغیس له لاری بلخ ته ورسید او دنوبهار معبد ئی وران کی ء . عطاء خشك دبلخ‌پررود دری پلان جوړ کړه .

۶۶۴م ۴۴ق :

عبدالرحمن بن سمره بیا کا بل ونیو ابو رفاعه تمیم بـن اسیـــد (صحا بـی) په کابل کـی شهـید سو (؟)

مهلب بن ابی صفره د کا بل او پیښور له خـوا تر بنـه او لا هور (دابا سین تر غاړی) پوری ولاړ، او دملتان له خوائی دبلو څو قندا بیل او قیقان (قلات) ونیول .

له ۶۶۷ څخه تر ۷۲۷ م ۴۷ تـر ۱۵۶ق پوری :

په سیستان اوزابلـ متان‌اوجنوبی افغانستان کی دعر بو اور تبیلا نـو آخری جنگونه او دټول افغانستان پرسمو سیمو تر ابا سین پو ری د اسلام خپریدنگ .

۶۶۷ م ۴۷ ق:

خلید بن قره یر بو عی د حضرت علی له خوا او بیا خلید بن عبدالله حنفی دخراسان حکمران سو .

۶۷۱ م ۵۱ق :

ربیع بن زیاد حارثی دخراسا ن حکمران سو .

۶۷۳ م ۵۳ ق:

دعبید الله بن زیاد او دعباد بـن زیاد یر غلونه پر هلمند او قند هارـ دقندهار دجگو تیش خو لیو تقلیـد او هغه (عبادیه) بلل .

۶۷۴ م ۵۵ ق:

عرب لومړی پلاتر در یای آ موتیر سول .

۶۷۶ م ۵۶ ق:

سعید بن عثمان‌بن عفان دخراسان حکمران .

۶۷۷ م ۵۸ ق:

عبدالرحمن بن زیاد بن ابی سفیان دخراسان حکمران .

۶۸۰م۶۸ق:

سلم بن زیاد دخراسان حکمران ؤ او دکابل خلکو سـر واخیست او یزید بن زیاد ئی مړ کیء نو طلحـة الطلحات ورته را و لیږل سو .

۶۸۱ـ ۶۸۳ م ۶۲ ـ ۶۴ ق:

سلم بن زیاد دخراسان حکمران ؤ او عر بو پرما وراء النهر لومړی‌حمله وکړه .

۶۸۳ـ ۶۸۸م۶۴ـ شصت‌نو ق:

عبدالله بن خازم پر خرا سان او عبدالعزیز بن عبدالله پر سیستـان

وگمارل سوه ـ رستم بن مهرهر مزد مجوسی متکلم په سیستان کی و .

۶۹۰ـ۶۹۱م ۷۱ـ۷۲ ق :

بگیر بن وشاح پر خراسان حکمران سو .

۶۸۹ـ۷۰۴ م ۷۰ـ۸۵ ق :

موسی بن عبدالله بن خازم په ترمذکی حکمران و .

عبید الله بن ابی بکره د سیستان والی سو او هلته در تبیل او سیستانیانو سره دده لښکرتباه‌سول چه (جیش الفنا) ئی وبلل .

۶۹۱م ۷۲ ق :

وکیع بن عمیره دعبدالملك اموی خلیفه له خوا پر خراسان و گمارل سو ، دد عبدالله بن خازم پخوانی حکمران وواژه ، او دامویانو اقتدار په خراسان کی ټینگ سو .

۶۹۷ م۷۸ ق:

مهلب بن ابی صفره د حجاج له خوا بلخ ته راغیء .

۶۹۹م ۸۰ق :

جیش الطوا ویس (آراسته‌لښکر) دعبدالرحمن بن محمد سره پر سیستان راغلل او ټول زابل اوکابل ئی ونیول ـ شادیبغو په تخار کی. دامام ابو حنیفه نعمان بن ثابت تولد

۷۰۱ م۸۳ ق :

دمهلب بن ابی صفره وفات دمرو په زاغول کی .

۷۰۳م۸۵ ق:

مفضل بن‌ابی صفره دخراسان امیر باد غیس ونیویء . رتبیل‌دزابل پاچا عبدالرحمن عربی یاغی حکمران ونیو او حجاج ته ئی وسپاره .

۷۵۰م۸۶ق تر۷۱۵م ۹۶ ق :

قتیبه بن مسلم دخراسان والی سو او ټول خراسان او ماوراء النهر ئی فتح کړه . په ۸۶ ق کال کی صالح بن عبدالرحمن سیستانی‌کاتب دیوان او دفتر له پهلوی څخه عربی ته را واړاوه .

۷۰۸م ۹۰ ق:

قتیبه عربی حکمران داشکمشت‌په در شیان کلی کی لومړی مسجد جوړ کیء .

۷۰۹م ۹۱ ق :

قتیبه پر تخارستان حمله وکړه او دنیزك لښکر ئی په تالقان کی مات کړه .

۷۱۱م ۹۳ق :

محمد بن قاسم سند فتح کیء .

۷۱۲م ۴۹ ق :

عربو خوارزم او چغانیان و نیول او شرقی تر کانوسمر قندواخیست.

۷۱۳م ۹۵ق :

دقتیبه لښکر بیو نگ شاش او فرغالی ته . په بخا را کی لومړی مسجد جوړ سو . محمد بن قاسم ملتان ونیو .

۷۱۵م ۹۶ق :

په خراسان او ماوراء النهر کی دقتیبه بن مسلم با هلی تر قیادت لاندی ۵۴زره‌تنه عربی لښکر وو چی د (۷) زرو عجمی موالیو قوماندان ئی حیان خراسانی ژاو ده خلك پر عربو پارول .

قتیبه له اموی خلافته یاغی سو او په فرغانه کی دوکیع په وسیله وواژه سو .

۷۱۷ـ۷۲۰م۹۹ـ۱۰۲ق :

په خراسان کی د آل علی (رض) دشیعیانو غور ځنگونه او دحضرت یحیی بن زید راتگ . جراح بن عبدالله حکمی دخراسان حکمران سو .

۷۱۸م ۱۰۰ ق :

ابو مسلم عبدالرحمن دمرودماخان دبنداد هر مز زوی و زیزید ی‌دعلی بن مجاهد کابلی لوی محدث او فقیه ژوند ـ و جویرلویك په غزنه کی ـ هو په بامیان کی .

دآل عباس لومړنی دعوت خراسان ته را ورسیدیء .

۷۲۰ـ۷۲۱م ۱۰۲ـ ۱۰۳ ق:

پر خراسان دسعید بن عبدالله حکمرانی او ددهقا نا نو غورځنگ.

۷۳۴م ۱۰۶ق :

دبلخ په برو قان کی داعرا بو خانه جنگی ـ دخالد بن عبدالله قسری حکمرانی له ۱۰۵ تر ۱۲۰ ق پوری . دضحاك بن مزاحم‌بلخی‌مفسر او محدث وفات . دشیخ سعیدمقبری وفات او ښخیدل په بلخ کی .

۷۲۵م ۱۰۷ ق :

اسد بن‌عبدالله د خراسان‌حکمران په غور او غر جستان کی دهغه ځای پاچا نمرون مسلمان کیء .له‌بروقانه بیرته مرکز بلخ‌ته رانقل سو، او دا ښار بیا ودان سو . یزید بن‌عریف دا ښار بیا ودان سو . یزید بن‌عریف پر سیستان حکمران او معمربن عبدالله دسیستان قاضی سو .

۷۲۶م۱۰۸ق :

دبلخ دعربی حکمران اسد بن عبدالله په غندنه لی دبلخیا نو یو دری شعر .

۷۲۷ـ ۷۲۹م ۱۰۹ـ ۱۱۱ ق :

اشرس‌بن‌عبدالله سلمی دخراسان حکمران ؤ، اورباطو نه جوړ سول ـ بو حریر بن عبدالله لوی محدث او عابد دزرنج قاضی سو .

۷۲۹م ۱۱۱ق :

عبدالله بن ابی برده د زرنج لویه مصلا په در پارس کی جوړه کړه .

۷۳۳م ۱۱۵ق :

په خراسان کی کاختی .

۷۳۵ـ۷۳۸م ۱۱۷ـ۱۲۱ق :

پر خراسان داسد بن عبدالله حکمرانی ، دی په بلخ کی مړ سو.

۷۳۵م ۱۱۷ق :

دابو عبدالله نافع کابلی محدث او فقیه وفات .

۷۳۶ـ۷۹۷م ۱۱۸ـ ۱۸۱ ق :

دلوی محدث او عالم عبدالله بن مبارك مروی دژوند دوره .

۷۳۶م ۱۱۸ ق :

دمر جئه فرقی دمشر حارث بن سریج قیام .

په بلخ کی داسد آباد جوړ و نه دمکحول بن سهراب کابلی فقیه او محدث وفات .

۷۳۸ـ ۸۴۸م ۱۲۱ـ ۱۳۱ق:

پر خراسان دنصر بن سیار حکمرانی .

۷۴۱ م ۱۲۴ ق :

ابو مسلم کوفی ته ولاړ او په مکه کی دامام ابراهیم عباسی مرید سو، او دال عباس دعوت شروع سو .

۷۴۳ م ۱۲۵ ق :

په بلخ کی دلوی مسجد جوړول

امام یحیی دزید زوی دجو ز جا ن د ار غوی په کلی کی دشعبان پـــه میاشت په جنگ کی دنصر بن سیار لښکر وواژه .

۷۴۵ ـ ۷۴٦ م ۱۲۸ ـ ۱۲۹ ق :

په مرو کی د حارث بـن سر یج بل بغاوت او دده مرگ . جهم بـن صفوان خراسانی دجهمیه مذهبـــی ډلی مشر چی په دغه غور ځنگ کی شریك ؤوواژه سو .

۷۴٦ م ۱۲۹ ق :

عبدالله بن معاویه دابو طالب له کهوله چی په مد این او اصفهـا ن کی را ولا ړ سوی ؤ ، تـرما تـــی وروسته خراسا ن ته راغی ، او پـه هرات کی ووژل سو همدلی ښخ‌دی.

۷۴۷ ـ ۷۵۵ م ۱۳۰ ـ ۱۳۷ ق :

پر خراسان دابو مسلم داقتـدار دوره .

دبلخ دهند وان کلا جوړ و ل د ابو مسلم له خوا .

دمرو په ما جان کی دارا لا مـاره جوړول.

دنشا پور دلوی مسجد بنا ـ

په غورکی دامیر پو لاد بن‌شنسب امارت .

۷۴۸ م ۱۳۷ ق :

ابو اسحاق ابراهیم بن میـمو ن مروزی خراسانی محدث وواژه سو.

۷۴۹ م ۰٦۸ م م ۱۳۲ ـ ۲۰۵ ق :

دعبا سیانو دخـلا فـت دوره او پر افغانستان باندی ددوی نیغ حکم‌ـ ابو مسلم په کوفه کی دعباسی‌کهول خلافت اعلان کیء ۱۳۲ق .

دابو مسلم سره دغور دامیرپولاد ملگری ۱۳۰ق .

۷۵۰ م ۱۳۳ ق :

~~عبدالرحمن بن مسلم) په نامه سکه~~

ابو مسلم په مروکی د (ابو مسلـم ~~وهله~~. عبدالرحمن بن مسلم په نامه سکه ووهله

دعطا بن ابی‌مسلم خراسانی‌محدث او مفسر وفات په بیت المقدس کی (ولادت ۵۰ ق) .

۷۵۱م ۱۳٤ق :

مسلمانانو چینی اسیران راوستل او له دوی څخه ئی د کا غـذ جوړول زد ه کـړ ه . تگین شاه خـراسا ن شاه .

۷۵۲م ۱۳۵ق :

مقاتل بن حیان بلخی محـدث او مفسر په گردیز کی وفات او ښـخ سو .

دعطا بن میسره بلـخی محـد ث وفات په بیت المقدس کی .

۷۵۲م ۱۳٦ ق :

ابو مسلم دحج په سفر ولاړ .

۷۵۵ م ۱۳۷ق :

خلیفه منصور دوانیقی ابومسلم وواژه او په خـراسان کی فـیرو ز سنباد زرد شتی دده په کسات کـی دهرات له اهروانه کلی څخه راولاړ سو ، خو جهور بن مرارعجلی‌دبغداد دخلافت له خوا دده شپیته زره اتباع او دی ووژل .

۷۵٦ـ۷۷۰ م۱۳۹تر ۱۵٤ ق:

جهان پهلوا ن امیر کروړ دامیر پولاد غوری زو ی دشنسب سـوری له کهوله خپله پښتو حماسه (قدیم ترین شعر) ووایه .

۷۵۷م ۱٤۰ق :

په مرو کی دسپین کا لیو خلکـو

بلوا دسعید جولاه په مشری او دابو دا ؤد خالد مړینه .

۷۵۸م۱٤۱ق :

په خراسان کی دراوند یـــا نو بلوا دابو مسلم دوژلنگ په کسا ت کی .

۷۵۸ـ۷۵۹م ۱٤۱ـ ۱٤۲ ق:

براز بنده دسپین بیرغ سـره د عباسی کهول څخه سر واخیست ، خو دجنگ پرډگرپه ٦ ربیع الاول‌ـ ۱٤۱ق وواژه سو .

په سیستان کی دحضین بـــن رقاد ولاړیدنگ .

دبلخ دقاضی متوکل بن حمـران شهادت په بلخ کی .

۷٦۰ـ۱٤۳ق :

دابو مجاهد علی بن مسلم کا بلی مشهور فقیه او عالم او دری قا ضی او دابو حنیفه دشیخ دژوند وخت .

۷٦۱م ۱٤٤ق :

له متصور خلیفه څخه دبست او قندهار خلك یاغی سول او دزهیـر بن محمد ازدی سره ئی‌سخت‌جنگونه وکړه .

ابو عثمان عمر و بن عبید کا بلی محدث او مفتی او شیخ معتزلـه او مفسر وفات سو .

۷٦۷م ۱۵۰ذ:

مقاتل بن سلیمان مروزی چـه د قرآن تفسیر ئی په بلخ کی لیکلی ؤ تر دنیای تیر سو ـ

ابو حاتم بلخی او کنکه له هندی څخه کتاب السموم په پهلـو ی را واړاوه .

استاد سیس هروی له باد غیسه دحریش سیستانی په ملگری راولاړ سو ، عربی لښکرو او یازده تنه د سیس ملگری ووژل ، دی په بغداد کی ووژل سو ، مرجیله ښکلی لور ئی هارون خلیفه و کړه چه دمأمون موروه .

٦۹۹ـ ۷٦۷م

۸۰ـ۱۵۰ ق:

دابو مجاهد علی بن مسلم کا بلی مشهور فقیه او عالم او دری قاضی او دابو حنیفه دشیخ دژوند وخت .

~~۷٦۷م۸۰ـ۱۵۰ق~~

عباسی والیانو په نشا پور کـی په‌خپل نامه سکه ووهله .

روسی سودا گرانو دبیز نتین او بغداد او پارس او کرمان او جنوبی افغانستان له لاری دسند او هنداو چین تجارت کاوه .

۷٦۷م ۱۵۰ ق :

ابوالجارو دزیاد بن منذرخراسانی شیعی فقیه او دحضرت امام محمـد باقر دتفسیر راوی وفات سو .

په سیستان کی دمحمد بن شداد لغیری او آذرویه بن مرزبان‌زردشتی ولاړیدنگ ـ

دمعن بن زایده راتگ او تر رخج (ارغنداو) پوری پر مختگ

سیستانیانو په ۱۵۱ق دده نس ور ځیری کیء .

۷٦۹م ۱۵۲ق :

په ویهند کی دبدهـ دمعبـد پـر ځای مسجد جوړ سو .

۷۷٤م ۱۵۸ق :

دمقاتل بن سلیمان بلخی محدث وفات په آبادان کی .

۷۷۵م ۱۵۹ق :

په سیستان کی دخارجی نوح ولاړیدنه او دحمزه بن مالك په لاس محو کیدل .

امام حسین بن واقد دمرو قا ضی او ابو غانم یونس مروزی قا ضی مړه سول .

۷۷۶م۱۶۰ق:

یوسف البرم خارجی په میمنه مرغاب او پو شنج کی راولا ړ سو عربی حکمران یزید بن مزید د ی ونیوی ، او په بغداد کی ووا ژه سو .

خاقان لویك په کردیز کی ـ

امیر ناصر بن امیر کرور سوری په غور کی .

۷۷۷م ۱۶۱ ق :

دهاشم بن حکیم (مقنع) ولاړیدنه (دمرود کازه له کلی ځخه) په هرات او بادغیس او مرو کی دده د سپین کالیو انقلا بیانو ښورښتونه ، چی دیرش زره تنه ئی په ماوراء النهر کی ووژل سوه (۱۶۳ق ۷۷۹م) .

۷۷۸م ۱۶۲ق :

ابراهیم بن ادهم بلخی مشهور صوفی او زاهد دروم په سوفنن کی مړ سو .

۷۷۹م ۱۶۳ ق :

دامام ابراهیم بن تهمان با شانی لوی هروی محدث په مکه کی وفات.

دابو معاذ بکیر نشاپوری قا ضی او مفسر وفات .

دشیخ ابوبکر یعقوب قاری وفات او ښخیدل په بلخ کی .

۷۸۰م ۱۶٤ق :

دغزنی په درب با میان کی دلویکانو دبت خانی پر ځای مسجد افلح جوړ سو .

۷۸۰ـ۷۸۳م۱۶٤ـ۱۶۷ق :

دمسیب بن زهیر حکمرانی او د مسیبی سکی رواج ـ

بشار بن برد تخاری مشهور شعوبی شاعر (تولد ئی ۹۵ق) دالمهدی خلیفه په حکم تروهلو لاندی مړسو ۱۶۷ق .

دآمو په بیابان کی دفضل آباد جوړول ۱۶۷ق .

المهدی خلیفه خپل استا ځی کابل شاه خنجل (خنگل) ته واستاوه (۱۶٤ق) .

۷۸۲م ۱۶۶ق :

دفضل بن سلیمان په حکم دهرات مځکی مساحت سوی .

دهرات دحله فروشانو بازار یزید بن جریر بجلی جوړ کیء .

۷۸۳م ۱۶۷ ق :

دمحمد بن میمون مروزی محد ث او عالم وفات .

۷۸۵م ۱۶۹ق :

تمیم بن سعید دسیستان حکمران بر بست او رخج تر ار غنداوه حمله وکړه اودرتبیل ورور ئی ونیو .

دنصر صیقل بن عبدالکریم بلخی لوی فقیه وفات .

۷۸۶م۱۷۰ق شا وخوا :

امیر بنجی نها ران قسیم امیر المؤ منین په غور کی امیر او شیش بن بهرام د غورسپه سالار سو .

۷۸۷م ۱۷۱ق :

جعفر بن محمد پر خرا سان حکمران سو او دده زوی عباس کابل ونیو او دشاه بهار معبد ئی ورا ن کیء .

دبلخ دقاضی عمر بن میمون رماح وفات په بلخ کی .

۷۸۹م۱۷۳ق :

عباس بن جعفر دخراسان حکمران سو ، او دسیستان او هلمند خلك د حضین په مشری و ښوریدل .

دابو عصمه نوح بن یزید مرو ی قاضی دحنفی فقه دجامع وفات .

۷۹۰م۱۷٤ق :

خالد غطریف دخراسان حکمران د (غطریفی) در هم سکه ووهله .

دشقیق بن ابراهیم بلخی زا هد شهادت په واشگر دکی .

۷۹۲م ۱۷۶ق :

داؤد بن بشر سیستانی دسیستان والی سو . ده دحضین سیستانی ښورښت په سیستان کی آرام کیء ـ

حسن شیر بامیان ـ

۷۹۳ـ۷۹۵م۱۷۷ـ۱۷۹ ق :

برمکی فضل دبلخی یحیی زوی د خراسان حکمران سو او نیم ملیو ن د (خراسان لښکر) ئی ودراوه .

دبخارانوی مسجد ئی جوړ کیء بامیان ئی ونیوی او دسرخ بت او شابهار معبدونه ئی وران کړل .

حسن ئی دخپلو نیکو نو په لقب (شیر بامیان) هلته مقرر کیء .

۷۹٤م ۱۷۸ ق :

فضل دیحیی برمکی زوی دنوبهار یوه ځنډه ونړوله او پرځای ئی دبلخ مسجد جوړ کیء .

۷۹۶م ۱۸۰ق :

علی بن عیسی ماهان د خراسان والی ؤ ـ

دابو عا صم محمد بن فضل فقیه او محدث وفات .

۷۹۷م ۱۸۱ق :

دعبدالله بن مبارك مروزی امام او محدث وفات .

۷۹۸ـ۸۲۸م ۱۸۲ـ۲۱۳ ق :

امیر حمزه بن عبدالله سیستانی په خراسان کی د خار جیا نو په مرسته پور ته سو . هارون الرشید دده مقابلی ته خراسان ته راغی حمزه له نشاپوره تر سند پو ری سیمی ونیولی او په ۲۱۳ق ووژل سو .

۷۹۸م۱۸۲ ق :

دو سیم بن جمیل بلخی شیخ او محدث وفات او ښخیدل په بلخ کی.

۸۰۲م۱۸۷ق :

دفضیل بن عیاض مروی دخراسان دلوی صوفی په کونه کی وفات .

دجعفر بن یحیی بر مکی لوی وزیر وژل په بغداد کی (تولدئی ۱۵۰ق).

۸۵۰م ۱۹۰ق :

عایذ بن حبیب هروی محدث او د امام احمد شیخ وفات سو .

دیحیی بن خالد بر مکی بلخی د بغداد دوزیر و فات (ولادت ۱۲۰ق)

۸۰۶م۱۹۱ق :

هر ثمه بن اعین دخراسان والی سو . فضل بن موسی مروی محدث وفات سو .

۸۱۸م۱۹۳ق :

عباس بن جعفر دخراسان وا لـی سو ، هارون الرشید در بیـع الاول په میاشت په طوس کی مړ او ښخ سو .

په همدغه کال دمامون په ستا ینه کی‌عباس‌مروزی دری قصیده‌وویله(؟) او ابوسهل نصیر مروزی عالم وفات سو .

علی بن عیسی بن ما ها ن د بلخ علیا باد جوړکیء .

فضل بن یحیی بر مکی په حبس کی مړ سو .

۸۰۹ـ۸۱۸م ۱۹٤ـ۲۰۳ ق :

مامون خلیفه په خراسان کی و ـ دابو حفص عمر بن هارو ن بلخـی عا لم او شقیق بن ابراهیم بلخـی زاهد او فقیه دوفات کال۱۹٤ق .

۸۱۱م۱۹٦ق :

دما مون او امیـن په جنگ کی د طاهر پو شنگی لښکـر کشی او د بغداد نیول .

دامام بخاری محمد بن اسما عیـل زیږیدنه .

دعمر بن هارون بلخی محدث او مفتی وفات او ښخیدل په بلخ‌کی .

۸۱۲م۱۹۷ق :

سامان خداة بلخی چه زر دشتی و ، دمامون الرشید پر لا س مسلمان سو . اسد دده زوی دمامون په دربار کی و .

۸۱٤م۱۹۹ق:

په بست کی دخاش حر ب بـن عبیده ولاړ سو .

دخراسان دلوی قاضی ابو مطیـع حکم بن عبدالله بلخی دفقه الاکبر دراوی او دحفص بن عبدالرحمن‌بلخی دنشاپور دقاضی وفات .

کابلشاه دخپل دربار یو عا لم او منجم ذوبان حکیم دمامون الر شیـد دربار خراسان ته واستاوه .

دابو معاذ خالد بن سلیمان امام وفات او ښخیدل په بلخ کی .

(۵)

خپلواك خراسان

۲۰۰ ق

له ۷۱۸ ـ۸۱۵ م۱۰۰ تر ۲۰۰ ق پورې :

په خرا سان کی د عربی اشرافیت پر خلاف د شعو بیه وو پیدا کېدل .

دعربی ژبی رواج .

په سیستان اوخراسان کی داموی او عباسی خلافت پر خلاف دخوارجو خپریدنه ـ

په دری ژبه د عربی لغاتو ننوتل.

دخراسان په ښارو کی دمعـتز لـه وو خپر یدنه .

دلته ابو مسلمیه فرقه پیدا سوه، چی ابو مسلم ئی دالو هیت درجي ته رساوه .

۸۱۵ ـ ۹۰۰ م ۲۰۰ ـ ۲۸۷ ق :

دحدیث دصحاحو تالیف‌دخراسان دپو هانو له خوا او ددی علم تشکیل او په خراسان کی دعلم حدیث او حنفی فقه رواج .

۸۱۵ م ۲۰۰ ق حدود .

چغان خدات د آمو پر شمالی غاړو حکمران و .

دموسی بن سلیمان جوز جانـی حنفی فقیه دالسیرالصغیر دمؤ لـف وفات .

محمد بن خاقان دگر دیز کوشانی شهزاده .

لکتور مان کابلشاه .

امیر بنجی نهاران په غور کی .

حمزه شـاری امیـر المومنین د سیستان خارجی قائد دگردیز کـلا جوړه کړه ـ

دکرا میانو دمذهبی فرقې پیـدا کېدنه ـ

دخرا سانی اوعربی فرهنگ سره گډ یدنه‌اودیوه (خراسانی اسلا می) کلتور پیدا کیدنه ـ

دحنظله باد غیسی ددری شاعری دوره ـ دابوسلیمان موسی جوزجانی عالم وفات .

۸۱٦ م ۲ ـ ۲۰۱ ق :

په خراسان کی‌وچ کالی او کاختی . دقاسم بن زریق بلخی فقیه وفا ت اوښخیدل په‌بلخ کی.

په ټول افغا نستان کی دبریـد (پست)لاری او پړاوونه جوړید ل

په خرا سان کی دعیا رانو دډلو جوړښت چی جوانمردان اوفتیان‌ئی هم بلل .

۸۱۷ م ۲۰۲ ق :

فضل بن سهل خرا سانی وزیر دمرو په یوه حمام کـی وواژه سو (ولادت ئې په سر خس کی ۱۵٤ق).

خواجه قطب الدین محمد رخبند د هرات په ښار کی وفات او ښخ‌سو.

۸۱۸ م ۲۰۳ ق :

د نضر بن شمیل مروی دنحود امام او محدث وفات .

دامام علی رضا (رض) وفات ا و ښخیدنه یه‌طوس کـی (دوشنبـه د

شوال ۷)ولادت ئی په مد ینـــه کی ۱۵۳ ق :

امام علي رضا په هرات کی سکه ووهله (دمشهد موزیم) .

۸۱۹ ـ ۸۲۱ م ۲۰٤ ـ ۲۰٦ ق :

دغسان بن عباس حکمرانی دآمو پر سیمو او دنوح بن اسد سا مانی روزنه په سمر قند کی اوپه خراسان کی دایله جاری لښکرو بلوا پـــه ۲۰٦ ق .

۸۲۰ م ۲۰۵ ق :

دخلف بن ایوب عـامری بلخـی محدث اوفقیـه وفـات اوښخېد نـه په بلخ کی .

۸۲۱ م ۲۰٦ ق :

داؤد بن بانیجور تخاری **دبصری** عامل و .

۸۲۱ ـ ۸۲۲ م ۲۰۵ ـ ۲۰۷ ق :

طاهر د حسین پو شنگی زوی په خراسان کی مستقل دولت جوړ کیء او په جمعـه ۲٤ دجـما دی الا خری ۲۰۷ ق ئی خپل استقلال اعلان کیء او مړ سو .

۸۲۱ م ۲۰٦ ق :

داسحاق بن بشر بن محمد بلخی بخاری مورخ دکتاب الفتوح **دمؤ لف** وفات په بخارا کی . ولادت ئې په بلخ کی .

۸۲۲ ـ ۸۲۸ م ۲۰۷ ـ ۲۱۳ ق :

طلحه د طاهر زوی په خرا سان کی پاچا و .

۸۲٦ م ۲۱۱ ق :

دابو بکـر ابرا هیم بـن رستـم مروزی حنفی فقیه وفات .

دابو معاذ فضل بن خالد مروزی نحوی وفات .

۸۲۷ م ۲۱۲ ق

د محمد بن یوسف فریابی محدث او عالم وفات .

(تولد ئی ۷۲۷ م ۱۲۰ ق) :

۸۲۸ ـ ۸٤٤ م ۲۱۳ ـ ۲۳۰ ق :

له طا هریانو څخه د دریم پاچا عبد الله بن طاهر پاچهی .

ده په ۲۱۳ ق**زرد شتی کتا بـــو نه** وسو ځل .

۸۲۹ م ۲۱٤ ق :

دشداد بن حکیم بلخی قاضی او حنفی فقیه وفات اوښخېدل په بلخ کی .

۸۳۰ م ۲۱۵ ق

د مکی بن ابراهیم بلخی محدث او عصام بن یوسف بلخی فقیه ا و محدث ، او یحیی بن نصر مروی محدث وفات .

۸۳۵ م ۲۲۱ ق حدود :

داحمد بن عبد الله حبش مروزی لوی منجم د ژوندانه عصر او پر زیج شهر یار باندی دده ځیړنی .

د محمود وراق د دری قدیم شاعر او سعید اخفش اوسطبلخی دسیبویه د شا گرد وفات .

۸۳۷ م ۲۲۲ ق :

د ابو عبد الله حسین بن محمد بن خسرو بلخی فقیه د مسند ابو حنیفه دراوی وفات .

۸۳۷ م ۲۲۳ ق :

دابو عبید قاسم بن سلام هروی لوی محدث او **فقیه او مؤلف وفات** په مکه کی (ولادت ئې په هرات کی ۱۵۷ ق) .

۸۳۹ م ۲۲۵ ق :

دفر غانې سخته ریږ دله (زلزله) .

۸٤۰ م ۲۲٦ ق حدود :

عمران بن موسی بن یحیی بر مکـی دسند امیر ؤ، دده پلار موسی هـم دسند امیرؤ چی‌پـه ۲۲۱ ق مړ سو او دی ئې پر ځای کښینو ست .

دلیث بن مساور د بلخ دقاضی او فقیه وفات او په بلخ کی ښخیدنگ

۸٤۱ م ۲۲۷ ق :

د سعید بن‌منصور جوزجانی بلخی محدث او مفسر وفات په مکه کی (رمضان)

د بشر حافی بن حارث مـروی صوفی او محدث وفات په بغداد کی.

افشین د شمالی شرقی خراسان یو مشر ، دعباسی د ربـار سپـه سالار ووژل سو .

۸٤٤ م ۲۳۰ ق :

دابو الینبغی عباس بن طر خان دری بیتونه دسمر قند په مرثیه کی.

دزکریا بن یحیی بلخی دالا یمان دمؤ لف‌او محدث وفات .

۸٤٤ـ۸٦۲م ۲۳۰ـ ٤۸ق ق :

دو هـم طاهر د عبـد الله زوی طاهری ځلرم پاچا و.

۸٤٦ م ۲۳۲ ق :

داؤد بن **الیاس دبا نیجور کهول** د شمالی هندو کش‌پاچا سکه‌ووهله.

ابوالو لید احمد بن ابی رجا عبدالله هروی لوی محدث په هرات کی وفات او ښخ سو .

۸٤۷ م ۲۳۳ ق :

دیحیی بن معین سرخسی مشهور محدث او رجالی پوهاند وفات (دده تولد ۷۷٤ م ۱۵۸ ق) .

دابو علی‌حسین بن‌ولید نشاپوری (کمیل) لوی محدث وفات ۲۳۳ ق .

۸٤۷ ـ ۸۷۲ م ۲۳۳ ـ ۲۵۹ ق :

داؤدبن الیاس دآل بـا نیـجو ر ځخه د بلخ او تخار او هندو کش د سیمو پاچا .

۸٤۹ م ۲۳۵ ق :

دسریج بن یونس مروزی محدث او مفسر او فقیه وفات .

۸۵۱ م ۲۳۷ ق :

دحاتم اصم بن عنوان بلخی مشهور صوفی وفات په واشگرد کی .

۸۵۲ م ۲۳۸ ق :

داسحاق‌بن ابراهیم (ابن راهویه) لوی مروی محدث او فقیه وفات .

۸۵۵ م ۲٤۰ ق :

د محمد بن عمر وراق تر مذ ی بلخی صوفی د ژوند وخت .

د امام قتیبه بن سعید بغلانی لوی محدث وفات او ښخېدل په بغلا ن کی (ولادت ۱٤۸ ق په بلخ کی) .

د ابو حامد احمد بن خضرو یـه بلخی صوفی وفات په بلخ کی .

۸۵۵ م ۲٤۱ ق :

دلوی مروی عالم او **دمـذ هـــب** خاوند امام احمد بن حنبل وفات . (تولد ۷۸۰ م۱٦٤ ق)

د ابو قدامه عبید الله بن سعید سر خسی محدث وفات .

۸۵٦ م ۲٤۲ ق :

الیاس د سامانی اسد زوی پـه هرات کی مړ سو .

دمحمد بن اسلم طوسی **مفسر او محدث دالا یمان والا عمال دمؤلـف** وفات .

۸۵۷ م ۲٤۳ ق :

د هاشم بـن بـانیجور تخاری د وخش د حکمران وفات .

۷۷۷ ـ ۸۵۹ م ۱۶۰ ـ ۲۴۴ ق :

داحمد بن منیع بن عبد الر حمن بغوی مرو رو دی محدث د ژ ونـد دوره .

د محمد بـن ابان بلخـی محدث وفات په بلخ کی ۲۴۴ ق .

د قاضی ابو مطیع بلخی وفات په بلخ کی .

د محمد بن مالك بلخی فقیه وفات او ښخېدل په بلخ کی .

۸۶۱ ـ ۸۷۸ م ۲۴۷ ـ ۲۶۵ ق:

د یعقوب لیث صفاری پاچهی پر افغا نستان او ایران باندی .

د احمد بن یعقوب بلخی عالم وفات او ښخېدل په بلخ کی ۲۴۷ ق .

۸۶۱ م ۲۴۷ ق :

په ۲۵ محرم یعقوب لیث صفاری په زرنج کی پاچا سو .

۸۶۲ ـ ۸۷۲ م ۲۴۸ ـ ۲۵۹ ق :

محمد ددوهم طاهر زوی دخراسان پادشاهؤ ـ

هوی ـ چا وکور یائـی راهب بامیان ته راغیء ۸۷۲ م .

۸۶۴ـ ۹۹۰ م ۲۵۰ ـ۳۸۰ ق:

په چغا نیان او تخار او د آمو په سیمو کی دآل محتاج د اقتداردوره.

۸۶۴ ـ۱۰۱۹ م۲۵۰ـ ۴۱۰ق:

په جوز جان کی دفریغون کهول پاچهی ،د دوی اقتدار تر غـــور او هلمنده پوری و .

۸۶۴ م ۲۵۰ ق حدود :

دبسام کـورد خارجی او د محمد بن مخلد قدیم دری شعرو نه پـــه سیستان کی .

احمد دچغان خدات لـه کهو لـه په چغا نیان کی حکمران و .

دبیت نیکه (شیخ بیتهنی) دپښتو مناجات دوره (یو قدیم شعر) .

دکلر کا بلشاه ژوند .

له خرا سانه تر اباسین پوری له آمو څخه بیا تر بحیرهٔ عرب پوری دبغداد د خلافت ټول مالی عایدات ۴۵ ملیو نه درهمهوو ، چی ټول نزدې و ۲۲۵ ملیونو افغا نیو ته کیږی .

دابو حاتم سهل بن محمد سیستانی دعربی ژبی دعالم وفات (۲۴۸ ق؟)

دآل شاکر خرا سانی منجمانو او مهند سانو د ژوند دوره .

د آل اما جور مشهور وهراتـی منجمانو او دزیج د مصنفانو د ژوند دوره .

دخالد مروزی دکهول دمهند سانو او منجمانو اورصدیانو دژوند دوره.

۸۶۵م ۲۵۱ ق:

یعقوب لیث صفاری په سیستان کی عمار خارجی وځا به .

ایوب بن حسن نشاپوری فقیـه وفات سو .

د محمد بن از هر خراسانی فقیه د الا ختیارات دمولف وفات .

محمد بن طاهر پوشنگی د کابل پیلان او خوشبو یه شیان دمستعین خلیفه دربار بغداد ته واستول .

۸۶۴ ـ ۹۱۲ م ۲۵۰ ـ ۳۰۰ ق : حدود

په کوه سلیمان (کسې غره) کی د کیس عبدالرشیددرې زامن (غرغښت ـ بیتهنی ـ سره بن)

۸۶۵ م ۲۵۱ حدود

کوشان گومل بغپور شاه بوسر

(دخاقان له کهوله) په پختیا کی .

۸۶۶ م ۲۵۲ ق :

یعقوب لیث صفاری پاچا ته صا لح بن حجر درتبیل تربور دار غـندا و په کوهژ (کوهك)کی یاغی سـو ، یعقوب دی په ۲۵۳ ق وواژه. .

د زیاد بن ایوب طوسی محدث او گرزند وی وفات (ولادت ۱۶۶ ق)

۹۶۷ م ۲۵۳ ق حدود :

امیر سوری په غور کی .

یعقـوب لیث صفـا ری رخج ـ والشتان ـ بست ـ هرات ونیول .

۸۶۹ م ۲۵۵ ق :

د شمر بن حمدو یه هروی دعربی ژبی عالم او د کتاب الجیم دخاوند وفات .

د محمد بـن کـرام سیستانی د کـرامیانو دمـذهب مؤسس پـــه بیت المقدس کی او دمحمد بن علی حکیم تر مذی په ترمذ کی وفات .

دابـو حـاتـم سهل بن محمـد سجستانی عالم وفات (ولادت ئـی ۱۷۲ ق)

۳۱ آگست ـ ۸۷۰ م ۳۰ رمضان ـ ۲۵۶ ق :

امام محمد بن اسما عیل بخاری دصحیح بخاری خاوند دسمر قند په خرتنگ کی وفات او هم ئـــی هوري ښخ کیء .

۸۶۹ م ۲۵۶ ق :

یعقوب لیث پر فیروز بـن کنك کابلشاه باندی بری وموند .

۸۷۰ م ۲۵۷ ق :

یعقوب لیث صفاری کـا بـل ونیو او دکابل بتان ئی دبغداد د المعتمد خلیفه در بار ته واستول .

د ابو داؤد سلیمان بـــن اسحاق سجستانی صاحب السنن وفات په بصره کی .

۸۷۱ م۲۵۸ ق :

ابو منصور افلح دمحمد بن خاقان لویکی زوی په گردیز کی یعقوب لیث ته غاړه کښیښو ه،لس زره درهمه ججه ئی دکاله ومنله .

یعقوب لیث له داؤد بـــن الیا س بانیجوری څخه بلخ ونیو .

۸۷۲ ـ ۸۹۵ م ۲۵۹ ـ ۲۸۲ ق :

دریم طاهر دمحمدزوی دطاهریانو آخرنی پاچا په نشا پور کی .

۸۷۳ م ۲۵۹ ق :

یعقوب لیث صفاری پر محمد بن طاهر پوشنگی بری وموند او هغهٔ ئی زندانی کیء .

د ابراهیم بن یعقوب جوز جانی لوی محدث وفات .

۸۷۳ ـ ۸۷۸ م ۲۶۰ ـ ۲۶۵ ق :

ابو داؤد محمد بن احمد بن بانیجور د بلخ او تخار او جوز جان او ترمذ پاچا و ، په ۲۶۰ ق ئی سکه وهلی ده .

۸۷۳ م ۲۶۰ ق شا وخوا :

یعقوب لیث صفاری په پنجهیر کی سکه ووهله .

۸۷۳ م ۲۶۰ ق شاوخوا :

محمد بن وصیف سگزی د یعقوب لیث د دربار سر منشی په دری ژبه یوه قصیده د پاچا په ستاینه کی وویله .

۸۷۳ م۲۶۰ ق:

دابو محمد فضل بـن شـا ذان نشا پوری شیعی عالم کلام او دامام رضا دشاگرد اولوی مؤلف وفا ت .

۷۸٤ ـ۸۹۲م ۲٦۱ ـ ۲۷۹ ق:
نصر داحمد سامانی بلـخی زوی د شمالی افغا نستان او ماوراء النهر سامانی اول پاچا و .

۸۷۵ م ۲٦۱ ق :
دامام مسلم بـن حجاج قشیری نشاپوری دصحیح مسلم خاوند وفات دنشا پور په‌نـصر آبـاد کـی (۲۵ رجب)
دبایزید طیفور بن عیسی بسطامی مشهور خرا سانی صوفی وفات پـه بسطام کی .
په نشا پـور کی د احمد بـن عبدالله خجستانی راولاړبدل.
د محمد بن فضیل بلخی عابـد وفات او تدفین په بلخ کی (ولادت ۱۷۱ ق)

۸۷۸ ـ۹۰۰ م ۲٦۵ ـ۲۸۷ ق :
د عمر ولیث صفاری دپاچهی‌دوره

۸۷۸ م ۲٦۵ ق :
یعقوب لیث صفاری په دو شنبه ۱٤ شوال په جند یسا بور کی په قولنج مړ سو .
خواجه علی بن موفق لوی شیخ او صوفی په هرات کی وفات او ښخ سو .

۸۷۹ م ۲٦٦ ق :
احمد بن عبد الله خجستانی په خرا سان کی ښورښت وکیء خـو عمرو لیث دی په ۲٦۷ ق مات کیء.
احمد بن عبد الله خجستانی د خرا سان امیر ، دبیهق دسبزوار مسجد او منبر جوړ کی .

۸۸۰ م ۲٦۷ ق :
د ابو بکر نصر بن یحیی شاذان بلخی محدث او فقیه وفات .

۸۸۱ م ۲٦۸ ق :
د امام ابو الحسن احمد بن سیار مروزی محدث او شافعی فقیه وفات.
د احمد بن عبد الله خجستا نی وژل .
دنصیر بن یحیی بلخی فقیه او عالم زاهد وفات او ښخېدل د بلـخ په نو بهار کی .

۸۸۲ م ۲٦۹ ق:
په نشاپور کی د رافع دهر ثمه دزوی اقتدار .

۸۸۳ ـ ۲۷۰ ق حدود :
محتاج د احمد زوی دچغان لـه پښته په چغا نیان کی دآل محتاج موسس سو .
د محمد بن فروخ بلخی زا هـد وفات او ښخېدل په بلخ کی .

۸۸٤ م ۲۷۱ ق :
د حمدون قصار نشا پوری دملا متیانو دشیخ وفات په نشاپور کی .

۸۸۵ ـ ۹۰۵ م ۲۷۲ ـ ۲۹۳ ق :
بیگ بن عباس بن بانیجور تخاری دختل حکمران و .
حارث بانیجوری‌تخاری په‌ختل‌کی سکه ووهله .

۸۸٦ م ۲۷۲ ق :
دابو معشر جعفر بن محمد بلخی منجم وفات په‌واسط کی.
د بغداد د خلیفه فرمان دعمرولیث پر خلاف .

۲۲ فروری ۸۸۹ م ۱٦ شوال ۲۷۵ ق :
دامام ابو داود سلیمان بن جارود سجستانی د صحیح سنن دخاوند وفات په بصره کی .

۸۹۰ م ۲۷۸ ق :

د سید ابو عبد الله محمد مختار بن احمد هروی وفات او ښخېدل په هرات کی .

۸۹۲ ـ ۹٤۸ م ۲۷۹ ـ ۳۳۷ ق :
د امیر احمد بن فریغون امارت په جوز جان او بلخ کی .

۸۹۲ ـ ۹۰۷ م ۲۷۹ ـ ۲۹۵ ق :
اسمعیل بن احمد سامانی دوهم پادشاه .

۸۹۲ م ۲۷۹ ق :
دعمرو لیث سلطنت پر خرا سان ومنل سو .
د محمد بن سلمه بلخی عابدوفات

۸۹۲ ـ ۹۰۰ م ۲۷۹ ـ ۲۸۸ ق :
دابو جعفر احمد بن محمد بن‌احمد بن بانیجور دحکمرانی دوره ، ده په ۲۸۸ ق په اندراب کی سکه ووهله .

۸۹۳م ۲۷۹ـ ۲۸۰ ق :
د ابوبکر احمد نسایی خراسانی محدث دالتا ریخ‌الکبیر خاوند وفات.
داحمد بـن طاهـر ابن طیفـور خراسانی مرو رودی مورخ دتاریـخ بغداد دمؤلف وفات .(تولد ئـی ـ ۲۰٤ ق)

۱ نومبر ۸۹۲م‌دوشنبه ۱۲درجب ۲۷۹ ق
د امام ابو عیسی محمد بن عیسی تر مذی دجامع صحیح خاوند وفات په ترمذ کی .

۸۹۳ م ۲۸۰ ق :
دافلح بن محمد دگریز دلو یـك او سامند کابلشاه د ژوند وخت .
دعلی بن عبد الله‌بن هیصم هروی عالم او ادیب وفات .
دعثمان بن سعید د ارمی سیستانی او هروی لوی محدث وفات په هرات کـی (ولادت ئی ۲۰۰ ق)
دمحمد بن اسماعیل سلمی ترمذی محدث وفات.
د محمد بن عمر بلخی شافعی د العالم والمتعلم دمؤلف وفات(مشهور په وراق) .
اسماعیل سامانی د خلافت لـه در باره دما وراء النهر او بلخ په امارت ومنل سو .

۸۹۵ م ۲۸۲ ق :
دطاهر یانو سلطنت چی‌له ۲۰۵ق څخه شروع سوی و ، پر دریم طاهر باندی په نشا پور کی ختم سو .

۸۹٦ م ۲۸۳ ق :
عمرو لیث دبست ـ داورد سیمی یوبت دبغداد خلیفه المعتضد تـه وا ستاوه .

۸۹۸ م ۲۸۵ ق :
د محمد بن اسحاق بـن سعیـد سعدی هروی شافعی محدث او فقیه دکتاب الضیاع دمؤلف وفات .

۸۹۹ م ۲۸٦ ق :
ابو العباس‌احمد بن‌محمد سرخسی لوی خراسانی فیلسوف او ریاضی پوهاند دیعقوب کندی شاگرد وواژه سو .
(په ابن الطیب مشهور و)
دعلی بن عبد العزیز بن مرزبان بغوی محدث دالمسند الکبیر دمولف وفات .

۹۰۰ م ۲۸۷ ق :
عمر ولیث صفاری د۷۰ زروسپرو سره په‌بلخ‌کی داسماعیل سامانی‌سره وجنگیدیء خو ونیول سو او بغد اد ته واستول سو ، چی هلته ئی مړ کیء .

دابو سعید یحیی بن منصور زاهد دهرات دجامع امام وفات (شعبان) .

ابو عمران سیمجور دواتی (دسامانیانو سر منشی) دخراسانی سیمجور یانو دکهول موسس او دری حکمران و په ۳۱٤ ق .

ابو الفضل بلعمی دامیر اسماعیل سامانی وزیر سو .

۹۰۱ م ۲۸۹ ق :

عمرو لیث صفاری پاچا په بغداد کی وواژه سو .

اسماعیل سامانی پاچا دخراسان په امارت هم ومانه سو .

دحسین بن‌محمدبن زیاد نشاپوری محدث وفات .

۹۰۱ ـ ۹۰۸ م ۲۸۹ ـ ۲۹٦ ق :

طاهر بن محمد بن عمر ولیث د سیستان پاچا و .

۹۰۱ ـ ۱۱۱۱ م ۲۸۹ ـ ۵۵۰ ق:

دغرستان (غرجستان) دشا رانو کهول د حکمرانی دوره .

۹۰۲ م ۲۹۰ ق :

د هرات دامام زاهد او محدث ابو سعید مهین وفات او ښخیدل په هرات کی .

مسعودی مروزی د دری لرغونی شاعر د شاهنامې نظم کوونکی د ژوند وخت .

دمنصور بن اسحاق سجستانی فقیه او اصولی وفات .

۹۰۳ م ۲۹۱ ق :

کملو کابلشاه و .

د محمد بن ابراهیم پوشنگی فقیه او محدث وفات په نشاپور کی (ولادت ۲۰٤ ق):

۹۰۵ م ۲۹۲ق

داحمدبن علی بن‌سعید مروزی ددمشق دقاضی وفات (ولادت ۲۰۲ق) دمحمد بن احمد هروی فقیه اومحدث وفات .

۹۰٦م ـ ۲۹٤ ق

دمحمدبن نصر مروزی فقیه او محدث‌وفات په‌سمرقندکی .

(ولادت‌ئی ۲۰۲ ق)

دعبدالله بن‌محمد بن علی ... بن زبیر بلخی محدث اومؤرخ و ژ ل‌په بغداد کی.

۹۰٦م ۲۹۳ ق

دعبدالله بن‌محمد عیسی مروزی محدث اودشافعی مذهب خپروونکی اولوی مفتی وفات په‌مروکی ،ـ (ولادت ئی ۲۲۰ ق).

۹۰۷ـ ۹۱۳ م ۲۹۵ـ ۳۰۱ ق :

د احمد د اسمعیل زوی سامانی دریم پاچا سلطنت ـ

دامام ابو بکر محمد بن اسماعیل مهران نشاپوری لوی محدث وفات.

۹۰۸ ـ ۹۱۰ م۲۹٦ـ ۲۹۸ ق :

لیث بن علی‌بن عمر ولیث (شیر لباده) دسیستان پاد شاه و .

۹۰۹ م ۲۹۷ ق :

ابو محمد هاشم سروانی د پښتو قدیم شاعر په بست کی مړ سو (ولادت ئې په سروان کی ۲۲۳ ق) .

لیث بن علی د سیستان امیر د سامانی قائد حسین بن‌علی‌مر ورودی په امر ووژل سو او پر ځای‌ئی معدل بن علی کښینوست خو دی هم په ۲۹۸ ق هرات ته نفی سو .

فضل دسهل‌زوی (ذوالر یاستین) دکابل شاه ، تخت او تاج په مروکی مأمون خلیفه ته را وړل او هغه تاج په کعبه کی وځړول سو .

مهراب د دومی کوشانی کهو له کابلشاه و .

۹۱۰ ـ ۹۹۸ م ۲۹۸ ـ ۳۸۸ ق :

په خراسان کی د دواتی سیمجوری کهول اقتدار .

د احمد بن مسروق طوسی صوفی وفات په بغداد کی (ولادت ۲۱٤ ق)

د زکریا بن یحیی نشاپوری (بزاز) فقیه او محدث وفات .

دمحمد بن علی بن طرخان بلخی محدث وفات (ولادت ۲۲۱ ق) .

۹۱۱ م ۲۹۹ ق :

ابو علی معدل بن علی بن لیث د سیستان صفاری پنځم پاچا په‌هرات کی نفی البلد و .

۹۱۲ م ۳۰۰ ق :

د ابو علی حسین بن احمد سلامی بیهقی دکتاب ولاة خراسان اونورو کتابو دمؤلف وفات .

د ابو العباس حنوذ مروزی ددری قدیم شاعر د ژوند عصر .

ابو سعد مظفر د محتاج زوی او ابوبکر محمد بن مظفر په سامانی در بار کی چغانی امیران وو .

ابو حفص حکیم بن احوص سغدی ددری قدیم شاعر شهرود دموسیقی آله اختراع کړه .

ابوحفص عمر وبن یعقوب بن‌محمد بن عمرولیث د سیستان صفاری شپږم پاچا په سیستان کی .

۹۱۳ ـ ۹٤۲ م ۳۰۱ ـ ۳۳۱ ق :

دوهم نصر د احمد زوی سامانی خلرم پاچا په‌خراسان او ماوراءالنهر کی .

دجعفر بن محمد فریابی مشهور قاضی او محدث وفات (ولادت ئې ۲۰۷ ق) .

اگست ۹۱۵ م ۱۳ صفر ۳۰۳ ق:

د احمد بن علی نسایی د سنن نسایی خاوند وفات په رمله کی .

۹۱۷ م ۳۰۵ ق :

دمحمد بن محمد بن سلام حنفی‌بلخی فقیه وفات .

۹۱۹ م ۳۰۷ ق

په خراسان کی د احمد بن سهل دبغاوت کښینول .

دعبد الرحمن بن حسن نشاپوری محدث او دمسند دخاوند وفات .

۹۲۲ م ۳۱۰ ق :

جعفر بن احمد بن محمد بانیجوری په ۳۱۰ ق په ختل کی حکمران و ده په۳۱۰ ـ۳۱۲ ـ ۳۱۳ ق سکه وهلې ده .

ابو عبد الله محمد بن احمد بن نصر جیهانی سامانی وزیر خپل جغرافی کتاب (المسالك والممالك) تألیف کړ چی اوس نسته .

دلوی خراسانی محدث عبد الله بن محمد بغوی د معجم الصحابه د خاوند وفات ـ (دده تولد ۲۱۰ ق ۸۲۵ م)

۹۲۳ ـ ۹٦۳ م ۳۱۱ ـ ۳۵۲ ق :

دعبدالله بن عروه هروی محدث وفات او ښخیدل په هرات کی .

د امیر ابو جعفر احمد بن محمد

بن خلف بن لیث صفاری اوم پاچا سلطنت .

۹۲۴ م ۳۱۲ ق :

دابراهیم بن سری هروی محدث د جزاء الا عمال د مؤلف وفات .

دحسن بن‌علی طوسی محدث وفات په طوس کی (ولادت ۲۲۲ ق)

۹۲۵ م ۳۱۳ ق :

د محمد بن اسحاق خراسانی نشاپوری محدث او مؤرخ وفات (ولادت ۲۱٦ ق) .

۹۲۸ م ۳۱٦ ق :

د محمد بن عقیل بن از هر بلخی دتاریخ بلخ د مؤلف وفات .

دامام عبد الله بن داؤد سجستانی حنبلی پوهاند وفات .

د عبد الله بن سلیمان سجستانی محدث اومفسر وفات په بغداد کی (ولادت ۲۳۰ ق)

۹۳۰ م ۳۱۸ ق :

د نصر سامانی دوروڼو یاغی‌توب.

۹۳۱ م ۳۱۹ ق :

د ابو القاسم عبد الله بن احمد کعبی بلخی لوی معتزلی عالم او د کعبیه ډلی پیشوا وفات .

دمحمد بن‌فضل بلخی لوی صوفی وفات په سمر قند کی .

۹۳۲ م ۳۲۰ ق حدود :

بهیم دیو کابلشاه په گندهار اکسی

د ابراهیم بن‌محمدبیهقی دالمحاسن والمساوی دمؤلف د ژوند وخت .

۹۳۳ م ۳۲۱ ق :

ابوبکر محمد بن مظفر بن محتاج چغانی د ټول خراسان سپه سالار او حکمران د سامانی دربار له خوا چی په ۳۲۹ ق وفات سو .

۹۳٤ م ۳۲۲ ق :

د ابو زید احمد بن سهل لوی متکلم او فیلسوف او دصور الاقالیم د مؤلف وفات (ولادت ئې ۲۳۵ ق)

۹۳۵ م ۳۲۳ ق :

د موسی بن عباس بن محمد جوینی نشاپوری لوی محدث وفات په جوین کی .

۹۳٦ م ۳۲۵ ق :

د ابو الحسن شهید بن حسین جهودانکی‌بلخی شاعر اومتکلم‌وفات.

۹۳۷ م ۳۲٦ ق :

د احمد بن عصمة صفار بلخی فقیه وفات او ښخیدل په بلخ کی .

۹۳۸ ـ ۹۵۵ م ۳۲۷ ـ ۳٤٤ ق :

د ابو علی احمد بن محمد بن مظفر بن محتاج چغانی د اقتدار وخت (متوفی ۳٤٤ ق)

۹۳۸ م ۳۲۷ ق :

د ابو علی جیهانی وزارت په سامانی در بار کی .

۹۳۹ م ۳۲۸ ق :

د ابو بکر محمد بن سعید بلخی فقیه وفات او ښخیدل په بلخ کی .

۹٤۰ م ۳۲۹ ق :

د ابو عبد الله جعفر بن محمد رودکی د دری د مشهور شاعر وفات (مولد ئی دسمرقند په بنج کی په ۲۵۰) دمحمد بن احمد مروزی (ابن الوراق) فقیه دبیان السنه د مؤلف وفات .

۹٤۰ م ۳۳۰ ق :

د ابو الفضل محمد بن عبد الله بلعمی مروی د سامانیا نو دوزیر

وفات (د دری تاریخ طبری مترجم)

۹٤۱ م ۳۳۰ ق حدود .

د ابوشعیب صالح بن‌محمد هروی دری لرغونی شاعر وفات .

د ابو علی جیهانی وزیر مړینه .

۹٤۲ م ۳۳۱ ق :

په ماوراء النهر کی دشیعه ووبلوا او دنصر سامانی عزل .

ابو یعقوب اسحق بن‌احمد سکزی اسما عیلی‌داعی دکشف المحجوب لیکوال په بخا راکی ووژل سو .

۹٤۲ ـ ۹۵٤ م ۳۳۱ ـ ۳٤۳ ق :

دلومړی نوح دنصر زوی سامانی پنځم پاچا دامارت دوره .

۹٤٤ ـ ۹٤٦ م ۳۳۳ ـ ۳۳۵ ق :

ابو علی ابراهیم بن سیمجور د هرات او نشاپور والی و (متوفی ـ ۳۳٦ ق.)

۹٤٤ ـ ۹٤۷ م ۳۳۳ ـ ۳۳٦ ق :

ابو العباس فضل بن محمد بن مظفر چغانی د سامانی لښکر سپه سالارو چی په ۳۳٦ ق په بخا را کی بندی سو .

۹٤٤ م ۳۳۳ ق :

د بو شکور بلخی لوی دری شاعر د ژوند وخت . دعبد الله بن محمد ترخان بلخی محدث او رجالی عا لم وفات . د محمد بن احمد اسکاف بلخی عالم وفات او ښخیدنگ په بلخ کی .

۹٤۵ م ۳۳٤ ق :

د ابو علی چغانی یاغی توب ، دی په ۹٤۷ م مات کړ سو . د ابواسحاق احمد بن محمدبن یاسین حداد هروی محدث او مورخ او (دتاریخ هرات دمؤلف وفات .

د وزیر الحاکم الشهید ابوالفضل محمد بن حکم سر خسی بلخی وژنه. دی دمختصر کافی مؤلف دی .

۹٤۸ ـ ۹۹۸ م ۳۳۷ ـ ۳۸۹ ق :

د ابو حارث محمد بن احمد امارت په جوز جان کی . دی دفریغو نیانو دو هم پا چا دی چه دحدود العا لم کتاب دده په نامه لیکل سوی دی .

۹٤۸ م ۳۳۸ ق :

ابراهیم بن سیمجور مړ سو او پر ځای ئی منصور دقراتگین زوی د خرا سان سپه سالار سو (د سامانی پاچا له خوا) .

۹۵۱ م ۳٤۰ ق :

دخرا سان حکمران منصور بن قراتگین مړسو، اوپرځای‌ئی ابوعلی چغانی له سامانی درباره مقرر سو.

ابو المظفر عبد الله بن احمد بن محمد بن مظفر چغانی امیر له آسه ولوید او مړ سو .

ابو منصور بن احمد بن محمد بن مظفر د چغانیان امیر و .

۹۵۱م ۳٤۰ق حدود :

د ابو عبد الله محمد بن حسن معروفی بلخی شاعر د ژوند حدود .

۹۵۲ م ۳٤۱ ق :

د ابو الحسن حکیم کسایی مروزی ددری قدیم شاعر دژوند وخت .

د شرح المزنی د مؤ لف شافعی فقیه ابراهیم بن احمد مروزی وفات.

۹۵۳ م ۳٤۲ ق :

دابوبکر محمد بن داؤد نشاپوری صوفی داخبار الصوفیه دمؤلف‌وفات.

دمحمد بـن داؤد صوفی نشاپوری دکتاب الشیوخ د مولف وفات .

۹٥٤ ـ ۹٦۱ م ۳٤۳ ـ ۳٥۰ ق :

دلومړی عبد الملك دنوح زوی ، سامانی شپږم پاچا دامارت دوره .

۹٥٤ م ۳٤۳ ق :

له سامانی درباره څخه بکر بـن مالك فر غانی دخرا سان حکمران او ابو منصور محمد بن عزیر وزیر و .

۹٥٥ م ۳٤٤ ق :

ابو احمد خلف بن احمد (ابن‌بانو) دسیستان صفاری اتم پاچا سلطنت (وفات ئی ۳۹۹ ق)

دابـو علی چغـانـی او ستـوق بغرا خان مړینه .

د محمد بن‌محمد بن‌یوسف طوسی شافعی فقیه او محدث او دخراسان دمفتی و فات (ولادت ۲٥۰ق)

۹٥٦ م ۳٤٥ ق :

دخرا سان حکمران بکر بن مالك فرغانی وواژه سو .

۹٥۷ م ۳٤٦ ق :

ابو الحسن سیمجوری په خراسان کی دنوح سامانی په‌فرمان سپه‌سالار او حکمران سو .

د ابو العباس احمد بـن محمـد سرخسی لوی منجم او طبیب ا و د کتاب المدخل د مؤلف دوفات کال.

د ابو منصور محمد بن عبد الرزاق خرا سانی سپه سالار په نـامـه د منثوری ابو منصوری شاهنا مـی تالیف ، چی د محمد بن عبـد الله معمری په ښوونه ولیکله سوه .

۹٥۹ م ۳٤۸ ق :

د ابو منصور یوسف بن اسحاق وزارت په سامانی در بار کی .

۹٦۰ م ۳٤۹ ق :

دشیخ محمد بن عبد الله الحاکم نشا پوری لوی محدث وفات پـه نشاپور کی . (تولد ئي ۲۷۷ ق) .

ابو منصور بختگین دخرا سا ن قائد وفات سو .

ابو منصور محمد بن عبد الرزاق دخرا سان سپه سالار او حکمران و. چه وروسته امیر حاجب الپ تگین د اول عبد الملك سامانی پاچا له‌خوا دخرا سان سپه سالار او حکمران سو .

۹٦۱ م ۳٥۰ ق :

الپ تگین ،منصور بن‌نوح سامانی پاچا ته یاغی سو ، او غزنی ته‌راغی، او هغه ئـی لـه لویك څخه ونیـو ۳٥۱ ق.

۹٦۱ ـ ۹۷٦ م ۳٥۰ ـ ۳٦٦ ق :

دلومړی منصوردنوح‌زوی سامانی اوم پاچا دامارت دوره چی وزیر ئی ابو علی محمد بلعمی سو .

۹٦۱ م ۳٥۰ ق حدود .

دابو المؤید بلخي شهنامه او دده عجایب البلدان په دری نثـر تا لیف سول .

رابعه دکعب قز داری یا بلخی لور د دری قدیمه شاعره په دغو وختو کی وه .

دسیستان دپاچا خلف بن احمد صفاری په امر یو د قرآن لوی تفسیر سل توکه په ۲۰ زره دیناره مصرف تالیف سو .

دابو عبدالله محمد بـن صالـح ولوالجی (تخار ستانی) د دری قدیم شاعر د ژوند وخت .

د ابو سلیمان محمد بن‌معشر بستی

ژوند چی داخوان الصفا له مؤلفینو څخه دی .

منصور بن افلح لویکی په غزنه او گردیز کی حکمران و .

جیه پاله کابلشاه په گندهاراکی.

۹٦۲ م ۳٥۱ ق :

الپ تگین غزنی ونیو .

ابو منصور عبد الرزاق‌په خراسان کی یاغی سو .

ابو الحسن سیمجور ی دخراسان حکمران سو .

دعلج بن احمد سجزی محدث او فقیه دمسند الکبیر مؤلف وفات سو (ولادت ۲٦۰ ق .

۹٦۳ ـ ۹٦۹ م ۳٥۲ ـ ۳٥۹ ق :

امیر طاهر بن محمد بن طا هر (دمور له خوا صفاری) د سیستان امیرو .

۹٦۳ م ۳٥۲ ق :

دالپ تگین دغزنی دحکمران وفات چی اسحاق زوی ئی پـر ځـا ی کښینوست .

۹٦٤ م ۳٥۳ ق :

اسحاق دالپ تگین زوی له غز نی څخه‌بخاراته وتښتیداولویك‌دی مات کیء .

۹٦٤ـ ۳٥۳ق

خلف بن احمد دسیستان پادشاه حج ته ولاړ .

۹٦٥ م ۲۲ شوال ۳٥٤ ق :

د ابو حاتم محمد بن حبان بستی دسمر قند د قاضی او لوی عالم او مؤلف وفات په بست کی (ولادت په بست کی ۲۷۰ ق) قبر ئي هم پـه بست کی و .

۹٦٥ م ۳٥٥ ق :

اسحاق‌دالپ تگین زوی د غز نی حکمران مړ سو ، او بلکاتگین ئی پر ځای کښینوست او په ۳٥۸ ق نی په غزنی کی سکه ووهله او پـه ۳٦٥ ق مړ سو .

دخواجه ابو احمد ابدال چشتی وفات (دده تولد ۲٦۰ ق ۸۷۳ م دی) او په چشت کی ښخ دی.

۹٦٥ م ۳٥٥ ق حدود:

دابو جعفر خازن خرا سانی لوی منجم او ریاضی پوهاند د ژوندوخت

۹٦٦ م ۳٥٦ ق :

د امام فقیه ابو علی حامد بـن محمد رقاع هروی وفات او ښخید ل په هرات کی .

۹٦۸ م ۳٥۸ ق :

دشیخ ابو حامد بن احمد شار کی هروی محدث او مفسـر وفـات او ښخیدل په هرات کی .

۹٦۹ م ۳٥۹ ق :

مکتوم بن حرب په اندراب کـی سکه ووهله .

۹٦۹ ـ ۹۸۳ م ۳٥۹ ـ ۳۷۳ ق :

امیر حسین دطاهرزوی دسیستان امیر و .

۹۷۰ م ۳٦۰ ق حدود :

ابو علی محمد بن عبد الله بلعمی وزیر (متوفی ۳٦۳ ق) تاریخ طبری په دری ژبه ترجمه او لنډ کیء .

دهمدغه کال په شا وخوا کی د منصور بن نوح سامانی په امریوې ډلی پوهانو تفسیر طبری په دری ترجمه کیء .

۹۷۱ م ۱۰ محرم ۳٦۱ ق :

دسلطان محمود زیږید نه .

۹۷۲ م ۳۶۲ ق :

دشیخ خر اسان اسماعیل بن عبدالله بن محمد بن میکال‌سرمنشی او دنشاپور دمیکالی خاندان دمشر وفات په نشاپور کی (تولد ئی ۲۷۰ق).

داحمد بن عامر بن بشر مرورودی شافعی فقیه او دبصری دقاضی وفات .

دابو جعفر محمد بن عبدالله هند وانی بلخی فقیه وفات او په‌بلخ کی ښخیدنگ .

۹۷۴م ۳۶۴ق:

دابوعلی بلعمی وزیر او دیوسف بن اسحاق وزیر مړینه .

دبلکاتگین اقتدار په غزنی کی .

۹۷۵م ۳۶۵ق:

پیری تگین په غزنی کی .

۹۷۵ـ۹۸۴م ۳۶۵ـ۳۷۴ ق :

په اندراب کی دسهلان بن مکتوم دامارت دوره چی سکه ئی هم وهلی ده .

ابو منصور محمد بن احمد دقیقی بلخی لوی شاعر مقتول سو ۳۶۵ق (؟) .

ابوعلی یا ابوبکر لویك په غزنه‌او گردیز کی .

۹۷۳ ـ ۹۷۶ م ۳۶۵ ـ ۳۶۶ ق :

دامیر پیری تگین حکمرانی پر غزنی باندی .د(غزنویانوخلرم پاچا).

۹۷۶ـ ۹۹۷م ۳۶۶ـ ۳۸۷ق :

په غزنی کی دامیر سبکتگین ناصر الدوله حکمرانی (دغزنو یانو پنځم پاچا) .

۹۷۶ ـ ۹۹۷ م ۳۶۶ ـ ۳۸۷ ق :

دو هم نوح دمنصور زوی سا مانی اتم پادشاه .

۹۷۶م ۳۶۶ق حدود:

دلوگر په چرخ کی دغزنی دآخری لویك او کابلشاه په گډه دسبکتگین سره جنگ او ددوی ماته .

۹۷۶م ۲۷ شعبان ۳۶۶ق:

دناصر الدین امیر سبکتگین بن جوق قرا بجکم بن قرا ارسلان‌جلوس په غزنی کی او دآل ناصر دسلطنت پیل .

۹۷۷ م ۳۶۷ق :

دابوا لجیش مظفر بن محمد خرا سانی بلخی متکلم مو لف‌وفات.

۹۸۰ م ۳۶۹ ق:

دمحمدبن سلیمان بن محمدصعلو کی‌نشا پوری شا فعی فقیه او مفسر او ادیب و فا ت په نشا پور کی . (ولا دت‌ئی ۲۹۶ق).

۹۸۰ م ۳۷۰ ق :

قراتگین په غزنی کی .

دعبیدالله ابو بکر بن ابوسعید بلخی عالم وفات .

دابو منصور محمد بن احمدازهری هروی دکتاب التهذیب خاوند اولوی لغوی وفات .

۹۸۰م ۳۷۰ق حدود :

شیخ حمید لودی پښتون پاچا په ملتان کی او دده روغه له سبکتگین سره (۳۸۲ق) .

اسحاق بن محمد بن اسماعیل مشهور په حکیم سمرقندی عر بی السواد الاعظم په ۲۹۰ق ولیکیء او د ۳۷۰ق په شا وخواکی په دری‌ژبه ترجمه سو . (دتهران طبع ۱۳۴۸ دعبدالحی حبیبی په اهتمام).

۹۸۱م ۳۷۱ق:

فردوسی دشاهنامی نظم شرو ع کیء .

شیخ ابوزید محمدبن احمدمرغزی په هرات کی وفات اوښخ سو (۱۳ رجب) .

۹۸۲ م ۳۷۲ ق :

دابو الحسن سیمجوری پر ځای تاش دخراسان سپه سالار سو .

عبدالله بن‌احمد عتبی دنو ح بن منصور سامانی وزیر قتل سو .

احمد بن جعفر بن احمد د آل بانیجور حکمران اوابو علی احمد بن محتاج مرستیال ئی په چغانیان‌کی .

یوه جوزجانی عالم دحدود العالم جغرافی کتاب په دری دجوز جان دامیر محمد بن احمد فریغونی په‌نامه وکیښی او لومړی پلائی په اسلامی دوره کی‌د(افغان)ذ کر وکیء .

۹۸۳م۳۷۳ق :

دفقیه ابو اللیث نصر بن محمد سمرقندی وفات او ښخیدل په بلخ کی .

۹۸۴م ۳۷۴ ق :

دابو عمر و احمد بن محمدزوزنی (دهرات او نشاپور ترمنځ) دعر بی ژبی لوی عالم وفات .دعبدالله بن موسی سلامی مورخ او ادیب وفات په مرو کی .

۹۸۵م ۳۷۵ق:

دسلجوقیانو ظهور د بخارا په شا و خواکی .

۹۸۶م ۳۷۶ق:

دعبدالله بن محمد بن‌عزیر وزارت په سامانی دربار کی .

دمعجم الشیوخ دمؤلف ابراهیم بن احمد مستملی بلخی وفات .

۹۸۷ م ۳۷۷ ق :

په خراسان کی ابو الحسن سیمجوری اوفایق پرتاش باندی‌بری وموند .

ابو الظفر طاهر بن فضل بن محمد بن مظفر د چغانیان امیر دمنجیك شاعر ممدوح مړ سو .

۹۸۸ م۳۷۸ق:

دناصر الدوله ابو الحسن محمد بن ابراهیم بن سیمجور دواتی‌مړینه. دده په نامه سکه هم وهلی سوی‌ده.

دابونصر سراج طوسی عبدالله بن علی دکتاب اللمع دخاوند اولوی صوفی وفات په طوس کی (رجب).

دمحمد بن‌محمد کرابیسی‌نشاپوری محدث او قاضی‌وفات‌په‌بصره‌کی(ولادت ئی ۲۸۵ق) دخلیل بن احمدسجزی دسمر قند دقاضی وفات .

دخواجه قر بنج وفات په هرات کی او په گازرگاه کی ښخیدنه .

۹۸۹م ۳۷۹ق:

دابو الحسن سیمجوری مړینه .

۹۹۰م ۳۸۰ق:

ابو بکر بن محمد بن ابراهیم بخاری کلا باذی دخراسان صوفی او دالتعرف المذهب التصوف دمؤلف وفات ، او ابوعلی‌سیمجوری‌دخراسان حکمران سو .

ابو بکر ربیع بن احمد بخاری په طب کی دهدایة المتعلمین کتاب په دری تالیف کیء .

۹۹۰م ۳۸۰ق حدود:

دفخر الدوله ابو المظفر احمدبن محمد دچغانیان امیر دفرخی دممدوح دژوند دوره .

شیخ‌رضی لودی دشیخ حمید ورا ره دپښتو قدیم شاعر په کسی غره کی داسلام تبلیغ کاوه :

دمحمد بن علی خسروی سرخسی او ابومحمد بدیع بن محمد بلخی او دابوالحسن علی بن محمد منجیك ترمذی ددری قدیمو شاعرانو دژوند دوره .

دابو سلیمان محمد بن طاهر منطقی سیستانی و فات .

دابوالفضل احمد هروی ریا ضی دان او منجم وفات .

۹۹۱م ۳۸۱ ق:

په لغمان کی دکابل رود پرغاړه دجیپاله کابلشاه ماته د سبکتگین له خوا . په دی سیمه کی داسلام خپرونه ـ افغانان‌اوخلجیان(غلجیان) دسبکتگین په لښکروکی داخل سوه

داحمد بن حسین بن مهران نشاپوری محدث وفات . دمحمد بن عبدالله هروی فقیه او مفسروفات.

دطاهر بن فضل بن محمد بن محتاج چغانی امیر او ددری ژ بی شاعر دژوند وخت .

دابو الحسن محمد بن یوسف عامری نشاپوری (ابن ابی ذر)دکتاب السعادة والاسعاد دمؤ لفو فا ت .

۹۹۲م۳۸۲ق:

دمحمد بن،احمدبن‌سلیمان نوقانی سیستانی ادیب او مؤلف وفات .

۹۹٤ م ۳۸٤ ق :

دهرات په جنگ کی دسبکتگین او محمود بری پریاغی ابوعلی سیمجوری باندی چی دوهم نوح سامانی امیر، پلارته «ناصر الدین» او محمود ته دسیف الدوله لقب ورکی .

اوسبکتگین دخراسان په‌حکمداری ترکابله مقرر سو .

۹۹٤ م ۱۵ رمضا ن ۳۸٤ ق :

سبکتگین او امیر محمود په طوس کی ابو علی محمد مظفر دواتی ما ت کیء هغه په۳۸٦ق په خوارزم کی ونیول سو ، په گردیز کی بندی او په ۳۸۸ق مړ سو .

دمحمد بن‌عمران مرزبانی‌خراسانی ادیب وفات په بغداد کی (ولا دت ۲۹٦ق) .

۹۹۵ م ۳۸۵ ق :

ابو الحسن بن ابو علی دواتی سیمجوری دسلطان محمود په لا س کښیووت اوپه گردیز کی‌بندی ا و مړ سو .

دابو القاسم اسماعیل بن عباد طالقانی وزیر او لیکوال مړینه .

۹۹٦ م ۳۸٦ ق :

دقره خانانو او سبکتگین په ما وراء النهر کی مقابله .

دوزیر عبدالله بن عزیر معزولی او دوزیر ابو نصر احمد بن محمد مقرری .

۹۹۷ م ۳۸۷ ق :

امیر سبکتگین ٥٦کلن پس له ۲۱کاله سلطنته دبلخ او بامیان‌ترمنځ دمدر موی په کلی کی وفات سو او په غزنی کی خاورو ته وسپا ر ل سو .

دمحمد بن احمد بلخی خوارزمی مورخ دمفاتیح العلوم دمؤلف وفات.

امیر اسماعیل دسبکتگین زو ی په غزنی کی سکه ووهله (دغز نو یانو شپږم پاچا) خو په دغه کال دغزنی

په جنگ کی سلطان محمود پرغالب سو .

دسهل بن محمدصعلوکی‌نشاپوری مفتی نشاپور وفات .

۹۹۷ ـ ۱۰۳۰ م ۳۸۷ ـ ٤۲۱ق :

دغزنو یانو داوم پاچا یمین‌الدوله سلطان محمود بن سبکتگین دپاچهی دوره .

۹۹۷ م ۳۸۷ ق :

دوزیر ابو نصر مړینه .

دوزیر ابو المظفر محمد بن‌ابراهیم بر غشی مقرری .

دخوارزمشاه مامون مړینه او دعلی بن مامون جلوس .

۹۹۷ ـ ۹۹۸ م ۳۸۷ ـ ۳۸۹ ق .

ددوهم منصور ددوهم نوح زوی دسامانی نهم پادشاه امارت .

۹۹۷ م ۳۸۷ ق :

دابو الوفا محمد بن یحیی‌بوزجانی نشاپوری لوی خراسانی ریا ضی پوهاند وفات (تولد ئی ۳۲۸ق) .

۹۹۸ م ۳۸۸ ق :

دابو سلیمان احمد بن‌محمدخطابی بستی دمعالم السنن دمؤلف وفات په بست کی (ولادت ۳۱۹ق) .

دعماد الدوله ابوعلی محمد مظفر بن محمد بن‌ابراهیم‌دواتی دخراسان‌د لوی حکمران مړینه .دی سکه هم لری .

دابو الوفاء محمد بن‌محمدبوزجانی مشهور ریاضی پوهاند وفات په بغداد کی . (ولادت ئی ۳۲۸ق) .

سلطان محمود تول شمالی افغانستان ونیو او سامانی دربار هم دده پاچهی ومنله.

۹۹۸م ذیقعده ۳۸۹ق:

دالقادر بالله خلیفه له خوا دبغداد داستا ځو را تگ بلخ ته او سلطان محمو دته د«یمین‌الدوله‌اوامین المله ولی امیر المؤمنین» لقبو نه‌ورکول .

۹۹۸م ۳۸۹ق:

پر ابو القاسم سیمجوری باندی په خراسان کی دبگتو زون بری‌ـ د برغشی وزیر تیښته .

دارسلان خان علی مړینه .

سلطان محمود دسامانی منصور او عبدالملك پر سالا رانو بگتو زون او فائق خاصه باندی بری وموند .

دو هم عبدالملك ددوهم نوح‌زوی سامانی لسم پاچاپرتخت‌کښینوست.

شار رشید دغرستان پاچا سلطان محمود ته‌غاړه کښیښووه او خطبه‌یی دده په نامه وویله .

۹۹۸ م ۳۸۹ ق حدود :

امام ابو الحسن محمد بن شعیب بیهقی شافعی فقیه دنشاپور دسیار په‌کوخه کی «مدرسهٔ بیهقیه» جوړه کړه .

مدرسهٔ صاعدیه په نشاپور کی (یا سعدیه) دشهزاده نصر بن سبکتگین په همت جوړه سوه .

۹۹۹ ـ ۱۰۰۱ م ۳۹۰ ـ ۳۹۲ق :

په‌لغمان او پیښور او ویهند کی دسلطان‌محمود بری‌پر جیپاله‌کابلشاه باندی .

۹۹۹ م ۳۹۰ ق :

په خشباجی (اوسنی دمقر زرکشان) کی د طلا کان ښکاره سو.

۹۹۹ ـ ۱۰۱۹ م ۳۹۰ ـ ٤۱۰ق :

او گره بوت منجم دکابلشاه انند

پاله په دربار کی د «شکهت پرت» کتاب تالیف کیء .

ابو نصر احمد بن محمددفریغونی کهول پنځم پاچا په جوزجان کی .

۹۹۹ م ۳۹۰ ق حدود :

ابو یعقوب اسحاق بن احمد سگزی خپل کتاب کشف المحجوب په دری ژبه داسماعیلی فرقی پر عقایدو وکیښی .

۱۰۰۰م ۳۹۱ق :

ابو القاسم علی بن محمد بن ابراهیم سیمجوری دو اتی دهرات والی دنصر بن سبکتگین سره په سرخس کیو جنگید او ونیول سو .

دطا هر بن خلف‌صفاری‌دسیستان دامیر وفات .

دابو سلیمان محمد بن طاهر سجستانی منطقی لوی فیلسوف وفات .

۱۰۰۱ م ۳۹۲ ق :

سلطان محمود خپل سفیر داوزگند ایلك خان ته واستاوه.

۱۰۰۲م ۳۹۳ق:

سلطان محمود په حصار طا ق کی دسیستان پاچا خلف ابن بانو کلا بند کیء او هغه یی جوزجان ته واستاوه . په سیستان کی قبجی حاجب حکمران کیء .

ابو القاسم منصور بن محمد هروی دسلطان محمود وزیریو قرآن‌په‌کوفی نسخی خط دمشهد رضوی کتابخانی ته وقف کیء چی تر اوسه هلته سته .

۱۰۰۳م ۳۹٤ق :

دفریغو نیانو دکهول ثلرم پا چا فریغون دمحمد زوی په جوز جان کی .

۱۰۰٤ـ ۱۰۱۰ م ۳۹۵ـ٤۰۱ق

په ملتان کی دابو الفتوح داؤ د بن نصر لودی ثلرم پاچا سلطنت .

۱۰۰٤ م ۳۹۵ ق حدود :

دابو منصور عماره بن‌محمدمروزی دری قدیم شاعر دژوند وخت .

۹۹۹ ـ ۱۰۰٤ م ۳۹۰ ـ ۳۹۵ق :

ابو ابراهیم منتصرد دو هم نو ح زوی سامانی آخر نی پاد شاه وچی په ۳۹۵ق سامانی پاچهی ختمه‌سوه.

۱۰۰۵ م ۳۹٦ ق :

سلطان محمود په ملتان کی پر ابو الفتوح داؤد بن نصر بن حمید لودی دو هم پاچا باندی حمله وکړه هغه ججه ومنله .

دمحمد بن احمدبن محمدنشاپوری محدث وفات (ولادت ۳۳۳ق) .

دابو العباس احمد بن محمد زاهد نسوی او خراسانی صوفی د طبقات الصوفیه د مؤلف وفات .

۱۰۰٦ م ۳۹۷ ق :

دترکستان ایلك خان چی بلخ او هرات نیولی ؤ، سلطان محمود بیرته ځنی ونیول ، او په شرخیان کی ماته وکړه .

۱۰۰۷ م ۳۹۸ ق :

داسماعیل بن حماد جوهری‌فارابی دالصحاح فی اللغه دخاوند وفات .

۱۰۰۸ م ۳۹۹ ق :

سلطان محمود کابلشاه انند پاله په ویهند کی داباسین پر غاړه مات کیء .

خلف بن احمد دسیستان صفاری پادشاه‌په‌جلاوطنی‌کهوفات‌سو (رجب)

۱۰۰۹م ٤۰۰ق :

دابو الفتح علی بن محمد بستی لوی منشی او شاعر وفات په‌اوزگند کی .

۱۰۰۹م ٤۰۰ ق حدود :

عنصری دسلطان محمود دملتا ن دفتو حا تو په شرح کی «تاج‌الفتوح» نظم کیء .

فرخی دسلطان‌محمود ددربارشاعر «دولت نامه » دسلطان دفتو حا توپه بیان کی زر بیته نظم کړه .

په‌دری ادب‌کی ددستان سرا یی رواج او دقصیده ویلو عروج .

شار ابو محمد بن محمد دغرستان شاه دسلطان محمودسره وجنگید او مړ سو .

دمرسل بن منصور لویکی د ژوند وخت .

ابو العباس فضل بن احمد اسفراینی دسلطان محمود وزیر په بلخ کی یوه مدرسه جوړه کړه .

دحسین ابن سینا او دابو عبید عبدالواحد بن محمد جوزجانی دابن سینا دشاگرد د ژوند وخت .

ابو الحسن محمد بن سلیمان بیهقی مزید التاریخ دغز نو یانو پر احوال تا لیف‌کیء .

دسلجوق ددرو زا منو میکا ئیل‌ـ اسرائیل ـموسی یرغلونه‌او اقتد ار دآمو پرسیمو او دخراسان پر شمال باندی .

دمحمد بن‌حسین خراسانی‌مشهور په ابو جعفر خازن دریاضی اوفلکیاتو پوهاند د ژوند وخت .

دمحمد بن احمد بن محمد نوقانی سجستانی دالعلم والعلماء دمؤلف او محدث وفات .

۱۰۱۰ م ٤۰۱ ق:

سلطان محمود ملتان ونیو او ابو الفتوح داؤد پښتون‌لودی پاچائی په غورك کی بندی کیء .

شمس الکفاة احمد بن حسن میمندی دغزنو ی سلطنت په وزارت وټاکل سو .

ابو العباس فضل بن احمد اسفراینی دسلطان محمود له وزارته معزول سو .

دامام ابو عبید احمد بن‌محمدهروی دغریب القر آن دمؤلف وفات .

ابو العباس احمد اسفرا ینی د سلطان محمود وزیر په شکنجه کی.

په خراسا ن کی و چ کا لی او کاختی .

۱۰۱۰ ـ۱۰۲۵م ٤۰۱ـ٤۱٦ ق:

شمس الکفاة احمد بن حسن میوندی دسلطان محمود وزیر و چی په ٤۱٦ق معزول او په هند کی بندی سو . (متوفا ٤۲٤ق) .

۲ د ۱۰۱۱ م ٤۰۲ ق :

دایلك خان نصر او تغان خا ن استاځی سلطان محمو دته راغی.

تا هر تی دمصر ایلچی دالحاکم با مرالله اسماعیلی له خوا غز نی ته را ولیږل سو ، خو په لار کی مړ کړ سو .

دجوزجان دپاچاابو نصرابوالحارث فریغونی وفات .

دیحیی بن عمار سیستانی لو ی عالم او دخواجه عبدالله انصاری د مرشد و فات او دهرات په خیابان‌کی دده ښخونه .

فردو سی د شاهنامی نظم تمام کیء .

دحنفی لوی فقیه او زاهداسماعیل بن حسین بیهقی وفات .

١٠١١-١٠١٢ م٤٠٢-٤٠٣ق

سلطان محمود پنجاب او کشمیر ونیول .

١٠١٢ م ٤٠٣ ق :

سلطان محمود غرجستان ونیوىء او دشا رانو مستقله شاهی ئی ختمه کړه .

١٣ ر ١٠١٢ م ٤٠٣ ق :

دایلك خان نصر مړینه او دایلك احمد بن علی جلوس په ما وراء النهر کی .

١٤ر١٠١٣م ٤٠٤ق:

دوزیر ابو العباس فضل اسفراینی مړینه .

په یار کند کی د قدر خان یوسف دغزنی سره دو ستانه روابط .

دامام سهل محمد صعلو کی لوی مفتی او عالم وفات په نشاپور کی .

١٠١٤ م ٤٠٥ ق :

وزیر احمد میوندی خوارزم شاه ته وویل چی خطبه دسلطان محمو د په نامه ووایی .

سلطان محمود دبست له لاری پر غور یر غل وکیء او دهغه ځای امیر محمد سوری ئی د آهنگران په کلاکی محصور او بندی کیء امیر محمد سوری په زهرو ځان وواژه .

امیر بو علی دمحمد سوری زوی دغور په مندیش کی دسلطان محمود تابع امیرسو. او مسجدونه، مدرسی اومانی جوړی کړی .

دابو عبدالله محمد بن عبدالله حاکم نشاپوری محدث او د« تاریخ نشاپور » دموظف وفات (ولادت ئی ٣٢١ق) .

١٦ ر ١٠١٥ م ٤٠٦ ق :

خوارزم شاه مأ مون د سلطان محمود خور واده کړه .

دابو علی حسن بن علی د قاق نشاپوری عالم او صوفی او وا عظ وفات .

شارابو نصر محمد بن اسددغرستان پا چا په ٤٠٥ ق د سلطا ن محمود په لاس بندی سو او په٤٠٦ق په هرات کی مړ سو .

١٠١٦م ٤٠٧ ق:

دعبدالله بن محمد بن ابراهیم نشاپوری واعظ او مفسر وفات .

دسلطان محمود یر غلونه پر پنجاب او کشمیر باندی .

١٠١٧م ٤٠٧ ق شوال :

دخوارزم خلکو مامون خوارزمشاه دسلطان محمود اخبنی مړکیءسلطان محمود خوارزم ونیو .

دعبدالملك بن محمد خر گو شی نشاپوری شافعی فقیه او واعظ وفات په نشاپور کی.ده په خرگو شی کوڅه کی یوه مدرسه اوکتابخانه او روغتون جوړ کړی وو .

١٠١٧م ٤٠٨ ق

سلطان محمود ابو الحارث محمد بن علی بن ما مون خوارزمشاه هیسته کیء او پر ځای یی لوی حاجب التونتا ش هلته دخوارزمشاه په ډول وگماره .

دجوزجان مقامی امیران فریغونیان ختم سول او ددوی سیمی دغز نوی سلطنت ضمیمه سو ی .

دایلك خان لور دغزنی ولیعهد مسعود ته واده سوه .

شهزاده مسعود رسما دسلطان محمود ولیعهد سو .

نظام الملك حسن بن علی طوسی وزیر وز یږ ید.

دابو الخیر خمار حسین بن سوار مشهور خراسانی فیلسوف او عالم وفات . (تولد ئی ٣٣١ق) .

١٠١٨م ٤٠٩ق

سلطان محمود په غزنی کی یو مسجد جا مع او په هغه پوری نښتی یوه لویه مدرسه جوړه کړه .

دامام ابو منصور از هری هروی لغوی عالم و فات .

امام هیصم بن محمد بن عبدالعزیز ناوی هروی دقصص نابی مؤلف وفات سو .

١٠١٨-١٩م ٤٠٩-١٠ق

سلطان محمود دهند قنو ج تر گنگا پوری و نیول ، او دری ملیو نه در همه غنیمت یی واخیست .

١٠١٩م٤١٠ق

له هندوستانه دراستون کیدو پر وخت سلطان محمود له افغانانو سره ونښت .

١٠١٩م٤١٠ق

حسن دابو نصر احمد زوی د فریغو نی کورنی آخر شهزاده .

١٠١٩م٤١٠ق حدود

دترو جنپاله کابلشاه د ژوندوخت. دغرستان دپاچا شارارد شیر ژوند .

دامام ابو الطیب سهل بن سلیمان صعلو کی مشهور محدث او فقیه او دسلطان محمود د دربار ملا دژوند وخت .

امام قفال صغیر عبدالله بن احمد مروی شافعی (متوفا ٤١٧ق) د«مآثر محمودی»کتاب وکیښی .

حاکم امام ابو سلیمان فندق بن ایوب بن حسن له والشتانه دسلطان محمود په حکم دنشاپور قاضی سو.

ابو بکر عبدالله بن یوسف سیستانی حصیری دسلطان محمود ندیم ؤ .

دابو القاسم منصور بن حسن فردوسی طوسی وفات. دی دشاهنامی شاعراودنیا له لویو شا عرانو څخه دی . (تولد ئی ٣٣٠ق)

ابو سهل احمد بن حسن حمدوی دسلطان محمود او مسعود وزیر او دری حکمران و تر ٤٣٠ق پوری .

١٠٢٠م ٤١١ق

دخر ښبون بن سره بن بن کیس وفات دکسی غره په جنوبی لمن کی.داسپری دپښتنو مشرو او پښتو شعر یی سته .

سلطان محمود غور فتح کیء .

دشیخ الاسلام یو نس بن طاهر نصیری بلخی عالم دکتاب بهجه د مؤلف وفات او ښخیدل په بلخ کی.

١٠٢١م٤١٢ق

دابو عبدالرحمن محمد بن حسین سلمی نشاپوری مشهور صوفی او دطبقات الصوفیه دمؤلف وفات په نشاپور کی .(ولادت یی ٣٢٥ق) .

دحافظ احمد بن محمد مالینی

(هروی) محدث وفات په مصریا په هرات کی .

دامیر نصر بن امیر سبکتگین د سلطان محمود کشر ورور وفات .

سلطان محمود دکشمیر لوهرکوټ کلا بند او فتح کیء .

۱۰۲۲م۴۱۳ق

سلطان محمود دهند گوالیار او کالنجر ونیول .

دقاضی محمد بن فضل رواس (میرك بلخی) مفسر او عالم وفات او ښخیدل په بلخ کی .

دمحمد بن احمد جارو دی هروی لوی محدث وفات .

۱۰۲۳م ۴۱۳ق

دامام ابو محمد اسماعیل بن ابراهیم سرخسی لوی عالم وفات او دهرات دعیدگاه غر بی خواته‌یی ښخیدل . دی د مناقب الشافعی مؤلف دی. (ولادت یی تر ۳۳۰ ق وروسته) .

دابو سعید احمد بن محمدسجزی لوی منجم او ریاضی پو هاند وفات.

محمد بن عثمان وراق او غزنوی مذهب یو خو شخطه قر آن وکیښی چی په ۴۱۴ق ئی وقف کیء .

(دمشهد رضو ی کتابخا نه)

دمحمد بن‌آدم هروی متکلم‌اولغوی ددیوان متنبی دشارح وفات .

سلطان محمود تر کسی غره (کوه سلیمان) پوری دافغانانوسیمی ټولی ونیولی .

۱۰۲۴ـ۲۵م ۴۱۵ـ۱۶ق

سلطان محمود ماوراء النهر ونیو او دکاشغر دقدر خان سره یی معاهده وکړه .

۱۰۲۴م ۴۱۵ق

اسماعیل دبیټنی زوی په کوه سلیمان ـ وازه خواکی دپښتنومشر ودده پښتو شعر سته .

سلطان محمود خپل وزیر احمد بن حسن میوندی عزل‌او مصادره او په هند کی بندی کیء .

ملا محمدغزنوی‌چی دسلطان‌محمود سره هندته تللی ویو تار یخ یی وکیښی چی تر ۱۰۳۲ق پوری لا په هند کی ؤ.

دعلی بن محمد هروی ادیب‌او نحوی دوفات وخت .

امام ابو اسحق ابراهیم بن محمد اسفراینی په نشاپور کی یوه‌مدرسه جوړه کړه .

۱۰۲۵م۴۱۶ق

سلطان محمود خلور زره‌کهوله سلجوقیان خراسان ته راوستل .

په دغه کال ده دجنو بی هند پر کاتیا وار حمله وکړه اودسو منات مندریی وران کیء گجرات‌یی هم ونیو .

سلطان محمود په ماوراء النهرکی دقدر خان سره ولیدل .

دخواجه ابو عبدالله محمد طاقی سجزی وفات او ښخیدل په هرات کی .

دلوی محدث امام ابو عبدالله محمد بن یمان وفات او ښخیدل په هرات کی .

دفردوسی طوسی وفات په طو س کی .

سلطان محمود دسلجو ق‌اسرائیل

چی دسلجوقیانو مشرؤ دهندو ستان په کالنجر کی بندی کیء .

۱۰۲۶م۴۱۷ق

دعبدالله بن احمد قفال صغیر مروزی مشهور شافعی فقیه دمآثر محمودی دمولف وفات په سیستان کی (تولد یی ۳۲۷ق) .

دخلیفه القادر بالله سفیر له بغداده سلطان محمود ته راغی .

بهیم پاله آخرنی‌کابلشاه دگندهارا په شرق کی .

۱۰۲۷م۴۱۸ق

دوه تنه سفیران قلتنکا او قاشی دقتاخان او یغر خان له خوا له خطا او ختن څخه دسلطان محموددربارته راغله .

دامام ابو اسحق ابراهیم بن‌محمد بن ابراهیم اسفراینی مشهور عالم وفات په نشاپور کی .

دسلطان محمود آخره حمله‌پرهند اود ملتان دجتا نو ایلو ل .

عیسی بن عبدالله بلخی کاتب یوه نسخه خوشخطه قرآن وکیښی (دمیلان کتابخانه) .

۱۰۲۸م۴۱۹ق

ابوعلی حسن بن محمد نشاپوری (حسنك) دسلطان محمود وزیر سو.

۱۰۲۹م ۴۲۰ق

سلطان محمود ټول ایران و نیو او شهزاده مسعود یی په اصفهان کی خپل نائب وټاکه .

بوریحان بیرونی خپل کتاب التفهیم لاوایل صناعةالتنجم دریحانه بنت الحسن په نامه تالیف‌کیء .

دابو العباس فضل بن عباس صاغانی محدث دژوند وخت‌په بغداد کی .

دمحمدبن عبدالله مسعودی‌مروزی شافعی فقیه دشرح مختصرالمزنی دمؤلف وفات په مرو کی.

۱۰۲۹ـ۱۱۰۶م۴۲۰ـ ۵۰۰ق .

دصاعد دکهول دمشهورو پوهانو او قاضیانو دژوند وخت په‌نشاپور او هرات کی .

۱۰۳۰م پنجشنبه ۲۳ ربیع‌الاخر ۴۲۱ق

دسلطان محمود وفات او دغز نی په باغ فیروزی کی ښخول . دده عمر (۶۱) او پاچهی ۳۳ کاله وه.

مملکت یی دهند له گنگا څخه تر دجلی پوری او دشمالی خواله سیر دریا څخه جنوبا دعربو تربحیری پوری پروت ؤ .

امیر محمد دسلطان محمود زوی په غزنی کی سکه ووهله (دغزنو یانو اتم پاچا) .

۱۰۳۰ـ۱۰۴۰م۴۲۱ـ۴۳۲ق

دناصر الدین الله سلطان مسعود بن محمود دسلطنت دور ه په غزنی کی .

(دغزنویانو نهم پاچا)

۱۰۳۰م رمضان ۴۲۱ق

القادر بالله خلیفه له بغداده‌خپل عهد اولوا دمرسل بن‌منصورگردیزی په لاس سلطان مسعود بن محمودته په نشاپور کی راولیږل او ده ته‌یی ناصر الدین الله لقب ورکی ء.

۱۰۳۰م۴۲۱ق شوال .

امیر محمد دسلطان محمود زوی

په تگین آباد کی ونیول سو اوپروند کړ سو .

سلطان مسعود خواجه احمد بن حسن میوندی دهند له زندانه راوغوښت او وزیر یی کی .

حسن میکالی (امیر حسنك) دسلطان محمود وزیر په بلخ کی دسلطان مسعود په حکم په دارسو.

دابو بکر محمد بن اسحاق بن ممشاد واعظ دکرامیانو در ئیس وفات په نشاپور کی .

دعلی بن احمد نسوی خراسانی ریاضی پوهاند او مهندس او منطقی دژوند وخت .

١٠٣١م٤٢٢ق

سلطان مسعود کرمان او مکران ونیول . او استاځی یی کاشغر ته واستول .

امام یحیی بن عمار سجستانی هروی وفات او دهرات په خیابان کی ښخ سو .

١٠٣١م٤٢٣ق

سلطان مسعود هرات ته ولاړ او سپه سالار عبدوس یی دسلجوقیانو ترکمانانو مقابلی ته وټاکه.

امیرابویعقوب یوسف بن سبکتگین دسلطان مسعود په حکم دسگاوند دکلا په حبس کی مړ سو .

١٠٣٢م٤٢٤ق

دقدر خان مړینه ـ دارسلان خان سلیمان مړینه .

التو نتاش خوارزم شاه بخاراته لښکر بوت او مړ سو .

١٠٣٢ـ١٠٣٥م٤٢٤ـ٤٢٧ق

هارون دالتو نتاش زوی په خوارزم کی دغزنی ترحمایت لاندی پرتخت کښینوست .

١٠٣٣م ٤٢٤ ق

دخواجه احمد بن حسن میو ندی دغزنی دلوی وزیر په هرات کی وفات (٢٠محرم) احمد بن علی بن عبدالصمد وزیر سو.

١٠٣٣م٤٢٥ق

دمسعود لښکر کشی پر آمل ـ ساری ـ طبرستان .

عباس بن شیش دبو علی وراره دغور امیر دمندیش دو لایت په سنگه کلاکی یور صد گاه جوړ کی ء .

دشیخ ابو الحسن علی بن جعفر خرقانی لوی صوفی وفات (سه شنبه ١٠ محرم په عمر ٧٣ کاله) .

شیخ اسعد بن محمد سوری د پښتو شاعر دزمینداورپه بغنی کی مړ سو .

ابو القاسم علی بن حاتم بیهقی چی دسلطان محمود په وخت کی مشرف و ، دسلطان مسعود په فرمان «صاحب برید» سو .

١٠٣٤م٤٢٦ق

احمد ینالتگین په هندوستان کی یاغی سو ، سلطان مسعود دده مقابلی ته هندو سپه سالار تلك بن جهلن واستاوه .

هارون سلطان مسعود ته یاغی سو ـ دسلطان مسعود استاځی له کاشغره راغلل ـ دبغرا خان استاځی سلطان مسعود ته را ورسیدل .

دشافعی فقه دامام ابوعلی حسین بن شعیب مروزی سنجی وفات .

١٠٣٥م٤٢٧ق

احمد ینالتگین مات او په در یای

سندکی ډوب سو .

سلجوقیان په خراسان کی ـ دعلی تگین زامنو استاځی مسعود ته راغی .

دابو نصر محمد بن عبدالجبار عتبی دتاریخ یمینی دلیکوال وفات .

٣٦ر١٠٣٥م ٢٨ر٤٢٧ق

سلطان مسعود په هند کی پرهانسی حمله وکړه او خپل زوی امیر مجدود یی د لاهور حکمران وټاکه .

١٠٣٥ـ١٠٤١م٤٢٧ـ٤٣٣ ق

اسماعیل خندان دالتو نتا ش زوی په خوارزم کی اقتدار و مو ند.

دمحمد بن علی هروی لغوی او د مصر د مؤذن وفات (ولادت یی ٣٧٢ق).

١٠٣٧م٤٢٨ق

دشیخ الرئیس بوعلی حسین بن عبدالله ابن سینا بلخی لوی فیلسوف طبیب او ددری او عربی مؤلف وفات په همدان کی . (تولد یی صفر ٣٧٠ق په بخاراکی .)

دامام اسحاق بن ابراهیم بن محمد هروی عالم وفات او دهرات په نماز گاه کی ښخیدل .

دسلطان مسعود استاځی ترکستان ته ولاړل او دهغه ځای استاځی مسعود ته راغلل .

سلطان مسعود په جوزجان کی علی قندوزی مات کی .

٣٩ر١٠٣٧م٣١ر٤٢٩ق

سلطان مسعود دسلجوقیانو سره په شمالی ولایاتو کی په شخړو بوخت و،دوی ته یی اورشوگا نی ور کړی او دغور له خوا غزنی ته راغی .

سلطان طغرل سلجو قی په نشاپور کی پاچا سو او خپل ورور یغو یی دسیستان او پوشنگ او هرات حکمران کی .

دابو منصور عبدالملك بن محمد ثعالبی نشاپوری دیتیمة الدهر دلیکوال وفات .(تولد یی ٣٥٠ق).

دابو الحسن بن جولوغ فر خی سیستانی ددری لوی ستایوال بوللهویونکی شاعر وفات .

داسحاق بن ابراهیم بن محمد قراب سرخسی هروی مورخ اومحدث وفات (ولادت ٣٥٢ ق).

٣٩ر١٠٣٨م٤٣٠ق

پر صغانیان دمسعود ژمنی لښکر کشی .

ابویعلی بیهقی حنیفی ددیوان انشا مشر خپل کتاب السیرة المسعودیه دسلطان مسعود غزنو ی لپاره تالیف کی .

دابوعلی حسین بن شعیب سنجی مروزی شافعی فقیه او دفرو عو دمؤلف وفات .

دمقامات بونصر مشکان تالیف .

١٠٣٩م٤٣١ق

دابو نصر مشکان دسلطان محمود او مسعود ددربار لوی منشی وفات.

ابو سهل زوزنی صا حبدیوان ـ رسالت سو.

دابو القاسم‌حسن بن احمدعنصری بلخی دسلطان محمود ددربار لوی شاعر وفات .

١٠٤٠م٤٣٢ق

سلجوقیانو شمالی ولایات او خراسان ونیول او په دندانقان کی سلطان مسعود مات کی .

١٠٤٠ـ١١٧٥م٤٣٢ـ٥٥٢ق

دسلجوقیانو دسلطنت دوره پر افغانستان باندی .

دحسن بن محمد بن شعیب مروزی شافعی فقیه وفات په ربیع الاول ٤٣٢ق .

١٠٤٠ م ربیع الاخر ٤٣٢ق

سلطان مسعود خپل زوی مو دود په غزنی کی پریښو ، پخپله دخزانو سره هندوستان ته رهی سو .

١٠٤٠م ١١جمادی الاولی ٤٣٢ق

لښکرو په ماریگله کی سلطان مسعود ونیو او دده پر ځای یی دده روند ورور محمد بیا پاچا کی .

وروسته سلطان مسعود دخپل وزاره طاهر بن محمد په لاس مړ کړ سو .

١٠٤٠م جمادی الاخری ٤٣٢ ق

سلطان مو دود له غزنی څخه راووت او دخپل ړانده اکا محمد سره یی په دنپورکی جنگ‌وکی . محمداودده زوی طاهریی‌ووژل اوددی بری په‌نسبت یی فتح آباد هلته جوړ کی .

١٠٤٠م ٤٣٢

امیر محمد دسلطان محمود زوی دو همه پلا پاچا سو .

١٠٤٠ـ١٠٤٩م٤٣٢ـ٤٤١ ق

دغزنو یانو دیو ولسم سلطان مودود بن مسعود سلطنت په غزنی کی .

١٠٤٠ـ١٠٦٣م٤٣٢ـ٤٥٥ ق

دطغرل بیگ بن میکائیل‌دسلجوقی کهول لومړی پاچا سلطنت .

١٠٤٠م٤٣٢ق

دقاضی صاعد بن محمد ابو العلا نشاپوری حنفی فقیه او دحنفیانو درئیس وفات .

دابو نظر عبدالعزیز بن منصور عسجدی دسلطان محمود ددربباری شاعر وفات .

په دغه کال دابو النجم احمد بن قوص منو چهری دسلطان محمود ددربار دشاعر وفات .

١٠٤١م٤٣٣ق

دسالم بن عبدالله هروی فقیه او متکلم داللمعد مؤلف وفات .

دابو سهل محمد بن علی هروی لغوی وفات ٣ محرم په مصر کی (ولادت رمضان ٣٧٢ق).

طغرل سلجوقی په نشاپور کی سکه ووهله .

سند پاله دجیه پاله لمسی آخرین کابلشاه دگندهارا په پای کی .

١٠٤٢م٤٣٤ق

ابو ابراهیم اسماعیل بن محمد مستملی په دری ژبه دتعرف شرح ولیکله .

دابوذر عبد الله بن احمد انصاری هروی مالکی فقیه او محدث وفات په مکه‌کی .

١٠٤٣ م ٤٣٥ ق حدود

عبدالرزاق د احمد بن حسن میوندی زوی د سلطان مودودوزیرو. د احمد بن حسین باخرزی د دمیة القصر د مولف وژل .

١٠٤٤ م ٤٣٦ ق

په ماورا النهر کی شیعی غور ځنگونه، دابوالفضل عبیدالله‌بن احمد میکالی‌خراسانی منشی اومولف امیروفات (نوم یی‌عبدالرحمن هم راغلی دی)دغزنی دوزیر احمد بن علی بن عبدالصمد وفات . او د طاهر مستوفی وزیر کول .

١٠٤٥ م ٤٣٧ ق

امام عبدالکریم بن هوازن قشیری الرسالة القشیریه په تصوف کی په عربی وکښله . چی ابوالفتوح عبدالرحمن بن محمد نشاپوری په کرمان کی په ٥٥٠ ق په دری ترجمه کړه .

امام‌ابوالقاسم قشیری په‌نیشاپورکی یوه مدرسه جوړه کړه

ناصر خسرو بلخی خپل سفرله جوزجانه دحجاز خواته شروع کی (٦جمادی‌الاخری)دی‌په جمادی‌الاخری کی د ٤٤٤ ق بیرته بلخ ته‌راغی .

١٠٤٦م ٤٣٨ ق

دامام ابو محمد عبدالله بن‌یوسف جوینی شافعی فقیه او مفسر اوادیب وفات په نشاپور کی .

دعبیدالله بن‌عبدالله هروی محدث او مورخ دژوند وخت .

١٠٤٨ م ٤٣٩ ق

د عبدالرحمن بن محمد سرخسی حنفی فقیه د بصری د قاضی وفات د تکملة التجرید خاوند .

دملك ابدال (اودل)بن تر ین د ابدالی افغانانو دیوه نیکه دژوند وخت په کسی غره کی .

١٠٤٨م ـ ٤٤٠ ق

دابو ریحان محمد بن احمدبیرونی لوی عالم او منجم د کتاب الهند او نورو ډیرو تالیفاتو د مولف وفات، او په غزنی کی ښخیدل . ده تر ٤٧٢ق پوری ٦٥ کتابونه تا لیف کړ ی وو.تولد یی ٣٦٢ ق .

د ابو سعید فضل الله بن ابی الخیر میهنی خراسانی مشهور صوفی وفات .

د مشهور ادیب علی‌بن حسن‌عمید قهستانی وفات .

١٠٤٨ ـ١٠٥٢ م ٤٤٠ـ ٤٤٤ق

پر غزنی باندی د طغریل تغلب‌او د سلطان عبدالرشید وژنه .

١٠٤٨ م ٤٤٠ ق حدود

ابو منصور موفق بن علی الهروی په درمل پیژند نه کی کتاب الابنیه عن حقایق الادویه په‌دری ژبه تالیف کی چی یوه خطی نسخه یی په٤٤٧ق کال اسدی طوسی وکښله (دویانا کتابخانه)د منصور بن محمد هروی فقیه او شاعر او دهرات د قاضی او د منیة الراضی د مولف وفات .

١٠٤٩ م ٤٤١ ق

د غزنو یانو د وولسم پاچادوهم مسعود د مودود زوی په غزنی کی سکه ووهله .

علی بن مسعود بن محمود په همدغه کال پاچا شو .

١٠٤٩ ـ١٠٥٢ م٤٤١ـ٤٤٤ ق

د غزنویانو د خورلسم پاچا عبدالرشید دسلطان محمود د زوی سلطنت پهغزنی کی.

١٠٤٩ م ٤٤١ ق

د شیخ عمو مشهور صوفی احمد بن محمد بن حمزه وفات په هرات کی او په گازر گاه کی ښخیدل .

ابو معین ناصر بن خسروقبادیانی بلخی (حجت خراسان) لهخپله سفره راستون سواود اسما عیلی مذ هب تبلیغ یی په بنخ او بدخشان کی شروع کی د ده ډله(ناصریه) بلله کیده .

١٠٥٠ م٤٤٢ ق

د سلجوقیانو او طغریل دغزنوی لښکر د مشر جنگونه او په دره خمار اوبست کی د سلجو قیانو ماتی .

د عبدالسلام بن محمد بن هیصم کرا می وفات پههرات کی .

د حسن بن مظفر نشاپوری ادیب اوشاعر وفات.

١٠٥٠م٤٤٢ ـ٤٤٣ ق

ابو سعید عبدالحی بن ضحاك بن محمود گردیزی زین الاخبار پهدری ژبه پهغزنی کیدسلطان عبدالرشید په نامه وکیښی (د عبدالحی حبیبی طبع ، تهران ١٣٤٧)

١٠٥٢ م ٤٤٤ق

عبدالرزاق بن احمد بن حسن میوندی د سلطان فرخزاد لهوزارته معزول او پر ځای یی خواجه حسن مهران وزیر سو .

د خرخیز حاجبد غزنی سپهسالار په خراسان کی د سلجو قیانو سره جنگونه .

دعبید الله بن سعید بن حاتم سجزی محدث وفاتپه مکه کی .

طغریل د سلطان محمود مریی د غزنی ترنیولو وروسته ډیر غزنوی شهزاد گان مړه کړل اوخلکو دی وواژه .

١٠٥٢ ـ ١٠٦٠ م٤٤٤ ـ٤٥١ ق

د غزنویانو شپاړسم پاچا فرخزاد د لومړی مسعود د زوی سلطنت .

١٠٥٣ م ٤٤٥ حدود

یوه نامعلوممولف تاریخ سیستان ولیکلی .

١٠٥٤ م ٤٤٦ ق

دابوبکر احمد بن اسحاق صبغی نشاپوری شافعی عالم او فقیهوفات.

١٠٥٥ م ٤٤٧ق

حکیم علی بناحمد اسدی طوسی دگرشاسپ نامی شاعر د کتابالابنیه عن حقایق الادویه خطی نسخهوکښله (دویانا کتابخانه) مولف یی موفق الدین ابومنصور علی الهروی پهدغه کال ژوندی و .

١٠٥٦ م٤٤٨ ق

د حجةالا سلام ابو حامد محمدبن محمد غزالی طوسی زیږیدنه .

١٠٥٧ م ربیع الاول ٤٤٩ق

د ابو النجم ایاز اویماق وفات او ښخیدل په لاهور کی (؟)

داسماعیل بن عبدالرحمنبن احمد صابونی نشاپوری فقیه ا ومفسر او واعظ وفات پهنشاپور کی(ولادتیی ٣٧٣ ق)

١٠٥٨ م ٤٥٠ ق :

په خراسان کی د عربی نسخیاو

کوفی خطپه هنری ډول سره گډیږی (وامق عذرای عنصری دپروفیسور محمد شفیع کتابخانه ـلاهور)

محمود وراق یو تاریخ د ٤٠٩ ق تر واقعو پوری په غزنی کی وکیښی.

امیر محمد دعباس زوی په غورکی حکمران وو .

د شار ابراهیم بن ارد شیر د ژوند وخت .

د سهل بن مرسل لویکی د ژوند عصر .

١٠٥٨م ٤٥٠ق حدو د

اسحاق بن ابراهیم بن منصور نیشاپوری خپل قصصالانبیاء پهدری ژبه وکیښی .

محمد بن عمر رادویانی ترجمان البلاغه وکیښی .

د ابوحنیفه اسکافی مروزی دری شاعر د ژوند وخت .

د شیخ امام ابوبکر محمد بنامام احمد بن محمد حدادی شالنگی غزنوی وفات ٤٥٠ ق .

(قبراو شنخته یيپه غزنی کیستهه)

د محمود بن عمر جوهریصایغ هروی دری شاعر د ژوند وخت .

١٠٥٩ م ٤٥١ ق

د غزنویانو او سلجو قیانوترمنځ معاهده .

سلطان ابر اهیم د مسعود زوی غزنوی پاچا د سلجوقی داود او الپ ارسلان سره روغه وکړه او فقط شرقی افغا نستان تر لاهوره غزنوی سلطنت ته پاته شو .

لومړی پلاد سلطانلقب دسلطان ابراهیم غزنوی پرسکه ضرب سو .

١٠٥٩ر ١٠٩٨م ٤٥١ ر٤٩٢ ق

د غزنویانو د اولسم سلطان ابراهیم د لومړی مسعود د زوری سلطنت .

١٠٦٠ م ٤٥٢ ق

د علی بن حسین مروزی حنفی فقیه وفات .

١٠٦٢ م٤٥٤ ق

د زهیر بنحسن بنعلی سرخسی فقیه اومورخ او مفتی خرسا نوفات.

د عبد الرحیم بنعبدا لله صیرفی بلخی قاضی القضاة او شیخالاسلام وفات اوښخیدل پهبلخ کی .

١٠٦٣ر ١٠٧٢ م٤٥٥ر٤٦٥ ق

الپ ارسلان د چغری بیگ داود زوی دمیکائیل لمسی سلجوقیدوهم پاچا .

١٠٦٤ م ٤٥٧ق

پرختل دالپ ارسلان یر غل.

١٠٦٥ م ٤٥٨ ق

د ابوبکر احمد بن حسینبیهقی شافعی فقیه او محدث او مولف وفات .

د قاضی ابو عاصم محمد بن احمد عبادی هروی عالم د طبقات الفقها او مبسوط مولف وفات .

حکیم ابونصر علی بن احمداسدی طوسی گرشا سپ نامه نظم کړه .

١٠٦٦ م٤٥٩ق

شرف الملك ابو سعد مستوفی په بغداد کی دامام ابو حنیفه پرمزار گنبده جوړه کړه .

د ابراهیم بن محمد تونی هروی محدث وفات په هرات کی .

د شیخ یوسف بن محمد سمعان

وفات او ښخیدل په چشت کی .

١٠٦٧ م ٤٦٠ ق

دشیخ الطایفه ابو جعفر محمدبن حسن طوسی د شیعه مشهور عالم او مولف وفات په بغداد کی .
(تولدئی په طوس کی ٣٨٥ ق)

١٠٦٧ م٤٦٠ق حدود

منصور بن‌سعیدبن حسن میوندی دسلطان ابراهیم دسپاه عارض سو.

د ابوبکر عتیق بن محمد هروی سور آبادی د دری تفسیر لیکوال د ژوند وخت .

قطب الدین حسن بن محمد د غور امیرو .

نظام الملك حسن بن علی‌طوسی د سلجوقیانو لوی وزیر په نشاپور بلخ،هرات ،مروکی (نظامیه مدرسی) جوړی کړی .

د قاروت بن جغری بیگ داود سلجوقی د ژوند وخت چی د کرمان سلجوقیان د ده له پښته دی .

١٠٦٩ م٤٦١ ق

د ابوالقاسم بن ابراهیم مروزی فورانی فقیه وفات .

١٠٦٩م ٤٦٢ ق

دشافعی فقیه حسین بن محمد مرورودی وفات په مرورود کی (٢٣ محرم)

ناصر خسرو بلخی خپل کتاب جامع الحکمتین د بد خشان د امیر علی بن اسد بن حارث په خواهش تالیف کی .

١٠٧٠ م٤٦٣ ق

د ابو علی حسان بن سعیدمنیعی نشاپوری فقیه او بدای د مسجدواو رباطو جوړوونکی وفات په مرورود کی .

١٠٧٢ م٤٦٥ ق

د الپ ارسلان پرماورا النهر باندی یرغلونه اودده مړینه ،شمس الملك بلخ او ترمذ ونیول .

د شیخ ابو القاسم عبدالکریم بن هوازن قشیری دخراسان د مشهور صوفی وفات په نشاپور کی .

د ابوبکر زین الدین اسماعیل وراق ازرقی هروی د دری مشهور شاعر وفات .

طاهر بن نصر بن احمد د سیستان پادشاه سو .

١٠٧٢ر ١٠٩٢م ٤٦٥ر ٤٨٥ ق

دملکشاه د الپ ارسلان زوی سلجوقی دریم پاچا سلطنت .

١٠٧٣ م٤٦٦ ق

د عثمان بن حسین وراق غزنوی په خط یو ډیر ښکلی منقش قرآن وکیښ سوچی د مشهد رضوی په کتابخانه کی‌سته.

موید الملك د نظام الملك زوی‌د هرات والی سو .

١٠٧٤ م٤٦٧ ق

د عبدالر حمن بن محمد داودی پوشنگی فقیه‌اومحدث وفات‌په‌پوشنگ کی .(ولادت یی ربیع الاول ٣٧٤ق)

ملکشاه ترمذ ونیو او دشمس الملك سره ئی روغه وکړه .

د ابوالقاسم علی‌بن حسن‌باخرزی عربی شاعر او دمیة القصر د مولف وژل .

١٠٧٥ م٤٦٨ق

دابوبکر محمد بن القاسم‌جوینی

(صفارنشاپوری) شافعی فقیه‌وفات.

١٠٧٦ م ٤٦٩ ق

سیف الدو له د سلطان ابراهیم غزنوی له‌خوا د هندو ستان‌حکمران او له بغداده د صنیع امیر المومنین لقب ورکړ سو .

ابو بکر محمد بن‌احمد بن هیثم رود باری بلخی دقرائت عالم خپل کتاب (جامع القراآت) په٤٦٩ ق د سلطان ابراهیم بن مسعود په نامه په‌غزنی کی‌تالیف کی.(١٧ محر م)

د عبدالله بن سعید بن حاتم سجزی محدث او دالا بانه د مولف وفات.

١٠٧٧ م ٤٧٠ ق

د ابوا لفضل محمد بن حسین بیهقی‌دغزنی ددربار منشی‌اودتا ریخ بیهقی‌دمو لف‌وفات‌په‌غزنی کی.(تولد یی دبیهق په حارث آباد کی٣٨٥ق»

انوشتگین چی د بلکا تگین مریی وپه خوارزم کی د غر شاه په لقب د خوارز مشاهی دوهم کهول جوړ کی چی تر ٦١٧ ق‌پوری دغه‌کورنی حکمرانه وه .

د احمد بن عبدالملك نشاپوری دخراسان دمحدث وفات .

د الشیخ العمید الجلیل سید ابوالفضل محمد بن‌علی طوسی‌وفات پنجشنبه ٩ رمضان ٤٧٠ ق(قبر او شنخته یی په غزنی کی سته»

١٠٧٧ م٤٧٠ ق حدود

د هیصم بن محمد ناوی (هروی) د دری قصص الانبیأ د مولف دژوند وخت .

١٠٧٨ م٤٧١ ق

د حسن بن علی بن محمد بلخی وخشی محدث اوقاضی‌وفات (ولادت یی ٣٨٥ ق)

١٠٨٠ م ٤٧٣ ق

د ابو علی فضل بن محمد فارمدی طوسی مشهور عارف وفات .

١٠٨٢ م ٤٧٤ ق

دقاضی القضات ابوبکر محمد بن عبدالملك اسکا فی بلخی وفات ا و ښخید نگ په بلخ کی .

١٠٨٤ م٤٧٧ ق

ابو علی فضل بن محمد فارمدی د خراسان مرشد وفات سو .

تکش په‌بلخ کی ولاړ سو ملکشاه دی په ترمذ کی ونیوی اوړوند یی کی .

د احمد بن محمد بن عبدالجلیل سجزی ریاضی پوهاند او منجم وفات .

بیبی د عبدالصمد هروی لور محد ثه وفات سوه (ولادت یی ٣٨٧ ق) عبدا لاول هروی له دی څخه روایت کوی .

١٠٨٥ م٤٧٨ ق

د امام الحرمین ابوالمعا لی عبدالملك بن عبدا لله جوینی وفات چی د نشاپور نظامیه مدرسی مشر اهستادو.

ولادت یی په جوین کی ٤١٩ ق

١٠٨٧ م ٤٨٠ ق حدود :

دسلطان ابراهیم غزنوی دسلطنت اوږده دآرامی دوره اودخیر آباد ، ایمن آباد دکلا وجوړول ،مسجدونه اومدرسی او قصرونه آباد ول.

دابو حاتم مظفر بن اسماعیل اسفزاری مهندس اومنجم وفات.

فاطمه دابوعلی دقاق لور د خراسان زاهده وفات سوه .

قتلمش دارسلان پیغوز وی د اسرائیل لمسی چی داناطول سلجوقیان دده له پښته دی .

تتش دالپ ارسلان زوی چی دشام سلجوقیان ځنی پیدا سول.

دعبدالله بن سعید خوافی شاعر اومنشی او حاسب دخلق الانسان دمولف وفات په بغداد کی .

١٠٨٨ م ٤٨١ ق

دناصر خسرو بلخی شاعر او اسماعیلی مولف وفات دبدخشان په یمگان کی (تولد ٣٩٤ ق قبادیان) دقاضی القضات خلیل بن احمد شجری بلخی وفات.

داحمدبن عبدالصمد هروی محدث وفات.

دشیخ الاسلام ابو اسماعیل عبدالله بن محمد انصاری هروی وفات او ښخیدل دهرات په گازرگاه کی.

(تولد ٢ شعبان ٣٩٦ق) د طبقات الصوفیه او منازل السایرین ارنورو ډیرو عربی اودری تالیفا تو خاوند .

په سیستان کی کاختی .

١٠٨٩ م ٤٨٢ق

فقیه ابو جعفر محمد بن عبدالجبار بن محمد جوزجانی په ویهندکی یوخا جوړ کی (ډبر لیك ئی دپیښور په موزیم کی)

دفخر الاسلام علی بن محمد بزدوی حنفی مشهور فقیه دا صول الفقه دمؤلف وفات.

١٠٩٠ م ٤٨٣ ق

محمد بن ابو جعفر محدث او صوفی دبستان العارفین مؤلف وفات سو.

دشمس الائمه محمد بن احمد سرخسی مشهور فقیه او دمبسوط دمؤلف وفات.

تاج الدین ابو الفتح صفار ی دسیستان پاچاسو.

١٠٩٢ م ٤٨٥

نظام الملك طوسی وزیر خپل کتاب سیاست نامه یاسیرالملوك په فصیحه دری ٥٠ فصله تالیف کی .

١٠٩٢ ـ ١٠٩٤م ٤٨٥ـ٤٨٧ ق

دسلطان محمود دملکشاه زوی سلجوقی ځلرم پاچاسلطنت .

١٠٩٢ م ٤٨٥ ق

نظام الملك ابو علی حسن بن ابو الحسن علی بن اسحاق طوسی د سلجوقیانو مشهور وزیر اولیکوال (تولد ٤٨٠ یا ٤١٠ په طوس کښی وزارت له ٤٥١ق تر ٤٨٥ق پوری) په ١٠ رمضان ٤٨٥ ق دبغدادپرلار دبوطاهر ارانی په لاس وو ژل سو .

١٠٩٣ م ٤٨٦ق

دابو عبدالله حسین بن احمد زوزنی خراسانی قاضی او لغوی دکتاب المصادر د مؤلف وفات.

١٠٩٤ـ١١٠٤م ٤٨٧ـ ٤٩٨

برکیارق دملکشاه زوی دسلجوقی پنځم پاچا سلطنت .

١٠٩٦ م ٤٩٠ ق حدود

دابو الحسن علی بن عثمان هجویری غزنوی اوی صوفی د کشف المحجوب دمولف وفات پ لاهور کی .

محمد بن منصور مستوفی (متوفا ٤٩٤ ق) په مرو کی یوه مدرسه جوړه کړه .

دعبدالرحمن بن علی بن ابی الصادق نشاپوری طبیب (بقراط ثانی) وفات .

دعبیدالله بن عبدالله حداد نشاپوری حنفی فقیه او محدث او قاضی وفات تر ٤٩٠ ق وروسته.

دمحمد بن احمد بن ابی سهل سرخسی حنفی فقیه او متکلم او دالمبسوط دمولف وفات (٤٨١ ق ؟)

١٠٩٧ـ١١٢٧ م ٤٩١ـ٥٢١ق

دقطب الدین محمد خوارزمشاه سلطنت .

١٠٩٧ م ٤٩١ ق

دعلی بن سهل بن عباس نشاپوری مفسر وفات .

دعطاء بن یعقوب دغزنوی دربار کاتب او دعربی اودری د شاعر وفات .

دابو الفتح عبدالرزاق منیعی بن حسان دخراسان دمحدث او فقیه وفات.

سلطان سنجر سلجوقی دملکشاه زوی هرات ته راغی.

١٠٩٨ـ١١١٥ م ٤٩٢ـ٥٠٩ ق

دغزنو یانو داتسلم پاچاعلاء الدین دریم مسعود سلطنت .

١٠٩٩ م ٤٩٣ ق حدود

قطب الدین حسن بن محمد دغور دشاهنشاهانو نیکه دوجیرستان په جنگ کی وواژه سو.

شیخ عبدالهادی دخواجه عبدالله انصاری زوی په هرات کی مقتول او په گازرگاه کی ښخ سو .

١١٠٠م ٤٩٤ ق

دامام ابولفرج عبدالرحمن احمد سرخسی شافعی فقیه و فات (زیږیدنه ٤٣٢ ق)

١١٠١م ٤٩٥ حدود .

امام غزالی په دری کیمیای سعادت وکیښی .

سرهنگ عمید محمد خطیبی هروی دغزنی سپه سالار اووروسته دقزدار حکمران و .

١١٠٢م ٤٩٦ ق

دابوالفضل محمد بن محمد سهلکی بسطامی فخر الاسلام وفات .

١١٠٤ م ٤٩٨ ق

درهم ملکشاه دبرکیارق زوی دسلجوقی شپږم پاچاسلطنت .

١١٠٦م ٥٠٠ ق

دابونصر محمدبن احمدبن ابو جعفر هروی پیر ا یروه وفات او دهرات په خمچه آباد کی ښخیدل .

پەغزنی کی دسلطان علاء الدین مسعود دماینی مهد عراق دسلطان سنجر دخور په توجه آرامی او د سلجوقیانو سره دوستی.

دطغاتکین غز نوی سالارفتوحات دهند ترگنگاپوری .

ابو حاتم مظفر بن اسما عیل اسفزاری اسمان اوریاضی پوها ند (کائنات الجو) کتاب‌وکیښی .

دشیخ علی قسوره بن محمد کردیزی دژوند وخت .

امام ابوعلی حسن بن علی‌قطان مروزی مشهور طبیب او عا لم‌خپل کتاب (کیهان شناخت)وکیښی.

(تولد ئی مرو ٤٦٥ق)

دملك کرت دژوند وخت پەغور اوهرات کی ، دکرت دپاچهانو لوی نیکه.

محمد بن حسین بن عمر هروی تاریخ برامکه پەدری ترجمه‌کی.

۱۱۰٦ م ۵۰۰ق حدود

عمدة الملك رشید بن محتا ج دسلطان ابراهیم غزنوی سپهبد او دمسعود سعدممدوح و.

خواجه محمد بن بهروز احمد وزیرو .

خواجه طاهر بن علی ثقت الملك دبو نصر مشکان وزاره دغز نی وزیرخاص و.

قوام الملك نظام الدین ابو نصر فارسی دشهزاده شیرزاد سره دهند سپهسالارسو .

عمید الملك عمادالدوله‌ابوالقاسم خاص دسلطان ابراهیم غز نوی د دربار مشرو.

منصور بن سعید بن احمد بن حسن میوندی دسلطان ابرا هیم غزنوی صاحب دیوان عرض و عبدالحمید بن‌احمدبن عبد الصمد د سلطان ابراهیم غزنوی وزیرسو.

دقاضی امین المله عبدالودود د عبدالصمد غزنوی زوی د ژ و ند وخت .

ابونصر محمد بن عبدالحمید مستوفی دبهرا مشاه غز نوی وزیرو.

ابومحمد بن حسن قاینی د بهرامشاه غزنوی وزیرو .

خواجه اسماعیل شنیزی د حکیم سنایی مرشد او استاد دژو ند وخت .(قبرئی تراوسه په شنیز کی‌سته)

علاء الدین ابو یعقوب یوسف اونجم الدین ابو المعا لی‌احمد دقاضی القضات یوسف‌بن احمد حداد شالنگی غزنوی زا من په غزنی کی‌علماوه.

دشیخ الاسلام جمال الدین ابو نصر احمد بن محمد بن سلیمان صغانی دژوند وخت. (قبرئی په غزنی کی‌سته)

دابو سعد احمد بن ابویوسف هروی‌دکتاب (الاشراف‌علی‌غوا مض الحکومات) دمؤلف ژوند.

دملك الجبال عزالدین حسین بن قطب الدین حسن‌غوری‌پاچاسلطنت پەغور کی .

دعبدالرب بن منصور غز نو ی فقیه اودملتمس الاخوان دمؤ لف د ژوند و خت .

دابو العباس فضل محمدلو کری مرورودی مشهور فیلسوف د ژوند وخت. .دډیرو ترکی لغاتو گډیدنه‌په دری اوپښتو ژبو کی.

۱۱۰۸ م ۵۰۲ ق حدود

ثقة الملك طاهربن علی دسلطان مسعود بن‌ابراهیم وزیر و .

۱۱۰۹ م ۵۰۳ ق حدود

جمال المعاشرین دغزنی دقوال ژوند .

دزاهدبن محمد بن احمد سرخسی شافعی محدث وفات .

۱۱۱۰ م ۵۰٤ ق حدود

دابوالفرج بن مسعودرونی ددری مشهور شاعر اود غزنویانو د ستایونکی وفات، (تولدئی‌د ٤۳۵ ق حدود)

۱۱۱۱ م ۵۰۵ ق حدود

دحجة الاسلام ابوحامد محمد بن محمد غزالی طوسی و فات (تولدئی ٤۱۵ق) دی د«حیاء علوم الدین» او نورو ډیرو تالیفاتو خاونددی .

عثمان مختاری غزنوی شاعرخپله «شهر یار نامه» په دری ژبه نظم کړه .

دجمال الحکماء ابوالحسن علی‌بن محمد دغزنی دطبیب دژوند وخت .

۱۱۱۲ م ۵۰٦ ق

دامام زاهدسلیمان‌بن احمدصغانی قاضی وفات (قبرئی په غزنی کی سته)

نظامی عروضی سمرقندی دبلخ د برده فروشانو په کوڅه دامیرابو سعید جره په‌کور کی‌دعمر خیام‌سره لیدنه وکړه .

قاضی حسن محمودی او قاضی حسین محمودی د احمد زامن دبلخ قاضیان مړه اوپه‌بلخ کی ښخ سول .

۱۱۱٤-۱۰۹۸ م ٤۹۲-۵۰۸ ق

دغزنی دیوه منار بناد (السطان الاعظم‌ملك الاسلام‌علاء الدولةوالدین ابوسعد مسعودبن ظهیرالدوله امیر المؤ منین ابراهیم خلد الله ملکه) په نامه

۱۱۱۷-۱۱۱۵ م ۵۰۹-۵۱۱ ق

دغزنویانو دشلم پاچا ارسلان‌شاه ددریم مسعود زوی سلطنت .

۱۱۱٦ م ۵۱۰ ق

دعبدالرحمن بن‌احمد خزاعی‌شیعی نشاپوری عالم وفات .

دمحمد بن‌منصور سمعانی مروزی محدث او فقیه وفات په مرو کی (ولادت ٤٦٦ق)

۱۱۱۷-۱۱۵۷ م ۵۱۱-۵۵۲ ق

د غزنویانو د یوویشتم پاچا بهرا مشاه ددریم مسعود زوی سلطنت .

۱۱۱۵ م ۵۰۹ یا ۵۱۷ ق

د حکیم ابوالفتح عمربن ابراهیم خیام نشاپوری لوی منجم اوریاضی پوهاند اوشاعر وفات په نشاپور کی .

۱۱۱۵ م ۵۰۹ ق

دغزنو یانو دنونسم پاچا شیرز اد ددریم مسعود زوی جلوس پەغزنی کی .

د اسماعیل بن عبدالسلام بن

عبدالرحمن بن حسن لغمانی حنفی فقیه ژوند په بغداد کی .

علاءالدین مسعودغزنوی‌خیل‌ورور شیرزاد مړکی‌ع، اوبل ورور بهرا مشاه ئی سلطان سنجر ته پناه وروړه .

۱۱۱۶ م ۵۱۰ ق

سلطان ارسلانشاه غزنوی یوه ماڼی په‌غزنی کی جوړه کړه .

ملك الجبال عزالدین حسین دقطب الدین حسن زوی دغور امیرؤ چی‌دده اوه زامن پر غوری دولت قابض سوه .

۱۱۱۶ م ۵۱۰ ق حدود

دابوعبدالله احمدبن عمر خراسانی د لایضاح فی‌القراآت العشر دمؤلف دژوند وخت .

خواجه صدر شمس الوزراء قطب الدین یوسف بن یعقوب دغزنی‌سپه سالار او وزیر و.

قاضی القضات یوسف بن احمد حدادی شالنگی غزنوی د سلطان مسعود دعهد دغزنی قاضی القضات او وزیر و.

موفق الدوله ابو طاهر خاتونی‌د سلجوقیانووزیرخپل «مناقب‌الشعراء» وکیښی .

د نصربن ابراهیم هروی حنفی محدث دالمسند دمؤلف وفات .

دعثمان‌بن عمرمختاری‌غزنوی ددری دمشهور شاعر دژوند وخت .

۱۱۱۷-۱۱۵۷ م ۵۱۱-۵۵۲ ق

سلطان سنجرد ملکشاه زوی د سلجوقی اتم لوی پاچا سلطنت .

بهرا مشاه غزنوی پرخپله سکه باندی دسلطان سنجر سلجوقی نوم هم‌وکیښی .

۱۱۱۷-۱۱۵۷ م ۵۱۱-۵۵۲ ق

دغزنی دیوه منار بناد(السلطان الاعظم ملك الاسلام یمین الدولت وامین المله ابو المظفر بهرامشاه خلدالله تعالی ملکه) په نامه .

۱۱۰۴-۱۱۱۷ م ۴۹۸-۵۱۱ ق

دسلطان محمد دملکشاه زوی سلجوقی ارم پاچا سلطنت چی د عراق‌سلجوقیان دده له‌پښته‌دی .

دمحمد بن عمر ضریر بلخی‌مفسر اوواعظ ، ددعوةالهند دمؤلف وفات

اوښخیدل په‌بلخ‌کی ۵۱۱ ق .

دقاضی‌القضات شیخ الاسلام بلخ محمد ابو القصیر بلخی و فات

۱۱۱۸ م ۵۱۲ ق

دبهرامشاه غزنوی‌لښکرو په‌ملتان کی محمد باهلیم دده دزامنو سره مات‌کی اوپه سوالك‌کی دناکور کلا جوړه کړه .

دسلمان بن‌ناصرنشاپوری شافعی متکلم ، صوفی فقیه وفات .

دشمس الائمه ابوالقاسم‌اسماعیل بن‌حسن‌بیهقی دمرود مدرسی‌داستاد وفات .

۱۰۴۲-۱۱۱۹ م ۴۳۳-۵۱۳ ق

د شیخ الافاضل علی‌بن احمد بنجکردی نشاپوری‌ادیب دژونددوره (وفات یه‌نشاپور کی رمضان)

۱۱۲۰ م ۵۱۴ ق حدود

طبیب شرف الزمان طاهر مروزی (طبایع الحیوان) تالیف کی .

دعبدالرحیم‌بن عبدالکریم‌بن‌هوازن قشیری نشاپوری صوفی اووا عظ وفات په نشاپور کی.

دناصربن محمد عیاضی سرخسی فقیه اومحدث وفات په سر خس کی (ولادت ۴۳۹ ق)

۱۱۲۱م ۵۱۵ ق

د غزنوی داری دمشهور شاعر مسعود سعد سلمان وفات په غزنی کی (تولدئی لاهورد ۴۴۰ ق حدود)

۱۱۲۱ م ۵۱۵ ق حدود

دابو حاتم مظفر بن اسماعیل اسفزاری ریاضی‌پوهاند اوهیئت‌دان وفات .

دابو المفاخر محمد بن منصور قاضی سرخس په نامه حکیم سنایی (سیرالعباد الی المعاد) نظم‌کی .

۱۱۲۲ م ۵۱۶ ق

دعلی بن احمد غزال نشاپوری نحوی اوقاری وفات.

دابو محمد حسین بن مسعودفراء بغوی شافعی‌فقیه‌اود (مصابیح‌السنه) دمولف وفات په‌مرورود کی(شوال)

برهان‌الدین ابوالحسن علی‌بن ناصر بریانگر غزنوی واعظ بغداد ته ولاړ .

۱۱۲۳ م ۵۱۷ ق

دحکیم عمر خیام نشاپوری وفات به‌نشاپور کی .

دشیخ الاسلام محمدبن محمدژالی بلخی وفات اوښخیدنگ په بلخ‌کی

۱۱۲۴ م ۵۱۸ ق

داحمد بن محمد میدانی نشاپوری ادیب اولغوی دکتاب (السامی‌فی‌الاسامی) دمؤلف وفات .

حکیم سنایی له سفره غزنی ته راستون سو .

محمد بن‌نصر هروی بشکانی د بغداد قاضی اوفقیه په همدان کی وراژه سو (ولادت‌یی ۴۵۸ ق) .

شرف الدوله رضی الملك احمد دغزنی سپه سالار و .

۱۱۲۶ م ۵۲۰ ق

ابو الفتح اسعد بن محمدمیهنی دبغداد د نظامیه مدرسی داستاد وفات .

دمجدالدین احمد بن محمد غزالی طوسی وفات.دی دامام غزالی‌ورور دی .

رشیدالدین ابو الفضل احمد بن محمدمیبذی دخواجه عبدالله‌انصاری تفسیر کشف الاسرار ولیکلی .

۱۱۲۶ م ۵۲۰ ق حدود .

ابونصرمحمدبن عبدالحمیدمستوفی دبهرامشاه غزنوی وزیرو .

دامیر الشعراء محمدبن عبدالملك معزی نشاپوری دسلجوقیانو ددربار دری شاعر وفات .

۱۱۲۷-۱۱۵۶ م ۵۲۱-۵۵۱ ق .

داتسز بن محمد خوارز مشاه سلطنت .

دعلاء الدین حسین غوری اوبهرامشاه غزنوی جنگ پرتگین آبادباندی چی غوری پاچا هغه ونیو ی.

۱۱۲۸ م ۵۲۲ ق

دحسن بن محمدبن خسرو بلخی حنفی عالم وفات

۱۱۲۹ـ۳۰ م ۵۲۴ـ۵۲۵ ق

حکیم‌سنایی‌غزنوی (حدیقه‌الحقیقه) په‌دری ژبه نظم کړه اومحمد بن‌علی الرفاسره راټوله کړه لس زره بیته دبهرامشاه غزنوی په‌نامه

۱۱۳۰یا ۱۱۴۰ م ۵۲۵یا۵۳۵ ق

دحکیم ابوالمجد مجدود بـن آدم سنایی دغزنی دمشهور عارف‌اودری شاعر وفات . (یکشنبه ۱۱ شعبان ۵۲۵ ق) .

۱۱۳۰ م ۵۲۵ ق حدود

امام برهان‌الدین ابوالحسن علی بن‌ناصر بریانگر غزنوی عالم‌په‌بغداد کی .

خواجه عمید احمد بن مسعودتیشه کـن دسلطان بهرامشاه غزنـوی د دربار مشرو .

۱۱۳۱ م ۵۲۶ ق

دخراسان دقاضی‌القضات احمدبن بن محمدبن صاعد وفات .

۱۰۶۹ـ۱۱۳۳ م ۴۶۱ـ۵۲۷ ق

د مجدالدین اسعدبن ابـی نصر میهنی طوسی شافعی فقیـه دژوند دوره .

د خواجه قطب الدین مودودبـن یوسف چشتی زاهد اوصوفی وفات په‌چشت کی .

۱۱۳۳ م ۵۲۸ ق

حکیم سنایی‌غزنوی (طریق‌التحقیق) تالیف کی (؟) .

۱۱۳۵ م ۵۲۹ ق

دعبدالغافربن اسماعیل‌نشا پوری شافعی محدث اوفقیه دالسیاق‌فی‌ذیل تاریخ‌نیسابوردمؤلف‌وفات‌په‌نشاپورکی (ولادت ئی ۸ربیع الاخر ۴۵۱همدلی)

۱۱۳۵ م ۵۳۰ق ۲۴ جمادی‌الاولی

محمد بن اسماعیل غوری عالم‌په هرات‌کی وفات‌اوښخ‌سو (شنختنه‌ئی سته) .

۱۱۳۵ م ۵۳۰ ق

ابو محمد بن‌قاینی دبهر امشـــا ه وزیر وپه‌غزنی کی

دمحمد بن‌حمویه جوینی مفسر او صوفی اوفقیه‌دلطایف الاذهان‌دمؤلف وفات (ولادت ۴۴۹ ق) .

۱۱۳۷ م ۵۳۲ ق

دابو العلا صاعد بـــن حسین بن اسماعیل بن‌صاعد دخراسان‌دقاضی وفات په نشاپور کی .

دشرف الدین ابو محمد بن علی بـن ابوطالب حسینی بلخی وفات اوښخیدل په بلخ‌کی .

۱۱۳۸ م ۵۳۳ ق

دابوبکر محمد بن احمد خرقـی مروزی لوی‌منجم‌اوجغرافیا اوریاضی پوهاند مؤلف وفات .

دزاهر بن‌طاهر نشاپوری محـــد ث وفات .

۱۱۴۰ م ۵۳۵ ق

دشیخ الاسلام محمد بن حسین فلانسی دبلخ دجامع دامام وفات‌اوپه بلخ‌کی ښخیدنه .

۱۱۴۱ مشنبه ۷ شعبان ۵۳۶ ق

د ابـو یوسف اسما عیل بـــن عبدالرحمن بن عبدالسلام بن حسن

بن عبدالرحمن بن ابراهیم‌بن بشیر بن منکولغمانی حنفی‌فقیه اوپه بغداد کی دامام ابوحنیفه دمدرسی داستاد وفات اوهلته‌ئی ښخیده .

۱۱۴۱ م ۵۳۶ ق

ابو المعالی نصرالله بن محمد د بهرامشاه غزنـوی منشی او وزیـر (کلیله اود منه) کتاب په‌دری‌وکیښی دادم‌بن اسد هروی دبلخ د نظامیه مدرسی داستاد وفات .

دعثمان بن عمرغزنوی مقری عالم وفات اوپه بلخ کښی ښخیدنگ .

دشیخ ابونصر احمد بن‌ابوالحسن نامقی جامی مشهور پـه ژنده پیل وفات (ولادت‌ئی ۴۴۱ ق) .

دابو سعد آدم بـن احمد هروی نحوی عالم وفات .

دابو الفتح مختار بن عبدالحمید فوشنجی مؤرخ وفات .

دامام ابـو سعد اسماعیل بـن عبدالواحد فوشنجی هروی وفات .

قاضی بهاء الدین عمر بن احمد محمودی دبلخ قاضی وو .

۱۱۴۲ م ۵۳۷ ق

اتسز خوار زمشاه نشاپور ونیو دسلطان‌سنجرسلطنت‌بیا برخراسان باندی .

دشیخ ابو حامد فریدالدین محمد بن‌ابراهیم عطارنشاپوری‌اوی صوفی تولد .

دنجم الدین ابوحفص عمربن‌محمد نسفی حنفی عالم وفات په‌سمر قند کی (تولدیی ۴۶۱ ق)ده‌داعتقا داهل سنت رساله په ۵۳۵ ق وکښه .

د عبدالمجید بن اسماعیل قیسی هروی حنفی‌فقیه‌اودروم قاضی‌وفات په‌قیسار په‌کی .

درئیس بلخ سیدمحمدبن حسین حسینی وفات په بلخ‌کی .

۱۱۴۳ م ۵۳۸ ق

خواجه فرید الدین محمد بـــن ابراهیم عطار خپل منطق الطیرنظم کی .

۱۱۴۵ م ۵۴۰ ق حدود

دابو الفضل محمد بن سلیمان‌بن احمد صغانی دغزنی د قاضی وفات (فبزئی په غزنی کی‌سته) .

دعبدالرشید بن‌ابی‌حنیفه‌ولوالجی بدخشی دفتاوی ولوالجیه د مؤلف وفات .په ولوا لج‌کی (ولاد ت یی ۴۶۷ ق) .

ملك فخرالدین بن‌عزالدین غوری نونسم پاچا سکه ووهله اوشغنان، تخار، درواز ،وخش ،بدخشان‌ئی هم ونیول .

د عمید محمد بـن عثمان یمینی غزنوی کاتب دبهرامشاه غزنوی د دربار شاعر دژوند وخت .

شرف الدین محمد بن ناصرعلوی غزنوی د بهرامشاه غزنوی ددربـار شاعرو .

عبدالله محمد بن طیفورسجاوندی غزنوی تفسیر سجاوندی‌مؤلف‌وفات سمو .

د ادیب صابر اسماعیل ترمذی دری شاعر وفات .

حور ملك دشارشاه بن ابراهیم غرستانی لور سلطان‌حسین‌جهانسوز. غوری وکړه .

۱۱۴۶ م ۵۴۱ ق

قطب الدین محمدبن عز الد ین دغور امیرپه غزنی کی بهرامشاه وراژه، اود غوریانو او غزنویانو دعداوت سبب سو .

۱۱۴۷ م ۵۴۳ ق

ظهیر الدیـن محمد بـن مسعود غزنوی ریاضی پوهاند «کفایة التعلیم» په دری ژبه تالیف کی .

۱۱۴۸ـ ۱۱۴۹ م ۵۴۳ـ۵۴۴ ق

دسلطان سیف الدین بن عزالدین غوری اتلسم پاچا داقتدار وخت .

داسعد بن محمدبن موسی فوشنجی محدث وفات پـه فـوشنج کـی ذیقعده ۵۴۳ ق)

۱۱۴۹ م ۵۴۴ ق

بهاء الدین سام بن محمد چـی د مندیش په سنگه کی امیرو، دفیروز کوه پرتخت کښینو ست .

۱۱۴۹ـ۱۱۵۹ م ۵۴۴ـ۵۵۴ ق

دغوری خوارلسم پاچا بهاء الدین سام بن عزالدین حسین سلطنت .

۱۱۴۹ـ۱۱۵۶ م ۵۴۴ـ۵۵۱ ق

دسلطان علاءالدین حسین جهانسوز بن عزالدین دغوریانو داولسم پاچا سلطنت .

۱۱۴۹ م ۵۴۴ ق

سلطان سیف الدین سوری غوری په غزنی کی دخپل وزیر سیدمجدالدین دوسوی سره دبهرامشاه په حکم د بل طا ق پرسر وځړول سو.

د احمد بن علی بوجعفرك مقری بیهقی لغوی عـالم و فـات (تولـد ۴۷۰ ق)

۱۱۵۰ م ۵۴۴ ق حدود

دحکیم ابوعمر عثمان بـن عمـر مختاری غزنوی ددری لـوی شاعـر وفات.

دمحمد بن محمد رضی الد یـن سرخسی حنفی فقیه او مؤلف وفات په دمشق کی .

دامام فخرالدین رازی محمد بن عمر مشهور امام اومفسرزیږیدنه .

۱۰۸۵ـ۱۱۵۱ م ۴۷۷ـ۵۴۵ ق

دعتیقو بن علی بن منصورمروی فقیه او دیب اوحاسب دژوند دوره په مرو کی پـه ۱۵ ذیقعده زیږیدلی او پـه ۲۷ شوال وفات سوی دی .

۱۱۵۰ م ۵۴۵ ق

غوری سلطان علاء الدین حسین غزنی وسواځه ولـه دی جهته په (جهانسوز) مشهور سو .

۱۱۵۱ م ۵۴۶ ق

غوری سلطان علاء الدین جهانسوز دبست ښارونړاوه .

دبلخ دقاضی ابوسعد عـمر بـن علی بـن حسین محمودی وفات او ښخیدل په بلخ کی (ولادت ۴۵۷ ق)

دابو الفتح محمد بـن ابوالقاسم عبد الکریـم شـار ستانی متکلم د «دالملل والنـحل» دمؤلف و فـات (شار ستان په خراسان کی نسا ته نزدی ؤ) .

۱۱۵۳ م ۵۴۸ ق

دعین الزمان حسن قطان مروزی بن علی طبیب اوریاضی پوهاند دلوکر ی دشاگر وفات په مروکی (تولدئی په مروکی ۴۶۵ ق) .

دعبدالرحمن بن محمد خرکردی

پوشنگی محدث وفات .

۱۱۵۰ م ۵۵۰ ق حدود .

د سلطان سنجـر سلجوقـی او سلطان علاء الدین حسین جهانسوز جنگ دواړو په سه گوشه ناب کی، چی جهانسوز ونیول سو اومعاف سو .

دغوری ملك شهاب الدین محمد حرنك بن عزالدین حسین داقتدار وخت .

ملك شجاع الدین علی بن عزالدین هم پادغه وخت کی دغور په جرماس کی حکمران و .

امیر فخرالدین خالد بن ربیع مکی دعلاء الدین جهانسوز غوری ددیا ر شاعر اوعالم دژوند وخت .

شیخ تیمن په غورکی د پښتـو شاعرو .

دمحمود بن ابی الحسن بن حسین نشاپوری غزنـوی مفسر او لغـوی وفات .

دعبدالرحمن خازن مروزی حکیم او مهندس دزیج سنجری اومیزان الحکمه دمؤلف وفات .

۱۱۵۶م ۵۵۱ ق :

دره خطائیان او غزانرا غلل اودولت سنجری ئی ونړاوه سلطان سنجرئی ونیوی .

داتسز لښکر کښی پر خراسان اود سلطان سنجرایله کیدل .

د برهان الدین علی بـن نـاصر بریانگرغزنوی عالم وفات په بغدادکی.

۱۱۵۶ـ۱۱۷۲ م۵۵۱ ـ۵۶۸ ق:

دایل ارسلان بن اتسز خوارزمشاه سلطنت .

ملك سیف الدین بن علاء الد یـن جهانسوز غوری شلم پاچا سکـه وو هله .

نظام الدین احمد بن عمربن علی مشهور په نظامی عروضی سمر قندی دغور یانو د دربار لیکوال چهـار مقاله یا مجمع النوادر تالیف کړه .

۱۱۵۷ م ۵۵۲ ق

دابو تمام محمد بن عبدالملك بن عبدالسلام بن حسین لغمانی فقیـه وفات (۱۱ رمضان) او د بغداد په باب الطاق کی ښخیدل.

دناصر بن سلمان انصاری نشاپوری شافعی فقیه او محدث وفات په مروکی.

د سلطان سنجر سلجوقی وفات.

د قاضی بر هان الدین منصوربن ابو سعد محمد بن ابو نصر صاعدی د نشاپور دقاضی او حنفی امام وفات.

۱۱۵۷ ـ۱۱۶۱ م ۵۵۲ ـ ۵۵۷ق

په غزنی کی دمحمودی کهـول دوه ویشتم پاچا خسرو شاه بـن بهرامشاه سلطنت .

۱۱۵۸ م۵۵۳ ق

د عبدالاول بن عیسی بن شعیب صوفی سجزی هروی محدث وفات.

داحمد بن علی ظهیر بلخی حنفی فقیه او اصولی وفات .

د عبدالجبار بن عبدالجبار خرقی شافعی فقیه او محدث او مـورخ وفات په مروکی (ولادت یی دمـر و په خرق کی ۴۷۷ق)

۱۱۵۹م ۹ شعبان ۵۵۴ق

د ابو عبدالله الضریر محمد بن عبدالرحمن بن حسن لغمانی حنفی

فقیه وفات او ښخیدل دبغداد دا بی حنیفه په محله کی .

۱۱۶۰ م ۵۵۵ ق

د عبدالو اسع بن عبد لجا مـع غرستانی جبلی شاعر وفات .

۱۱۶۱ م ۵۵۶ ق

داشرف الدین ابو محمد حسن بن محمد حسینی غزنوی(اشرف) دغزنی دمشهور شاعر وفات .

د امام سیدناصر الدین سمرقندی دتاریخ بلخ دمؤلف وفات او ښخیدل په سمرقند کی .

۱۱۶۱ ـ ۱۱۸۷ م۵۵۷ـ۵۸۳ ق

دغزیانو دکهول داخرنی پا چـا خسرو ملك بن خسرو شاه پا چهی .

۱۱۶۲ م ۵۵۸ ق

محمدبن سام غور ی دسلـطا ن غیاث الدین ورور د غور داستیه او کجوران حکمران سو .

۱۱۶۲ـ ۱۱۷۴م ۵۵۸ـ ۵۷۰ ق

مزید الدین آی ابه په خراسا ن کی.

۱۱۶۲ م ۵۵۸ ق

د سلطان شمس الدین محمد بـن فخرالدین مسعودغوری د اقتدار وخت.

۱۱۶۲ ـ ۱۲۰۲ م ۵۵۸ـ ۵۹۹ق

د غور د یوویشتم لوی سلطـان غیاث الدین محمدبن بهاءالدین سام د سلطنت دوره .

۱۱۶۳ م ۵۵۹ ق

د مولاناشهاب الدین عبدالله فامی هروی د تاریخ هراة د لیکوال دژوند وخت .

د قاضی حمید الدین محمود بـن عمربن احمد بلخی دمقامات حمید ی د مولف وفات .

محمد دعبدالواحد زوی په هرات کی یو ښکلی برنجی لوښی جوړکی (دارمتیاژ موزیم)

۱۱۶۴ م ۵۶۰ ق

د ابو الفضل محمد بن طیفـــور سجاوندی غزنوی (د کتاب وقوف) مولف وفات .

د احمد بن محمد سجاوندی مورخ د ذخایر نثارفی اخبار السیدالمختار دمولف وفات .

۱۱۶۴ ـ ۱۲۰۲ م ۵۶۰ تر۵۹۹ ق

ملك سیف الدین مسعود تمران د غوری د ربار لوی امیر و .

۱۱۶۴م ۵۶۰ ق حدود

فخر الملك شر ف الدین فرداری د غور د سلطان غیاث الدین محمد سام وزیر و .

ملك الکلام فخر الدین مبارکشاه د غوری دربار شاعر د غوریانو منظومه نسب نامه وکښله .

۱۱۶۵ م۵۶۲ ق

قره ختائیانو بلخ او اند خـــود ونیول .

د ضیاء الدین عمر بن محمـــد بسطامی بلخی محدث او مـفسراو صوفی وفات (ولادت ۴۷۵ق) .

د ابو سعید عبدالکریم بن محمد منصور مروزی سمعانی محدث او د (کتاب الانساب) دمؤلف وفا ت پـه مروکی (ولادت ۵۰۶ق)

۱۱۶۵م ۵۶۲ ق شاو خوا :

تاج الدین حرب بن محمد دسیستان پادشاه و (متوفا ۶۱۲ ق)

۱۱۶۸ م۵۶۲ ق:

امام یوسف بن عبیدا لله اندخودی تفسیر ینابیع العلوم به فارسی شرو کی (د کابل خطی نسخه)

۱۱۶۹ م ۵۶۵ ق

د ابو الحسن علی بن زیدبیهقی (ابن فندق) مورخ او حکیم اوریاضی پوهاند وفات چی د (تاریخ بیهق) مولف دی .

۱۱۶۹ م ۵۶۵ ق حدود

مجد الملك دیو شـاری د سلطـا ن غیاث الدین محمد سام غوری وزیرو.

۱۱۷۱ م ۵۶۶ ق

ابو بکر بن احمد بن عبید الله غزنوی خطاط په ښکلی خط یو قرآن وکیښی (دمصر موزیم)

دمحمد بن محمد بن محمد هروی مفسر او متکلم او واعظ وفات .

۱۰۹۴ ـ ۱۱۷۲ م۴۸۷ـ۵۶۸ ق

د ابو الفضل عبدالله بن احمـد طوسی شافعی عالم (خطیب موصل) دژوند دوره .

۱۱۷۳ ـ ۱۲۰۷ م ۵۶۹ ـ۶۰۲ق

دغور د دوه ویشتم لوی سلطـان معز الدین (شهاب الدین) محمد بن بهاوالدین سام د هندد فاتح دسلطنت دوره .

۱۱۷۳ م۵۶۹ ق

ملك معز الدین محمد غوری دخپل ورور سلطان غیاث الدین په حکم ټول سیستان او زاول اوکابل ونیول او غزان یی له غزنی څخه وایستل .

۴ر ۱۱۷۳ م ۵۷۰ ق

غوریانو غـزنی ونیوی . عبدالله بن محمد بلخی مورخ په اندلس کی و.

دعمر بن محـمد ابـــو شجـا ع بسطامی بلخی محدث او شاعر وفات .

سلطان معز الدین محمد غـوری گردیز او ملتان فتح کړل .

قاضی القضاة معز الدین هروی د سلطان غیاث الدین محمد سام غوری د عصر لوی قاضی و .

عین الملك سوریانی د سلطـا ن غیاث الدین محمد سام غوری وزیرو.

شمس الملك عبدالجبار گیلانی د سلطان غیاث الدین محمد سام غوری وزیر و .

۱۱۷۴ ـ۱۲۰۳ م ۵۷۰ ـ۶۰۰ ق

قاضی صدر شهید نظام الدیـن ابو بکریه غزنی کی دسلطان معزالدین له خوا قاضی ممالك و.

او تر ده وروسته د ده زوی : سید شرف الدین ابو بکر .

سلطان ناصرالدین قباچه په ملتان اچه کی دسلطان معز الدین محـــمد غوری له خوا حکمران و .

۱۱۷۵م ۵۷۱ ق

ملك معز الدین محمد غوری له بهاء الدین طغرل څخه هرات ونیواو د غور په سلطنت پوری ونښلاوه.

او پو شنگ یی په ۵۷۳ق ونیو.

ملك یار غرشین د هند په فتوحاتو کی خپل حماسی پښتو شعر ووایه. دی په دهلی کی وفا تاو ښخ دی .

د محمد بن محمد سرخسی حنفی فقیه او دالمحیط الکبیرد مولف وفات.

۱۱۷۶ م۵۷۲ ق

د محمد بن معتصم مرجانی بلخی زاهد وفات په بلخ کی .

شمس الدین بلخی د سلطان معز الدین قاضی لشکر او ملکشاه وخشمی دغوری دربار لوی امیرو .

۱۱۷۷ م ۵۷۳ ق

د رشید الدین محمد بن محمدبن عبدالجلیل (رشید وطواط) بلخی مشهور منشی او شاعر او مولف د «حدایق السحر» د لیکوال وفات .

۱۱۷۸ م ۵۷٤ق

امام فخرالدین محمد بن‌عمر رازی (متوفا ٦۰٦ ق) خپل دری کتاب (جامع العلوم)دعلاءا لدین تکش خوار زمشاه په‌نامه تالیف کی .

سلطان معز الدین محمد غوری‌په نهرو اله کی د بهیم د یوله جنگه راستون سو .

۱۱۷۹ م ۵۷۵ ق

سلطان معز الدین غوری پیښور ونیو .

قاضی شهاب الدین خرما بادی‌د سلطان غیاث الدین محمد سام غوری دعصر لوی قاضی و .

۱۱۸۰ م ۵۷٦ ق

دمحمد بن حسین‌بن‌حسن‌بیهقی‌عالم‌د انوارالعقول د مولف د ژوند وخت.

د شیخ سیف الدین سعید بن مطهر باخر زی مشهور صوفی‌وفات.

ښکار ندوی بن احمد چی پلارئی دفیروز کوه کو ټوال و خپله پښتو قصیده یی د سلطان معزالدین محمد غوری د هند د فتوحاتو په ستاینه کی وویله (د ۵۷٦ ق حدود)

۱۱۸۱ م ۵۷۷ ق

سلطان معزالدین‌محمدغوری لاهور ونیو او ملک قطب الدین ایبک ته یی وسپاره .

د سلطان غیاث الدین محمد سام غوری استا ځی خوارزم ته ولاړل .

دخواجهٔ احمد بن مو دود چشتی زاهد وفات اوښخیدل په چشت‌کی.

د امام شمس الدین محمود بن مسعود اندخو دی عالم او شاعر وفات .

۱۱۸۲ م ۵۷۸ ق

تکش په خراسان کی سر خس کلا بندکی.

۱۱۸۳ م ۵۷۹ ق

د خوار زم‌سلطان شاه پرسلطان غیاث الدین غوری بری وموند .

تایمنی دغور پښتو شاعرد سلطان غیاث الدین د باغ ارم په ستا ینه کی پښتو شعر ووایه .

۱۱۸٤ م ۵۸۰ ق‌حدود

فرید الدین عمر بن غیلان بلخی‌د ابو العباس‌لوکری شاگرداو دفلسفی دکتابو د مولف د ژوند وخت .

۱۱۸۵ – ۱۱۸۷ م ۵۸۰ – ۵۸۳ق

د خوارزم سنجر شاه په نیشاپور کی‌پاچا و.

۱۱۸۵ م ۵۸۰ق حدود

ملک قطب الدین یوسف تمرانی دغوری دربار لوی امیر و.

سلطان غیاث الدین عوض خلجی د هند په لکهنو تـی کی دسلطان معزالدین له‌خوا حکمرا ن و.

ظهیر الملک عبدالله سجزی د سلطان غیاث الدین محمد سام غوری وزیر و.

۱۱۸٦ م ۵۸۲ ق

سلطان تکش نشاپور ونیو اوخپل

زوی ملکشاه ته یی وسپاره .

سلطان خسرو ملک آخرنی غزنوی پاچا غزانو مات‌کی اودوی غز نـی ونیو .

مولانا سراج‌الدین منهاج دسلطان معز الدین محمد غوری په فرمان د هندو ستان قاضی لشکر سو .

سپه سالار حسام‌الدین علی‌کرماج د سلطان معزالدین محمد غوری له جواد ملتان والی دلاهور حکمران‌سو دعالی بن ابراهیم بن اسما عیل غزنوی حنفی فقیه او مفسر د مشارع الشرایع د مولف وفات .

۱۱۸۷ م ۵۸۳ ق حدود

دا وحد الدین محمد بن محمد انوری ابیور دی خراسانی مشهو ور دری‌شاعر وفات .

۱۱۸۸ م ۵۸٤ ق.

د شیخ فرید الدین گنج شکر بن جمال الدین تولد (د کابل دپنجشیر د فرخ شاه له پښته ، دده وفات په اجودهن کی د ٦۸۷ ق حدود)

د شیخ الاسلام‌خطیب‌امام الحرمین محمد بن احمد بلخی زاهد او امام وفات او ښخیدل په بلخ کی .

محمد بن عیسی بن‌علی نشا پوری یو قرآن په ښکلی نسخی خط د سلطان غیاث الدین محمد بن سام غوری لپاره وکیښی (دایران باستان موزیم)

شریف محمد بن منصورمبارکشاه فخر مدبرغزنوی خپل رحیق‌التحقیق نظم کی (محرم) محمد د عبدالرحمن زوی خراسانی صوفی دمقاماتوشارح وفات سو .

۱۱۸۹ م۵۸۵ ق حدود

جلال الدین د یو شاری دسلطان غیاث الدین محمد سام‌غوری وزیرو.

د قاضی وحید الدین مرو رودی‌د شافعی مذهب مقتدا او د سلطان غیاث الدین محمدسام غوری داستاد د ژوند وخت .

دکاکړ نیکه شهادت او ښخیدل پـه هرات کی .

۱۱۹۰ م ۵۸٦ق حدود

امام‌صدرالدین‌علی هیصم‌نشاپوری کرامی دغرستان دافشین دښار د مدرسی لوی مدرس و.

۱۱۹۱– ۱۲۰۵ م۵۸۷ –٦۰۲ ق

د غور نه ویشتم پـاچـا سلطان بهاء الدین سام‌بن شمس الد یـن محمد په بامیان کی .

۱۱۹۱ م ۵۸۷ ق

سلطان خسروملک د غزنی آخرنی پاچا په ۵۸۳ ق د سلطان معزالدین محمد سام غوری په لاس د بلروان په‌کلاکی بندی سوی وپـه ۵۸۷ ق ووژل‌سواو د غزنی د سبکتگین‌کهول ورسره ختم سو،دده زوی بهرامشاه هم وواژه سو .

۱۱۹۲ م ۵۸۸ ق

د مرغاب په جنگ کی د غوریانو بری پر جلال الدین محمود بـن ایل ارسلان خوارز مشاه باندی .اود غوریانو له خوا مرو اوتشاپور او سرخس نیول .

سلطان معز الدین محمد غوری په هند کی رای پتهورامات کی اواجمیر او ټول سوالک‌یی ونیول، قطب‌الدین ایبک یی د کهرام حکمران کی .

۱۱۹۳ م ۵۸۹ ق

ملکشاه مړینه . قطب الدین محمد په نشاپور کی مړ سو .

سلطا ن معزالدین محمد غـور ی دهلی اوکول ونیو ل.

۱۱۹۳ م۵۹۰ق حدود

دبهاء الدین سام غوری دبامیا ن په دربار کی امام فخر الدین راز ی او شیخ الاسلام جلال الدین ورسل اومولانا سراج الدین جوز جا نـی غوندی پوهان سره راټول و.

دابو شجاع محمدبن مسعـــود کرمانی محدث وفات او ښخیـــد ل په هرات کی .

سلطان معز الدین محمد غـور ی لهغزنی څخه هند ته ولاړ ،بنارس قنوج یی ونیول ، رای چی چند یی پهچندوال کیمات کی.

ملك ناصر الدین سوری مادینی دغوری دربار لوی امیرو .

شیـخ الا سـلام ملـك العلمـا جلال الدین ورسـل دبلـخ شیـخ الاسلام و، دسلطان بهاء الد یـــن سام غوری له خوا .

ملك الکلام تاج الدین زوز نـــی قاضی د سلطان بهاء الدین ســـام غوری پاچا پهدربار کی .

۱۱۹۴م۵۹۱ق .

دسلطان طغرل سلجـوقی مړینـــه.

ملك تاج الدین مکران د غـور ی دربار لوی امیرو .

۱۱۹۵م۵۹۲ق .

فخرالدین حسین بن بدر الد ین منصور شیخ الاسلام مشهور پـــه قاضی خان دفتاوی دخاوند وفات

۱۱۹۷م۵۹۳ق .

داحمد بن محمدبن سعید غزنو ی فقیه وفات پهحلب کـی داختـلا ف العلماء او روضة المتکلمین مولف .

دعبدالله بن حمو یه سر خسـی کرزندوی د ژوند وخت ، دی سفر نامه هم لری په دمشق کی مړیدی.

۱۱۹۷ م۵۹٤ ق .

ملکشاه دتکش زوی مړ سو .

۱۱۹۷م۱۵رمضان ۵۹٤ ق .

سلطان معزالدنیا والدین محمـد بن سام غوری پهغزنی کی یومسجد جوړ کی چیدیر لیك ئی تراوســـه سته .

۱۱۹۸م ۵۹۵ق.

ملك تاج الدین یلدوزپه غز نـی اوکړه مان اوکورم کی دسلطـــا ن معزالدین غوری له خوا حکمران و .

محمدبن منور دابو الخیر میهنی له پښته خپل کتاب (اسرارالتو حیدفی مقامات الشیخ ابی سعید) په در ی ژبه دسلطان غیا ثالدین بن محمد سام غوری پهنامه تالیف کی .

اقضی القضاه ابوالفقیر محمد بن ابوا لمعالی بن محمد الحسن دبست قاضی وفات اوپهنسبت کیښخ سو (جمعه اربیع الاول)

۱۱۹۹ م۵۹٦ق .

دبغداد خلیفه الناصر الدین الله خپل سفیران ابن ربیع اوقا ضـــی مجد الدین قدوه دسلطان غیاثالدین

محمدسام غور ی سلطان دربار تـه راواستول ، او د غور له خـــوا سراج الدین محمد جوز جانی پـــه سفارت بغداد تهولاړ .

احمد بن محمد مستوفی هـرو ی دفنوح اعثم کوفی کتاب لهعربیڅخه پهدری را واړاوه .

۱۲۰۰ م رمضان ۵۹۷ ق

عماد الدین محمود بن ا حـــمد فاریابی عالم (متوفا ٦۰۷ ق)خالصة الحایق تالیف کی .

سلطان غیاث الدین محمد بـــن سام غوری د هرات جامع مسجـــد جوړ کی (کتیبه ئی تر اوسه سته) درکن الدین محمود شاه سنجـــان وفات او ښخیدل په چشت کی .

دشیخ محمد سررزی وفـات او ښخیدل ئی په غزنی کی .

۱۲۰۱ م۵۹۸ ق

مولانا سراج منهاج جوزجانی د بامیان قاضی الممالکاود دوومدرسو څمرو.

د حکیم شهاب الدین شاه علی ابورجا غزنوی شاعر وفات .

دابو الفضل طاهر بن محمـــــد (ظهیر فاریابی) مشهور دری شاعر وفات په تبریز کی .

د محمد بن عمر بن عبدالله‌سنجی نشاپوری فقیه د فتاوی رشید یهد مولف وفات .

۱۲۰۲ م ۵۹۹ ق

سلطان غیاث الدین بن محمـــد سام د غور لوی شهنشاه ٦۳ کلن په هرات کی وفات او ښخ سو (۲۷ جمادی الاولی) د دهمملکت لههندوستان ترغزا ق اود جیحو ن څخه تربحیره عرب پوری خپور و.

۱۲۰۲ ـ ۱۲۱۰ م ۵۹۹ ـ٦۰۷ق

د غور د درو یشتـم سلطـــان غیاث الدین محمود بن غیاث الدین محمد سلطنت په غور کی .

۱۲۰۲ ـ۱۲۱۵ م۵۹۹ـ ٦۱۲ ق

دغوری پاچا علاء الدین درغو رد اقتدار وخت په خر اسان کی .

۱۲۰۲ م ۵۹۹ ق حدود

مولانا افصحالعجم اعجو بهالزمان سراج الدین منهاج جوزجانـــی د سلطان بهاء الدین سام غور ی به دربار پهبامیان کی و.

۱۲۰۲ م ۵۹۹ ق

د وحید الدین محمد بنمحمـــود مرو رودی شافعی فقیه په هـرات کی وفات .

د ظهیر الدین محمد بن محمـود مرو رودی نشاپوری شافعی فقیه او مفسر د تفسیر البصائر د مولـف وفات .

شمس الدین ابوالفتح احمدبننصربن طاهر دسیستان صفار ی شهـز ا ده اقتدارو موند .

٦۰۰ ق

۱۲۰۳ م ٦۰۰ ق

د با میان سلطنت د سلطـــان بهاء الدین سام غوری تر پا چهـی لاندی له کشمیر او کاشغره تـــر ترمذ او غرجستانه ورسیدی .

د هرات دقاضی عمدة الدیـــن فضل بنمحمودبنصاعد سیاریوفات (رمضان) چی زوی یی صاعدپرځای کښینو ست .

دقاضی حمید بن‌قاضی ابو سعد عمرمحمودی دبلخ دقاضی وفات او بنخیدل په بلخ کی.

ملك تاج الدین عثمان مرغنی او عزالدین عمر مرغنی د سلطان غیاث الدین محمد سام غوری تر برونه د غوری دربار امیران او د امیر محمد غرستانی له کهو لـه ځخه وو .

مغولی امپراتوری د تموچن بن یسو کای بهادر په مشری د منگولیا په قرا قروم کی جوړه سوه. تموچن دقبیات له قبیلی ځخه په چنگیز خان مشهور دی‌ولادت یی۵۴۹ ق۱۱۵۴م کال دی .

۱۲۰۳ م ۶۰۰ ق حدود

سید ظهیر الدین تاج الکتاب سر خسی دسلطان معزالدین غوری‌د در بار منشی و .

دمحمد بن‌محمد بن عبدا لر شید سجاوندی حنفی فقیه او مفسر او حاسب وفات .

د ده مولفات : سراجیه ، رساله فی الجبر والمقابله ، عین المعانی.

امام فخر الدین رازی (رسالـه بهائیه دسلطان بهاء الدین سـا م غوری په نامه تالیف کړه .

د عبدالرافع بن ابو الفتح هروی شاعر د ژوند وخت .

۱۲۰۴ م۶۰۱ ق

غوریانو خوارزم‌ونیو شمهاب‌الدین محمد غوری داند خود سره ماتـه وکړه .

د هرات دخانقاه سلطان د شیـخ صدر الدین سجزی وفات .

ملك شجاع الدین علی بن حسین غوری گناباد له‌مـلا حـد ووځخـه ونیو .

۱۲۰۵ م ۶۰۲ ق

سلطان معزالدین غوری دجیلم د دهمیك په کلی کی یوه گهکر فدایی وواژه او جنازه یی د غزنی په دهك کی ښخه سوه .

بلخ ، غور ، هرات د خوارزم‌شاه په لاس ورغلل .

د فخر الدین مبارکشاه حسین مرو رودی دغور د سلاطینو دنسب نامی د ناظم وفات .

دعلی بن ابوبکر هروی وفات چی د التذ کرةالهرویه فی حیل‌الحربیـه مولف دی .

۱۲۰۵ ـ ۱۲۱۵ م ۶۰۲ ـ۶۱۲ ق

دغورد دیر شم پا چـا سلـطان جلال الدین ابوعلی‌بن بهاءالدین‌سام سلطنت .

علاء الدین مسعود بن بهاء الدین سام دده ورور هم اقتدارردرلود .

۱۲۰۵ ـ ۱۲۱۰ م ۶۰۲ ـ۶۰۷ق

د قطب الدین ایبك سلطنت پـه دهلی‌کی .دی دسلطان معز ا لدیـن غوری سپه سالاروو .

حسن نظامی نشاپوری خپل کتا ب (تاج الماثر) د سلطان قطب الدین ایبك په‌نامه شروع کی ، او تـر ۶۱۲ ق پوری پیښی یی ولیکلی .

شریف محمد بن منصور بـن ابو الفرج سعید غزنوی (مبارکشاه فخر مدبر)خپل کتاب بحرالانساب سلطان قطب الدین ایبك ته وړاندی کی .

د ده نور تالیفات :

آداب الحرب والشجاعه .

۱۲۰۶ م ۶۰۳ ق

د چنگیز خان ترحکم لاندی د مغولو اتحاد .

د امام عصام الدین ابی‌حفـص عمر بن‌احمد صفار نشاپوری‌شافعی فقیه وفات .

۱۲۰۷ م ۶۰۴ ق

مولانا جلال الدین بلخی (رومی) دشرق‌مشهور شاعر او صوفی او مفکر په‌بلـخ کی وز و کیـد (۸ربیع الاول)

۱۲۰۸ م ۶۰۵ ق

په‌خراسان بیاد خوارزم شاهیانو حکومت .

په نشاپور کی سخته زلزلـه او د سلطان محمد خوارزم شاه پـه امریی بیا ودانوله .

د سلطان غیاث الد ین محمـود غوری پاچا له حضوره دهندوستان دسلطنت فرمان د قطب الدین‌ایبك په نامه صادر سو .

۱۲۰۸ م ۱ رجب ۶۰۵ ق

د ابومحمد عبدالسلام‌بن اسماعیل بن عبدالسلام بن عبدالرحمن بـن حسن لغمانی فقیه‌او دبغداد دقاضی وفات . دی د بغداد دسوق العمیدد مدرسی مدرس هم وو (تولدیی‌بغداد ۵۲۰ق) په خیز رانیه کی د امـام ابوحنیفه سره ښخ دی .

۱۲۰۸ م ۶۰۵ ق حدود

قاضی امام حمید الدین علی بن عمر محمود ی (بلخی) د سلطان‌قطب الدین ایبك دهندی دربار شا عـر اومنشی و.

۱۲۰۹ م ۱۰ محرم ۶۰۶ ق

د شیخ کمال الدین محمود بـن محمد سرخسی(خواجه سرمه)وفات او د هرات د هندوان په کلی کی ښخیدل .

د شرف الدین مظفر بن محمدبن مظفر طوسی ریاضی پوهاند دالجبر والمقابله ، لهندسه دمو لف دژوند وخت .

۱۲۱۰ م ۶۰۶ ق

دامام فخر الدین محمد بن عمربن حسن رازی شافعی مشهور عالم او مفسر وفات اوپه هرات‌کی ښخیدنه (اشوال دوشنبه)دده ولادت په ری کی۲۵ رمضان ۵۴۴ ق و.

شیخ کمال الدین محمود بن‌محمد سرمقی زاهد او جوانمرد د هرات په خوا جه سرمه کی وفات او ښخ سو .

۱۲۱۰ م‌جمعه۱۹جمادی الاولی۶۰۶ق

د ابو یعقوب یوسف بن اسماعیل بن عبدالسلام لغمانی حنفی فقیـه وفات او د بغداد په خیز رانیه کی ښخیدل . (تولدیی ۵۱۸ق)

۱۲۱۰ م ۶۰۷ ق

دغور سلطان بهاء الدین سام بن محمود سکه‌ووهله .

دمحمود بن احمد بن ابی الحسن فاریابی صوفی‌اوواعظد سلك‌الجواهر مصباح الجنان،خالصة الحقایق‌دمولف وفات .

۱۲۱۰ ـ ۱۲۲۸ م ۶۰۷ـ ۶۲۵ق

د سلطان ناصر الدین قباچـه

معز ی د سلطان معز الدین غوری د مملوك سلطنت پر شرقی افغانستان او سند باندی .

عین الملك ملك الوزرا فخرالدین حسین بن شرف الملك رضی الدین ابو بکراشعری دسلطان ناصر الدین قباچه ددربار لوی وزیر و .

١٢١٠– ١٢١٤ م ٦٠٧– ٦١١ ق

دغور دپنځه ویشتم پاچا علاء الد ین اتسز بن علاءالدین جهانسوز سلطنت

١٢١٢ م ٦٠٩ ق

دشرف الدین مظفر بن محمدالمظفر طوسی منجم او ریاضی پوهاند دکتاب المسطح دمو لف وفات

١٢١٣ م ٦١٠ ق

سلطان العلماء بهاء الدین محمد بن حسین خطیبی بلخی (سلطان ولد) دمولانا جلال الدین بلخی پلار له بلخه هجرت وکړی او په قو نیه کی ساکن سو .

شیخ الاسلا م صفی الدین ابو بکر عبدالله بن عمر واعظ بلخی خپل کتاب « فضایل بلخ » په عر بی و کیښی (غره ر مضان)

١٢١٣ م ٦١١ ق

علاء الدین مسعود بن شمس الدین محمد په غور کی .

دفرید الدین محمد بن ابو بکر ابراهیم عطار نشا پوری دتذکرةالاولیا دتالیف و خت

١٢١٤ م ٦١١ ق

علاء الدین محمد خوارزم شاه غور او فیروز کوه او هرات تر غز نی پوری و نیول .

تاج الدین یلدوز دسلطان ایلتتمش په لاس گرفتار او په بداون کی ووازه سو .

اما م عزالدین ابی شعبه مسعود بن امیر جلال الدین اسماعیل بن محمد په بست کی مړاو ښخ سو (٢٧ شعبان)

١٢١٤–١٢٩٨ م ٦١١–٦٩٨ ق .

عبدالله بن محمدسلیمان بن حسن بن حسین بلخی قدسی حنفی مفسرژوند و وفات په قدس کی .

١٢١٥ م ٦١٢ ق

دابو الحسن علی بن ابی بکر بن علی هروی گرزندوی وفات په حلب کی. دالاشارات الی معرفة الزیارات اوخطب الهرویه والتذکرة الهرویه فی الحیل الحربیه مولف .

١٢١٥ م ٦١٢ ق .

دغور یانو سلطنت ختم سواو خوارزمشا هیان بر یمن سول .

ددوی له خوا ملك کر بر په غزنی کی او امین ملك په هرات کی او اختیار الدین محمد خر پوست په پیښور کی حکمرا نان وو .

علاء الدین محمد بن تکش خوارزم شاه با میان او غزنی ونیو ل او جلال الدین مینکبرتی یی دافغانستان حکمران وگوماره .

حسام الدین علی عمر مرغنی د غرستان اوتاج الدین عثمان مر غنی دخیسار حکمرانان وو دوی د ملك ابوبکر کرت لمسیا نوو .

تاج الدین حرب بن محمد دسیستان صفاری پاچا مړ شو .

شمس الدین یمین الدو له بهرام شاه بن عثمان دسیستان پادشاسو .

سلیمان ماکود بارك خان سابز ی دقندهار دارغسان او سید و نکی خپل کتاب پښتو تذکرة اولیا وکیښی تراوسه دپښتو منثور مکشوف قد یم کتاب دغه دی .

١٦ر٢١٥ م ٦١٣ ق

دخوارزم شاه سلطان محمد استاځی چنگیز خان ته ولاړ ل

١٢١٧ م ٦١٤ ق

داسما عیل بن حسین بن محمد حسینی مرور دی جامع عالم او د حظیرة القدس دمولف وفات (و لادت ٥٧٢ ق)

١٢١٨ م ٦١٤ ق

دچنگیز خان استاځی دخوارزم دربار ته راغله او شرقی ترکستان چنگیز ونیو .

١٢١٩ م ٦١٦ ق

علاء الدین محمد خوارزم شا ه دتاتار تجارتی قافله تاراج کړه اود چنگیزخان استاځی یی ووازه

دچنگیز خان تاتار ی لښکر پر ماوراءالنهر راتوی سول .

دعبدالمطلب بن فضل بلخی حنفی دجامع الکبیر دشارح و فات په حلب کی جمادی الاخری (ولادت ٥٣٩ ق)

١٢١٩–١٢٢١ م ٦١٦–٦١٨ ق

چنگیز خان په افغانستان کی (مغولی لو مړی پاچا)

١٢٢٠ م شوال ٦١٧ ق

علاء الدین محمد خوارزم شاه له مغولو څخه وتښتید او دآبسکو ن په جزیره کی لځ لغړ مړ سو.

سلطان جلال الدین مینکبر تی دخپل پلار پرځای پاچا سو اوشهاب الدین سرخسی یی وزیرو.

چنگیز ماوراء النهر ونیو او پر خراسان یی یرغلونه شرو سول.

١٢٢٠ ربیع الاول ٦١٧ ق

جبه، سبتای ،تغاجار دچنگیزخان دلښکر ومشران ترآمو راتیر سول بلخ، هرات، طوس یی ونیول اووران یی کړل.

دچنگیز خان، دلښکرو مقا بل مشران په تر مذکی امیر زنگی ابو حفص دسیستان لښکر مشر ، دتخارستان دولخ په کلاکی ا میر سرهنگ سام، په بامیان کی ا میر عمر کر باوردی ،په غزنی کی ملك اختیار الدین خرپوست ،دغور په سنگه کی ملك حسام الدین سرزراد اوپه غور کی ملك قطب الدین حسن او دهرات په کالیون کی اختیارالملك دولت یار ،اوپه هرات کی شمس الدین جوزجانی ،دتالقان په نصرت کوه کی ملك شمس الدین اتسز په گرزیوان کی الغ خان ،په غرستان کی پهلوان شروان، په فیروزکوه کی مبارزالدین سبزواری ،او په تولك کی ا میرحبشی نیزه ورو.

دشیخ الشیوخ محمدبن عمر بن علی جوینی شافعی فقیه او د مصر مفتی دسلوت الطالبین دمو لف وفات.

١٢٢٠ م ٦١٧ ق

دعبد الرحیم بن عبد الکریم سمعانی مروزی شافعی فقیه ا و محدث وفات په مرو کی ،دی دمعجم الشیوخ مولف دی. (ولادت ٥٣٧ ق)

ابو نصر فراهی جامع الصغیر منظوم کی.

١٢٢٠ - ١٢٢٧ م ٦١٧-٦٢٥ ق

نورالدین محمد بن محمد عوفی بخاری جوامع الحکایات و لوامع الروایات تالیف کی.

١٢٢١ م صفر ٦١٨ ق

چنگیز خان اور گنج، تر مذ، بلخ پوپنا کړل اوزوی یی تولی خان مرو نساء ،هرات ،فیروز کوه استیه ، تولك وران کړل ،په مرو کی دو ه ملیونه تنه ووژل.

په هرات کی خو لکه تنه مـــړ ه اوپولك نجونی اسیری سوی . په بامیان کی چی دچنگیز لمسی موتوجن دچغتای زوی ووژل سو، هغه ښا ر چنگیز له بیخه وکیښ.

١٢٢١ م شوال ٦١٨ ق

سلطان جلال الدین مینکبر تـی آخرین خوارزم شاه په پروان کی د افغانی ملکانو امین ملك ،سیف الدین اغرق ، اعظم ملك ، مظفر ملك بـه ملگری د چنگیز لښکر دقوتو قوپه قیادت مات کی ، خوچنگیز د بامیان له لاری غزنی ته راغی ، او پـه مینکبرنی پسی گردیز اوداباسیـن غاړو ته ولاړ ، کله چـه مینکبر تی ترا باسین و اوښت نو چنگیز تر چتراله چور کړه او د کـابـل او بامیان له لاری د آموغاړو ته ولاړ.

١٢٢١ م ٦١٨ ق

او گدای د چنگیز زوی پـــه افغا نستان کی. (مغولی دوهم پاچا

١٢٢١ - ١٢٤١ م ٦١٨- ٦٣٩ق

دریم مغولی پاچا چغتای دچنگیز زوی په افغانستان کی .

١٢٢١ م٦١٨ حدود

ملك ناصر الدین بن شهاب الدین خرنك دغورپه گزیو کی. (په ٦٢٠ق په هند کی مړ سو.)

ملك تاج الدین نصربن بهرامشاه په سیستان کی پاچا سو په دغه کال رکن الدین ابو منصور بـــن بهرامشاه هم سکه ووهله .

نور الدین محمد عوفی خپلـــه تذکره شعرا لباب الالباب دوه ټوکه تالیف کړه .

١٢٢١ م ٦١٨ ق

احمد بن عمر بن محمد خیو قی (شیخ نجم لدین کبری) لوی صوفی او محدث او مفسر په ربیع الاول کی مغولو شهید کی .

(ولادت یی ٥٤٠ق)

ملك شمس الدین بهرا مشاه د سیستان پاچا ملحدانو مړ کی .

١٢٢٢ م جمادی الاولی ٦١٩ ق

ایکچیلدای نویان دچنگیزی لښکر مشر هرات وران او قتل عام کی .

او گدای غزنی وران او قتل عام کی . فیروز کوه هم گـرده وران کړسو .

شهاب الدین محمود په سیستان کی امیرو .

١٢٢٣ م ٦٢٠ ق حدود

تولی خان د چنگیز زوی مغولی خلرم پاچا په افغا نستان .

تاج الفضلا محمد کاتب بلخی د سلطان ناصر الدین قبا چه د دربار شاعر .

ضیا لدین فخر الشعرا سجزی د قباچه ددربار شاعر په شرقی افغانستان او سند کی .

١٢٢٣ - ١٢٥٢ م٦٢٠ - ٦٥٠ ق

د افغا نستان په اسلامی ثقافت کی علاوه پر افغانی ،عربی عناصرو یو بل عنصر مغولی هم ګډ سو .

او مغولی اصطلا حات په دری او پښتو ګډ سول .

١٢٢٤ م٦٢١ق

چنگیز له افغانستانه ماوراء النهرته اوړ هغه ځایه خپل اصلی اردو ګاه دتنگت صحرا ته ولاړ .

جلال الدین مینگر تی له هند ه کرمان ته ولاړ .

١٢٢٥ - ١٢٣٥ م٦٢٢ - ٦٣٣ ق

پرغزنی ،بامیان ،غور بانـــد ی د سیف الدین حسن قرلغ حکمرانی د چنگیز خان له خوا .

ه په ٦٢٢ ق د الظاهر خلیفه په نامه سکه وهلی ده .

١٢٢٥ م ٦٢٢ ق حدود

شمس الدین محمد بلخی دسلطان ناصر الدین قباچه د دربار شاعر او خطاط په شرقی افغانستان اوسندکی.

ملك علی بن عثمان په سیستان کی .

١٢٢٦ م٦٢٤ ق

چنگیز خان دتنگت په صحرا کی (٧٢) کلن مړ سو .«رمضان »

چوجی دچنگیز زوی هم دقبچاق په دښت کی مړ سو .

١٢٢٧ م٦٢٥ ق

سدید الدین محمد عوفی خپـل کتاب جوامع الحکایات ولوامع الروایات (څور مجلده هر مجلد ٢٥ بابـه) تمام کی .

١٢٢٨ م ٦٢٦ ق .

قراچه او یغان سنقور د مغولو په مقابل کی بیا ولاړ سول ، د اوگتای له خوا طایر بهادر د دوی سرکوټلو ته راغی او د غور او خراسان پاتـه ښارونه او کلا وی یی ورانی کړی.

ملك شمس الدین علی بن مسعود بن خلف بن مهربان بن طـاهـر د سیستان صفاری پاچا و .

١٢٢٩ م١٠ جمادی الاخری٦٢٧ق

دفرید الدین ابوحامد محمد بـن ابوبکر بن ابراهیم عطار نشاپوری مشهور شاعر اوصوفی د تذکرة الاولیا د مولف وفات په نشاپور کی .

١٢٣٠ م ٦٢٨ ق

جلال الدین مینکبرتی په ایران کی گرجستان ،ارمینستان ترتفلیس پوری ونیول ، او په میا فارقین کی کردانو مړ کی او د خوارزمشا هیانو کهول ختم سو .

١٢٣٠ م ربیع الاخر ٦٢٨ ق

دسلطان العلما بهاء الدین محمـــد بن حسین خطیبی بلخی (بهاء ولد) د مولانا جلال الدین بلخی د پـلار وفات په قونیه کی . دی د المعارف مولف دی .

١٢٣٠ م ٦٢٨ ق حدود

فخر مدبر مبار کشاه شریف محمد بن منصور غزنوی خپل کتاب آداب الحرب والشجاعه په هند کی سلطان شمس الدین ایلتتمش ته اهدا کی .

١٢٣٢ م ٦٣٠ ق

د مغولو د پاچا له خوا جنتمورد خراسان په حکمداری وکومارل سو اوده دخراسان امیری ملك بهاء الدین ته ور کړه .

١٢٣٤ م ٦٣٢ ق

خواجه معین الدین حسن بن غیاث الدین حسینی سجزی چی په سیستان کی زیږیدلی او په اجمیر کی د چشتی طریقی مرشد و وفات سو اوپه اجمیر کی ښخ دی(دوشنبه ٦رجب) د نور الدین شیخ الاسلام دهمی سید مبارك غزنوی وفات او ښخیدل په دهلی کی .

١٢٣٥ م ٦٣٣ ق

ملك شمس الدین علی بن مسعود د سیستان پاچا سو (رمضان)

١٢٣٧ م ٦٣٥ ق

نوسال نوین مغولی حکمران په خراسان کی.

١٢٣٩ م ٦٣٧ ق

د عتیق بن علی بن محمد هروی محدث وفات .

دهرات بیا ودانی او دانجیل او النجان ولی بیا جوړ ول .

١٢٤٠ م ٦٣٨ ق

گرگوز مغولی حکمران پهخر اسا ن کی .

یوسف بن احمد سجستانی حنفی فقیه دمنیة المفتی او غنیة الفقهاء مولف په سیواس کی مړ سو .

دسید بر هان الدین محقق ترمذی وفات . دی دمو لانا جلال الدین بلخی مرشد و .

١٢٤١–١٢٥١ م ٦٣٩–٦٤٩ق

مغولی پنځم پاچا قرا هولا گوبن تولی بن چنگیز په افغا نستان کی.

١٢٤٢ م جمعه ١٣ رجب ٦٤٠ ق

دعبدالرحمن بن عبد السلام بن اسماعیل لغمانی اقضی القضات اود بغداد د مستنصریه مدرسی دمدرس وفات او دابو حنیفه په هدیره کی ښخیدل . (تولد یی ٥٦٤ق)

١٢٤٢ م ٦٤٠ ق

دابو نصر مسعود بن ابی بکربن حسین بن جعفر فراهی حنفی فقیه دنصاب الصبیان او اللمعه فی نظم مسایل الجامع الصغیر اوذات العقدین دمو لف وفات .

امیر مجدالدین کالیو نی فرا ه ونیوی اود اسپهبدکلایی ورانه کړه، اوپه سیستان کی سیل راغی .

١٢٤٣ – ١٢٥٦ م ٦٤١– ٦٥٤ق

امیر ار غون بن ابا قاان هولاگو بن تو لی بن چنگیزمغولی شپږم پاچا پهافغا نستان کی .

١٢٤٤ م ٦٤٢ ق

محمد بن اسما عیل خطیب شفور قانی (شبرغانی) حنفی فقیه پهدهلی کی صنوان القضافی الفتاوی تالیف کیء .

١٢٤٥– ١٢٧٧ م ٦٤٣– ٦٧٦ ق

ملك شمس الدین محمد مهین دابوبکر کرت زوی دمورله خوادتاج الدین

عثمان مرغنی لمسی دهرات پا چا.

١٢٤٥ م ٦٤٣ ق

ملك رکن الدین دعا یشی ز وی دعزا لدین عمر مر غنی لمسی دکرت دکهول حکمران په خیسار کی .

١٢٤٥ م ٦٤٣ ق

هولا گو دچنگیز لمسی خرا سان ته راغی او ملك شمس الدین کر ت دهرات پاچا دامیر ار غون سرهدده هر کلی وکی .

١٢٤٦ م ٦٤٤ ق

شمس الدین محمد مهین دابوبکر کرت زوی د هرات پاچا دسا لین نوین مغول سره ملتان او لا هور ونیول او دی دلا هور حکمران سو مگر په ٦٤٥ ق دمنکو خان در بارته وغو ښت سو .

١٢٤٧ م ٦٤٥ ق

منکو خان دهرات شمس الدین محمد مهین کرت ترابا سین پوری دتول افغانستان مستقل پاچاومانه.

١٢٤٨ م ٦٤٦ حدود

شیخ عماد الدین شفور قانی دهند قاضی القضات معزول اوپه بدایون کی عماد الدین ریحان دی مړکی.

١٢٤٩ م ٦٤٧ ق

شمس الدین محمد مهین کرت دهرات لو ی پاچا،تول افغا نستان دخرا سان له آخره ترابا سین پوری دهرات په مر کزی حکو مت پوری ونښلول .

١٢٥٠ م ذیحجه ٦٤٨ ق

دعبدا لملك بن عبدا لسلام بن حسین لغما نی حنفی فقیه دبغداد دمشهد ابی حنیفه مدر س و فات او دامام ابو حنیفه پهدیره کی ښخیدل.

١٢٥٠ م ٦٤٨ حدود

فخر الدو لة والدین ملكشاهنشاه افغان حکمران چی مستنگ یی پایتخت و .

دده زوم میرا نشاه اوزوی ملك بهرا مشاه هم ددی وخت افغا نی امیران وو .

١٢٥١ م ٦٤٩ ق حدود

ملك تاج الدین هر موز په تیر ی کی دقند هار شمالی خواته افغانی حکمران و .

١٢٥٢ رمضان ٦٥٠ ق

دامام رضی الدین حسن بن محمدبن حسن صغانی غز نوی مشهور لغوی اوعالم و فات په بغداد کی.

(ولادت : لاهور٥٧٧ ق پرورښت غزنی) دمشارق الا نوار او العباب لیکوال .

١٢٥٢ م ٦٥٠ ق

محمد بن علی بستی (تاریخسوری) وکیښ چی ځنی قدیم پښتو اشعاریی یکښی و لیکل .

١٢٥٣ م ٦٥١ ق

ملك شمس الدین مهین کرت پاچا مستنگ او خاسك ونیول او ملك شهنشاه اوبهرامشاه افغانی امیران ئی روژل اومیرانشاه سیستان تهولاړ.

دامیر خسرو بن امیر سیف الدین بلخی دهلوی مشهور شاعر دژو ند دوره .

۱۲۵۳ م ۶۵۲ ق

دنجم الدین حسن بن علاء سجزی دهلوی دری شاعر اوصوفی ولادت ده خپل فوائد الفواد په ۷۲۰ ق تالیف کړی دی .

۱۲۵۴ م ۶۵۲ ق حدود

ملك حسام الدین جاول په زابل کی افغانی حکمران و .

ملك نصرالدین ابوالفتح بن مسعود صفاری په نیمروز کی سکه وو هله.

۱۲۵۵ م صفر ۶۵۳ ق

المار افغان دقندهار دشمالی خوا تیری حکمران دملك شمس الدین مهین کرت سره په جنگ کی وواژه سواو تیری ئی ملك حسام الدین حاول ته وسپاره .

۱۲۵۵ م شعبان ۶۵۳ ق

په تگین آبادکی دشعیب سورانی افغان سره دملك شمس الدین مهین کرت جنگ او دشعیب وژل دکهیرا په کلاکی .

۱۲۵۶ م رجب ۶۵۴ ق

ددوکی په کلاکی د ملك سندان افغان سو رانی (دشعیب تربور) اودملك شمس الدین مهین کرت جنگ او دسندان وژل .

۱۲۵۷ م ۶۵۵ ق

دملك شمس الدین مهین کرت لښکر ترکوه سلیمان پوری پر مخ ولاړل او دافغانی امیرانو بله کلا (سماجی)ئی هم ونیوله.

۱۲۵۷ م ۶۵۵ ق حدود

دقندهار په جنوب اودپښین او کاکړستان په سیموکی ملك پهلوان جلم ـ احمدتوری ـ مهتر کیورا ـ مهتر سیورا ـ راناکنجر ـ جمال الدین نوروز کهیرایی افغانی امیران وو.

۱۲۵۸م ۶۵۶ ق

دملك شمس الدین مهین کرت غلبه پر سیستان باندی . دملك علی بن مسعود وژل او دملك نصیرالدین اوعلاؤالدین شړل مستنگ ته .

دشیخ ابو المعالی سیف الدین سعید بن مظفر با خرزی صوفی وفات په بخارا کی .

۱۲۵۹م۶۵۷ق

ملك شمس الدین مهین کرت تر دره بولان ور تیر سو او په سند کی بهکر کلابند کیء .

۱۲۵۹م ۶۵۸ق

قاضی القضات صدر جهان ابو عمر منهاج الدین عثمان بن سراج الدین محمد بن منهاج الدین عثمان جوز جانی خپل کتاب طبقات ناصری دسلطان ناصر الدین محمود بن ایلتتمش په نامه وکیښ .(دده ولادت ۵۸۹ ق دغور په فیروز کوه کی) .

ملك میر انشاه افغانی امیردشمس الدین مهین کرت لښکرو په جنگ کی وواژه

په دهلی کی دشیخ بدر الدین غزنوی وفات او هلته یی ښخیدل .

علاء الدین عطا ملك جوینی (جهانکشای جوینی ژدمغولو پراحوال باندی وکیښ د لیدن طبع ۱۹۰۶)

۱۲۶۰م۶۵۹ق

دملك تاج الدین کرد اوامیرهوبو ـ امیر هرموز افغانی امیرانو جنگ په مستنگ کی د کرت پاچا دجنگی امیرانو سره .

۱۲۶۲ـ ۱۳۳۹م ۶۶۱ ـ ۷۴۰ق

باباهوتك دتولرزوی دزابل دترنك پښتو شاعر او دهو تکو دلوی پلار دژوند دوره دمغولو په جنگ کی دده پښتو حماسی شعر سته .

۱۲۶۴م۶۶۳ق

دسیستان په بر زر کی ولی کښل او کښت ډیرول .

۱۲۶۷م۶۶۶ق

ملك شمس الدین مهین کرت تر تیراه پوری ټولی افغانی سیمی ونیولی .

مولانا جلال الدین غزنوی مفتی چی دیوه چا ما ینه یی بل ته ورکړی وه په هرات کی وواژه سو.

په سختی زلزلی سره دنشا پو ر بیا ورانی چی په ۶۶۹ق داباقا په امر بیا ودان سو .

۱۲۶۹م ۶۶۷ق

دمحمد بن ابوبکر عثمان امامی هروی شاعر وفات .

ملك نصیرالدین محمد دسیستان پایتخت ودان کی .

۱۲۶۹م۶۶۸ق حدود

په هرات کی دمغولی شهزادگانو براق او ابا قا جنگونه او دملك شمس الدین مهین کرت تگ خیسار ته .

خسرو نیمروز نصیر الدین محمد بن مبارز الدین دنیمروز ارگ بیا جوړ کی .

۱۲۷۰م ۶۶۹ق

دشیخ ابو نصریحیی بن تاج الدین محمود بوزجانی جامی وفات(۴صفر).

۱۲۰۷ـ۱۲۷۳م ۶۰۴ـ۶۷۲ق

دمحمد بن محمد بن حسین بن احمد(مولانا جلال الدین) بلخی رومی دمشهور مثنوی دشاعر او لوی صوفی دژوند دوره .

ولادت یی په بلخ او مرگ یی په قونیه (ترکیه) کی و ، دمولو یه صوفیانو ډله ده ته منسوبه ده .

۱۲۰۱ـ۱۲۷۴ م۵۹۷ ـ۶۷۲ ق

دخواجه نصیر الدین محمد بن محمد بن حسن طوسی معروف فیلسوف او ریاضی پو هاند دمراغی درصد خانی بنا کوونکی د ژونددوره (وفات یی په بغدادکی ذیحجه ،ولادت یی په طوس کی ۱۱ جمادی الاولی).

۱۲۷۵م۶۷۴ق

له خیساره دملك شمس الدین مهین بیرته راتگ هرات ته .

۱۲۷۶م۶۷۵ق

دسیستان په لاش کی دسفید دزکلاجوړول اوله هلمنده خشکرودته او به رسول .

۱۲۷۸م۶۷۶ق

ملك شمس الدین مهین کرت د مغولو دربار اصفهان ته و غو ښت اوپه تبریز کی یی په زهرومړکیء.

۱۲۸۷ـ۱۳۰۵م۶۷۷ـ۷۰۵ق

دمحمد شمس الدین کهین دشمس الدین مهین زوی په هرات کی دکرت کهول دپاچا سلطنت .

۱۲۸۱م۶۸۰ق

دقند هار ښار ملك رکن الدین کرت (شمس الدین کهین) ونیوی.

۱۲۸۲م۶۸۱ق

دعلاء الدین عطا ملك جوینی وزیر او لوی مؤرخ دتاریخ جهانکشا دمؤلف وفات (ولادت یی ۶۲۳ق)

۱۲۸۳ م ۶۸۲ ق

ابو جعفر محمد مرو رودی محدث خپل کتا ب مختصر جامع الاصول وکینبس .

۱۲۸۴ م ۶۸۳ ق

دسلطان احمد نکو دربن هلاکوله خوا پر سیستان او فـراه ، بست ، تگین آباد باندی د نیمروز د ملك نصیر الدین د پاچهی منته .

۱۲۸۵ م ۶۸۴ ق

په زرنج کی د حصار طاق ودانول.

۱۲۸۷م۶۸۶ق

احمد بن سعید لودی خپل کتاب اعلام اللو ذعی فی اخبار اللودی د دلود یانو پرتاریخ باندی وکینبی .

په بلخ کی دحضرت علی بن ابی طالب پر مزار باندی دخواجه خیران په کلی کـی ودانـی جوړه سوه .

درضی الدین عبدالله بن محمد امامی هروی شاعر و فات په اصفهان کی (۱۷ محرم)

۱۲۸۹ م ۶۸۷ ق

دمحمد بن محمد ابو الفضل بر هان الدین نسفی حنفی مفسر او اصولی او کلامی مؤلف وفات په بغداد کی (ولادت ئی ۶۰۰ ق) دی دابن سینا د اشارا تـو شارح اود مطلع السعاده مؤلف دی .

د مولانا برهان الدین محمود بن ابوالخیر سعد بلخی مشهور عالم په دهلی کی وفات .

۱۲۲۶ـ ۱۲۸۹ م ۶۲۳ـ ۶۸۸ ق

دشیخ متی دعباس زوی په قوم خلیل غوریاخیل دژوند وخت. ده په پښتو خپل اشعار په یوه کتاب (دخدای مینه) کی سره راټول کړه اود (ښکلاشاعر) بلل کیږی .

۱۲۹۰ م ۶۸۹ ق

سلطان فیروز شاه جلال الدین خلجی (افغان) د هند پـاچا سـو، (۳ جمادی الاخری) قتل ۶۹۴ ق .

۱۲۹۳ م ۶۹۳ ق

دملك شمس الدین کرت استاخی مولانا شمس الدین دغور قاضی او مولانا زین الدین داسفزار قاضی د نیمروز دملك نصیر الدین دربار ته راغلل اوروغه ئی وکړه .

۱۲۹۴ م ۶۹۴ ق

شاه شمس الدین علی دقهستان اوقاین حکمرا ن دنیمر و ز د ملك نصیر الدین اطاعت و مانه او ملك ینا لتگین په فراه کی اود کـرمان حکمرانانو هم دنیمروز پاچا ته غاړه کښیښوه، سلطان رکن الدین ابراهیم شاه خلجی په هند کی سکه ووهله

(رمضان) .

۱۲۹۶ م ۶۹۵ ق

دمحمد بن ابراهیم بن محمدبستی مالکی فقیه دشرح الایضاح دمؤلف وفات. پـه سیستان کی د (دیورك) سیمه بیاودانه کړه سوه .

علاء الدین محمدشاه خلجی پـه هندکی پاچا سو (وفات ۶ شوال ۷۱۵ ق) .

۱۲۹۷ م ۶۹۷ ق

ملك فخرالدین کرت دشمس الدین کهین زوی پـه هرات کی پرتخت کښینوست اوغازان خان دده حکمرانی له هراته تردریای سند او آموپوری ومنله .

۱۳۰۰ م ۶۹۹ ق

د محمد بن محمود زوزنی حنفی فقیه دنصاب الذرایع او ملتقی البحار دمولف وفات . دپـور بهاء جامـی خراسانی شاعر دوفات حدود .

۷۰۰ق

۱۳۰۰ م ۷۰۰ ق حدود

ربیعی فوشنجی شاعر خپله کرت نامه دملك فخرالدین کرت په نامه په هرات کی نظم کړه .

په خراسان کی دنستعلیق هنری خط آغاز .

۱۳۰۱ م ۷۰۱ ق

د ظهیر الدین اسحاق بن ابـی بکر ولوا لجی حنـفی فقیه او مفتی وفات .

۱۳۰۲ م ۷۰۲ ق

د قاضی محمد بن حمید الدیـن محمود بن عمر محمودی دبلخ دقاضی اود الملل والنحل دمؤلف وفات او ښخیدل په بلخ کی .

صدرالدین ربیعی فوشنجی خطیب اودملك فخر الدین کرت ندیم دکرت نامی ناظم په هرات کی ووژل سو.

۱۳۰۳ م ۷۰۳ ق

شاه علی د سیستان شهزاده په قائن کی وواژه سو .

۱۳۰۵ م ۷۰۵ ق

د مولانا حکیم الدین غوری عـالم وفات .

۱۳۰۵ ـ ۱۳۰۶ م ۷۰۵ـ ۷۰۶ ق

ملك فخرالدین دشمس الدین کهین زوی په هرات کـی دکـرت کهول پاچاو.

۱۳۰۶ م ۷۰۶ ق

دعبدالعزیز بن محمد علی طوسی شافعی فقیه او عالم وفات په دمشق کی ۹ جمادی الاولی .

دشیخ صلاح الدین طوسی وفات چی د شیخ ابـو نصر سرا ج لـه پښتهؤ (رجب) .

۱۳۰۷ م ۷۰۶ ق

ملك فخر الدین امانکوه ته ولاړ امیریساول اوبو جای دمغولی لښکر مشرانو په هرات کی جمال الد ین سام محاصره او مړ کی ء .

۱۳۰۷ـ ۱۳۲۸ م ۷۰۶ـ ۷۲۹ ق

ملك غیاث الدین محمد دشمس الدین کهین کرت زوی دهرات پاچاو .

۱۳۰۹ م ۷۰۹ ق

دسید نظام الدین مرتضی عربشاه بن سید محمودشاه سبز واری عالم وفات .

۱۳۰۹ م ۱۰ محرم ۷۱۰ ق
دمولانا اقضی القضاء علاء الدین ابی بکر ابیوردی وفات په ابیورد کی .

۱۳۱۱ م ۷۱۱ ق
میرحسینی غوری نز هة الا روا ح تالیف کیء .

۱۳۱۳م ۷۱۳ ق
ملك علاء الدین دشمس الدین کهین زوی دهرات امیرسو.

۱۳۱۳– ۱۳۱٦ م ۷۱۳– ۷۱٦ ق
د ابوسعید بن اولجایتو حکمرانی په خراسان کی .

۱۳۱۵ م ۷۱۵ ق
دحسن بن نصیر الدین محمدبن محمدبن حسن طوسی عالم وفات په بغداد کی .

۱۳۱٦ – ۱۳۳۵ م ۷۱٦ ۷۳٦ ق
دسلطان ابو سعید بهادر خان‌بن اولجایتو دسلطنت دوره پر خراسان او ایران‌باندی.

۱۳۱٦ م ۷۱٦ ق
دشیخ عبدالرحمن‌خراسانی زاهد وفات په بغدادکی .
سلطان مبارك شاه قطب الدین خلجی په هندکی پاچاسو (تر ۷۲۰ق پوری) .
ملك غیاث الدین کرت پر اکثر افغانستان قبضه وکړه .

۱۳۱۸ م ۱٦ شوال ۷۱۸ ق
د امیر حسینی حسین بن عالم غوری هروی دروز گان دگزیو د اوسیدو نکی دری شاعر او عارف وفات اوبنخیدل دهرات‌په مصرخ‌کی دنزهةالا ر وا ح او کنز الر مو ز مؤلف .

۱۳۱۸– ۱۳٤۱ م ۷۱۸ – ۷٤۲ ق
شمس الدین احمد افلا کی خپل مناقب العارفین دمولانا جلال الدین بلخی دکورنی او دوستانو پراحوال وکیبنی .

۱۳۱۹ م ۷۲۰ ق
عبدالله صیرفی هروی خطا ط یو قرآن په ثلث خط و کیبنی (گنجینه مشهد رضوی) .

ملك غیاث‌الدین محمدکرت‌اسفزار له ملك قطب الدین اسفزاری شخه ونیو .دغسی هم ده باخر ز،خوا ف، نیاز آباد ونیول .
د هرات لوی مسجد د ملك غیاث الدین محمد کرت په امرترمیم سو.ددغه ملك‌په‌حکم دشیخ الاسلا م احمدجام ژنده پیل دهدیری بناجوړه سوه.

سلطان خسرو شاه ناصرالدین خلجی دهند پاچا سو .

۱۳۲۰ م ۷۲۰ ق حدود
دمولانا عماد الدین غوری وژل‌په هند کی .

۱۳۲۱ م ۷۲۱ ق
غیاث الدین محمد کرت حج ته‌په سفر ولاړ اوخپل زوی شمس الدین محمدیی په‌هرات‌کی جانشین‌پریښود. دهرات ددر بار منشی خواجه شهاب عزیز او مولانا نظام الدین قاضی القضات او مو لانا بدرالدین ازابی‌د هرات قاضی و .

۱۳۲۲م ۷۲۲ق
دمولاناضیاالدین محمدبن‌سراج‌الدین هاشم ابیوردی وفات اوپه میهنه کی ښخیده .
دابراهیم بن محمد بن ابی‌بکربن محمد حمویه جوینی شافعی فقیه او محدث وفات (ولادت‌ئی ٦٤٤ ق) .

۱۳۲٤ م ۷۲۵ ق
دامیر خسرو بلخی‌دهلوی مشهور شاعر وفات او ښخیدنگ په دهلی کی .

۱۳۲٦ م ۷۲۷ ق
غیاث‌الدین محمدکرت امیرچوپان وواژه اوپخپله د سلطان ابو سعید دربار ته ولاړ (۷۲۸ ق) .
دامیر نجم‌الدین‌حسن‌بن علاسجزی دهلوی شاعر او صوفی وفات او ښخیدنگ په دهلی‌کی .

۱۳۲۷ م ۷۲۸ ق
امیر چوپان نویان په هرات کی دسلطان ابو سعید بهادرایلخان په امر ووژل سو.
ملك نصیر الدین په سیستان‌کی مړ سو .
شاه نصرت بن نصیر الدین بن مسعود دسیستان صفاری پاچا په نیمروز کی کښینوست .
اخی محمود خیاط (عیار) په نشا پور کی مړ سو .

۱۳۲۸ م ۷۲۹ ق
ناری طغای دخراسان حکمران د سلطان ابو سعید شخه یاغی سومگر په همدغه کال ووژل سواوپه ۷۳۰ ق امیر شیخ علی دخراسان حکمران سو .

۱۳۲۸– ۱۳۲۹ م ۷۲۹– ۷۳۰ ق
ملك شمس‌الدین دملك‌غیاث‌الدین محمد کرت زوی دهرات پاچاؤ .
ضیامحمد مسعود غز نوی طبیب په هند کی مجمو عه ضیایی دطب تالیف کړه .

۱۳۲۹– ۱۳۳۱ م ۷۳۰– ۷۳۲ ق
ملك حافظ د ملك غیاث الدین محمدکرت زوی دهرات پاچاؤ .

۱۳۳۰ م ۷۳۱ ق
ملك قطب‌الدین‌محمدبن رکن‌الدین محمودبن‌بهرامشاه دسیستان‌صفاری پاچا په نیمروزکی‌سکه‌ووهله، اوشاه نصرت الدین مړ سو .
د جلال الدین شاه بن قاضی فخر الدین د هرات دقاضی وفات (۱۷ رمضان) .

۱۳۳۱– ۱۳٦۹ م ۷۳۲– ۷۷۱ ق
ملك معز الدین دغیاث الدین کرت زوی د هرات لوی پاچاؤ .

۱۳۳۲ م ۷۳۳ ق
ملك عزالدین‌بن رکن‌الدین محمود په نیمروزکی سکه ووهله .
دمولانا ظهیرالدین محمد بن‌احمد غوری شیخ الاسلام وفات اوښخیدل په هرات کی .
مجد الدین محمد خوافی (مجد خوافی) خپل کتاب (روضه خلد) د سعد ی‌د گلستان په تقلید وکیبنی (شوال) .

۱۳۳۳م محرم ۷۳٤ ق
ابو عبدالله محمد بن موسی بن محمد طنجی (ا ین بطو طه) دالمغرب مشهور گرزندوی دنشاپور شخه هرات، سر خس، ترمذ،بلخ ته

راغی اود هندوکش له لاری کابل، غزنی‌تەولاړ، دکرماش (کورم)پرخوا دریای سند او هندوستان ته تیر سو .

۱۳۳٤ م ۷۳۵ ق

شیخ معین الدین آده یی جوینی خپل نگارستان دسعدی دگلستان‌په تقلید وکیښ .

شمس‌الدین طاهرشاه میرسواتی په کشمیرکی سکه ووهله .

۱۳۳۵ م ۷۳٦ ق

پەهرات کی دسید عبدا لله بن معاویه علوی دمزار عمارت اوگنبده په مصرخ کی داؤد تاج الدین احمد جوړه کړه .

۱۱ اپر یل ۱۳۳٦ م ۲۷ شعبان ۷۳٦ ق

تیمور بن تراغای برلاس دماوراء النهر دکش په ښارکی وزیږیده .

۱۳۳۷م۷۳۷ق

مولانا نظام الدین عبدالرحیم بن فصیح الدین محمدمایز نابادی‌خوافی په هرات‌کی شهید اوپه خیابان کی ښخ سو (ذیقعده).

مولا نا جمال الدین محمدبن‌حسام دهرات عالم او شاعر وفات سو .

په خراسان‌کی دخواجه‌عبدالرزاق بن خواجه شهاب الدین با شیقینی‌د سر بداری پاچهانو د نیکه خروج (قتل ئی په ۷۳۹ ق) پایتخت ئی سبز وارو

۱۳۳۸ م ۷۳۸ ق

دجمشید بن طاهرشاه‌میر سواتی حکومت پر کشمیر .

۱۳۳۹ م ۷٤۰ ق

دبابا هوتك دتولر زوی دپښتنوقائد اوشاعر وفات .

د ابو الفضل خواجه قطب الدین یحیی جامی صوفی او عالم وفات‌په هرات‌کی اود فیروز آباد په دروازه کی ښخیده (یکشنبه ۲۱ جمادی الاخری) .

دعلاء الدین علی شیر بن طاهر سواتی پاچهی پرکشمیر تر ۷۵۳ ق پوری .

۱۳٤۰ م ۷٤۱ ق

دشیخ الاسلام ابو نصریحیی بن ابو الفضل محمود یوزجانی جامی وفات په هرات‌کی اوپه دروازه‌فیروز آبادکی‌ښخیدنه (پنجشنبه ۲۱جمادی الاخره) ملك معز الدین کرت دده پرهدیره یوه‌ودانی جوړه کړه .

۱۳٤۱ م ۷٤۲ ق حدود

دعلی بن محمد بن ایدمرجلد کی کیمیاوئی عالم مؤلف دژوند وخت . جلدك دخراسان یوکلی‌ودوه فرسخه له‌مشهده لیری)

۱۳٤۱ م ۱۳ صفر ۷٤۳ ق

سلطان معزالدین حسین کرت په زاوه کی امیر مسعود سربداری‌مات کی .

۱۳٤۱ م ۷٤۳ ق

دشیخ قوام الدین محمد بسطامی وفات اود هرات په خیابان‌کی دامام فخر رازی په هد یره کی ښخ سو (رجب) .

دمحمد بن عثمان خراسانی مفسر اومحدث د لطایف التفسیر دمؤلف

وفات .

۱۳٤۳ م ۷٤٤ ق

دخراسان دعیار خواجه قوام‌الدین حسن وفات (جمعه ۷جمادی‌الثانیه).

۱۳٤٦ م ۷٤۷ ق

ملك تاج الدین بن محمد بن‌رکن الدین محمود دسیستان مقامی پاچا په نیمروز کی کښیښوست او ملك قطب الدین مړسو .

۱۳٤۷ م ۷٤۸ ق

مولانا سعدالدین تفتا زانی‌هروی خپل‌کتاب (مطول) دسلطان معزالدین حسین کرت په نامه پـه هرات کی وکیښ .

۱۳٤۸ م ۷٤۹ ق حدود

شیخ ملکیار د بـابا هوتك زوی پښتو شاعـر خپله د تـرنك عشقی سندره وویله (ولادت‌ئی ۷۱۵ ق) .

۱۳٤۹ م ۷۵۰ ق حدود

شیخ گټه بن شیخ یوسف بـن شیخ‌متی‌خپل کتاب (لرغونی‌پښتانه) وکیښ، چی ځینی پښتو قدیم اشعار ئی پکښی ولیکل .

ملك سلیمان ځیرك بـن عیسی ابدالی قبایل دکسی غـره څخه د قندهار سیموته راوستل.

درکن الدین صاین هروی شاعر دژوند وخت .

فخر الا سلام قطب الدین نسابه رغندی خراسانی مختصر شا فی په طب کی تالیف کی ء .

مولا نا عصامی د هند د افغانـی شاهانو تاریخ فتوح الـسلا طیـن نظم کیء (طبع بنگلور۱۹٤۸م)

۱۳۵۰ م ۷۵۱ ق

په هرات کی دملك معزالدین‌کرت له‌خوا دبرامان دمدرسه سبز جوړول تمام سوه .

سلطان محمود بـن شاه علی د سیستان دصفاری کهول څخه پـه نیمروز کی اقتدار وموند .

۱۳۵۲ م ۷۵۳ ق

ملك باقر دغیاث الدین محمدکرت زوی دهرات حکمدارو .

دشهاب الدین‌بن علی شیرسواتی پاچهی پر کشمیر .

امیر قزاغن له هراته ماورا النهر ته ولاړ .

په سیستان‌کی ملك شهاب الدین پرتخت کښینو ست .

۱۳۵۸ م ۷٦۰ ق

دمولانا امام فصیح الدین محمدبن محمدبن علاء مروی حنفی زیږ یدنه په مروکی (یکشنبه ۱۷ محرم) .

شیخ ابو سعید بن محمد طوسی دامام محمد غزالی له‌پښته دهرات‌په مصرخ‌کی دامیر حسینی له‌قبره‌سره ښخ سو .

ملك بارك دځیرك زوی دقندهار دابدالی قبیلو مشرو .

۱۳۵۹ م ۷٦۱ ق

امیر تیمور په ماوراء النهر کی حکمران وپیژاند سو .

۱۳٦۳ م ۷٦۵ ق

امیر حسین گور کان دهندوان

دکلاشمالی خوا جوړه کړه .
په هرات کی زلزله وسوه اود مسجد جامع پیش طاق ونړیدی .

۱۳۶۵م ۷۶۷ق

دکروخ دغار دمسجد ودانی د ابو الحسین محمد بن محمد بن محمد بن محمد ابی بکر کرت له خوا.

۱۳۶۸م ۷۶۹ق

دامیر محمود بن امیر یمین‌الدین طغرائی (ابن یمین) دخراسان داخلاقی شاعر وفات . (۸ جمادی الاخری ۳۰ جنوری) .

۱۳۶۹ م ۷۷۱ ق

امیر تیمور لنگ په ماوراء النهر کی امیر حسین مات کیء اوپه (صا حبقران) مشهور سو ، دده سلطنت تر ۸۰۷ ق پوری و .
امیر تیمور بلخ ونیوی اوددغه ځای امیر حسین گور گان ئی وواژه اود بلخ زړه کلائی ونړوله. اوخلك ئی قلعه هندوان ته راوستل .
ملك بهرام په سیستان کی مړ سو .

۱۳۶۹ ـ ۱۳۸۱ م ۷۷۱ـ ۷۸۳ ق

دملك غیاث الدین پیر علی کرت دمعزالدین دزوی سلطنت په هرات کی .

۱۳۸۲ م ۷۷۲ ق

د قطب الدین بن طاهر شاه میر سواتی سلطنت پرکشمیر تر ۷۸۸ق پوری .

۱۳۱۴ـ ۱۳۷۲ م ۷۱۴ـ ۷۷۳ ق

دعمر بن اسحاق بن احمد غزنوی فقیه او حکیم او مؤلف اود مصر د قاضی دژوند دوره .

۱۳۱۶ ـ۱۳۷۴م ۷۰۶ ـ۷۷۶ ق

دعبدالله بن محمدبن احمد حسینی نشا پور ی حنفی فقیه او اصولی (جمال الدین نقره کار) دشرح‌المنار دمؤلف دژوند دوره .

۱۳۷۵ م ۷۷۷ ق

سلطان شاه خطاط په‌رقاع تعلیق خط دسلطان غیاث الدین محمدکرت په امر دهرات دمسجد جامع پرهفت جوش لوښی باندی تاریخ ولیکه .
فصیح احمد بن جلال الدین محمد خوافی‌هروی‌د (مجمل فصیحی) لیکوال په هرات کی وزیږید .

۱۳۷۶ م ۷۷۸ ق

دمولانا جلال‌الدین‌محمود مرغابی‌زاهد وفات اود هرات دمرغاب په کلی‌کی ښخیدل .

۱۳۷۷ م ۷۷۹ ق

شاهرخ میرزا دامیر تیمور زوی وزیږید (پنجشنبه ۱۴ ربیع‌الثانی) .
په‌هرات کی دخواجه نظام الدین داؤد تاج الدین احمدپه سعی‌دخواجه ابوالولید احمد مزار جوړ کړسو .

۱۳۷۸ م ۷۸۰ ق

ملك غیاث الدین پیر علی کرت د هرات کلابیا جوړه کړه .

۱۳۸۰ م ۷۸۲ ق

امیر تیمور لنگ دماوراء النهرتر نیولو وروسته تر دریای آمو راتیر سو، اندخود، سرخس، فوشنج ئی ونیول .
امیر تیمور خپل زوی میرا نشاه

دخراسان په حکمرانی او فتح کولو وگوماره
په اندخود کی‌دباباسنگو درویش دژوند و خت چی قبرئی هم هوری دی .

دملك القضاه قاضی جلال الدین محمود امامی دهرات دقاضی وفات اوپه گازرگاه کی ښخیدل .

۱۳۸۱ م ۷۸۳ ق

امیر تیمور هرات ونیوی او دهغه ښار کلاوی‌ئی‌ونړولی، دکرت‌دکهول پاچهی پرپیر علی ختمه سوه .
ملك پرپل دخیرك زوی دقندهار دابدالیانو مشرو .

۱۳۸۲ م ۷۸۴ ق

دمحمدبن‌محمدبن‌علی نشاپوری‌خطیب اود مصر دمفتی وفات په مصر کی. دی د شرح التعجیز فی‌الفقه مؤلف دی .
ملك قطب الدین بن عزالدین بن رکن الدین محمود دنیمروز امیرو .
امیر تیمور نشاپور ونیوی.

۱۳۸۳ م ۷۸۵ ق

امیرتیمور اسفزار،فراه، سیستان ونیول، بست اوقندهارئی وران‌کړل اود شمالی او غربی افغانستان پاچا سو .
امیرتیمور دقندهار حکمرانی امیر سیفل برلاس ته وسپارله .
دشیخ سیف الدین خلوتی هروی زاهد وفات اود گازرگاه دپله سره ئی په هرات کی ښخیدل .

۱۳۸۴ م ۷۸۶ ق

ملك غیاث الدین پیرعلی اخرنی کرت پاچا اودده ورور ملك محمد سرخس او امیر غوری بن ملك پیر علی په سمرقند کی دامیر تیمور په حکم ووژل سوه. (دپنجشنبی ماښام ۱۰ ربیع الثانی)

۱۳۸۵ م ۷۸۷ ق

بابا سنگوی ولی په اندخوی کی وفات او ښخ سو .

۱۳۸۶ م ۷۸۸ ق

شاه شاهان تاج الدین بن قطب الدین دسیستان پادشاه‌و .
سکندر شاه بن هندال بن طاهر سواتی دکشمیر پاچاو تر ۸۱۳ ق پوری .

۱۳۸۸م ۷۹۰ق

امیر تیمور د فارس له فتو حاتو څخه راستون سو .
احمد هروی خطاط د عجایب المخلو قات یوه خطی نسخه په نستعلیق خط دربیع الاول په لومړی ورځ ولیکله. (دپاریس ملی‌کتابخانه)

۱۳۸۸ م ۷۹۱ ق

ملك پیرمحمدبن ملك غیاث‌الدین پیر علی دمیرزا میرانشاه بن امیر تیمو ر په حکم په هرات کی وواژه سو .

۱۳۲۷ـ ۱۳۸۸م ۷۲۸ـ ۷۹۱ ق

دبهاء الدین محمدبن احمدنقشبند فاروقی لوی صوفی اود نقشبند ی طریقی دمؤسس دژوند دوره .

۱۳۸۸ م ۷۹۱ ق

دشیخ زین الدین ابوبکر تایبادی وفات چی په تا یبا د کی ښخ دی (پنجشنبه ۳۰ محرم).

دمولانا علی بدر دهرات د شاعر دژوند وخت .

۱۳۸۹ م ۷۹۲ ق

دمحمد بن عثمان بن محمدزوزنی دشرح تلخیص المتاح دمؤلف وفات

۱۳۹۰ م ۷۹۳ ق

د سعد الدین مسعود بن عمر تفتازانی هروی لوی عالم او مولف وفات په سمر قند کی اوپه سرخس کی ښخیدنه. (ولادت ۷۱۲ ق) .

۱۳۹۳ م ۷۹٦ ق

د مولانا جلال الدین محمد بن نصیر الدین یحیی وفات اوښخیدنگ دهرات په خمچه آبادکی (پنجشنبه ۲۵ ذیحجه) دی دفصیحی خوافی پلار دی .

شهزاده ابراهیم سلطان دشاهرخ زوی وزیږیدی دی لوی خطاط هم دی .

۱۳۹٦ م ۷۹۹ ق

شاهزاده با یسنقر دشاهرخ زوی وزیږیدی (جمعه ۱۱ ذیحجه) دی یو هنر مند خطاط او علم پالونکی شهزاده و .

د امیر تیمور په فرمان دخراسان حکمرانی دده زو ی میرزا شا هرخ بهادرخان ته وسپارله سوه

۸۰۰ق

اپریل ۱۳۹۸ م رجب ۸۰۰ ق

امیر تیموردترمذ، خلم، سمنگان، بغلان لهخوا اندراب ته راغی اوله دغه ځایه ئی پرکتور (کافرانو) باندی د خاواك لهخوا حملی وکړی (رمضان)

۱۳۹۸ م ۸۰۰ ق

امیر تیمور دخاواك او پنجشیرله خوا کابل ته راورسیدی .

پهسیاه پو شو کا فرو کی یی یوه کو جوړه کړه اولښکرئی پکښی کښینو (ذی قعده) .

امیر تیمور دپنجشیرلهخوا پروا تهراغی اویوه لویهواله (جوی ماهی گیر) پنځه فر سخه یی دغور بند لهروده وکښله (ذیقعده)

ملك محمد دلشکر شاه او غانی وزور امیر تیمور ته پناه ور وړه او ایریوب دکلا ودانول شرو سوه (ذی قعده) .

چهار شنبه دذیحجی لومړی ورځ امیرتیمور له کابله دکورم دایر یاب (ایریوب) خواته رهی سو. په ۱۸ ذیحجه دشنبی په ورځ د شنوزان دری ته ورسیدی او په ۲۱ ذیحجه سه شنبهدنغر کلا ته و رسیدی او هغهئی ودانه کړه .

امیر تیمور خراسان تر غورم پوری خپل زوی شاهرخ ته وسپاره.

امیر تیمور خپل لمسی پیر محمد دکابل او غزنی اوقندهارحکمران کی اوهغه ترباسین پوری دکوه سلیمان افغانان سره وکوتل، اواچه اوملتان ئیدلوړ سند په وادی کی ونیول .

په کورم کی دلشکر شاه اوغانی او موسی او غانیدبنگښو دمشرترمنځ دایر یوب پرکلا باندی جنگ اود لشکرشاه او غانی وژل او دایریوب کلا ورانول. دقندهار په سیمو کی دملك حبیب بن پوپل مشری په ابدالی قبیلو باندی. د شیخالاسلام ظهیرالدین خلوتی هروی وفات اوپه هرات کیښخیدل ،خواجهتاجسلمانی

هروی دتعلیق خط په خرا سان کی رواج کیء .

۱۳۹۷، ۱٤۹٤ م ۸۰۰، ۹۰۰ق

په خراسان کی شپږ دوله خط (اقلام سته) رواجیدل. نسخ، ثلث مناشیر، محقق ، رقاع، ریحان. علاوه پردی دنسخ او تعلیق اوخخه نستعلیقهم وزیږید. دکنردسلطانانو داقتداروخت له ننگرهارهتر کشمیره پوری چی مرکز یی دکنړ دپیچدرهوه. د۸۰۰ ق ، په حدودکی له دوی خخه سلطان پکهل بن کهجامن ینهندو حکمران و.

۱۳۹۸ م ۸۰۱ ق

امیر تیمور داورکزو- ترکانو او برمل او غانانو ترایلولو وروسته په جمعه لومړی محرم ۸۰۱ ق کالدنغر لهکلا خخه دبنوخواته رهی سو،اوپه ۱۲ محرم سه شنبی تر دریای سند واوښت .

(۲٤ سپتمبر ۱۳۹۸م)

امیر تیمور دهند پهفتح کی ۱۲زره سپاره افغاناندملك بهاءالدینجلوانی اوملك یوسف سروانی اوملكحبیب نیازی په مشری بیولی وو .

۱۳۹۹ م ۸۰۱ ق

امیر تیموردهندترنیولو وروسته په ۲ رجب سه شنبی دریای سندته زاورسیدیاودکښیتیو پرپله راووښت په چهار شنبی ۳ رجب بنو تهراغی اوپه سه شنبی ۹ رجب د کرماچ (کورم) له خوا پروان ته ولاړ،اوپه شنبی ۱۳ رجب تر کوتل شیبر تیر سو، په ۱۹ رجب سمنگان ته ولاړ، اوپه یکشنبی ۲۱ رجب ترمذ ته واوښت .

دامیر تیمور په حکم دشاهرخ لپاره په هرات کی دباغ شهر قصر جوړ سو .

دقاسم بن حسین غزنوی فقیه د فتاوی النتف الحسان د مؤلف وفات .

دابو القاسم محمدبن محمدزوزنی فقیه دالنصاب فیالفقه د مو لف وفات .

۱٤۰۰ م ۸۰۲ ق

خواجهعلاءالدین محمد عطارنقشبندی په دره چغیان کی درستاق شرقته وفات اوښخ سو (چهار شنبه ۲۰ رجب) .

دامیر تیمورپه حکم مولانا محمد کاخکی او قطب الدین نایی اوحبیب عودی اوعبدالمومن گوینده دموسیقی استادان پهدار کړل سوه .

۱٤۰۱- ۱٤۰۵ م ۸۰٤- ۸۰۸ ق

ددلاور خان حسینغوری سلطنت دهند په مالوه کی .

۱٤۰۲ م ۸۰۵ ق

ملك قطب الدین بن تاج الدینبن قطب الدین په نیمروز کی سکه ووهله .

۱٤۰٤م ۸۰۷ق

امیر تیمور خواجه فخرالدین احمد طوسی او احمد بن شیخ حسن د هرات دمالیاتو پردیوان مقرر کړل، اوعلی شاه گربه پخوانی دیوانبیگی ئی په دارکیء او دوولس تنهمشران ئی لههراته وایستل .

مولانا سید حسام الدین هروی په (جمعه غره ر جب) او مولانا محمود

حلاج هروی وا عظ په (۱۷ذیقعده) په‌هرات کی‌و فات سو ل .

امیر تیمورلنگ‌دلوئی امپراتوری نرجوړولو وروسته ۷۱ کلن په اتراز ی مړسو (۱۷ شعبان) اوپه‌سمرقند کی ښخ سو .

ده گرده‌افغانستان نیولی‌ؤ اوددی خوا حکمران پیرمحمدبن جهانگیربن تیمورو .

شاهرخ میرزا دامیر تیمور زوی په هرات کی پرنخت کښینوست ، دی دشرق لـوی هنر پالونکی پاچا دی .

په‌دغه‌کل دسلطان علی سبزواری ښورښت هم آرام کړ سو .

۱۴۰۴ـ۱۴۴۶ م ۸۰۷ـ۸۵۰ ق

دسلطان شاهرخ بهادر بن امیر تیمور دسلطنت دوره (پایتخت ئـی هرات) .

۱۴۰۴ م ۸۰۷ ق

دشاهرخ په حکم امیر جلال‌الدین فیروز شاه دهرات کلا او امیر سید خواجه دطوس کلا بیا جوړه کړه . په سبزوار کی دسلطان عـلی بـن مسعود سبزواری او پیرك بغاوت‌اود طوس دحاکم امیر سید خواجه‌له‌خوا ددوی ماتول

دمحمد بن احمد بن محمدبسطامی شافعی صوفی دتذکرةالمرید دمؤلف وفات .

۱۴۰۵ م ۸۰۸ ق

شاهرخ خپل مخالفان لـه بیخه وکښل اودده زوی میرزا الـغ بیگ اندخود اوشبرغان‌ونیول اودخراسان حکمران سو .

امیر سلیمان شاه چی په‌سرخس کی دشاهرخ پـه فرمان حکمران په خراسان کی یاغی سو، شاهر دده‌مقابلی ته ولاړ، خوهغه سمرق ته وتښید او شاهرخ په کلات ک دده کلاوړانه کړه، بیرته هرات راغی (۷ جمادی الاولی) .

میرزا سلطان حسین چی د م له‌خوا دامیر تیمور کړوسی‌ؤ پـ خراسان کی یاغی اونیول سوی په‌هرات کی ووژل سو .

نشاپور په زلزله وران سو .

امیر سید خواجه بن‌شیخ علی بهاد دطوس حکمرا ن سو .دخوا ج شهاب الدین بن‌ناصر الدین لطف الله هروی وفات .

سید خواجه په طوس‌کی‌یاغی س اوشاهرخ ورغی اوهغه ئی وتښتاو (۸۰۹ق) او استرا بادنی ونیوی

۱۴۰۵ـ۱۴۳۴ م ۸۰۸ـ۸۳۸ ق

دهوشنگ الپ خان بن دلاورخا غوری سلطنت دهند په مالوه کی .

۱۴۰۶م ۸۰۹ق

ملك صالح دملك اسماعیل زوی په غور کی وښوریدی خود شاهر امیرانو لقمان برلاس او امیر حسین جاندار هغه وځابه .

دمحرم په لومړی ورځ شاهـر له‌هراته دطوس خواته رهی سو، ا ټول خراسان ئی میرزا الغ بیك ت وسپاره، مولانا جلال الدین صدرئ ساری ته‌په‌سفارت واستاوه اوبیرته هرات ته‌را غی (٤ جمادی‌الاو لی).

په بلخ کی پیرعلی تـاز دمیرزا پیر محمد بن جهانگیر بن‌امیرتیمور پیشکار راولاړ سو اومیرزا پیرمحمد ئی مړکی ع.

شیخ محمد طغرایی هروی خطاط په اعلی ثلث خط یوقرآن وکیښ .

دجام (بردویه‌کلی) په جنگ کـی شاهرخ پرمیرزا عـمر بهـادر بـن میرانشاه کـور گـان بـریمن سو (دوشنبه ۹ ذیقعده ۸۰۹ ق)

میرزا عمر چی په بادغیس کـی نیول سوی‌ؤ مړسو، اوپه هرات کی دامام فخر رازی په هدیره‌کی ښخ سو لا(۲۵ ذیقعده) .

د هـــر ا ت عید گا ه د خواجه غیاث الدین سالار په اهتمام جوړه سوه. دفتح آباد والهدادوان او تیزان پر بلوك په هرات کی جاری سوه. په هرات کی کاختی اوگرانی وه .

۱۴۰۷م ۸۱۰ ق

پیرعلی تا زپه بلخ‌کی‌یاغی‌سوخوچی شا هرخ ورغی نو پیر علی‌په‌هندو کش ننوت او شاهرخ ټول شمالی افغانستان تر تخار ستانه و نیو او میرزا قیدو دپیر محمد زوی‌یی‌هلته حکمران کی‌ع . یوسف امیری‌دهرات خطاط او شاعر او مذهب‌په هرات‌کی د۱۹ مینا تورو سره یوه کلیله دمنه وکښله (استا نبول) دشا هرخ‌په فر مان‌حصار هندوان بیا جوړه‌شوه ند خو داو شیرغان امیرزاده سیدی احمد بن عمر شیخ ته وسپارل سوه.

شاهرخ له‌هراته دماز نداران په دوهم سفرهی سو او دهغه‌ځای‌تر سمو لو وروسته په ۹ذیقعده هرات ته راستون سو.

په‌همدغه وخت پیر علی تاز چی دبد خشانه یی پر بلخ حمله کړی‌وه ووژل سو او سربی هرات ته‌راوا ستول سو .

دمرو ښار بیا ودا نو ل.

~~ستول سو~~.

دسلطان بهرام بن کهجامن کنړی حکمرانی پر ننگرهار تر کشمیره.

۱۴۰۸ م ۸۱۱ ق

خواجه شمس‌الدین محمد سمنانی له دیوان اعلی څخه معزول اوپرځای ئی خواجه محمد طاهر مقررسو.

سید فخر الدین محمد او امرعلی شغانی پـه گـډه پـه وزارت مقرر سـول .

خواجه غیاث‌الدین سالار سمنانی دسید فخر الدین په لمسون ووازه سو .

دهرات په‌باغ‌شهرکی دشهزادگانو دختنه کولو لـوی جشن وسـو . (دربیع الثانی اواخر)

شاهرخ پـه جمادی الاولی کـی پر سیستان حمله وکړه اود هلمند دری بندونه یی وران کړه اودزره ولایت وچاووران سو، شاهر خ‌شاه اسکندر د شاه علی زوی په فراه او پهلو ا ن جما ل پـــه او ك کی مقرر کړل او پخپله هرات تـه ولاړ (دشعبان سلخ) .

شاهرخ په فراه کی ینـا لتگین

مطیع کی اوداوك اوجوین کلاوی یی تر سیستانه ونیولی .

دخطای دپاچا ایلچیان هرات ته راغله اود شاهرخ دربار ته‌ئی دامیر تیمور دمرگ تعزیت او تحفی‌وړاندې کړی (رمضان) .

شاهرخ دشوال په میاشت د بادغیس له‌لاری ماوراء النهر ته ولاړ، اود حصار تر سیمی پوری یی ټول‌هغه مملکت ونیوپه (۲۷) ذیحجه سمرقند ته‌ولاړ .

حسن‌بن محمد نشاپوری (نظام اعرج) دریاضیاتو او هیئت پوهاند شرح التذکره للطوسی په علم هیئت کی تالیف کړه .

۱٤۰۹ م ۸۱۲ ق

شاهرخ ټول ماوراء النهر تر مغلستان پوری خپل زوی الغ بیگ ته وسپاره، او پخپله هرات ته ولاړ. په‌همدغه کال مقرر سول :

حصار شادمان ته میرزا محمد جهانگیر بن میرزا محمد سلطان . کابل او قندهار ته تر دریای سند پوری: میرزا قیدو د شاهرخ زوی. بلخ او تخارستان تر بدخشانه : میرزا ابراهیم د شاهرخ زوی . سیستان ته: شیخ زین الدین خوافی .

د شاهرخ په حکم دمرو بنساربیا ودان سو، اود اوبو بندئی له‌مرغابه وتاړه‌سو، او شاهرخ پخپله مروته ولاړ، او ترلوی اختر وروسته‌هرات ته راستون سو .

امیر نیك پی‌شاه بدخشانی هرات ته پناه راوړه او شیخ زین الدین خوافی سیستان ته دروغی اوسمون لپاره ولیږل سو، اوشاه نصرت سیستانی چی په طوس کی بندی ؤ بیرته خپل پلار شاه محمود ته سیستان ته واستول سو .

د مولانا شهاب الدین عبدالحق طوسی وفات (شوال) .

۱٤۱۰ م ۸۱۳ ق

په قندهار کی دامیر ترمان پیر محمد بن‌امیرکتلو(پیرك) او مو دود گرمسیری ترمنځ ونښت او دواړه هرات ته‌راوغوښتل سوه، اودقندهار مشری دشاهرخ له‌خوا پیر کته وسپارله سوه مودود په دربار کی مقرر سو .

شاهرخ خپل‌زوی میرزا بایسنقر په هرات کی قایم مقام پریښو اوپه ۱٤ محرم ماوراء النهر ته رهی‌سو، او امیر شیخ نورالدین ئی دسمرقند په سیمه کی مات‌کی اوپه ۱۱ ربیع الاول ئی سمرقند ونیو ، اود ربیع الاخر په اولوکی هرات ته راغی .

په هرات کی دشاهرخ په حکم د یوی مدرسی او خانقاه ودانی پای ته ورسیده . اود ښار سرپوښ بازاروته اوچارسو جوړ سول. د مدرسی مدرسان مقرر سول :

مولانا جلال الدین یوسف حلاج، مولانا نظام‌الدین عبدالرحیم‌باراحمد مولانا خواجه ناصر لطف الله. شیخ‌الاسلام خواجه‌علاالدین‌علی‌چشتی دشاهرخ په فرمان دهرات دخانقاه

شاهرخیه مشر سو .

په هرات کی دشرقی شمال‌خواته دباغ سفید سره دشاهرخ په فرمان یونوی کوشك او باغ جوړ سو . (جمعه ۲٤ ذیقعده) .

مولانا شهاب الدین فضل‌الله د هرات د دار القضا کاتب وفات سو .

۱٤۱۰ـ ۱٤۱۷ـ م ۸۱۳ ۸۲۰ ق

علی شاه امیرخان دسکندر زوی‌د هندال لمسی دشاه میر سواتی کړوسی دکشمیر پاچاو .

دمولانا حافظ جلال الدین محمدبن ناصر الدین لطف الله وفات او د هرات په خیابان‌کی دامام رازی په هدیره‌کی ښخیدل (٤محرم)

۱٤۱۱ م ۸۱٤ ق

دهند دپاچا خضر خان له خوا د ملتان قاضی دشاهرخ دربار ته د سفیر په‌توگه راغی او په بادغیس‌کی شاهرخ ولیدی .

امیر شیخ نورالدین دوهمه پلا په ماوراء النهرکی وښورید او شاهرخ په ۲۱ جمادی الاولی ترآمو واوښت اوسمرقندته‌ورسید، خوامیرشاهملك دهرقداق په و سیله امیر نورالدین مړکی، اوشاهرخ بیرته هرات ته راغی اوبیا مشهد ته ولاړ . (۹ ذیقعده)

دمولانا شمس الدین محمد ظهیر وفات اود هرات په خیابان کی ښخیدل

دمولانا شیخ اسماعیل خوارزمی وفات په هرات‌کی (رمضان) .

۱٤۱۲ م ۸۱۵ ق

شاه بهاء الدین دبدخشان حکمران یاغی سو، خود شاهرخ لښکرو دی دپامیر خواته وتښتاوه اودده ورور شاه‌محمود ئی پرځای کیښناوه .

وروسته میر زا سیو غتمش د بدخشان حکمران وټاکل سو .

شاهرخ په ذیقعده کی مشهد ته‌ولاړ اومودودگر مسیری چی له هراته تښتیدلی ؤبلوخانوواژه.دخطا دپاچا دای منك‌خان ایلچیان او مکتوب د شاهرخ دربار ته راغله اوله هراته شیخ محمد بخشی دسفیر په ډول د شاهرخ له فرمانه سره خطا ته واستول سو .

دروم ایلچی‌محمدقزامان دسوغاتو سره هرات ته راغی، دغسی همله بدخشانه دشاه‌بهاء الدین بدخشانی ایلچی راغی .

خوارزم هم‌دشاهرخ په سلطنت کی شامل سو. پیرك قندهاری مشر دشاهرخ حضورته راغی .

د مولانا عبدالله بن قاضی جلال الدین محمود د هرات دقاضی وفات اوپه گازرگاه کی ښخیدل (محرم)

شیخ صدرحیدری دهرات‌دخانقاء ملك مشر وفات اود فیروز آباد په دروازه کی‌ښخ سو .

ملك قطب‌الدین علی‌بن ملك‌محمود له‌سیستانه هرات ته راغی اوشاهرخ ته‌ایل‌سو .

دسلطان تومنا کنړی اقتدار له نگرهار ه ترکشمیره .

۱٤۱۳ م ۸۱٦ ق

دهرات حصار اختیارالدین چی

ملك فخرالدين كرت جوړ كړيؤ اود تيمور په حملو كى وران سوىؤ د شاهرخ په حكم بيرته ودان‌سو .

شاهرخ دمازندران په‌سفر ولاړ .

خواجه عبدالقادر گو ينده دهرات لوى موسيقى نواز خپل كتاب‌مقاصد الالحان دشا هرخ په نامه وكيښ.

عبدالرزاق بن‌اسحق‌سمرقندى عا لم او مورخ دمطلع سعدين مؤلف پـــه هرات كى وزيږيدى. (۱۲ شعبا ن).

۱٤۱٤ م ۸۱۷ ق

شاهرخ تو لا يرا ن‌تر شيراز ه او اصفهان نه او تبر يزپورى ونيوى او داصفهان په‌حكمرانى ميرزا ر ستم بن عمر شيخ، دهمدان اولرستان‌په حكمرانى ميرزا بايقرا، دشيراز پـــه امارت ميرزا ابراهيم سلطان مقـــرر سول .

ملك قطب الدين دشاه على زوى له‌سيستانه هرات ته ولاړ (رجب) .

خواجه قوام الدين شيخ محمد بن مجدالدين خوافى دسيد فخر الدين وزير په لمسون ووژل سو .

شاهرخ دعراق له‌سفره هرات ته راغى (۱۲رجب) هشهد اود خراسان ښارونه تراستر آباده بـــا يسنقـــر ميرزا ته وسپارل سوه .

مولانا عبدالرحمن جامى دجام په خرجرد كى دشعبان په ۲۳ شپـــه وزيږيدى .

۱٤۱٥ م ۸۱۸ ق

دشاهرخ په فرمان ابيوردسملقان ترمازند ران اوجرجان پورى ميرزا بايسنقر ته ورکړل سوه .

دهرات داختيارالدين كلادشاهرخ پـــه فرمـــان بيـــا جـــوړه ســـوه . (ربيع الثانى)

شاهرخ دكرمان په سفر ولاړاود محرم ۸۱۹ ق پـــه منځ كـــى بيرته هرات ته راغى .

خواجه نظام‌الدين احمد بن داؤد دهرات‌په ديوان‌كى دسيد فخرالدين محمد وزير سره مقرر سو .

۱٤۱٦ م ۸۱۹ ق

ميرزا بايسنقر ته دشاهرخ‌فرمان صادر سو چى دهرات ددديوان اعلى پرمسند كښيني اود خلكو شكايات واورى .

ځكه چى پـــه قندهار كـــى ميرزا ويدوته دده نوكران ياغيان‌سوه، نو امير نوشيروان دلسو زرو لښكرو سره له‌هراته دده كومك ته‌و لاړ.

شاه نيك پى له‌بدخشانه هرات‌ته راغى اودهغه ځاى په حكمرانى‌ميرزا سيور غتمش د شاهرخ زوى مقرر سو. (جمادى الاخرى) .

خواجه علاء الدين شغانى په‌وزا رت مقرر سو (۱۸ رجب)

ددايمنگ خان دخطا دپاچا ايلچيان بياهرات ته راغلل اوډيرى تحفى‌ئى شاهرخ ته راوړى. (ربيع‌الاول) .

شاهرخ قندهار ته دسيفل‌قندرهارى دزوى اوملك محمد دشخړى لـــپاره ولاړ (۲۲ شعبان) اود برمل پښتانه او خرښوانى افغانان ده تـــه راغلل (۳رمضان) .

شاهرخ دقندهار دلنگر په كلى كى بابا حسن ابدال (باباولى) وليد

اودغه كلى ئى ده‌ته‌وقف‌كىء.

۱٤۱۷م ۸۲۰ق

په قندهار كى دسيفل دزوى او ملك محمد تر منځ شخړه‌پيښه سوه او تو لو افغانانوله قندهاره‌تر دريای سنده ښو رښت‌وكى شاهرخ دصدر عالى ابراهيم په‌مشرى دبدخشان او سيستان او هرات دلښكرو سره‌پر قندهار وږغـــى او خلـــك ئـــى مطيع كـــړه .

امير قوام‌الدين‌محمدبن عمادالدين سنجانى په‌خواف‌كى مړسو.(۱محرم)

شاهرخ قندهار ته‌ولاړ اوبايسنقر ميرزائى دهزاره‌وو ايلولوته‌واستاوه او ددوى مشران محمدفيروز ،خواجه آرام، قدم دشاهرخ دربارته راغلل .

امير حسام دقندهار كوتوال او امير عبدالصمد د گـــرمسير حكمـــرا ن سو .

ميرزا الغ بيگ له ماو راء النهره هرات‌ته‌راغىء (۱۹ربيع الاول) .

سيد مرتضى امير على مروى دهرات په ديوانى مقرر سو.سيد فخرالدين محمد دمخنى وزير په هرات كى مړ سو. (۲٥ جمادى الاولى) .

امير كبير علاء الدين على تر خان او امير غياث‌الدين ترخان په هرات كى‌مړه سول (۲۲ـ رجب).

خواجه غياث الدين پيراحمد بن جلال الدين اسحاق دهرات ديوان‌ته مقرر سو .

د برهان الدين حيدر بـــن محمد خوافى هروى مفسر او متـــكلم او اديب دوفات حدود .

دشيخ ابو سعيد خلوتى هـــروى زاهد وفات اوپه هرات كى ښخيدل (اذى حجه).

۱٤٦۷ـ ۱٤٦۷ م ۸۲۰ـ ۸۷۲ ق

شاه خان زين العابدين بن‌سكندر بن هندال بـــن شاه مير سواتى د كشمير پا چا و .

۱٤٦۸ م ۸۲۱ ق

ميرزاقيدو بغاوت‌وكىء اوداوبى‌په ناب‌كى ونيول سو، نو شاهرخ كابل اوغزنى او قند هار تر سند پورى خپل زوى ميرزا سيور غتمش تـــه ورکړه .

شاهرخ له‌گرمسيره هرات ته‌ولاړ او ميرزا قيدو چـــى ياغى سوىو د پلار له حضوره معاف سو .

امير شيخ لقمان او نور اميران بدخشان ته دميرزا الغ بيگ سره واستول سوه ، خـــود شيخ الاسلام علاء الدين‌عطار په‌شفاعت دبدخشا ن خلك معاف اومطيع سوه .

گوهر شاد ملكى دامام على‌بن موسى رضا په مشهد كى‌يولوى‌مسجد جوړ كىء چى كتيبه ئى‌دميرزاپايسنقرپه خط ده (اوائل رجب) معمارئى استاد قوام الدين شيرازىؤ، اودا تمام په مراسمو كى پخپله شاهرخ شركت وكىء، اوپه شعبان ۸۲۱ق له‌هراته مشهد ته ولاړ. ددى مسجد ودانى په (۱۲) كاله ختمه سوه چى‌ددنياله ۱۲بهترينو ودانيوڅخه‌شميرل‌كيږى.

شاهرخ دامام على رضا دمر قد په گنبده كى ددروزرو مثقالو طلايـــى

قندیل وځړاوه .

په مشهد کی یوباغ دشاهرخ په امرجوړسو. شمس‌الدین محمدطاهر اعلی دیوان ته مقرر او بیائی پرځای خواجه شمس‌الدین محمد سمنانی وگومارل سو .

دبد خشان دشاه بهاءالدین زامن وښوریدل اوبیادشیخ الاسلام خواجه تاج‌الدین حسن عطار په شفاعت وبخښل سوه او بد خشان دوی ته و سپارل سو .

۱۴۱۸ـ ۱۴۸۹ـ م ۸۲۱ـ ۸۹۴ق

دمحمد بن محمد بن عبدالله بن خیضر دمشقی خیضری محدث‌اوفقیه و مؤرخ دژوند و خت. دی دمو لانا جامی استادواوپه ۸۷۷ ق چی‌مولانا جامی دحج په سفر تللی‌و په دمشق کی داحادیثو اجازت نامه له دهخخه واخیستنه (عین اجازت‌نامه دخیضری په‌خط دمرحوم گویا په کتاب‌خانه کی‌وه) .

۱۴۱۹ م ۸۲۲ ق

دخطاد دا یمنك خان پاچا ا یلچیا ن دریمه پلا دهرات دربار ته راغله اود خپل پاچا مکتوبونه‌ئی په فارسی او اویغوری خط دتحفو سره شاهرخ ته راوړل .

شهزاده محمد جوکی د شاهرخ زوی‌دمهر نگار آغا سره واده وکیءچی‌دمغولستان دپاچا محمدخان‌لوروه په‌دی بنادی کی دهرات په باغ‌زاغان کی‌لوی جشن وسو (شوال) .

شاه شاهان‌شمس‌الدین بن‌قطب‌الدین بن‌تاج الدین په‌نیمروز کی سکه وړهله .

۱۴۱۹ م ۸۲۲ق

د ملك قطب ا لد ین علی و فات په نیمروز کی(۱۵محرم).

۱۴۲۰ م ۸۲۳ ق

یوه ډله ایلچیان له هرا ته خطا (غربی چین) ته واستول سو ه:

دشاهرخ له خوا شادی خواجه .

دمیرزا با یسنقر له‌خوا سلطان احمد او غیا ث الدین نقا ش

دمیر زا ابراهیم له خوا امیر حسن او پهلوان جمال .

د میرزا سیور غتمش له خوا ارقداق .

دامیر شاه ملك له خوا اردوان.

دشاه بدخشان له خوا خواجه تاج‌الدین .

له‌دوی سره ډیر سوداگران هم ولاړل .

ملکه گوهر شاده له هراته دخپل زوی الغ بیگ دلیدنی لپاره‌سمرقند ته و لاړه (ربیع الاول).

مو لا نا جلا ل ا لد ین ا فتخا ر چی خپله کتا بخا نه ئی خلکو ته وقف کړی وه و فات اود هر ات‌په خیابان کی‌ښخ سو .

امیر سید احمدترخان دخراسان‌په حکومت مقرر سو او پخپله شاهرخ په ۱۵ شعبان دایران په سفر رهی سو اوتر تبریز اودعراق عرب تر سرحداتوپوری‌پی ټولی‌سیمی ونیولی اوپه۱۹شوال هرات ته راغی.دمطلع سعدین په قول دشاهرخ سلطنت له خطا (چین) څخه‌تررروم (عثمانی‌ترك) اودترکستان له آخره تر هندوستان پوری‌و .

میرزا الغ بیگ په سمرقند کی

یوه مدرسه اوخانقاه دارگ سره او بوه رصدخانه دښارپه‌شمالی خواکی جوړه کړه اود یوی ډلی پوهانو (غیاث الدین جمشید، معین الدین صلاح الدین موسی قاضی‌زاده رومی علاء لدین قوشجی) په مرسته ئی «زیج الغ بیگی» هم‌ترتیب اوتالیف کیءچه ز یج کور گانی هم بلل کیدیءه.

مولانا جمال الدین غوری اومولانا ناصرالدین لطف الله (۲۶ شعبان) اومولانا شمس الدین محمد پارسا بخاری په مدینه او مولانا یو سف حلاج بن قاسم (۲۲ جمادی الاولی) اومولانا صفی الله بن شهاب الدین خیابانی (۱۹ ربیع الثانی) و فا ت سول .

خواجه جلال‌الدین یوسف‌سمعانی وفات اود هرات په‌گازرگاه‌کی‌ښخ‌سو

۱۴۲۱م ۸۲۴ ق

امیر ابدال مجذوب (سید غیاث دیوانه)په‌باد غیس کی وفات سو . (دمحرم آخر) .

دهرات ایلچی مولانا امیر خواجه چی‌دهند دخضرخان دربار ته‌تللی‌و، بیرته هرات ته راغی او یوکرگدن‌ئی هم‌راوی‌ءه. محمد طیب چی مصر ته ایلچی تللی‌ودشوال‌په‌آخر کی‌هرات‌ته راغی‌ءه،دغسی هم‌سلطان قوشچی‌چی دقبچاق دپاچامحمدخان دربار ته‌تللی و بیرته‌هرات‌ته‌راورسیدیءه(ذیقعده).

۱۴۲۱ م ۸۲۵ ق

هغه ایلچیان چی له‌هراته خطا (چین) ته‌په (۸۲۲ق) تللی وو بیرته راغلل (۱۱ رمضان) اوخواجه‌غیاث‌الدین نقاش ددی سفر روز نا مچه وکښله چی عبد الرزاق پخپل مطلع سعدین‌کی رانقل کړیده .

میرزا ابراهیم سلطان د فارس حمکران خو ز ستان هم ونیوی ءه .

شاه‌سلطان محموداوشاه‌ارغون‌شاه دبدخشان پا چهان هرات‌ته دشاهرخ دربار ته‌راغلل(۳صفر). حافظ مولانا شمس الدین محمد رازی په هرات کی وفات او په یزدکی ښخ سو (۱۲ جمادی الثانیه) .

میرزا ابوالقا سم بابر دمیرزا بایسنقر زوی په هرات‌کی وزیږیدی (۱۷ رجب) .

دسید محمد گیسو دراز بن یوسف حسینی هروی عارف‌وفات د جنو بی هند په گلبرگه کی (۱۶ ذی‌قعده) .

۱۴۲۴ م ۸۲۷ ق

دیحیی بن علی داؤد سجستانی‌د منازل السا ئرین دشارح دژوند وخت .

دمولانا شهاب الدین عبدالله بن معین الدین باخرزی وفات په مالین کی (سه شنبه ۱۴ ذی‌حجه) .

شهزاده ابراهیم سلطان دشاهرخ زوی په هرات کی یوقرآن په ښکلی جلی ریحان او رقاع خط وکیښی. (گنجینه قرآن ،مشهد رضو ی) .

دسلطان ابو سعید مصورالبم چی اوس په‌استانبول‌کی‌دی‌نمبر۲۱۵۲ په هرات کی تر تیب سو.

۱۴۲۴ م ۸۲۸ ق

شیخ قوام الدین تبریزی هر وی په هرات کی وفات اود انجیل دولی پر غاړه ښخ سو (صفر) .

دمولانا نظام‌الدین عبدالرحیم بن یار احمد وفات په هرات کی . (۳۰ صفر) .

مولانا ناصرالدین کوسویی وفات اوپه خیابان کی ښخ شو .

مولانا صدر الدین داردو قاضی اود حضور املم په هرات‌کی وفات سو .

مولانا شرف‌الدین علی یزدی چی دظفر نامی تالیف‌ئی په ۸۲۴ ق کی شروع کړی و اوس ئی تمام کی. (دوه ټوکه) .

میرزا الغ بیک له سمر قنده مغولستان ته ولاړ، اوتر هغه ځایه ټولی سیمی ئی تصفیه کړی .او په ۱۵ذیحجه هرات ته راور سیدیء .

خواجه غیاث‌الدین پیراحمدخوافی دهرات له دیوان اعلی څخه معزول سو .

شیخ جمال الدین ابو اسحاق محدث کازرو نی په هرات کی‌وفات اوپه گازر گاه‌کی ښخ‌سو (چهارشنبه (۱۳ ذیعقعده).

۱۴۲۵ م ۸۲۹ ق

دشاهرخ په حکم په گازرگاه کی دخواجه عبدالله انصاری د مزار عمارتونه جوړ او ډیری مخکی او اسباب دهغه ځای نپاره و قف سوه .

امیر شاه ملك غیاث الدین دخوارزم حکمران اود شاهرخ ددربار لوی‌امیر وفات اوپه مشهد کی ښخ سو . (دوشنبه ۱۱ ربیع‌الاول) .

یوی ډلی عالما نو د شهزاده بایسنقر په‌امرد فردوسی دشاهنا می یوه‌جامعه نسخه ترتیب کړه اوپو ه مقدمه یی پر وکښله چی بایسنقری مقدمه‌ئی بولی.

حافظ قاری عثمان غزنوی دهرات په زیارتگاه کی وفات سو ، (۱۹ شوال) .

سید نظام الدین عبدالحی‌دمشهد دساداتو نقیب وفات سو .

۱۳۶۵- ۱۴۲۶ م ۷۶۷- ۸۲۹ ق

دمحمدبن عطاءالله بن‌محمدهروی‌د مصردقاضی او شافعی‌فقیه او مؤلف‌د ژوند دوره چی په قدس کی وفات سو. دی دمشارق الانوار شارح دی .

۱۴۲۶ م ۸۳۰ ق

میرزا سیورغتمش دشاهرخ زوی دافغانستان حکمران په کابل کی مړسو (محرم) اودهغه ځای حکمرانی دده زوی میرزا سلطان مسعود ته ورکړه سوه .

دشیخ الا سلام محی الدین محمد غزالی طوسی عالم او زاهد وفات (۱۵ رمضان) .

احمد لرچی دفضل الله‌استرابادی دحروفی ډلی مریدو دهرات په‌جامع کی شاهرخ په نسس کی په چاړه وواهه (جمعه ۲۳ ربیع‌الثانی) خوټپ ئی کاری نه وجوړ سو .

احمدلر اومولانا معروف بغداد ی هروی خطاط ووژل سوه‌اوسید قاسم انوار له‌هراته تبعید سو .

شاهرخ د شعبان په اوله، له هراته سمر قند ته رهی سو او په (۲۱)

ر مضان دهرا ت با غ زا غا ن ته راغیء.

دهرات د مشهورو طبیبانو مولانا شمس‌الدین آدم اومولانا نظام‌الدین دژوند وخت .

دهرات دگازرگاه بیاودانی .

دحافظ ابرو هر وی مؤرخ د زبدةالتواریخ تالیف تما م سو . (٤ ټوکه) .

محمود بن حسین خوا فی (متوفا ۸۷۵ق) خپل کتاب خاوران نا مه (خاور نامه) وکیښ .

دمحمدبن عثمان‌بن‌عمر بلخی حنفی عالم دعین العلم دمؤلف وفا ت .

۱۴۲۷ م ۸۳۱ ق

دمولانا قطب الدین داردو دقاضی وفات په تون کی (چهار شنبه ۳ ربیع‌الثانی) .

شاهرخ له سمرقنده هرات ته راغیء (۱۱محرم) .

۱۴۲۸ م ۸۳۲ ق

ځکه چی امیر سکندر دقرایوسف زوی په آذر بایجان کی یاغی سو ، نوشاهرخ دخپلو لښکرو سره له هراته ور رهی سو(یکشنبه ۵رجب) اود سلماس تربری وروسته هرات ته راورسیدیء. (۸ ذیحجه ۸۳۳ق)

دمولانا سیف‌الدین هندوی هروی واعظ وفات‌په‌هرات‌کی (۱۷ شوال).

شاهرخ دهرات پاچا په گازرگاه کی‌دخواجه عبدالله انصاری پر مزار لوئی ودانی جوړی کړی.

په بلخ کی دملکت آغا دمد رسی ودانی تمامه سوه .

۱۴۲۹ م ۸۳۳ ق

ددنیا بهترین او گرانبها ترین کتاب شهنا مهٔ با یسنقری په‌هرات کی‌د جعفر خطاط په‌خط او دشهزا ده بایسنقر میرزا په امر مصوره او ملاکاری و کښله‌سوه. (موزهٔ‌گلستان دتهران).

دشیخ عبدالله خلو تی و فا ت په هرات کی .

مولانا شهاب‌الدین‌عبدالله خوافی هروی (حافظ ابرو) دجامع التواریخ سلطانی (زبدةالتواریخ)مؤلف وفات اوپه زنجان‌کی ښخ سو، (یکشنبه ۳ شوال) .

دشیخ الاسلام خواجه خلیل الله بن خواجه محمود وفات (داحمد جام زنده پیل له‌اولادی څخه) .

شمس بایسنقر ی هروی خطاط کلیله دمنه وکښله چی ۲۶مینا توره لری (استانبول نمبر ۱۰۲۷).

دمولانا جلال الدین یوسف بن ناصرالدین او بهی هر و ی و فا ت (شنبه ٥ شعبان) په هرات کی .

دملك محمدبن خواجه جلال الدین یوسف سمعانی وفات (چهارشنبه ۳۰ربیع الثانی)په هرات کی .

دشیخ‌الاسلام معز الدین خلیل الله جامی بن جلال الدین محمود جا می وفات (شوال) .

دشیخ الاسلام محمد جزری‌محدث وفات په‌هرات کی (۵ربیع الاول).

۱۴۳۰ م ۸۳٤ ق حدود

شهزاده بایسنقر بن شاهرخ په هرات کی په ښکلی او پاخه ثلث‌خط یو قر آن وکیښ (چی خو پاڼی ئی د ایران په ملی کتاب خانه کی سته) .

دمرقعات با یسنقری مصور البم‌په هرات کی وکښل سو، چی ٦٥٠

تصویرونه اود شهزاده بایسنقر او ابراهیم امضاوی لری (د استانبول کتابخانه) .

جعفر بایسنقری په هرات کی د بایسنقر لپاره کلیله دمنه وکښلـه چی ۱۹ تصویره لری (استا نبـول ۳٦۲) .

۱٤۳۰ م ۸۳٤ ق

دمولانا رکن الدین محمد خوافی‌وفات اودهرات په گازر گاه کی ښخیدل. (یکشنبه ۲۷ شوال) .

۱٤۳۱ م ۸۳۵ ق

دخواجه صاین الدین علی ترکه اصفهانی هروی وفات او ښخیدل په هرات کی(۱٤ذیحجه)چی دفصوص الحکم شارح اود کـتاب مفـاحص مؤلف دی .

د مولانا جمال الدین عبدالغفاربن مولانا جلال‌الدین اسحق قاضی‌وفات په هرات کی (۱۹ ذیحجه) .

دعروضی چهار مقاله په هـرات کی‌دبایسنقر دکتابخانی لپاره مزینه وکښله سوه (داستا نبول هنـر ی موزیم ۱۹۵٤) .

دامیر اعظم ناصر الدین محراب ترخان وفات (۱۳ محرم) په هرات کی .

۱٤۳۲ م ۸۳٦ ق

دانجیل دپله پر سر په هرات کی دمهد علیا گوهر شاد آغامدرسه ا و لوړ عمارت جوړ سو . ددغه خـای خطیب مولانا اعظم‌شمس الدین‌محمد بن‌اوحد مقرر سو .

دخواجه نظام الدین عبدالقا در د شاهرخ ددرباری‌او امیرمحمددرویش داروغه وفات په هرات کی.

د مولانا قاری هبة الله وفـات په هرات‌کی (پنجشنبه ۳ ربیع‌الثانی).

دمولانا نظام‌الدین یحیی‌بن خواجه کمال الدین خوافی وفات په هرات کی .

په هرات کی استاد فرج ریخته‌گر «کمان رعد» جوړه‌کړه چی ٤۰۰ منـه دبره‌ئی غور ځوله داآله دکوه باو لی په شمال کی‌دشاهرخ په مخـــکی تجربه سوه .

۱٤۳۳ م ۸۳۷ ق

مولانا شمس‌الدین هروی دمولانا معروف بغدادی خطاط شاگـرد پـه هرات کی میرزا بایسنقر و روزلی دغسی هم مولانا جعفر تبریزی او مولانا ظهیر الدین اظهر او مولا نا شهاب الدیـن عـبدا لله او مـولانا جلال‌الدین شیخ محمود دمولاناجعفر شاگردان ټول په هرات کی هنرمند خطاطان وو .

شهزاده میـرزا بایسنقر بهادر د شاهرخ زوی چی تـکړه خطاط اود هنرمندانو پالونکی همؤ دهرات په باغ سفیدکی‌وفات‌اودگوهرشاد آغاپه مدرسه کی ښخ سو (شنبه ۷جمادی الاولی) .

دمولانای اعظم فصیح الدین محمد علاغوری مشهور فقیه او عالم وفات اوپه‌گازرگاه‌کی ښخیدل (۱۵ جمادی الاخری) .

قاسم انوار د خراسان صوفـی شاعر دجام‌په خرگرد کـی وفـات سو .

۱٤۳٤ م ۸۳۸ ق

شیخ الاسلام محمد بن احمد د هرات په گازر گاه‌کی ښخ سو چی شنختیه ئی په اعلی ثلث خط کښلی سوی‌ده .

د هـرات دلوی سلطنت وزارت خواجه غیاث‌الدین سیدی احمد بن خواجه نظام‌الدین احمد اندخودی‌ته دشا هر خ په فر مان وسپا ر لسو. شاهرخ دریمه‌پلاله‌هراته دآذربایجان په سفررهی‌سو (۲ ربیع الاول) او په هرات کی امیر نظام الدین پـه حکومت پرینبو .

خواجه عبدالقادر گوینده دهرات لوی موسیقی نواز او حافظ اوخطاط اوشاعر په هرات کی وفات اوښـخ سو.دمقاصدالالحان اوجامع الا لحان ۸۱٦ق او فوائد عشره اوکنزالالحان اوزبدة الا دوار مؤلف .

میرزا سلطان ابراهیم د شاهرخ زوی دفارس فرمانفرما په شیرازکی وفات سو (٤ شوال) .

د بدخشان لـه شاهـانـو ځخه ارغونشاه مړسو .

په هرات کی وبا اوطاعون پیدا سو (جمادی‌الاخری‌ترذیقعدی پوری)

په‌هرات کی و فیات :

شیخ‌زین‌الدین خوافی‌په (۲شوال) اقضی القضات قاضی صدرالد یـن محمد امامی په (٦ شوال) مولانای اعظم ضیاء الدین نورالله خوارزمی‌د هرات دجامع امام په (شوال) مولانا شمس الدین محمد بن سعد الدین تفتا زانی (په۸ ذیقعده) مو لا نانظام الدین احمدبن برهان‌الدین خوارزمی په (۵ ذیقعده) مولانا اصیل‌الدین‌قاج الائمه (په ذیقعده) شیخ ابو سعید محمد کازرونی هـروی او مولانـا جلال‌الدین قاینی محتسب او مولانا شمس الدین او حدد مد رسهٔ سبز مدرس او قاضی زاده شیخ‌ابوسعید امامی‌اوخواجه‌مجدالدین‌اوشیخ‌الاسلام رکن الدین محمد خیابانی او مولانا کمال الدین حسین بن اسد اوخواجه عبدالقادر گوینده او مولانا نور الدین محمد خطیب غـزنـوی او مولانـا شمس الدین شیخ محمد گرنگی او حافظ علاءالدین محمد هرو ی‌اوصدر حفاظ عبدالرحیم فوشنجی ..

۱٤۳۵ م ۸۳۸ ق

دکاتبی‌تر شیزی‌شاعر وفات، دی دبهرام وگلندام،حسن‌وعشق‌د مثنوی ناظم دی .

ابراهیم سلطان دشاهرخ زوی په بلخ کی حکمران و. دمحمد غزنیـن خان بن هوشنگ غوری سلطنت د هندپه مالوه کی. یحیی بن احمد بن عبدالله سهرندی خپل تـا ریـــخ مبارکشاهی دهند دافغانی شاهانوپر احوال وکیښی .

۱٤۳۵ م ۸۳۹ ق

مولانا محمد دشتی دشاهرخ لـه خواگر جستان ته‌په‌سفارت ولاړ اود گرجستان حکمران اطاعت وکی ججه ئی ومنله .

خواجه غیاث الدین سیدی ا حمد اندخودی لوی وزیر وفات اود هرات دخواجه احمدابو الو لیدپه مزار کی ښخ سو .

۱۴۳۶ م ۸۴۰ ق

شاهرخ دآذربایجان له دریم سفر څخه هرات‌ته راغیء (۲ربیع‌الثانی).

شاه‌سیف‌الدین‌دعمان دکښ‌دهرموز حکمران هرات ته‌راغیء (۲۶شوال).

سلطان محمود شاه خلجی پښتون دهند په مالوه‌کی سکه ووهله .

د مولانا معروف خطاط دشاهرخ دکتابخانی د خوش نویس دژوند وخت په هرات کی .

۱۴۳۷ م ۸۴۱ ق

د هرات پـه مصلاکی گوهر شاد ملکی ودانی وکړه، چی تاریخ ئی پر ډبره په جلی ثلث خـط جلال جعفر خطاط کښلی دی (دهرات مو زیم) .

عبدالرزاق سمرقندی‌دهرات مؤرخ رسالهٔ عضدیه د شاهرخ په نا مـه تالیف او هغه ته‌ئی وړاندی کړه او لکه خپل پلار پـه دربار کـی مقرر سو .

د شاهرخ له درباره دهر مـوزد والی شاه سیف الدین او توران‌شاه ترمنځ روغه وسوه اود طرزك‌کلاشاه سیف‌الدین ته ورکړه سوه .

دشیخ الاسلام ابوبکر بن شیخ محمد خوافی وفات (۹ صفر) .

د مولانا اخی تونی (شیخ محمد) وفات (۱۶ صفر) .

شهزاده سلطان مسعود د کابل والی دغه ښار ته ولاړ .

دمولانا سراج الدین‌ملتانی هروی عالم او زاهد وفات په هرات کـی (صفر).

امیر مبارزالدین شیخ حاجی دهرات ددیوان پـه امـارت مـقرر سـو . (۱۸ صفر) .

امیر الامرا شیخ لقمان برلاس وفات اودده ځای‌ئی زوی امیر پیرلقمان ته ورکړسو (۲۲ ربیع الاول) .

امیر ملك حسین با شلیغ‌یساولان مړسو اوپرځای یی زوی امیر فرخ حسین مقرر سو .

امیر بابا مسعود دهرات داختیار الدین دکلا کوتوال مړ سو (جمادی الاولی) .

۱۴۳۸ م ۸۴۲ ق

عارفی هروی خپل مثنوی گوی وچوگان نظم کیء. دی‌په ۸۵۳ق‌مـړ دی .

سلطان حسین بایقرا دهرات دپل تولگی سره وزیر یدیء (محرم‌ـجون ۱۴۳۸).

دصدر مولانا جلال‌الدین لطف‌الله اومولانا شمس الدین محمد بن‌مولانا شیخ علی و فات په هرات‌کی.(جمعه ۲۱ ربیع الاول).

داستاد قوام‌الدین‌معماروفات (غره شعبان) ده په هرات کی دگوهرشاد اغامدرسه او په مشهد کی دگوهر شاد مسجد جوړ کړیؤ .

ملك نظام الدین یحیی بن شمس الدین بن قطب الدین په نیمروز کی پاچا سو .

۱۴۳۹ م ۸۴۳ ق

میرزا مسعود دمیر زا سیو ر غتمش زوی دشاهرخ لمسی چـی د شرقی افغانستان تر سنده پـوری حکمران‌و هرات ته راوغوښت سو . (۳شعبان) او قراجار په کابل کـی

حکمران‌ؤ .

مولانا قطب الدین عبدالله امامی دهرات قاضی وفات سو. (دوشنبه ۱ ذی قعده) .

مولانا مفتی عمادالدین عبدالعزیز ابهری په هرات کـی وفات سـو . (۱۸ رجب) .

امیر کبیر فرمان شیخ دهرات د خیابان د مدرسی مؤسس په هرات کی وفات سو. (۸ صفر) .

سید شهاب‌الدین امیراسمعیل‌په بلوك‌گذاره‌کی‌وفات‌سو.(غره‌ذیحجة).

دمصر دملك الظاهر چقماق بیگ ایلچی جیجکبو قاد شاهرخ در بار هرات ته‌راغی (۷ جمادی الا خر ی) اود شاه ملك په باغ کی کښتـه سو .

ملك الظاهر دخپل ایلچی پـه واسطه د شاهرخ له کتابخانی څخه پنځه کتابونه غوښتی وو .

۱ـدابو منصور ماتریدی تاو یـلات اهل سنت.

۲ـدفخر رازی تفسیر کبیر .

۳ـشرح تلخیص.

٤ـجامع .

٥ـشرح کشاف .

شاهرخ خپل ایلچی مولانا حسا م الدین مبارك شاه پروانچی‌دسوغاتو اوپنځو کتابوسره دمصر ملك‌الظاهر ته‌و استاوه .

دمولانااعظم حاجی‌محمدفراهی‌په‌مشری یوه دعلماو جرگه دشاهرخ په حکم دعبدالرزاق سمرقندی دامتحان‌لپاره دشاهزاد گانو او امیرانو په گډون جوړه‌سوه اود غه مؤرخ په‌امتحا ن‌کی کامیاب سو .

گوهر شاده ملکه پرفصیح‌خوا فی دمجمل فصیحی پر مؤلف پـه قهر سوه اودی ئی‌بندی کیء.

۱۴۴۰م ۸۴۴ق

دهرات دنظامیه مدرسی د فلـك الدین مناره دعراق په بازار کـی ونړیده او ۱۲ تنه ترلاندی سوه . (آخر ذیحجه)دا فلك‌الدین دسلطان سنجر سلجوقی یو امیر و.

استاد کمال الدین بهزاد مشهور نقاش په‌هرات کی وزیږیدیء.

ملکت آغادمیرزاسیورغتمش مورد شاهرخ ماینه‌وفات‌اوپه‌هغه مدرسه‌کی ښخه‌سوه چی دی په بلخ‌کی جوړه کړی وه .

دهرات دکلا اوخندق په ودانولو شرووسوه. (۱۶ صفر) .

امیر نظام الدین علی شیر نوایی دهرات اوی وزیر او شاعر اومؤلف په‌هرات کی وزیږ ید یء .

(۱۷رمضان ۸۴۴ق۹ فبر و ر ی ۱۴۴۱ م).

امیرکبیرعلاءالدین‌علیکه گوکلتاش دشاهرخ ددربار لوی امیر مړ او په خیابان کی پخپله جوړه کړی‌مدرسه کی‌ښخ سو (۱۷ جمادی الاولی) .

شیخ الاسلام بهاءالدین عمرجغاره یی هروی له هراته دحج پـه سفـر رهی سو .

سلطان شاهرخ له شراب چښلو څخه توبه وکړه اود محتسب مولانا عبدالجلیل قاینی پـه وینائی دټولو شاهزادگا نو خم خانی تر در وازهٔ خوش دباندی په سه پلك کی ما تی کړی.

١٤٤١ م ٨٤٥ ق

عبدالله طباخ هروی د هرات مشهور خطاط یوقرآن په‌نسخ ،ثلث، رقاع و کیښی. (دمشهد رضوی خزانه) .

امیر محمد مبارزالدین په نیمروز کی حکمرانؤ .

مهد علیا ملکه‌گوهر شاده‌سمرقند ته‌ولاړه اوخپل‌لمسی میرزاعبداللطیف ئی هرات ته راوست (١٤ شوال) .

ملك علی دسیستان داوك‌حکمران په ٢٠ شعبان او خواجه نصرالله‌تر شیزی (په رمضان‌کی) او خواجه ناصر الدین نصرالله‌خوافی دشاهرخ دمملکت مشاهیرمړه سول .

دمولانا جلال الدین یوسف‌عتیقی دهرات د دارالقضا د کاتب وفات (١٣ محرم) .

د شمس الدین مولانا محمدآدم زاهد او طبیب وفات (١١صفر) .

دمولانا محمدبن نجیب الدین علی خوافی وفات، (١٦ رجب) دسید فضل‌الله طوسی کمانگر وفات په هرات کی .

دشاه محمود علی سیستانی اوقی وفات .

دخواجه علی بن فخرالدین وفات او ښخیدل‌په‌گازرگاه‌کی(١١رمضان). دمطلع سعدین مؤلف عبدالرزاق سمرقندی دشاهرخ له‌خوا د هرموز اود لوی دریاب دغاړو له لاری هندوستان ته ولاړ په ٨٤٦ ق د کالیکوت بندر ته ورسیدی او په ذیحجه کی‌په بیجانگرکی‌و ،٨٤٨ ق کال د روژی دمیاشتی په نیمائی‌کی هرات ته دهند دایلچیانو خواجه محمد او خواجه جمال الدین سره یوځای راو رسیدیء .

د شاهرخ په فرمان خواجه شمس الدین سمنانی وزیر سو . (چهار شنبه سلخ صفر) .

امیر سیدی دفارس حکمران مړ اود مشهد په هغه مدرسه کی ښخ سوچی ده جوړه کړی وه.پرځای ئی دفارس په حکمرانی خواجه معزالدین سمنانی‌له‌هراته مقرر سو .

د فصیح احمد بن جلال الدین محمد فصیحی هروی مؤرخ د مجمل فصیحی دلیکوال وفات .

١٤٤٢ م ٨٤٦ ق

له هراته‌یوه نسخه‌چی ٤ تصویره لری، دسلطان محمد بن مراد د کتابخا نی لپاره و کښله سوه ، (استانبول نمبر ٨٦٢).

عبدالرحیم او عبدالکریم او جعفر بایسنقری دهرات هنر منانو دسعدی کلیات وکیښی چی د شاهرخ تصویرو نه اود خطا طی شهکارونه لری. (داستانبول‌پوهنتون ١٤١٢) .

١٤٤٣ م ٨٤٧ ق

سید شمس الدین‌زمزمی دشاهرخ له‌درباره دمصر په‌سفارت ولاړ د مصر پاچا داومنله چی‌دبیت‌الله لپاره دی دشاهرخ له‌خوا له‌هراته یوپوښ ورولیږل سی .

خواجه معز الدین سمنانی دفارس حکمران په‌شیرازکی‌مړسو او ځای‌ئی شیخ محب‌الدین ابو الخیر ته وسپارل سو .

١٤٤٤ م ٨٤٨ ق

شیخ نورالدین محمد مرشدی او مولانا شمس الدین محمد ابهری د شاهرخ له درباره مصرته‌استا ځی واستول سوه اود بیت‌الله پوښ‌ئی هم‌له هراته ورسره یووی اود مصر دایلچی سره یوځای‌د حج ترو ختـه مکی ته‌ورسیدل اوتر حج وروستـه بیرته هرات ته راغلل.

ابو بکر بن ا سما عیل الفاروقی‌د ٣٤ میناتورو مجموعه په هرات کی و کښله (استا نبو ل نمبر ٨٧٠) .

امیر جلال الدین فیروز شاه د هرات لوی وزیر چی دده کارونه تر تفتیش لاندی‌وولاغمه مړاو دهرات په هغه مدرسه کی ښخ سو چی ده دخیابان پرلار دپل انجیل سره‌نزدی جوړه کړی وه دده پرځای یی زو ی امیرنظام الدین ددیوان اعلی ا میر سوچی دامیر مظفر الدین سلطا ن برلاس ترلاس لاندی کارو کی .

غیاث الدین پیراحمد خوافی د هرات وزیر دشاهرخ په نامه‌دمولانا زین‌الدین تایبا دی مقبره جوړه کړه، (متوفا ٧٩١ ق) معمارئی غیاث الدین او خط لیکونکی‌ئی جلال الدین بن محمد جعفرو .

مولانا اعظم نصر الله گنا بادی دشاهرخ له‌درباره‌دهندوستان‌بیجانگر ته په سفارت ولاړ او دده سره دوه نه دبیجا نگر دپاچا ایلچیان هم د سوغاتو سره ولیږل سوه .

دمولانا شیخ الاسلام محمد بن ابو بکر سنو گر دی هروی وفات .

شهزاده میرزا محمد جوکی د شاهرخ کشر زوی په بادغیس کی مړاوپه هرات کی دمیرزا بایسنقرد ځنگه ښخ سو .

١٤٤٥ م ٨٤٩ ق

د نظامی خمسه دخایر بنت امیر عثمان دکتابخانی لپاره په هرات‌کی دخواجه علی تبریز ی‌په تصویر ا و تذهیب اود یوسف جامی په خط وکښله سوه . (استانبول نمبر ٧٨١) .

١٤٤٦ م ٨٥٠ ق

ځکه‌چی په‌فارس کی میرزا سلطا ن محمد یاغی سوی‌ؤ، نوشاهرخ هرات میرزاعلاء الدوله او امیر شمس‌الدین محمد صوفی تر خان ته وسپاره او پخپله شیراز ته ولاړ، اود هغه ځای فتح نامه ئی دمصر ملك الظا هر چقماق بیگ ته واستوله .

مولانا شمس بایسنقری هر وی وفات سو .

شاهرخ دهرات لوی او هنرپرور پادشاه تر ٥٠ کاله سلطنت وروسته ٧١ کلن په ری کی وفات سو . (٢٥ ذیحجه) . د سید محمد بن اشر ف هر وی و فا ت

ملك بامی دحبیب پوپلزی زو ی‌د قندهار دابدالیانو مشرو .

١٤٤٦- ١٤٤٩ م ٨٥٠- ٨٥٣ ق

دمیرزاالغ بیگ بن شاهرخ‌امارت پرشمالی افغانستان اوماوراء النهر.

١٤٤٧ م ٨٥١ ق

میرزا علاءالدو له په‌هرات کی پاچا سو و په نیشا پو ر کی ئی میر ز ا عبد اللطیف

ونیوی‌ء، او مهد علیاگو هر شاده‌ئی له‌بنده خلا صه‌کړه.(شنبه ۱۳صفر)

میرزا سلطان محمد فارس ته‌ولاړ اود هغه ځای پاچا سو (ربیع‌الاول) میرزا ابوبکر د محمد جوکی زوی ختلان اوتخار او بدخشان ونیول . میرزا الغ بیگ له‌سمر قنده اومیرزا ابوالقاسم بابر له‌جرجانه پر هرات راغلل .

شاهرخ د ۸۵۰ق‌کال دذیحجی تر آخره په ری‌کی و،خودمعدی دردورته پیښ و ترڅو چی پـه یکشنبی ۲۵ دیحجه ۸۵۰(۱ فرو ردین ۱۳ما رچ) په‌ری‌کی وفات اوپه هرات‌کی دگوهر شادپه‌مدرسه کی دمیر زا بایسنقـر له‌قبره سره ښخ سو. (۱۵ صفـر ۸۵۱ق).

دشاهرخ ترمرگ وروسته دمیرزا عبداللطیف ملکه گوهر شاده دخوار اوری ترمنځ بندی کړله (سلخ‌ذیحجه ۸۵۰ق) .

میرزا علاء الدوله‌دهرات‌له‌محبس څخه میرزا عبداللطیف خپل پلار الغ بیگ ته واستاوه الغ‌بیگ دبلخ‌ولایت خپل زوی عبداللطیف ته‌پریښود او سمرقند ته ولا ړ.

میر زا علاء الدوله‌له‌هراته‌مشهد ته‌ولاړاود میرزا ابوالقاسم بابرسر ه ئی پرخبو شان باندی روغه‌وکړه .

دبابا حسن بن محمد ترکستانی هروی وفات او ښخیدل په هرات‌کی (۱۲ صفر) .

میرزا علاء الدوله دبایسنقرزوی‌د شاهرخ لمسی له هراتـه پربلخ او شبر غان راغی‌مگرناکام‌هرات‌ته‌ستون سو.

مولانا یعقوب چرخی دعثمان زوی مشهور نقشبندی مـرشد اوعالم او مفسر او مؤلف صوفی وفات او په حصار شادمان‌کی(دو شنبه ته‌نزدی) ښخ سو .

۱۴۴۷ـ ۱۴۵۶ م ۸۵۱ـ ۸۶۱ ق

دمیرزا ابوالقاسم بابر دبایسنقر زوی دشاهرخ دلمسی‌امارت په‌هرات اوټول خراسان کی .

۱۴۴۸م ۸۵۲ ق

میرزا الغ بیگ دماوراء النهر او له‌بد خشانه تر میمنی پوری لښکرو سره پرهرات راغی‌ء اود ترناب په جنگ‌کی میرزا علاءالدوله مات‌کی‌ء.

الغ بیگ سیدعمادالدین دهرات‌په وزارت او مولانا قطب الدین احمد نامی ئی لوی قاضی مقرر کړه، او خپل زوی میرزا عبداللطیف‌ئی هم‌په هرات کـی پریښو پخپله تـر آمـو واوښت .

میرزا الغ بیگ له‌هراته تربسطام پوری ونیول، خوکله چی امیر زاده یارعلی په‌هرات‌کی‌یاغی‌سو، نو الـغ بیگ بیرته هرات ته‌راغی ء اوهرات ئی چورکی‌ء ، دهرات‌باغونه اوچینی خانه‌ئی وران کړل (درمضان اواخر)

پسله‌دی‌ئی‌هرات میرزاعبداللطیف ته پریښو اود شاهرخ جنازه ئـی سمر قند ته یووړه‌چه‌دامیرتیـمـور سره ښخ سو .

میرزا ابو القاسم بابر دفوشنج له‌خوا را غی‌او هرات ئـی ونیوی‌ء میرزا عبد اللطیف بلخ ته وتښتید، او امیر زاده یارعلی چی‌یاغی‌سوی و دهرات پـه چارسو کی ووژل سـو

(دذیحجی اواخر) بابر سیستان هم له هراته سره ونښلاوه .

مولانا شیخ مفسرین احمد کاریز ی پـه هـرات کـی وفـات او ښخ سو .

۱۴۴۹ م ۸۵۳ ق

میرزا الـغ بیگ له‌سمر قنده او میرزا عبد اللطیف لـه بلخه لښکر کشی وکړه اود سمرقند ددمشق په کلی‌کی الغ بیگ مات‌سو، او میرزا عبداللطیف‌خپل‌پلاراوورور عبدالعزیز ووژل، خومیرزا ابو سعید بن میرزا سلطان محمد بن میرانشاه بن‌تیمور له‌دی شخړی څخه بخارا ته‌ولاړ . په‌هرات‌کی میرزا ابو القاسم با بر دبایسنـقر زوی سـکه وو هله ا و دخراسان پاچاسو.اومیرزا علاءالدوله او میرزا سلطان‌ابراهیم ئی‌بند یان کړه .

میرزا بابر له هراته سیستان ته ولاړ،او شاه حسین ئی هلته مطیـع کی‌ء .امیر هندو چی په‌باد غیس کی یاغی سوی ؤپه خبوشان کی‌ئی مـړ کی‌ء.

میرزا سلطان محمد چی دعراق‌او فارس حکمدارو پرهرات راغـی او میرزا بابرئی‌دجام‌په‌جنگ کی‌مات‌کی‌ء اود هرات‌پاچا سو .

۱۴۵۰ـ ۱۵۲۶ م ۸۵۴ـ ۹۳۲ ق

دافغانی لودیانو سلطنت په هند کی. ددوی پایتخت ډهلی‌ؤ .

۱۴۵۰ م ۸۵۴ ق

میرزا ابو القاسم له هراته بلخ ته ولاړ، اوله بدخشانه ترمرغابه پوری ئی‌امیر ناصرالدین اوامیرمبارزالدین هزار سپی ته‌وسپارل.

شاه نجم الدین‌محمود په‌سیستان کی‌مړ سو .

په خراسان کی دمیرزا بابـر او سلطان محمد او علاء الدوله تیموری شاهزاد گانو خانه جنگی .

پـه سمر قند کـی خلکو میر زا عبدالطیف مړکی ء(۲۶ربیع الاول) اوپر ځای‌ئی‌په بخاراکی میرزاسلطان ابوسعید دسلطنت مدعی سو. خـو سمرقند میرزا سلطان عبدالله‌ونیواو میرزاعلاء الدوله بلخ واخیست‌هرات‌د میرزا ابو القاسم بابر سره و .

۱۴۵۰ م ۸۵۴ق حدود

په خراسان‌کی‌دتعلیق اونستعلیق خط له‌گډیدلو څخه شکسته خط پیدا سو .

سید عبدالجلیل د سلطـان خلیل زوی اود سلطان محمد سبز واری لمسی (شاه مقصود)دقند هار پـه خاکریز کی وفات اوښخ سو .

۱۴۵۱ م ۸۵۵ ق

میرزا سلطان ابـو سعیـد خپل رقیب میرزاسلطان‌عبدالله دسمرقند دشیراز سره‌مات کـی‌ء (شنبـه ۲۲ جمادی الاولی) او سمرقنـد ئـی ونیوی‌ء .

دخبو شان او اسفر این ترمنځ په چناران کی دمیرزا سلطان محمد بن بایسنقر او میرزا ابوالقاسم‌جنگ اود سلطان محمد وژل اود میـرزا علاء الدو له ړندول .

سلطان بهلول‌لودی‌دملك کالازوی اوپښتو شاعر په هند کـی دلودی سلطانانو سلطنت جوړ کی‌ء.

(وفات ئی ۸۹٤ق) .

۱٤۵۲ م ۸۵٦ ق

میر زا ابو القا سم بابر شیر از تـر اصفهانه ونیول خوکله چی پو نـد میرزا علاء الدوله په فار یاب او مر غاب کی یاغی سو نو بابر بیر ته هر ات ته راغی، او علاء الدوله سیستان ته وتښتید .

۱٤۵۳ م ۸۵۷ ق

دمولانا شهاب الدین احمد بـن محمد بیر جندی وفات او ښخیدل په هرات کی .

عبدالرحمن خوارزمی دهرات خطاط دنظامی خمسه وکښله چی دسلطا ن ابو سعید تصویر هم لری (استانبول ۷۷۹) .

دمولانا شهاب ترشیزی سبز واری شاعر وفات .

امیر شاهی د جمال الدیـن زوی سبزواری خطاط وفات سو .

دشیخ الاسلام بهاء الدین جغا ره یی هروی وفات اوښخیدل دهرات په عیدگاه کی (سلخ ربیع الاول).

عراق او فارس دهرات له سلطنته بیل سول، او میرزا سلطان سنجر دهغه ځای حکمران هرات ته راغی ء نومیرزا ابوالقاسم بابر له هراته د عراق خواته په جنگ رهی سـو . (دوشنبه ۲۳ رجب) اوپه ۱۵ ذیقعده مازندران تـه ورسید خوځکه چـی سلطان ابو سعید تر آمورا اوښتی او بلخ ئی نیولی و، نو بابر بیرته له عراقه دبادغیس له لاری بلخ ته و لاړ، او ابوسعید هم تر آمو واوښت بلخ بابرونیو (۸۵۸ق) .

۱٤۵۳ م ۸۵۸ ق

میرزا بابر ترآمو تیرسو اودوخش سیمی ئی ونیوی، بیائی نو سمرقند کلابندکی عخوپه پای کی ئی دابو سعید سره روغه وکړه اود لـوی اختر د میاشتی په لومړیو ورځو کی دکرکی پربندر ترآمورا واوښت او هرات ته راغی ء .

۱٤۵٤ م ۸۵۹ ق

په هرات کی پریوه قبر دنستعلیق خط خـورا اعلـی نـمو نـه کښلی سوی ده .

۱٤۵۵ م ۸٦۰ ق

مولانا سعد الدین کاشغر ی دهرات لوی صوفی اومرشد وفات اودهرات دعیدگاه دصحرا په جنوب کی ښخ سو. (چهارشنبه ٦ جمادی الاخر) .

میرزا سلطان ابوسعید له سمرقنده یوکتاب زیج جدید سلطانی (الغ بیگی) اود لب الالباب رساله دهرات میرزا ابوالقاسم بابر ته تحفه را واستوله، چی د خواجه ابـو الوفا خوارزمی تالیف و.

دحاجی محمد فراهی وفات پـه هرات کی .

۱٤۵٦ م ۸٦۱ ق

میر زا ابـو القاسم بابر دهرات حکمدار مشهد ته ولاړ، اوهلته په چارباغ کـی مړسو (سه شنبه ۲۵ ربیع الثانی) دی ئی دمشهد دشاهرخ په مدرسه کی دحضرت امام په جوار کی ښخ کی ء.

دده پرځای یوولس کلن شهزاده میرزا جلال الدین شاه محمود دمیرزا ابوالقاسم بابر زوی په پاچهی ومنل سو. اوپه ۲٦ جمادی الاولی دهرات

باغ مختارته راغی ء .

په هرات کی فساد او خانه جنگی وسوه، اومیرزا سلطان ابراهیم راغی هرات ئی ونیو، خو میرزا شاه محمود له مشهده راغی اوپه کوسو یه کـی جنگ وسو، او میرزا شاه محمود بیرته مشهد ته ولاړ .

ورو سته سلطان ابو سعید لـه سمرقنده راغی او میرزا ابراهیم ئی دگرزیوان غروته وتښتاوه او هرات ئـی ونیو ، ددی ښار پاچـاسو . (۲۵ شعبان) او ملکه گوهر شاده ئی په هرات کی مړه کړه (۹ رمضان) بیانو دبلخ خواته ولاړ (۱۵ شوال).

سلطا ن ابو سعید کـور کـان دسلطان محمد زوی دمیرانشاه لمسی ټول خراسان، زا بلستان ، تو ران ونیول . اوله هرا ته ئـی پـاچهی کوله .

۱٤۵٦ـ ۱٤٦۸ م ۸٦۱ـ ۸۷۳ ق

د سلطان ابوسعید کورکان بـن سلطان محمد میرانشاه بن تیمور د سلطنت دوره له هراته .

۱٤۵۷ م ۸٦۲ ق

میرزا سلطان ابراهیم چی مازندران ته تللی و دترکمانانو له لاسه مات سو. (سه شنبه ۲۵ محرم) اوبیرته راغی هرات ئی ونیو (یکشنبه ۷ صفر) او شیخ الاسلام نورالدین محمد اوخواجه شمس الدین کوسو یی ئی بلخ تـه واستول چی دسلطان ابو سعید سره روغه وکی .

دشیخ الاسلام مولانا جلال الدین ابو یزید پورانی وفات او ښخید له هرات دپو ران په کلی کی.

په تیموری هیواد کی مـلـو ك طوایفی :

۱ـ میرزا جها ن شاه ترکمان په اسفراین کـی لـه استرابـاده تـر سبز واره .

۲ میرزا سلطان ابو سعید په بلخ کی پرټول ماوراء النهر باندی .

۳ـ میرزا علاء الدوله په ابیوردکی له اوز بکه تردشت قبجاق پوری.

٤ـ میرزا سلطان ابـراهیم پـه هرات کی.

۵ـ میرزا سلطان سنجر په مرو کی .

٦ـ میرزا شاه محمود دبابر زوی په طوس کی (متوفا ۸٦۳ ق) .

۷ـ ملك قاسم تر کـمـان پـه سیستان کی تر اسفزاره.

میرزا علاءالدوله دخپل زوی ابراهیم په مرسته دهرات په باغ زاغا ن کـی بیا پرتخت کښینو ست (۷ جماد ی الاخری) خودترکمانانو پاچاجهانشاه راغی او هرات ئی ونیو (۱۵ شعبان) اود خراسان پاچا سو .

۱٤۵۸ م ۸٦۳ ق

میرزا سلطان ابو سعید له بلخه راغی اوپه هراتر ودکی ئی دجها نشا لښکر مات کړه اود دوی ترمنځ روغه وسوه، جهانشاه آذربایجان ته ولاړ اوسلطان ابوسعید په هرات کی پاچا سو. اوسکه ئی ووهله (جمعه ۱۵ـ صفر) .

دمرو اوسرخس تر منځ تیمـوری شاهزادگان دابو سعید په جنگ کی مات سول او میرزا سنجر وواژه سو. (۱۵ جمادی الاولی) .

شیخ الاسلام شمس الدین محمد کوسویی جامی وفات اود هرات د

جامع مسجد سره ښخ‌سو.

۱۴۵۹م ۸۶۳ق

مولانا جامی هروی خپل نقدالنصوص دشیخ صدرالدین قونوی دفصوص‌په شرح کی وکیښی .

د هـرا ت دنمـا ز گـاه عمارت دسلطان ابو سعید په حکم د کمال الدین میرك حسین په اهتمام جوړ سو .

خواجه شمس‌الدین محمد د هرات وزیر او صاحب دیوان‌و. ده دنیر تو کلاونیوله اود هغه ځای یاغی امیر پیرکه ئی‌مړ کی‌ء.

میرزا سلطان ابراهیم وفات اود **هرات دگوهرشاد دمدرسی په هدیره کی‌ښخ سو. (چهارشنبه ۱۰رمضان).**

میرزاشاه‌محمودداابوالقاسم‌بابرزوی په کابل کی دامیر بابا سره‌په جنگ کی وواژه سو .

دمولانا محمود امامی‌شیخ الاسلام وفات په هرات کی .

۱۴۵۹م ۸۶۴ق

مولانا شمس الدین محمد اسد د هرات لوی روحانی مرشد و فـات اوپه گازرگاه‌کی‌ښخ‌سو(۲۵ شعبان). سلطان ابوسعید کابل او غزنی اود افغان سیمی ترهندوستانه پوری‌خپل زوی الغ‌بیگ ته وسپارلی چی ددغو سیمو مشران امیربابا اودده وروڼه دریاخان او آفاق خان‌وو، اوددوی په ملگری دالغ بیگ لښکر تر ملتا نه ورسیدل .

له هراته‌دسلطان ابوسعیدمملکت ترماوراء النهر اوترکستان اوکاشغر او قبجاق او کابل او زاول پـوری ورسیدیء اوغرباترمازندران اوعراق پوری .

په دغه‌کال چی ابوسعید له‌هراته مازندران ته ولاړ، امیر خـلیل لـه سیستانه راغی او هرات ئی کلابند کی‌ء مگر دهـرات خلکو د ی‌وشا ړه (۱۵ رمضان) .

امیر خلیل ونیول سو اوسیستان **نظام الدین شاه یحیی تـه وسپارل** سو، چی دسیستانی شاهانـو لـه کهوله و .

په هرات کی بابا کوکی مجذوب اومولانا شمس‌الدین محمد جاجرمی اومولانا زاهد طفلکانی وفات اوښخ سول .

۱۴۵۹م ۸۶۴ق حدود

امیر سید عبدالله بن عبد الر حمن حسینی (اصیل الدین‌واعظ) **هروی‌په** هرات کی دمزارا ت هرا ت ر ساله مقصد الاقبـال دسلطان ابـو سعید کورکان په نامه وکښله .

داکتاب وروسته مولانا **عبیدالله‌بن ابو سعید هروی تکمیل کی ء.**

۱۴۶۰م ۸۶۵ق

میرزا علاء الدو له په رستمدار کی وفات اودهرات دگوهرشاد دمدرسی په‌هدیره کی ښخ‌سو (۲۱ صفر) .

شیخ الاسلام خواجه ناصر الدین **عبیدالله نقشبندی‌له‌بخاراخخه هرات** ته‌راغی(۲۳صفر). اوپه ۱۱ربیع‌الاول بیرته ماورا النهر ته ولاړ .

خواجه مظفر مختار سبزواری او مولانا نعمت‌الله قهستانی او خواجه امیر سمرقندی دهرات په دیوان‌کی مقرر سول .

دحافظ الدین ابونصر پارسا بن **خواجه محمد پارسا وفات اوښخیدل**

په بلخ کی .

د سلطان ابو سعید پـه حکم د مملکت مالیه په دری قسطه سوه . لومړی قسط په‌سرطان اودوهم قسط په‌سنبله میزان‌اودریم قسطپه قو س کی .

کله چی ابوسعید ماوراء النهر ته دمیرزا محمد جوکی مقابلی ته ولاړ، میرزا سلطان‌حسین‌له مازندرانه‌راغی اوهرات ئی کلابندکی‌ء. (دوشنبه۲۴ ذیقعده) خوبیرته‌له هراته‌مازندران‌ته ولاړ (۵ محرم ۸۶۶ ق) .

۱۴۶۰- ۱۴۷۹ م ۸۶۵- ۸۸۴ ق

میرزا سلطان ابوبـکر د سلطان ابوسعیدزوی دبدخشان اوتخارستان حکمران‌و .

۱۴۶۱ م ۸۶۶ ق

دسلطان ابو سعید په حکم امیر خلیل وواژه سو، او مازندران ئی هم له‌سلطان حسین ښخه ونیو ، چـی بیرته هرات ته‌راغی‌ء شیخ احـمـد صراف ئی پوست‌کی‌ء او خوا جـه معزالدین‌ئی په کړایی کی وایشاوه ، چی‌بیا څوك‌له‌خلکوښخه پیسی‌وانخلی قطب‌الدین طاووس سمنانی اوخواجه شهاب الدین خوجانی په دیوان کی مقررسول، اوپخپله سلطان ابوسعید بیـرتـه مـاوراء النهـر ته ولاړ . (۲۲ جمادی الاولی) .

دروژی له میاشتی ښخه بیادکال ترآخره په‌هرات کی طاعون گډ سو اوپه زرو خلك مړه سوه اوښارخالی اوخراب سو .

ملا معین مسکین هروی د معارج النبوه تالیف شرو کی‌ء ، چی پـه ۸۹۱ق ئی ختم کی‌ء.

دفیض آباد پر رود یوپـل دشاه سلطان محمد له‌خوا جوړسو چـی ډبرلیك ئی سته .

۱۴۶۲ م ۸۶۷ ق

سلطان ابـو سعید سمرقنـد او شاهرخیه او تاشکند ونیول(محرم) مولانـا شهاب الـدین فـتح الـله صدراعظم مړاود هرات په گازر گاه کی ښخ سو .

په هرات کی سخت یخ او واوره لویدل .

دمیر مزیـد ارغون پـه اهتمام د خواجه ابونصرپارساپرقبر په بلخ کی ودانی جوړه سوه .

۱۴۶۳ م ۸۶۸ ق

سلطان ابوسعید ماوراء النهرآرام کی‌ء او میرزامحمد جو کی‌ونیول‌سو اوپخپله سلطان بیرته هرات ته‌راغی (۲۲ ربیع‌الثانی) دهرات‌دیوان‌تفتیش سو اود یوانیان دخواجه شمس‌الدین محمد سره معزول سول .

په ماوراء النهراو سمرقندطاعون گډسو. او میرزا محمدجوکی دهرات دحصار اختیار الدین په محبس کی وواژه سو، اود گوهر شاد په‌هدیره کی ښخ سو .

دهرات خطاط محمدبن محمد بقال مصور البم په هرات کـی وکیښـی . (استانبول نمبر ۱۲۹۶).

۱۴۶۴ م ۸۶۹ ق

د ارس دپاد شاه دریـم ایـوان (۱۴۱۲ - ۱۵۰۵م) ایلچی دهرات د سلطان ابو سعید دربار ته راغی‌ء.

مولانا شر یف الدین عبد القهار دمعقول‌اومنقول جامع‌عالم‌په هرات‌کی

وفات سو. (۲۰رجب)

۱٤٦٥ م ۸۷۰ ق

دهزاره اقا اولس چه یاغی سوی وو، سلطان ابوسعید پر دوی‌ورغی‌ع خوبیا دشیخ الاسلام نورالدین محمد یه‌شفاعت وبخښل سوه، اودخوکالو مالیات ځنی واخیستل‌سوه، اومولانا شمس الدین علی د نصیحت لپاره ورولیږل سو، او امیر نظام الدین احمد دمالیاتو اخیستنی لپاره .

په همدغه کال سلطان ابو سعید ناروغه سو، اود دربار طبیبانومولانا قطب الدین محمد نفیسی او مولانا اصیل الدین حسین تونی ئی علاج وکی‌ع.

۱٤٦٥ م ۸۷۰ ق(حدود)

دیوسفزو اونوروپښتنو قومویون له‌قندهاره دکابل او ننگرهار له‌خوا دپیښور او سوات سیموته ، ددوی مشران مداد، مدو ، شیخ عثمان ، سلطان شاهو چی‌په کابل کی میرزا الغ‌بیگ مړه کړه.

سلطان ابوسعید خپل زوی میرزا الغ‌بیگ دکابل او غزنی اود افغان د سیمو تر اباسین پوری حکمران‌مقرر کی‌ع، اوامیر ویس اتکه دالغ بیگ وزیر دکابل دویسل‌آباد واله‌وکښله.

۱٤٦٦ م ۸۷۱ ق

شیخ صدر الدین محمد رواسی‌په هرات کی وفات سو. (۱۰ رمضان) او جنازه‌ئی جوین ته واستوله سوه.

د غسی هم مولانا جلال الدین لطف الله دبخارا قاضی په‌هرات کی مړسو (۲۰ ذیحجه) اوجنازه‌ئی‌بخارا ته یووړه سوه .

۱٤٦۷ م ۸۷۲ ق

ځکه چی میرزا جهان شاه دآذربایجان پاچا دامیر حسن بیگ په جنگ کی‌مړسو اوهلته فساد وسو، نوسلطان ابوسعید په‌مروکی دخواجه ناصرالدین عبیدالله سره مشوره وکړه اود طوس‌له‌لاری‌پر آذربایجان اوعراق‌ورغی‌ع،اومیرزا سلطان خلیل خپل زوی‌ئی په هرات‌کی اوبل زوی سلطان مرادئی په گرمسیر اوقندهار کی مقرر کړل .

۱٤٦۷ـ ۱٤٦۹ م ۸۷۲ـ ۸۷٤ ق

حیدرشاه حاجی خان‌بن‌زین العابدین سواتی دکشمیر پاچاو .

۱٤٦۸ م ۸۷۳ ق

سلطان ابو سعید دهرات لوی پاچا داران دقراباغ په جنگ کی د اوزون حسن په لاس‌کی گرفتار سو (۱٦رجب) او وروسته په (۲۲) رجب داردبیل په شاوخواکی وواژه‌سو .

که‌څه هم‌په هرات‌کی‌میرزا سلطان محمود دابو سعید زوی په ۳ شعبان پاچاسو، خو میرزا ابوالغازی سلطان حسین بایقرا هرات ونیوی، او په جمعه ۱۰ رمضان ۲۵ مارچ په باغ زاغان کی پرتخت کښینو ست، او مولانا قطب الدین طاووس سمنانی ئی په صدارت مقرر کی ع .

سلطان حسین په هرات کی باغ جهان آرای جوړکی‌ع.

سلطان حسین بایقرا دخرا سان او سیستان ښارونه ونیول، او پر خپله‌سکه‌تنگه باندی‌ئی عدل‌اوبهبود وکښل (ذیحجه) .

امیر علی شیر نوایی د هرات دسلطان حسین دربار ته را غی‌ع. (رمضان- اپریل ۱٤٦۹) .

د میرزا الغ بیگ لښکرو ټولی افغانی سیمی ونیولی ، اوتر ملتانه پرمخ ولاړل.

۱٤٦۸ـ ۱۵۰۵ م ۸۷۳ـ ۹۱۱ ق

دسلطان حسین بن غیاث الدین منصور بن بایقرا بن عمر شیخ بن تیمور سلطنت له هراته .

۱٤٦۸ـ ۱۵۰۰ م ۸۷۳ـ ۹۰٦ ق

سلطان غیاث شاه د محمود شاه خنجی زوی دهند په مالوه کی پاچاو .

۱٤٦۸ م ۸۷۳ ق

دستور اعظم خواجه قطب الدین طاؤوس سمنانی‌په‌هرات کی « جوی سلطانی»وکښله‌اواوبه ئی‌له څلو رو فرسخو څخه کوه مختارته راوستی، اودهرات شمالی دښت‌ئی ترگازرگاه پوری زرغون کی ع .

۱٤٦۸ م ۸۷۳ ق حدود

د مهمندو او یوسفزو جنگ په ننگرهارکی اودیوسفزولیږد داشنغر سیموته‌اوددلازاکو او شلمانو شړل اوتر باجوړه مخکی نیول، دملك‌احمد بن سلطان شاه او شیخ ملی آدم‌بن یوسف په مشری .

۱٤٦۹ م ۸۷٤ ق

په ۱٤ محرم دسلطان حسین مور فیروزه بیگم دامیر تیمور دلورله‌خوا لمسی په هرات کی مړه سوه ، او مولانا قطب الدین خوافی صدراعظم ۱۵۰ زره دیناره جریمه او بیر ته صدر پاته سو .

سلطان حسین میرزا خراسان ته دمیرزا یادگار مقابلی ته ولاړ، اوپه چنا ران‌کی‌ئی مات‌کی‌ع‌اوبیر ته‌هرات ته‌راغی‌ع . (۳ جمادی الاخری).

دهرات دخانقاه شاهر خیه مشر عبدالرزاق بن اسحاق سمرقندی‌و. (دمطلع سعدین لیکوال) .

دمولانا درویش احمد هروی وفات‌او ښخیدل دگازرگاه سره .

۱٤٦۹ـ ۱٤۸۱ م ۸۷٤ـ ۸۸٦ ق

حسن شاه د حیدر شاه سواتی زوی دکشمیر پاچاو .

۱٤۷۰ م ۸۷۵ ق

د شمس الدین محمد تباد کانی خراسانی محدث دژوند وخت .

دهرات خلکو دډیرو مالیاتو پر خلاف‌قیام‌وکی‌ع خو ا میر علی شیر نوائی دغه‌مالیات لغوکړل‌اوخلك ئی آرام‌کړل .

ځکه چی سلطان حسین میرزا په مرغاب کی بوخت و، نو میرزایادگار محمدبن سلطان محمد هرات ونیو اوپه باغ زاغان کی پادشاه سو ، (دوشنبه ۹محرم) مگر سلطان‌حسین له فاریابه راغی او یادگار میرزائی په باغ زاغان کی‌ونیو،او مړئی‌کی ع. (چهار شنبه ۱۷ صفر).

وروسته خواجه قوام الدین نظام الملك بن اسماعیل خوا فی په وزارت مقرر سو.

مولانا حسین واعظ کاشفی هروی دمولانا جلال‌الدین بلخی دمثنوی «لب لباب »وکیښی.

عبد الرزاق سمر قندی د مطلع سعد ین دوهم ټوك تمام کی ع . (پنجشنبه ۱۷ محرم) .

۱۴۷۰ م ۸۷۵ ق

دعلی بن محمدبن مسعود بسطامی هروی (مصنفك) دهرات د مشهور مؤلف او فقیه او عالم وفات پهرات کی. دی دامام فخررازی له پښته و (ولادت ۸۰۳ ق) .

۱۴۷۲ م ۸۷۶ ق

علی شیر نوایی دهرات د اعلی دیوان امیر سو .

۱۴۷۳ م ۸۷۸ ق

دشیخ نور الدین محمد جغاره ئی وفات اود هرات په خیابان کی ښخیدل. (جمعه ۲۳ رمضان).

نوایی لهوزارته استعفاوکړهخوونه منل سوه .

دهرات قاضی قطب الدین احمد امامی وفات سو. (۱ شوال) .

۱۴۷۵ م ۸۸۰ ق

دمولانا اظهر مشهور هروی‌خطاط وفات په هرات کی .

نوایی په هرات کی مدرسه او خانقاه اخلاصیه دجوی انجیل پرغاړه جوړ کړل .

شیخمولی ادم‌بن یوسف دپښتنو دخرښبون سره بنی ځخه ، خپل کتاب دشیخ مو لی د فتر په پښتو وکیښاود پیښور په سیموکی ئی‌تر سواته دمځکو دویش او اجتماعی‌گډ ژوند لاری چاری پکښی وښووی . دغه دژوندانه گډ اصول‌د ۱۸۶۹ م تربند وبست پوری په پښتنو کی جاری وو، خو انگریزانوهغه‌پهشخصی ملکیت واړول .

دسلطان ابوسعیدلهخوا پهقندهار او گرمسیر کی دده زوی سلطان مراد حکمرانو .

مولانا عبدالله طباخ هروی خطاط په هرات کی مړ سو .

۱۴۷۷ م ۸۸۲ ق

دامیر عیاث الدین منصور پرقبر په هرات کی د سلطان علی مشهدی بهنستعلیق خط یوډبر لیك و کښل سو .

په هرات کی دخمسی یوه مصوره نسخه وکښله سوه چی دهر ات او سمرقند د حکمرانانو تصاویر لری (استانبول ۱۹۵) محمدبن محمدبقال هروی نقاش او خطاط د عجا ئب المخلوقات ۱۸۹ تصویرونه پهرات کی وکښل (استانبول ۴۱۰) .

۱۴۷۸ م ۸۸۳ ق

مولانا جامی هروی نفحات الانس وکیښی .

امیر سید اصیل الدین عبدالله حسینی هروی مفسر او محدث او مؤلف دمزارات هرات لیکوال په هرات کی وفات سو. (۱۷ جمادی الاخری) .

سیف الدین جا می خپل کتاب آثارالو زرا ء تا لیف کی ء چی دوزیرانو تاریخ دیء .

۱۴۸۰ م ۸۸۴ ق

دمولاناجا می هر وی‌لو مړی‌دیوان فاتحة الشباب مرتب سو.

میرزا ابوبکر دسلطان ابو سعید زوی په بد خشان کی اقتدار

وموند .

۱۴۸۰ م ۸۸۵ ق

مولانا جامی هروی شواهد لنبوه تالیف کی ء اوه رکنه او یوه خاتمه .

درویش علی په بلخ کی یاغی سو او امیر علی شیر ئی ایلولو ته ولاړ.

ملك شمس الدین محمد بن‌یحیی پهنیمروزکی حکمران‌اوملك‌نظام‌الدین یحیی مړ سو .

دشمس‌الدین‌محمد امین‌زیارتگاهی هرو ی وفات .

۱۴۸۱ م ۸۸۶ ق

دمولانا جامی تحفةالاحرار منظوم سو .

دسلطان حسین بایقرا لخوا د سلطان بایزید کتابخانی ته دسلمان ساوجی مصوردیوان‌چی ۱۱ تصویره لری دنعیم الدین کاتب پهخط په هرات کی ترتیب او اهداء سو- (استانبول نمبر ۳۵۶۳) .

مولانا عبدالرحمن جامی هرو ی اشعة اللمعات‌وکیښی چی‌دفخر الدین ابراهیم عراقی دلمعات شرحده .

۱۴۸۱-۱۴۸۳ م ۸۸۶ - ۸۸۸ ق

محمد شاه بن حسن شاه سواتی دکشمیر پادشاهو .

میر علی شیر نوایی دهرات لوی وزیر خپل دیوان «خزاین المعانی» دسلطان حسین بایقرا په خواهش‌په ازبکی ژبه تکمیل او ترتیب کی ء .

۱۴۸۲ م ۸۸۷ ق

د مطلع سعدین مؤلف عبدالرزاق سمر قندی‌چی‌مؤرخ ، عالم،سیاسی، دیوانی سړی و وفات سو. (جمادی الاخری) .

۱۴۸۳ م ۸۸۸ ق

مولانا جامی دیو سف او زلیخا قصه نظم کړه .

خواجه عبدالقادر گوینده د هرات دموسیقی استاد په طاعون کی وفات سو .

عطاءالله جمال الدین‌دهرات مشهور واعظ دحضرت محمد (صلعم) پر ژوندانه باندی روضةالاحباب‌وکیښی، چی په ۹۰۰ ق تمام سوی دیء.

دشیخ کمال‌الدین حسن وفات او ښخیدل په هرات‌کی .

امیر علی شیر نوایی خپل حیرةالابرار مثنو ی په ازبکی ژبه منظوم کی ء .

دبا بر شاه بن عمرشیخ ولادت‌په فرغانه کی دقتلق نگار خانم له‌نسه (۶ محرم مساوی ۱۴ فروری).

۱۴۸۴ م ۸۸۹ ق

دخواجه رزق‌الله دهلوی مشتاقی دلودیانو د تاریخ دلیکوال د ژوند وخت .

امیر علی شیر نوایی خپل لیلی ومجنون په از بکی ژبه منظوم کی ء .

دغسی هم دده فر هاد او شیرین او سبعهٔ سیاره پهدغه کال منظوم سول .

۱۴۸۵ م ۸۹۰ ق

دمولانا جا می سلسلة الذ هب دسلطا ن حسین با یقرا په نامه‌په هرات کی منظوم سو .

امیر علی شیر نوائی په ازبکی ژبه خپل «سداسکندری» منظوم کی ء .

زین الدین محمود واصفی هروی شاعراولیکوال دبدایع الوقایع مؤلف پهرات کی وزیږیدیء.

پښتو شاعر خلیل خان نیازی د ژوند وخت په هندکی .

اسماعیل بن عیسی بن دولت افغانی اختیار اعتماد المسا نید فی اختصار اسماء الرجال الاسانید به حجاز کی تألیف کیء(جماد ی الاخری) دده وفات پهمکه کی۸۹۲ق.

عجا ئب المخلو قات په فارسی ترجمه سو . داکتاب پهعربی دزکریا بن محمد قز وینی تألیف دی.

۱۴۸۶ م ۸۹۱ ق

مولانا حسین کاشفی هروی د حاتم طایی قصه وکښله .

امیر علی شیر نوایی په نشاپور کی دشیخ فریدالدین عطار پرهدیره گنبده جوړه کړه .

دقاضی نورالدین محمد ا ما می هروی وفات (۲۰ جمادی الاخری).

دمولانا شمس‌الدین محمدبن محمد تباد کانی دمنازل السائرین دشارح وفات او ښخیدل دهرات په خیابان کی .

۱۴۸۷ م ۸۹۲ ق

دولت شاه بن‌بختی‌شاه سمرقندی خپله تذکرة الشعراء دامیر علی‌شیر نوائی پهنامه تالیف کړه.

امیر علی شیر نوایی داستر آباد حکمران سو .

دمولانا علاء الدین‌محمد بن مو من ابیزی هروی وفات او ښخیدل په هرات کی .

مولانا عبدالرحمن جامی دخپل‌تفسیر لومړی ټوک وکیښ (داکتاب ورك دی) .

دشرف‌الدین اسماعیل‌بن‌عیسی بن دولت او غانی فقیه او محدث اود اختیار اعتماد المسانید دمؤلف‌وفات په مکه کی .

مولانا جامی هروی‌خپل بهارستان وکیښ

۱۴۸۷ م ۸۹۳ ق

جمال الدین‌محمدبن حسام هروی دخاور نامی ناظم په خوسف کی وفات سو .

مولانا محمد معین طبیب دهرات د دارالشفا اود دربار سرطبیب وفات سو .

۱۴۸۹ م ۸۹۴ ق

دمولانا عبدالرحمن جامی دوهم دیوان واسطة العقد مر تب سو.

دشاه طیب خوافی شیخ وفات او ښخیدل په هرات کی .

۱۴۸۸– ۱۵۰۹ م ۸۹۴– ۹۱۵ ق

دسلطان سکندر بن سلطان‌بهلول لودی پښتون سلطنت په هندکی .

۱۴۹۱ م ۸۹۶ ق

امیرعلی شیرنوائی دهرات مشهور وزیر دمجالس‌النفایس‌تذ کرهٔ شعرا تالیف کړه اته دفتره

خواجه ناصرالدین‌عبیدالله‌ا حرار مشهور نقشبندی شیخ په سمرقندی کی‌وفات او ښخ سو.

محمد حسینی په هرات کی د استانبول نمبر (۸۵۷) نسخه‌وکښله چی ۲۱ میناتوره لری.

د مولانا محمد جامی (دعبدالرحمن جامی دورور) وفات او ښخیدل په هرات کی .

دحافظ غیاث محدث وفات.

دحافظ معین الدین خلیفه دهرات دصدر وفات

میرمحمود خوشمردان سبزوا ری خطاط دخوشنو یسی رساله‌وکښله.

مولانا عبدالرحمن‌جامی‌دابن حاجب پرکافیه خپله‌مشهوره‌شرحه (الفوائد الضیائیه) وکښله چی‌د عربی نحو مشهور درسی‌کتاب دیء (شرح‌ملا).

۱۴۹۱– ۱۴۹۳ م ۸۹۷– ۸۹۹ ق

معین الدین محمد زمچی اسفزاری مؤرخ خپل تاریخی کتاب«روضا ت الجنات فی‌اوصاف مدینة هرات» د سلطان حسین بایقرا پهنامه پهرات کی تالیف کی ء .

سلطان علی مشهدی د سلطان حسین بایقرا دیوان په ٤ میناتورو مزین وکیښ (استانبول ١٦٣٦) .

۱۴۱۴– ۱۴۹۲ م ۸۱۷– ۸۹۸ ق

دمولانا عبدالرحمن بن احمد بن محمد جامی هروی مشهور عالم او شاعر او مؤلف دژوند د و ره پهرات کی ښخ دی (ولادت : ۲۳ شعبان ۸۱۷ ق ۷ نومبر ۱۴۱۴ م په جام‌کی .

وفات: جمعه ۱۸ محرم ۸۹۸ ق ۹ نومبر ۱۴۹۲ م په هرات کی .)

سید شمس‌الدین اندجانی دهرات صدر او شاعر وفات سو (۸۹۸ق)

محمود د ر فیقی هر و ی خطا ط د ذ خیر ة ا لملو ك نسخه پهرات کی پهنستعلیق وکښله ۸۹۸ ق (دهرات موزیم) .

۱۴۹۳ م ۸۹۹ ق

ظهیر الدین‌محمد بابر دعمر شیخ میرزا زوی دابو سعید کور گان لمسی دفر غانی په اند جان کی ۱۲ کلن پر تخت کښینو ست (۵ رمضان ۱۰ جون) .

خواجه کمال‌الدین‌حسین ابیوردی دهر ا ت لوی امیر و فات‌سو. (رمضان) .

دهرات خطاط احمد شیرازی په هرات کی یوه مجمو عة خمستین او هفت او رنگ جامی وکښله ،چی میناتور او نقاشی ئی دبهزاددمکتب یاد سلطان محمدده (دکابل خطی کتابخانه) .

۹۰۰ ق

۱۴۹۴ م ۹۰۰ ق

سلطان محمود میرزا دسلطان ابو سعید زوی‌پهماوراءالنهر کی و، چی دده زوی خان میرزا دبابر لهخوا د بدخشان حکمران ؤ، اوبیائی زوی سلیمان میرزا او لمسی ابراهیم میرزا پر بد خشان حکمرا نی کوله .

سلطان علی مشهدی په هرات‌کی یوه نسخه وکښله چی ۳٤ میناتوره لری (استانبول ۷٦۷) .

یوه خمسهٔ نظامی دعلی شیرنوایی لپاره دغه خطاط وکښله چی‌دخطاطی اوتزئین شهکارد ه.

دبلخ دننه مسجد دسلطان‌حسین بایقرا په حکم په ۸۰ زره دینار جوړ سو .

قاضی نظام الدین‌محمد گازرگاهی دحاجی محمد فراهی زوی دهرات لوی قا ضی او عالم په گازر گاه کی ښخ سو (محرم).

دهرات دسلطانی مدرسی دمدرس مولا نا شمس الدین محمد اسفزاری وفات (جمادی الاخری).

دابو الحسن علی بن زکر یا نشاپوری مؤ رخ د تا ر یخ الر جال دمؤلف دژوند وخت.

خواجه قطب الدین‌طاوس سمنانی دهرات لوی امیر ۷۰ کلن وفات‌سو.

ملاحسین واعظ کاشفی په هرات کی اخلاق محسنی دسلطان حسین بایقرا په‌نا مه وکیښ .

بابو خان کاکړ په زوب کی ند کرهٔ غر غښت په پښتو تأ لیف کړه .

۱۴۹۴ م ۹۰۰ ق حدود

دبایزید پورانی هروی عا لم او شاعر او خطاط دژوند وخت په هرات او بخارا او سند کی .

دمولا نا حاجی محمد هر و ی نقاش او کتا بدار دژوند وخت .

دقاسم علی چهره کشا ی هروی نقاش او دبهزاد د شاگرد د ژوند وخت .

استاد محمدی دسلطا ن محمد هروی زوی دهرات مشهور نقاش او دبهزاد شاگر د په‌هرات کی و .

مولانا محمو د هرو ی مذهب او نقاش دامیر علی شیر نوایی سره‌و.

مولانا نظام الدین احمد جیلانی مشهور منجم او رمال‌له گیلانه‌هرات ته‌راغی‌ع او دلی مقیم سو .

خواجه عبدالله مروارید دهرا ت لوی منشی او خطا ط یو قرآن په اعلی ثلث خط‌په‌هرات کی وکیښ ـ (مشهد رضوی.)

دقا سم علی هرو ی‌په خط او نقاشی یوه «خمسهٔ نظامی » (لند ن موزیم نمبر۶۸۱۰) په‌هرات کی‌دامیر علی شیر لپاره وکښله سو ه، چی تر بایسنقری شاهنامی ورو سته بهتر ینه نسخه ده .

دبلخ دشیخ الاسلام نظام الدین عبدالهادی بن خواجه ابو نصر ثانی دژوند وخت . دی د خوا جه محمد پارسا له پښته و، اوپه بلخ کی دخپل نیکه سره ښخ سو .

دابو حفص‌عمر بن‌محمد غزنوی‌عالم‌د ژوند وخت.

کجوخان رانی زی دیو سفزو حکمران په شیخ تپورکی غوریاخیل اوپه لنگر کو ټ کی دلا زا ك ما ت کړل او دشیخ ملی دفتر یی تکمیل او ترمیم کی‌ع .

۱۴۹۵ م ۹۰۱ ق

میر ك جلال الد ین قاسم دهرات صدر ۵۹ کلن وفات او په‌بلخ کی ښخ سو .

خان جهان خان لودی دهندامیر دمرآة الا فاغنه دتاریخ مؤ لف په‌هند کی وفات سو.

خان علی‌کاتب‌په‌هرات کی‌دگیلان‌د حمکران لپاره مصورالبم ترتیب کی‌ع (استانبول ۱۴۹۱).

مو لانا شمس الدین محمد د شرف الدین عثمان زوی‌د هرات د

مدرسهٔ اخلاصیه مدرس او عالم وفات سو (ربیع الاول).

۱۴۹۶ م ۹۰۲ ق

دفیض الله بن زین العابد ین بنیانی ملك القضاة او صدر جهان لوی مؤلف دژوند وخت په هندکی.

دشاهرخ د مدرسی لوی مدرس مولانا بر هان الدین عطاء الله رازی په‌هرات کی‌مړسو (رمضا ن).

۱۴۹۷ م ۹۰۳ ق

بابر سمر قند ونیوی‌ع. (دربیع الاول اواخر = نو مبر) او دده په غیاب کی‌ئی ورور جهانگیر میر زا اند جان ونیو .

صدر جهان ملك القضاة فیض الله بنیانی مجمع‌النوادر په هند کی وکیښ .

میر خواند محمد هروی مؤرخ د روضة الصفا مؤلف په هرات کی ۶۶کلن وفات سو (۲ذیقعد ه)ا و دشیخ بهاءالدین جغاره یی په‌هدیره کی ښخ‌دی .

زر غونی دملا د ین محمد کاکړ لور دقند هار په‌پنجوا ئی کی دسعد ی بوستان په پښتو منظو م کی‌ع، دا خطاطه هم وه.

۱۴۹۷ـ۱۴۹۹م ۹۰۳ تر ۹۰۵ ق

امیر علی شیر نوا یی دهر ات لوجا مع تر میم کړه .

۱۴۹۸ م ۹۰۴ ق

بابر له خپله ورو‌ره جهانگیرمیرزا څخه بیااند جان ونیو (ذی قعده = جون).

خواجه شمس الدین محمدمروارید دسلطان‌ابو سعید وزیر او دخواجه عبدالله انصاری د مو قو فاتو متولی په‌هرات کی وفات اوښخ‌سو .

مولانا محمد نقاش‌هروی دامیرعلی شیر کتا بدار دبد یع الزما ن‌میر زا کتابدار سو .

خواجهٔ کلان محمد اکبر دمولانا سعدالدین کاشغری زوی‌په هرا ت کی و فات سو (پنجشنبه ۱۲جمادی الا خری).

مو لانا قطب الدین محمد آد م د هرات طبیب وفات سو (محرم).

مولانا شمس الدین محمد زوجی دهرات زاهد اوعالم وفات سو (شنبه ۱۶ رمضان).

مو لانا میر حسین معما ئی‌وفات اودهرات په اخلا صیه مدرسه کی ښخ‌سو.

۱۴۹۹ م ۹۰۵ ق

خواند میر هروی مؤرخ خلا صة الا خبار وکیښ .

امیر جلال الدین ویسل اتکه د امیرمحمد مغول‌زوی‌په‌کابل کی‌مړسو (جمعه ۵شعبان) دبالاحصار غر بی خواته ښخ دی .

۱۴۹۹ـ ۱۵۱۰ م ۹۰۵ـ ۹۱۶ ق

دشیبا نی خان دابرا هیم زو ی (دجوجی بن‌چنگیز خان له‌پښته) سلطنت پر ماوراءالنهر او شما لی او غربی افغانستان تر قند ها ره .

۱۵۰۰ م ۹۰۵ ق

بابر عایشه بیگم دسلطا ن‌احمد میرزا لور وکړه .

میر زا حیدر کـور گا ن د تا ر یـخ رشیدی مؤلف وزیږیدیء .

مو لانا شمس الدین محمد پا ی گنبد دهرات عالم وفات سو .

مولانا کمال الدین‌مسعود شروانی دهرات دگو هر شاد دمد رسی‌لوی مدرس او عالم وفات سو.

دهرات طبیب مو لانامسیح‌الدین حبیب الله اومولانا حسن شاه‌شاعر مړه سول.

۱۵۰۰ م ۹۰٦ ق

امیر شیر محمد گوکلتاش دامیر ویسل اتکه زوی په‌کابل کی‌مـړ او ښخ سو (پنجشنبه ذی قـعـده). سمر قند شیبانی خان ونیو اوبابرله اند جا نه پرده حمله‌وکړه‌اوبخاراته ئی وتښتا وه .

خواجهٔ خورد محمد اصغر دسعد الدین کاشغری زوی‌پـه زمینداور کی وفات اوپه هرات کی‌ښخ سو .

حکیم یوسفی هروی په‌هرات کی دماکول او مشروب رساله وکښله .

۱۵۰۱ م ۹۰٦ ق

امیر علی شیر نوایی دهرا ت‌لوی اوعلم پرور او شاعر وزیر وفات‌اوپه هرات کی ښخ‌سو.۱۲ جمادی‌الاخری ۳جنوری .

۱۵۰۱م۹۰۷ ق

میرزا الغ بیگ دسلطان ابوسعید زوی چی له ۸٦۵ ق څخه دکا بل‌او غزنی حکمران ؤ په غزنی کی مړاو ښخ سو اودده کوچنی زوی میرزا عبدالرزاق ئی پر ځای کښینوست.

مولانا حسین واعظ کاشفی پـه هرات کی مخزن الانشاء تالیف‌کیء (دکابل خطی نسخه دده په خط). فیض الله بن زین العا بدیـن ملـك القضاة صدر جهان قا ضی حسا ن صدر بنیانی دتاریخ محمود شا هی او مجمع النو ادر اوتفسیر معظم او دستور الحفاظاوخلا صة الحکایـات مؤلف خپل کتاب تاریخ محـمـود شا هی وکیښی .

مولانا معین الدین واعظ دمعار ج النبوة مؤلف اوشاعر دحاجی محمد فراهی زوی په هرات کی‌وفات او په گازر گاه کی ښخ سو.

دمولانا سلطان‌محمود هروی‌خطاط دژوند وخت ۱۵۰۲م۹۰۸ ق

مجالس العشا ق دسلطان‌حسین بایقراپه نا مه تأ لیف ســـو (؟)

بابر وایی چی ددی کتاب مؤ لـــف کمال الدین حسین گازر گاهی دی.

شیخ صوفی علی هروی زاهـــد او متقی دهرات‌په سر خیا بـــان کی ښخ سو .

۱۵۰۳ م ۹۰۸ ق

بابر په ماوراء النهر کی‌مات سو اوشیبانی خان دشا ه بداق سلطان زوی تاشکند ونیو (جون).

محمد مقیم دامیر ذوالنون ارغون زوی دقندهار حکمران کابل لهمیرزا عبدالرزاق څخه ونیو اودمیر زاالغ بیگ لورئی وکړه .

۱۵۰۴ م ۹۰۹ ق

دبابر آواره گی دماوراء النهر په دښتو اوکوچیانو کی .

بابر پرترمذ ترآمو راواوښت اود بدخشان او تخار ستان خسرو شاه

ته‌په قندوز کی راغیء اوابه زره د خسرو شاه لښکر ی ولمسول او خسروشاه میمنی ته وتښتید .

علی دحسین کاشفی‌زوی رشحات عین‌الحیات په هرات‌کی وکیښی .

دمولانا معین الدین فراهی دهرات قاضی او عالم دمعارج‌النبوه دمؤلف وفات اود هرات پـه گازرگاه کـی ښخیدل .

دمولانا عبدالرحمن کارد گرهروی عالم و فات او پـه زیارتگاه کـی ښخیدل .

مجنون ر فیقی دهرات خطاط خپله دخط رساله تألیف‌کړه.

۱۵۰٤ م ۹۱۰ ق

بابر د هندوکش شمالی خواوی ونیولی (محرم ،جون)او دلو مـړی خور په‌منځ کی دوشی ته‌راغیء.

دوستی بدخشی د فارسی دیوان خاوند شاعر پـه بـد خشان کـی وزیږیدیء .

بابر ترهندوکش راتیر سو اود هوپیان له‌لاری ئی محمدمقیم پـــه کابل کی کلابند کیء (دربیع الاول اواخر) او د ربیـــع‌ا لا خـــر په پای کی محمد مقیم قند هـــار نه‌ولاړ، اوبابر کابل ونیوی‌ء، دکابل اولغمان مالیات اته‌لکه شا هر خی وی .

۱۵۰٤ـ ۱۵۳۰ م ۹۱۰ـ ۹۳۷ ق

بر افغا نستان باندی دظهیرالـدین محمد بابر داقتدار دوره .

۱۵۰٤ م ۹۱۰ ق

بابر پاچاپه کابل‌کی (خط بابری) اختراع کیء .

سلطان ویس سواتی او سلطان علاء الدین سوانی دسوات مشران د بابر معاصر حکمرانان وو .

طاوس‌خان یوسفزی‌دسمی دیوسفزو مشرو، چی له بابر سره ئی دروعی روابط درلودل .

شاه منصور دملك سلیما نشاه زوی دسمی دیوسفزو مشرو، چـی خپله لوربی‌بی مبارکه ئی بابر تـه ورکړه .

مولانا حسین واعظ کاشفی‌دهرات مشهور مؤلف اوعالم او مفسروفات اود هرات په خیابان کی ښخ سو، دی دمواهب‌علیه اوتفسیر جواهر او انوار سهیلی او نورو ډیرو کتا بو مؤلف دی.

دقاضی اختیار الدین حسن هروی تعلیق‌نویس اوقاضی القضات دژوند وخت .

دساغر هروی‌شاعر دژوند وخت.

قاضی برهان الدین محمد هروی دهرات صدر وفات سو .

امیر صدر الدین سلطان ابراهیم امینی دمیرك جلال الدین قاسم زوی دهرات صدر مقرر سو .

خواجه امین الدین محمود دهرات وزیر وفات سو .

۱۵۰٦ م ۹۱۱ ق

بابر غزنی ونیوی، او خپل ورور جهانگیر میرزایی هلته حاکم‌کیء.

وروسته یی‌گردیز،کوهاټ،بنو، تهل ـگومل ترکلاته‌اوشرقی خواترخیبره ونیوله .

شیبانی خان پربلخ راغیءاوسلطان حسین بایقرا دهرات‌پاچا سیدافضل بابر ته راواستاوه او کومك‌ئی ځینی وغوښت .

په کابل او اطرافو کی‌ئی سختی زلزلی وسوی او ډیرځایونه ئی‌وران کړل.

سلطان حسین بایقرا له هراته د شیبانی خان مقابلی ته ووت، خود بابا الهی په منزل کی ۷۰ کلن تر ۳۹ کاله سلطنت‌وروسته وفات اوپه هرات‌کی ښخ‌سو. (۱۱ذی‌حجه٤مي).

مولانا عبدالجمیل‌دهرات عالم‌وفات سو .

۱۵۰۶ م ۹۱۲ ق

بابر دهزاره جات له‌لاری له‌کابله هرات ته ولاړ، اود مرو چاق په گل باغان‌کی‌دهرات‌دتیموری شاهزادگانو سره یوځای سو (دوشنبه ٦ جمادی الاخری).

په کابل کی چی بابر نه‌و، نودده داکازوی خان میر زا دپاچهی دعوه وکړه اود کابل بالاحصار ئی کلابند کیء .

صفوی لښکروپه‌هرات کی‌دمولانا جامی قبرو شانه وئی سوا ځه.

بابر دهزاره جات له لاری په ډیر زحمت په ژمی‌له‌هر اته کابل‌ته‌راغیء اودا ښارئی بیرته له‌خان میرزا ځخه ونیویء (شوال).

د علی بن حسین بن علی بیهقی طبیب دترویح‌الارواح دمؤلف‌دژوند وخت .

مولانا عبدالغفور لاری د مولانا جامی شاگرد په هرات کی وفات او دمولانا جامی په هدیره کی ښخ‌سو. (یکشنبه ٥ شعبان) .

۱۵۰۷ م۹۱۳ ق

شیبانی خان اوزبك هرات‌ونیویء اود تیموریانو پاچهی ختمه سوه . بدیع الزمان میرزا اودده ورورمظفر حسین له هراته ولاړل (۲۱می) او خپل کتابونه ئی هم استانبول ته یووړل .

بابر قندهار ونیو او هغه‌ئی خپل ورور ناصر میرزا ته وسپاره. مگر شیبانی راغیء او قندهار ئی و نیو اوبیرته هرات ته ولاړ، او قندهارئی محمد مقیم ارغون ته‌وسپاره .

بابر له‌کابله ولاړ او ننگرهار ئی ترکنړه و نیو، او هلته‌ئی میرزا عبدالرزاق حکمران کیء.

بابر پر غلجو او مهمندو افغانانو باندی حمله وکړه اوسل زره پسونه ئی او لجه کړل، په کته‌واز کی ډیر بندیان ووژل او کله منارئی ځنی جوړ کیء .

مولانا نورالدین محمد زیارتگاهی هروی عالم په قندهار کی وفات سو .

حکیم یوسفی هروی په طب کی فوایدالاخیار منظوم کیء.

۱۵۰۸ م ۹۱٤ ق

بابر مومند چور کړل خوده په غیاب کی دکابل خلك یاغی سول او میر زا عبدالرزاق‌ئی پاچا کیء.

بابر خپل تخت د کابل دشیر دروازی غره په‌لمن کی جوړکیء چی په ۱۰۱٦ ق جهانگیر پسی بشپړ کیء.

دعماد الدین‌فضل‌الله‌بن علاءالدین بن علی طوسی دشرح لوایح جامی د لیکوال وفات .

مولانا سلطان علی‌قاینی دامیرعلی شیر د کتابخانی خطاط اود سلطان بایقرا دزوی معلم په هرات کی وفات سو

حکیم یوسفی هروی‌په هرات‌کی جامع الفوائد دعلاج الامراض شرح تالیف کړه .

۱۵۰۹م ۹۱۵ق

بابر له‌ننگرهاره راغی اوپه کابل کی میرزا عبدالرزاق ونیوی او مړ ئی‌کیء چی په‌غزنی کی‌دخپل پلار الغ بیگ دځنگه ښخ سو او کابل ، غزنی، ننگرهار دبابر لاس ته‌ورغلل زبیر راعی په‌بدخشان کی دخلکو په کومك راولاړ سو او بابر خپل داکا زوی خان میرزا هلته واستاوه چه زبیر را عی ئی مړ کی ء .

سید روح‌الله میرك نقاش‌اوخطاط اومذهب چی دهرات دودانیو نوشتی دده په خط وی په هرات کی وفات سو .

خواجه عبد الرحمن دخواجه کلان زوی دهرات قاضی اود گوهر شاد په مدرسه کی مدرس‌و .

۱۵۰۹ـ ۱۵۲۵ م ۹۱۵ـ ۹۳۲ ق

دسلطان ابراهیم‌بن سلطان‌سکندر لودی سلطنت په هند کی .

۱۵۱۰ م ۹۱٦ ق

شیبانی خان اوزبك په مروکی د پارس دصفویانو سره جنگ وکیء چی لس زره اوزبك ووژل سول او شیبانی‌خان هم‌په‌دغه جنگ کی‌وواژه سو . (جمعه ۲٦ شعبان ۲ دسمبر)

مولانا شمس الدین بردعی چی د شاهرخ په‌عصر کی هرات ته راغلی اوپه گازرگاه کی په تدریس بخت‌و، له‌هراته آذربایجان ته‌ولاړ. له‌دهسره مولانا اسمعیل تبر یز ی هم له‌هراته ولاړ.

شاه اسما عیل صفوی هرات ونیوی.

امیرغیاث الدین محمدبن امیریوسف دهرات دسلطانیه مدرسی مدرس او لوی قاضی دامیر خان په حکم‌ووژل سو اوپه هرات کی ښخ سو .

۱۵۱۱ م ۹۱٦ ق

بابر دقندوزله‌خوا تر آمو واوښت اود حصار ښار ئی محاصره کیء .

۱۵۱۱ م ۹۱۷ ق

بابر دخپلو (٦۰) لښکرو په قوت دسمر قند ښارونیو اوناصر میرزا خپل ورور ئی دکابل په حکمرانی وټاکه . (رجب، اکتوبر) .

۱۵۱۲ م ۹۱۸ ق

عبیدالله خان او ز بك په سمر قند کی‌بابر مات کیء اودی ئی له‌ماوراء النهره راویو ست (۳ ر مضان ۱۲ نو مبر) او دی د هندو کش شمالی خواوو ته‌ورغی.

خواجه عبد اللطیف صوفی هروی دهرات په قریه فراشان کی وفات‌او ښخ سو .

دهرات مشهور امیر سیدغیاث‌الدین مشهدی وفات سو .

مولانا بنا یی هر وی نستعلیق کښونکی دنجم‌ثانی دماوراءالنهر په کشتار کی ووژل سو.

د مولانا جمشید کتابدار هروی خطاط وفات .

۱۵۱۳ م ۹۱۹ ق

مولانا سلطان‌علی‌مشهدی مشهور نستعلیق لیکونکی پـه مشهد کـی وفات سو .

مولانا فصیح الدین محمد نظامی دهرات د بدیعیه مدرسی مدرس او مؤلف وفات سو .

امیر برهان الدین عطاءالله‌دهرات عالم په مشهدکی مړسو (شوال) .

مولانا عیاث الدین جمشید قاینی دهرات صدر پـه قایـن کـی وفات سو .

۱۵۱٤م۹۲۰ق

بابر تر هندو کش راتیر سو او کابل ته راغی .

قاضی حسن اختیار الدین دقاضی غیاث الدین تـربتی زوی د هـرات مشهور قاضی مړ اوپه تربت کی‌ښخ سو .

قاضی بدیع دقاضی اختیار الدین هروی‌زوی‌په‌هرات اوبخارا کی‌ژوندی ؤ، دی دمعقول او منـقول عالـم او شاعر او طبیب اود مختار الابـرار مؤلف و

خواجه جلال الدین ابـو القاسم جامی دهرات معتبر سړی او خواجه ناصر الدین عبدالعزیز جامی دهرات عالم اومتقی وفات سول .

مو لانا میرکمال الدین‌حسین‌ابیوردی دهرات ددربار امیر او عالـم وفات سو .

مولانا نظام الدین عبدالقادرطبسی دهرات قاضی و .

ددرویش عبدالله سلطانی بلخـی خطاط وفات .

میر فاضل گوکلتاش دقندهار د باباولی (سید حسن ابدال) پـرقبر یوه شنخته‌وکښله(ربیع الثا نـی)

۱۵۱۵ م ۹۲۱ ق

شیخ جلال‌الدین ابو سعید پورانی هروی په قندهار کی له بامه ولوید اومړ سو

سید نظام الدیـن سلطان علـی موسوی هروی او خواجه نعمت الله آصفی هروی امیر او شاعر وفـات سول .

قاسم بن‌یوسف ابونصری هروی ارشاد الزراعه تالیف کیء .

۱۵۱٦ م ۹۲۲ ق

محمد بدخشی دمنطق عالـم اود شرح الیاس رومی دحاشیی دمؤلف وفات .

مولانا شهاب‌الدین عبدالله بیانی بـن خواجـه محمد مروارید دهرات خطاط او شاعر او صدر اود موسیقی پوهاند په هرات کـی وفـات سو . (رجب) .

۱۵۱٦ م ۹۲۳ ق

بابر له کابله ولاړ او قندهار ئـی له شاه بیگ ارغونی څخه ونیوی او شاه بیگ د شال اوسند خـوا تـه ولاړ .

یار محمد هروی خطاط په هرات کی دمخزن اسرار نسخه وکښله . (استانبول ۱۳۰۹) .

شیخ فصیح الدین محمد بن زین العابدین خوافی صوفی اوزاهد وفات سو .

بدیع الزمان میرزا دسلطان‌حسین بایقرا زوی مړ سو .

۱۵۱۸ م ۹۲٤ ق

محمد بن‌یوسف هروی طبیب او لغوی جواهر اللغه تالیف کیء .

۱۵۱۹ م ۹۲۵ ق

بابر دجندول او باجوړ له خواپر هند خپله لو مړی لښکر کښی‌وکړه په ۵ محرم ۸ جنوری‌ئی دباجوړ کلا ونیوله او خواجه کلان ئی هلته مقرر کیء .

دیو سفزو مشران شاه منصور د ملك سلیما ن شاه زوی او سلطان علاءالدین سواتی اوطاووس‌خان‌بابر ته ایل سول .

بابر دشاه منصور یوسفزی لور بی‌بی مبارکه‌وکړه. (جمعه ۲٦محرم) اود نیلاب له‌خوا پرپنجاب ورغی او بهیره‌ئی ونیوله .(۵ربیـع الاول ۷ مارچ) اوبیرته کا بل ته را غـی (دربیع الاخر غره ، ۱ـ اپر یـل) .

دیو سفزو شپږ تنه مشران کـابل تـه راغلل او بابر ته‌ئی دهغی خـوا مالیات ومنل (۱ جمادی الاخری ـ۲۰ می).

بابر دتیره کوتل له‌خوا د گردیز اوکرماش (کورم) پر افغانانو باندی حمله وکړه (۲۹ رجب ـ ۲۷ جولائی) اود شعبان په دریمه (۳۱ جولائی) بیرته کابل ته راغی.

بابر دحیبر لـه خوا پرپیښور او اشنغر حمله وکړه. (۱۳ رمضان ۸ سپتمبر) لښکرئی‌ترپنجابه‌دوهمه پلا پرمخ ولاړل اود ی بیرته کابل تـه راغی (دشوال اواخر ـ ۲۰ اکتوبر)

سید امیر نظام‌الدین عبدالقادر د هرات سلطانیه مدرسی مد رس او دخراسان قاضی وفات سو .

۱۵۱۹ م ۹۲۵ق حدود

دهرات د نستعلیق لیکو نکی او بعمایی میر علی‌هروی دژوند وخت.

۱۵۲۰ م ۹۲٦ ق

بابر قندهارکلابندکیء خوپه‌لښکر کی ناجوړی ولویده اوبیرته کابل‌ته راغی (رجب‌ـجون) اوددغه کال په پای کی‌یی پرهند په‌خپل‌دریم یرغل لاس پوری کیء اود پنجاب ترسیند پوزه ئی‌ونیول او سیا لکوټ ئی هم فتح کیء.

سلـطان الخطاطین سلطان علـی مشهد ی پـه هـرات کـی‌وفات اوپـه مشهـد کـی ښـخ‌سو. (۱۰ ربیع الاول) .

۱۵۲۰ م ۹۲۷ ق

خـان میـرزا دبابـر داکـازوی دبدخشان حکمران مړ سواوپر ځای ئی‌دبابر له‌خوا شهزاده هما یـو ن دبد خشان حکمران سو .

مولانا هاتفی دمولانا جامی خوریی دهرات شاعر اود ظفر نامه تیموری ناظم پـه هرات کـی وفـات سو . (محرم) .

امیر رضی الله عبـــدا لاول- دهرات دغیاثیه‌اوبد یعیه مدرسولوی مدرس اوعالم وفات‌سو (ربیع الاخر) دهرات قاضی ضیاء الدین نورا لله دقاضی درویش محمد زو ی وفا ت اوپه گا زرگاه کی ښخ سو .

دهرات دواعظ مولانا حسامی‌واعظ دژوند وخت .

خواجه جمال‌الدین‌عطاءالله دهرات وزیر او عالم وفات سو (یکشنبه ۲ ربیع الاول) .

مولانا شمس الدین محمد الحنفی دهرات دسلطانیه مدرسی مدرس‌و .

۱۵۲۲ م ۹۲۸ ق

بابر قندهار دشاه بیگ ار غـون ځخه ونیواوخپل‌زوی شهزاده‌کامران ئی‌هلته‌وگوماره(۱۳شوال ۱سپتمبر)

استاد کمال الدین بهزاد دشا ه اسماعیل صفوی‌په فرمان دکتابخانی مشر مقرر سو (۲۷جمادی الاولی) .

شیخ زین‌الدین علی‌هرات ته‌راغی اوددی ځای شیخ الاسلام او قاضی القضات مقرر سو .

شیخ نـورالـدین محمـددشیخ زین الدین خـوا فـی لـه پښتـه د هرات مشهور مدرس چی پـــه ۹۲۶ ق کا ل له هر اتـــــه کابل‌ته تللی اودبابر پادشاه په‌حضور کی و ، په کا بل کـی وفـــات سو (جمادی الا خری).

دملك علاء الدین علی‌بن ملك‌نظام الدین‌یحیی نیمروزی وفات .

۱۵۲۲ م ۹۲۹ ق

خواند میرهروی‌مؤرخ‌خپل مشهور کتاب حبیب‌السیر وکیښی .

دوست محمد کاکړد بابرخـان زوی خپله غرغښت‌نامه‌په‌پښتو منظومه‌کړه.

۱۵۲۴ م ۹۳۰ ق

بابر خپل ځلرم‌یرغل پرهندشروع کیء تر اباسین ورتیرسو اوتر سر هنده پوری ورسیدی .

عسکری میرزا دبابرزوی دقندهارد چهل‌زینی‌په جوړ ولوشروو‌کړه اوتر (۹۵۳ق) پوری یی‌کار ختم سو.

امیر نظام الدین عبدالحی‌منشی د هرات تعلیق نویس اودامیرعلی شیر دمدرسی مدرس له هراته ولاړ او په استراباد کی مدرس سو .

شیخ‌الحرم‌مولاناجلال‌الدین‌ابوسعیـد مکی هروی په‌هرات کی وفات او په خیابان کی‌ښخ سو.

۱۵۲۴ م ۹۳۰ ق حدود

دمولانا محمود د ابراهیم کالوانی زوی دتاریخ ابراهیم شاهی دمؤ لف دژوند وخت .

رابعه دقندهار پښتوشا عره‌په‌دغه وخت کی ژوندی وه .

دسلطان علی او بهی هروی‌خطاط دژوند وخت .

دقاضی نظام بدخشی اودده دزوی میرحسام الدین قاضی خان د ژوند وخت. دوی دبابر دو خت‌قا ضیـان وو .

۱۵۲۵ م ۹۳۱ ق

بابر تـول پنجاب ونیوی او میر

عبدالعزیز ئی دلاهور حکمران مقرر کیءاو دولت خان لودی ئی هم ما ت کیء.

۱۵۲۵ م ۹۳۲ ق

بابر پرهند پخپل پنځم یرغل‌لاس پوری کیء اوکامران میرزائی دکابل اوقندهار پرحکمرانی پریښو پخپله د (۱۲) زرولښکراو سره پرهندورغی (۱ صفر ۱۷ نومبر) .

۱۵۲۶ م ۹۳۲ ق

بابر دپانی پت‌په جنگ‌کی سلطان ابراهیم لودی وواژه‌اودهند سلطنت یی‌ونیو (جمعه ۸ رجب ۲۱ اپریل).

بایزید روښان دشیخ عبدالله‌زوی چی په (روښان‌پیر) مشهور سو ، د پنجاب په‌جالند هر کی دبیبن بنت محمد امین له نسه وزیږیدی .

ملك شاه محمود دملك نظام‌الدین یحیی زوی دنیمروز حـکمران مـړ سو .

سلطان محمد خندان هروی‌خطاط وفات سو، ده دحافظ ددیـوان یـوه نسخه په‌نستعلیق‌کښلی ده‌ربیع‌الاول ۹۲۶ ق (د کابـل دخـطی نـسخو کتابخانه) .

شیخ زین‌الدین اسفر غابادی‌هروی صوفی دهرات په گازرگاه کی ښخ سو .

علی حسینی هروی خطاط دسعدی دبوستان نسخه په هرات کی وکښله (استانبول ۱٤۱۰) .

دمولانا آگهی هروی شاعر وفات.

۱۵۲۶ م ۹۳۳ ق

دسید شیر (سیدمحمد) بن سید حسین زنجیر پا وفات‌او ښخیدل د قندهار د سپیروان په سکیلچه کی . (۱۰ محرم) .

۱۵۲۸ م ۹۳۵ ق

مولانا زین الـدین محمود داماد هروی خطاط د سلطان علی مشهدی شاگرد مړسو .

مولانا سلطان محمد بن مولا نـا نور الله (سلطان محمد نور) هروی خطاط په بخاراکی وفات سو .

۱۵۲۹ م ۹۳٦ ق

دمولانا بدر الدین هلالی هروی شاعر وفات او ښخیدل په هرات‌کی (صفـر) د شـاه او در و یشـ ، صفات العاشقین ،لیلی مجنون ناظم. ظهیرالدین محمد بابر شاه خپلـــه بابر نامه (توزك بابری) تـا لیـف کړه .

علی‌کاشفی هروی‌لطایف الطوایف وکیښی .

همایون دبلخ امیر کمال الدیـن ونیو اود همایون اوگستن‌قراسلطان ترمنځ جنگ وسو .

۱۵۳۰ م ۹۳۷ ق

ظهیر الدین محمد بابر په‌اگر ه کی وفات اود جمنا پر غاړه په چهار باغ کی ښخ سو (٦ جمادی الا ولی ۲٦ دسمبر) .

دده زوی نصیر الدین همایون دهند پادشاه سو (۹جما دی الاولـی ۲۹ دسمبر) .

حکیم یوسفی هروی خپله قصیده حفظ الصحه دبابر پادشاه پـه نامه وکښله.

۱۵۳۰– ۱۵۵۵ م ۹۳۷– ۹۶۳ ق

دنصیر الدین محمد همایون دبابر شاه دزوی پاچهی .

۱۵۳۰ م ۹۳۷ ق

شاه نظا م الدین ابو اسحق بن شاه نظام الدین یحیی دنیمروز ملك وفات سو .

دبلخ دحما م سلطانی بناد کستن قرا سلطان په امر تمامه سوه اود مسجد جامع لپاره وقف سو .

۱۵۳۳ م ۹۴۰ ق

شاه حسین کامی او بهی شاعر پهاوبه کی ۷۷کلن وفا ت سو .

۱۵۳۳ م ۹۴۰ ق حدود .

فیروزه کابلی حنفی تخلص شاعر اود مو سیقی پوهاند په کابل کی ژوندی و.

عیسی مشوانی دپښتو شاعر دهند په دامله کی اوسیدی .

شیخ زین الدین خوا فی (وفایی) دبابر سرمنشی اود بابر نامی فارسی مترجم په اگره کی مړ سو .

دصادقی قندهاری شاعر ژوند په هندکی .

۱۵۳۴ م ۹۴۱ ق

ابراهیم بن قاسم بن محمد امین هروی دسلطان حسین بایقرا وزیر د تاریخ فتو حات شاهیه مؤلف وفات سو .

خواند میر هراتی مؤرخ او دجیب السیر او خلاصة الاخبار مؤلف په هند کی وفات سو .

امیر شمس الدین محمد بن شیر محمد بن امیر ویسل په کابل کی مړ اوښخ سو .

میر علی هروی خطاط دمیر باقر ذوالکمالین زوی دمدار الخطوط مولف په بخارا کی مړ سو .

۱۵۳۵ م ۹۴۲ ق

په قندهار کی چی دشهزاده کامران له خوا خواجه کلان بیگ حکمران ؤ دصفوی لښکرو کلابندکی ء خو میرزا کامران له لاهوره راغی او صفویان ئی له قندهاره وشړل. (شعبان) .

استاد کمال الدین بهزاد دهرات لوی نقاش په هرات کی وفات او هوری ښخ سو .

مولانا رستم علی هروی نقاش او مذهب او خطاط دبهزاد خوریی په هرات کی وفات سو .

حکیم یوسفی هروی دلایل النبض اودلائل البول په هندکی تا لیف کړه .

۱۵۳۶ م ۹۴۳ ق

شاه طهما سپ صفو ی قندهار ونیوی او میرزا بداغ خان ته ئی وسپاره خو میرزا کامران له لاهوره بیا راغی او قندهار ئی ونیوی .

دنوایی داشعارو منتخبات میرعلی بخاری دعبدالعزیز خان لپاره ولیکل چی د هراتی مذهب محمود په قلم ۸ میناتوره لری. (دترك دهنرموزیم ۱۹۴۶) .

۱۵۳۷ م ۹۴۴ ق

میرمعصوم نامی قند هاری ثم بکهر ی به بکهر کی وزیریدی (دوشنبه ۷ رمضان) دی دسید صفایی قندهاری زوی اود باباولی لمسی دی .

۱۵۳۹ م ۹۴۶ ق

کستن قرا سلطان دبلخ حکمران

دهندوان نوی کلاجوړه کړه ، دغه وخت دبلخ ودانی شرقا و غر با له خواجه پلاس پوش څخه ترچهار باغ گلشن پوری یوفرسنگ، اوشمالا جنوبا له خواجه سنگ لیس څخه دستی ترکلی پوری هم یوفرسنگ وه .

مولانا سید په بلخ کی ژوندی و .

محمد زمان میرزا د بدیع الزمان میرزا زوی مړ سو .

حکیم یوسفی هروی دمحمد زوی مشهور طبیب اوادیب او مؤلف ریاض الانشاء په هندکی وکیښ .

دده نور تالیفونه :جامع الفواید، بدایع الانشاء ،طب یوسفی ،سته ضروریه وغیره .

برهان هروی کاتب او خطاط دلوایح جامی یوه نسخه وکښله (دکابل د خطی نسخو کتابخانه).

جهانگیر هاشمی هراتی شاعر د مظهر الاثار او تحفة الحبیب مؤلف دحجاز په لارکی مړ سو .

۱۵۳۹– ۱۵۵۵ م ۹۴۶– ۹۶۳ ق

دسوری پښتنو پاچهی په هند کی .

۱۵۴۰ م ۹۴۷ ق

همایون پاچا په هند کی دشیرشاه سوری لښکرو مات کی ء اود سندله لاری ایران ته وتښتیدی (۱رجب) .

په دی وخت کی دکابل او قندهار پادشاه میرزا کامران دبابر زوی و.

دبابر پاچا تابوت بی بی مبارکی یوسفزی دده ماینی له اگری څخه کابل ته راوی اودلته ئی دبابر په باغ کی ښخ کی ء .

حسین بن علی بن حسین کاشفی هروی اخلاق محسنی په تر کی دانیس العارفین په نامه ترجمه کی ء.

محمود مذهب د نظام هروی زوی دهاتفی نیمور نامه په بخارا کی وکښله (ذی قعده) (استانبول ۱۵۴).

۱۵۴۱ م ۹۴۸ ق

په اندراب کی دمیرزا کامران او سلیمان میرزا جنگ وسو اودکامران میرزا لښکرو د بدخشان مرکز قلعه ظفرونیو (۱۷ جمادی الاخری) .

محمد حیدر گورکان د تار یخ رشیدی مؤ لف کشمیر و نیوی (۸ رجب) .

۱۵۴۲ م ۹۴۹ ق

شهزاده جلال الدین محمد اکبر د همایون روی دسند په امرکوټ کی دحمیده بانو بیگم له نسه وزیریدی. (یکشنبه ۵ رجب) .

بایزید پیر روښان مشهور او غښتلی سو .

۱۵۴۲– ۱۵۸۰ م ۹۴۹– ۹۸۸ ق

دبایزید پیر روښان ولد عبدالله د ملی نهضت دوره په افغا نستان کی .

۱۵۴۳ م ۹۵۰ ق

همایون پاچا له سنده دگرمسیر پرلار سیستان ته وتښتیدی (شوال) اود هرات له لاری ایران ته ولاړ (ذی قعده) .

دبلخ حکمران کستن قرا سلطان لیونی سو، اود بلخ علماء مو لانا حسین اومولانا عبدالرحمن ئی پوست کړه .

دخواجه زاده رحیمی کابلی شاعر وفات .

دبیخودی بلخی شاعر دژوند وخت.
قدری سبزواری شاعر په هرات، کی ژوندی‌و .

۱۵٤٤ م ۹۵۱ ق

همایون دبابر زوی دهرات او مشهد له لاری په قزوین کی دشاه طهماسپ صفوی دربار ته‌ورسیدی. (جمادی الاولی) .

محمد قاسم بن شاد یشاه هروی خطاط دعارفی هروی گوی وچو گان په ښکلی نستعلیق وکیښ (دکابل خطی کتابخانه).

میر علی هروی خطاط په فتح آباد کی وفات سو .

۱۵٤۵ م ۹۵۲ ق

دهند لوی پښتون شهنشاه شیر شاه سوری دکالنجر په‌کلابندی کی وسوځیدی او وفات سو. (۱۰ربیع الاول) .

میرزا حیدر کورگان‌تاریخ رشیدی په‌کشمیر کی بشپړکیء (ذوالحجه).

همایون له ایرانه دهرات پرخوا د(۳۰) زرو صفو ی امدادی لښکرو سره راغی او فندهارئی له‌خپل ورور میرزا عسکری څخه‌تر٦ میاشتو کلا بندی وروسته ونیوی (پنجشنبه ۲۵ جمادی الاخری) .

دبلوڅو مشر لونگ اود پښتنو مشر میرعلی کابل ته راغلل، اود همایون له خوا لونگ شال او مستونگ او علی دوکی ته مقرر سول .

۱۵٤٦ م ۹۵۳ ق

همایون له قندهاره راغی کابل‌ئی له‌خپل‌ورور میرزاکامران څخه‌ونیوی (۱۰ رمضان) او کامران سند ته ولاړ .

همایون کابل محمدعلی طغا ئی ته‌وسپاره اوپخپله‌یی تالقان‌تربدخشانه ونیول .

دده په غیاب کی میرزا کامران له‌سنده راغی غزنی او کابل ئی ونیول .

۱۵٤۷ م ۹۵٤ ق

همایون دهندوکش شمالی ولایات میرزا سلیمان او میرزا هندال ته وسپارل او پخپله دغور بند له‌لاری راغی او میرزا کامران ئی په کابل‌کی کلابند کیء هغه بدخشان ته‌وتښتید اوکابل بیرته دهمایون لاس ته‌ورغی (پنجشنبه ۷ ربیع الاول) خوکامران غوری ،بغلان، تالقان او بد خشا ن ونیول. همایون له کابله پرده ورغی او کامران ئی ونیوی اود کال ترپایه بیرته کابل ته راغی .

شاه حسین بن شاه محمود د نیمروز ملك وفات سو .

دمعین‌الدین محمدفراهی ملامسکین مفسر او واعظ وفات .

۱۵٤۸م ۹۵۵ ق

ځکه چی‌میرزا کامران بیابدخشان نیولیؤ نو همایون له کابله ورغی تالقان اوبدخشان‌ئی ونیول اوکامران ئی‌وباخښه (۱۷رجب) همایون بیرته کابل ته راغی (جمعه ۲ رمضان) .

همایون دپروان کلا ودانه کړه (اوسنی جبل السراج) .

۱۵٤۹ م ۹۵٦ ق

همایون د خلم په بابا شاهو کی دبلخ دحکمران پیر محمد خان سر ه

جنگ وکیء مگر ناکام کا بل ته راغی .

په‌قند وز کی دمیر زا کا مران او هندال جنگ وسو چی‌میرزا کامران بامیان ته ځینی وتښتیدی .

شیخ قاسم متی زی دتذ کره اولیا افغان لیکو ال دپیښور دبدنی رودپر غاړه وزیږ یدی .

۱۵٤۹ م ۹۵۷ ق

میر زا کامران په‌بامیان کی یاغی سو او همایون له‌کابله دده مقابلی‌ته ولاړ، دغوربند په جنگ کی همایون مات سو او بدخشان ته ولاړ، او میرزا کامران راغی کابل‌ئی ونیوی. خوتر درو میاشتو وروسته همایون بیرته له بدخشانه راغی او کابل ئی ونیوی او میرزا کامران پیښور ته وتښتیدی .

میرزا عسکری‌چی په‌دی‌جنگ کی ونیول سو، عربستان ته وا ستول سو .

شاه نصرت د شاه محمود زوی دنیمروز پاچا مړسو .

مولانا کمال الدین عاشق دبلخ شاعر او عالم هلته وفات سو .

۱۵۵۱ م ۹۵۸ ق

همایون اوکامران د ننگرهار په سرخاب کی جنگ سره‌وکیء چی‌په دی جنگ‌کی میرزا هندال ووژل‌سو (یکشنبه ۲۱ ذی‌قعده) او کامران‌هند ته وتښتیدی .

(دهندال ولادت۹۲٤ق‌وچی دکابل دبابر په‌هدیره کی ښخ دی) .

میرزا حیدر کور گان دتاریخ رشیدی مؤلف ووژل سو .

مجنون رفیقی هروی خطاط وفات سو .

۱۵۵۲ ۹۵۹ ق

دهمایون له خوا شهزاده جلال الدین محمد اکبر د غزنی حکمران سو .

دهمایون په‌امر خواجه‌سلطان علی وزیر په‌کابل کی‌یومسجد جوړ کیء. (دبرلیك یی‌دکابل په‌موزیم کی) .

۱۵۵۲ م ۹٦۰ ق

همایون دغزنی اوکابل اوننگرهار پاچاسو اودخپل‌ورورکامران دماتولو لپاره تراتك تیرسو، کامران سلطان آدم کهگر ته پنا وروړه خو هغه همایون ته‌په لاس‌ورکیءاود همایون په امر ړوند سو .

۱۵۵۳م ۹٦۱ق

همایون کابل علی‌قلی‌خان اندرابی ته پریښو او پخپله قندهار ته ولاړ بهادر خان سیستانی یی دزمینداور او قندهار حکمران کیء او پخپله د بیرم خان سره کابل ته‌راغی ا و میرزا سلیمان‌ئی دبدخشان حکمران کیء (ذی‌حجه) .

میرزا محمد حکیم دهمایون زوی په کابل کی دماه چوچك بیگم‌له‌نسه وزیږیدی (چهار شنبه ۱۵ جمادی الاولی) .

شاه زین العابدین دشاه‌ابواسحق زوی دنیمروزحکمدار مړ سو .

۱۵۵۵ م ۹٦۲ ق

همایون خپل زوی محمد حکیم او منعم خان په کابل کی پریښوول اود صفری په میاشت کی‌د (۱۵) زرو لښکرو سره پیښور ته ولاړ اولاهور

یی‌ونیوی وروسته ئی دهلی بیافتح
ئی‌ء اوبیا دهندپاچاسو (غره‌رمضان)
شاه محمد کلاتی توخی دهمایون
له خوا دقندهار حکمران و.
سیدعلی دقنبرعلی زوی (پیربابا)
چی دامیر تیمور دخور له‌نسله‌و له
هنده تراتك راوښت او دافغانانوپه
سیمه کی میشته سو .
دشمس‌الدین محمد خراسانی‌فقیه
اودبخارا دمفتی دجامع الرموز مؤلف
دوفات حدود .

۱۵۵۵م ۹۶۳ق

همایون په دهلی کی‌د کتابخانه
له‌بامه راولوید او ٤٩کلن‌تر ٢٥کلو
ناچهی وروسته وفات اوپه دهلی‌کی
ښخ سو .
عبدالطیف بن عبدالمؤمن احمد ی
دانهار الاسرار مؤ لف مړ سو .
شهزاده جلال الدین محمد اکبر
١٣کلن دلاهور په‌کلانورکی دهمایون
ترمرگ وروسته دهند پر تخت
کښینوست. (جمعه ٢ ربیع الثانی).
میرزا سهلیمان له بد خشانه راغی
اوشهزاده محمدحکیم‌ئی خلورمیاشتی
په‌کابل کی کلابند کیء خو نا کام
بیرته ولاړ.

۱۵۵۵ـ۱۶۰۵م ۹۶۳ـ ۱۰۱٤ ق

دجلال الدین محمد اکبر پادشاهد
پاچاهی دوره .

۱۵۵٦م ۹٦٤ق

بهادرخان سیستانی له زمینداوره پر
قندهار حمله‌وکړه خوشاه‌محمدکلاتی
قندهار وساتیءاووروسته بیاسلطان
میرزا صفوی قندهار ونیو ی‌ء .
شهزاده کامران دبابر پوند زوی
په‌مدینه کی وفات اوپه معلمی هدیر
کی ښخ‌سو (١١ ذی‌حجه) .
درونقی بدخشانی شاعر وفات .

۱۵۵۷ م ۹٦۵ ق

ملـــك سدود معـــروف زوی
وزیریدیء (١٧ذی‌حجه)دی دسدوز
پلار دی .
میرزا عسکری‌دبا بر زوی چـــ
همایون شړلی وپه حجاز کی مړ ا
ښخ سو .
نظام الدین حیدر دنیمروز ملـ
وفات سو .
شاه محمدکلاتی دقندهار حکمرا
په هند کی داکبرپاچا دربارته ولاړ
در کن الدین بن بایسنقر میرز
دژوند وخت، چی سلطان ابرا هی
ئی زوی و .

۱۵۵۸ م ۹٦٦ ق

میرعلی هروی خطاط او شاعـــ
دسلطان علی شاگرد په هرات کی
وفات سو .

۱۵۵۹ م ۹٦۷ ق

میرزا سلیمان دخان میرزا زوی
دبدخشان حکمران دپیر محمد خا
اوزبك سره دبلخ په چشمهٔ گا زرا
کی وجنگیدیء او مات سو.دده زوی
میرزا ابراهیم دپیر محمد خان پـــ
امر وواژه سو .
اکبر شاه له‌کابله‌منعم‌خان‌وغو ښت
او پخپل وکالت یی دخان خانان په
لقب مقررکیء اود منعم خان زو ی
غنی خان د کابل حکمران ســـو
(دوشنبه ١٨ ذی حجه) .
آخو ند قـا ســـم پـا پـــن
خیـــل شینـــو ا ر خیـــل
پښتو کتاب فوائد الشر یعه‌وکیښ.

۱۵٦۰ م ۹٦۸ ق

دکابل حکمرانی د شهزاده محمد
حکیم مور او شاه ولی اتکه کوله او
غنی‌خان هندته وتښتیدی ء .
دو اصلی کابلی شاعر وفات .

۱۵٦۱ م ۹٦۹ ق

شمس الدین اتکه دمیر یار محمد
غزنوی زوی داکبر پاچا ددربارلوی
وزیر په هند کی دا د هم خان پـه
لاس وواژه سو .(رمضان).
نیکبخته دشیخ الله داد مموزی
لور داشنغر او سیدونکی وه چـی
خپل کتاب ارشاد الفقراء ئی پـــه
پښتو نظم کی ء .

۱۵٦۲ م ۹۷۰ ق

داکبر پاچا له در باره منعم خان
دکابل د نیو لو لپاره راغی او د
جلال‌آباد دچارباغ‌سره ئی د کابـل
دامیرانو سره جنگ وکیء، خومات
سو او هند ته ولاړ. (ذی حجه) .
بایزید پیر روښان پـــه پښتنو
قبیلو کی قوت وموند او داشنغرپه
کله ډیر کی مرکز ونیو . خو محسن
خان د کابل حکمران دی ونیـو او
بندیئی کیء .

۱۵٦۲م ۹۷۰ق حلو د

سلطان محمد بن درویش محمد
مفتی خپل کتاب مجمع‌الغرائب دبلخ
دپاچا پیر محمد خان په نامه‌وکیښ.

۱۵٦۳ م ۹۷۱ ق

شاه ابوالمعالی د همایون دلـور
فخر نساء بیگم میره دمیرزا محمد
حکیم مور مړه کړه او دکابل‌اختیار
دار سو . دهدغوربند دپلـــه سره
دبـدخشا ن د میرزا سلیمان سره
جنگ وکـــیء او ووژل سو (١٧
رمضان)او میرزا سلیمان کابـــل
میرزا محمد حکیم ته پرینبو .
خواجه باقی بالله د قاضـــــی
عبدالسلام کا بلی زوی مشهـــور
نقشبندی صوفی په کابل کـــی
وزیریدیء. (دده‌وفات په دهلی کی
٢٥ جمـــادی الاخری ١٠١٢ ق)
دسلسلة الا حرار مؤلف دیء .
شیخ احمد سر هندی دمو لانـا
عبدالاحد فاروقی کابلی‌زوی‌په‌سرهند
کی‌وزیریدیء (١٤ شوال) .

۱۵٦٤ م ۹۷۲ ق

میرزا سلیمان له‌بدخشانه راغی‌او
کابل ئی کلابند کیء ،میر زا محمد
حکیم داکبر پاچا په مرسته لـــه
پیښوره راغی او سلیمان ئی بیرته
بدخشان ته وشاړه‌اود کابل مستقل
حکمران سو .

۱۵٦۵ م ۹۷۳ ق

سلیمان میرزا خلرمه پلاپر کابل
حمله وکړه او دمیرزا محمد حکیـم
گومارلی حکمران معصوم خان ئـی
کلابندکیء ، خو بیر ته‌بد خشا ن‌ته
ولاړ .
مولانا محب علی هروی خطاط او
نقاش او موسیقی پوهاند درستـم
علی هروی زوی پـــه هرات کـــی
وفات سو.
بیکسی غزنوی شاعر په پیښور
کی‌وفات سو .
مولانا ماتمی هر وی شاعر پـــه
هرات کی وفات سو .
صبوحی بدخشانی شاعر په هند
کی مړ سو .

آتشی قند هاری شاعر په لاهور کی مړ سو .

۱۵٦٦ م ۹۷٤ ق

میرزا محمد حکیم دکابل حکمران دخپل ماما فریدون په لمسون لـــه پیښوره ولاړ اولاهورئی کلا بندکیء، خواکبر پاچا پخپله لاهور ځنـــی ونیوی او محمد حکیم پیښور تـــه راو تښتیدیء (جمادی الا ولی) او وروسته کابل ته راغیء .

مولانا ویسی هروی‌خطاط دمولانا جامی دنفحات الانس یوه نسخه په ښکلی نستعلیق وکښله .(د هرات موزیم).

حافظ کمال الدین حسین هروی خطاط په مشهد کی وفات سو .

سیدحسین خـواجه نقـیب ا لله شریف نثاری بخاری خپله تذکـرهٔ شعراء مذکرا حبا ب وکښلـــه (متوفا ۱۰۰۵ ق) چه د افغانستان بوالعجب دکابل ظریف شاعر په دډیرو شاعرانو احوال لری .

۱۵٦۷ م ۹۷۵ ق

کابل کی وفات سو .

خردبیگی کابلی شاعر وفات سو.

۱۵٦۸ م ۹۷٦ ق

قاسم کاهی کابلی شاعر او عالم خپل کتاب په ادبی علومو کی دهند په تونك کی تالیف کیء .

مولانا مسیحی بلخی شاعر۸۰کلن په بلخ کی وفات سو .

۱۵٦۹ م ۹۷۷ ق

شهزاده سلیم (جهانگیر) دجلال الدین اکبر زوی دآگری په فتح پور کی‌دجوده بائی له‌نسه وزیږید یء.

(چهار شنبه ۱۷ ربیع الاول).

دمولانا والهی بلخی شاعر وفات په بلخ کی .

۱۵۷۰ م ۹۷۸ ق

پیر رو ښان بایزید حپل کتـاب صراط التو حید په فارسی ژبـــه تالیف کیء .

دنیمروز ملك شاه حسین‌غیاث ـ الدین محمد وزیږیدیء .

۱۵۷۱ م ۹۷۹ ق

د خواجه حسن هروی شاعـــر وفات په کابل کی .

قاسم خان موجی بدخشی شاعر دلیلامجنون اویوسف زلیخا نا ظم په آگره کی وفات سو.

۱۵۷۲ م ۹۸۰ ق

بایزید پیر روښان له بنده ایله سو اوبیائی‌په‌تیراه کی دآزادیخواهی تبلیغ شرو کیء .

د مولانا عیشی هروی خطـــاط دژوند وخـــت .

دمولانـــا یاری هروی نقاش او مذهب اونستعلیق لیکونکی اوشاعر وفـــات .

۱۵۷۲ م ۹۸۰ ق حدود

بایزیدپیرروښان خپل خیرالبیان په څلور ژبی : پښتو ، فارسی ، عربی ، پنجابی وکیښ .

دعلی محمد مخلص پښتو شاعـر دژوند وخت . دی دپیر روښـــان مخلص و .

د پښتو شاعر ارزانی خویشکـی روښانی دژوند و خت.

محمد یو سف کابلی شاعر دشاه بیگ کا بلی زوی دهند په سورت

ئی ووژل سو .

۱۵۷۳ م ۹۸۱ ق

دسید امانی کابلی شاعر وفـات دهند په جونپورکی .

۱۵۷٤ م ۹۸۲ ق

محمدبن علاء الدین زره هرو ی دامیر خسروخمسه‌په خفی نستعلیق په خاف کی وکښله چی تصاویر ئی دمحمدی مصور په قلم دی (رجب) (دکابل دخطی نسخو کتا بخا نه).

خواجه امین الدین محمود هرا تـــی خطاط په هند کی وفات سو.

معزی هروی شاعر په هند کـی وفـــات سو .

۱۵۷۵ م ۹۸۳ ق

په بدخشان کی‌دمیرزا سلیـــمان اودده دلمسی شاهرخ تر منـــخ جنگونه وسوه ، څو چی‌شاهرخ‌قندوز ونیوی‌ء مـیـرزا سـلیمـا ن هـم بدخشان او تالقـان ورپرینبودل او پخپله هند اوبیا حجازته ولاړ .

مجنون هروی خطاط دکمال الدین محمود رفیقی زوی د«توامان» خـط مخترع اود آداب المشق مؤلف په هرات کی وفات سو .

ویسی هروی شاعر او خطاط په مکه کی اوسیدیء او دمذکر احباب یوه نسخه‌ئی‌وکښله (دبرلین‌موزیم).

خلقی قلندر بلخی شاعر دبلـــخ په مزار شریف کی‌وفات سو .

سید میرك وصالی بلخی شاعراو خطاط دبلخ په سمانه‌کی‌او سیدیء.

میرزاقلی میلی هروی شاعردهند په مالوه کی مسموم اومړ سو.

میر کلان هروی عالم سل کلـن دهند په اکبر آباد کی وفات سو.

۱۵۷٦ م ۹۸٤ ق

د شاه طـهمـا سپ صفـو ی دهرات بدیع الزمان میرزا مړ کیء (محرم)،شاه طهما سپ صفـــو ی د هرات د تصاویر والبم سلطان مراد ته اهداء کیء ،چی د عبدالله هروی خط او دشاه غریب میرزا او بهزاد تصاویر هم لری (داستانبول پو هنتون۱٤۲۲).

عـبـدا لـخا لـق بـن حبیب‌ـ الله هروی خطاط یو قرآن شریـف په‌ښکلی نسخ و کیښ (د ایرا ن باستان موزیم) .

۱۵۷۷ م ۹۸۵ ق

دنیمروز دملکانو شخړه د افشار او قزلباش سره .

دخان محمد خانی کابلی شاعـــر دژوند وخت .

۱۵۷۸ م ۹۸٦ ق

دنیمروز ملك اسحاق بن ملـك محمد وفات سو .

استاد محمدی هروی نقـــاش د سلطان محمد نقاش زوی ژوندی و.

دملا محمد حسین تبریزی خطاط وفات چی دمیرعماد قزوینی‌استادو.

حاجی عارف قندهاری مورخ پـه هند کی خپل کتاب (مقطع)وکیښ چی دهند تاریخ ئی‌د سلطان محمود له‌وخته تراکبر پاچا پوری راوړی ء دیء . دده بل کتاب مطلع یاتاریخ اکبری دیء.

حاجی عارف قندهاری مورخ په هند کی داکبر پاچا په حکم‌دپنجاب په دیوانی مقرر سو .

۱۵۷۹م ۹۸۷ق

میرزا سلیمان دایران او هرات او قندهار له خوا کابل ته راغی او دمیرزا محمد حکیم په مرسته ئی بیا په تالقان کی دخپل لمسی شاهرخ سره جنگ وکی ء، اوله تالقانه ترهندو کشه مخکی ئی ونیولی ،او بدخشان شاهرخ ته پاته سو .

عباس خان سروانی (تاریخ شیر شاهی) په هند کی تالیف کیء .

۱۵۸۰ م ۹۸۸ ق

میرزا محمد حکیم له کابله ولاړاو لاهور ئی کلابند کیء، خوداکبرپاچا حکمران سعید خان دغه ښار په کلابندی کی وساتی او تسلیم نسو (ذیحجه) .

پیر روښان دشنوارو په تور راغه کی د کابل د حکمران محسن خان سره جنگ وکیء او په دغه جنگ کی (٥٦) کلن ووژل سو .

ابوالقاسم نجم الدین قاسم کاهی کابلی شاعر اومؤلف په‌اکره کی وفات سو (۲ ربیع الثانی) .

حاجی‌عارف قندهاری مورخ‌دهند په حصار تانده کی د مظفر خان سره وواژه سو .

۱۵۸۰ ـ۱٦۰۰م ۹۸۸ـ۱۰۰۹ ق

جلال الدین دبایزید پیر روښان زوی‌دپښتنو دآزاد یخواهی دحرکت رهنما و .

۱۵۸۱ م ۹۸۹ ق

پخپله اکبر پاچا د میرزا محمد حکیم مقابلی ته پرلاهور راغیء او میرزا محمد حکیم ئی بیرته کابل ته راوشاړه . خو اکبر کابل ته‌پسی راغی ء ، او میرزا محمد حکیم ئی وباخښه ، دکابل او زابل‌حکمرانی ئی ورکړه (١٤ صفر) .

جلال الدین دبایزید پیر روښان ١٤ کلن زوی په تیراه کی د خپل پلار پر ځای کښینو سمت او د افغانانو آزاد یخواهان پر راټول سول .

د نیمروز ملك حیدر بن ملك محمود وفات سو (۲ رمضان).

د نیمروز ملك غیاث الدین محمد مړ سو (۹ذی حجه) .

۱۵۸۲ م ۹۹۰ ق

جلال الدین روښانی شل زره پلی او پنځه زره سپاره لښکر له‌تیراهه راوستل او دپیښور حکمران سید حامد بخاری ئی‌په جنگ کی وواژه.

قاضی محمدسالم‌لغمانی ددرویش محمد خان غازی جنگنامه تالیف‌کړه چی نوم ئی (صفت نامه)دی او دکافرستان ددرو دخلکو سره جنگونه بیانوی (دروما طبع ۱۹٦٥).

محمد صالح فارغی کابلی شاعر په هند کی ژوندی و .

عشقی کابلی شاعردشیخ‌اسماعیل له پښته په هند کی وفات سو .

شیخ قاسم دشیخ قدم زوی «ذکرة الاولیاء افغان »و کښله (دا کتاب ورك دیء) .

ملا محمد هروی عالم په هند کی وفات سو .

۱۵۸۲ م ۹۹۰ ق حدود

دمیر کلان غزنوی شاعر او

حکران د ژوند وخت .

دغیوری کابلی شاعر دو فات وخت په هند کی .

دفاضل منشی کابلی دژوند وخت په کابل اوهند کی .

امیر دپښتو تجوید نظم کیء.

میرزا محمد حکیم د همایون زوی په کابل کی سکه ووهله .

۱۵۸۳ م ۹۹۱ ق

سید صفایی دقندهار دبابا ولی لمسی دبکهر شیخ الاسلام هلته وفات سو (ذیقعده) محمد هاشم کشمی بدخشی د محمد قاسم زوی دحضرت مجددمکتو باتو ددریم‌جلد جامع او مولف صوفی وزیږیدیء «ارجب» پیر بابا سید علی قندوزی په باجوړ کی وفات اوښخ سو .

۱۵۸٤ م ۹۹۲ ق

پربدخشان او تالقان باندی عبدالله خان اوزبك حمله وکړه او میرزا سلیمان اوشا هرخ کابل ته راغلل او شمالی ولایات عبدالله خان ونیول .

قاضی نظام غازی خان بدخشی عالم او دشرح عقاید محشی ۷۰کلن دهند په او د هکی وفات سو .

ملا عالم گلبهاری دفواتح الولایه او صلصلة الجرس مؤلف په هند کی وفات سو .

۱۵۸۵ م ۹۹۳ ق

شهزاده محمد حکیم دهمایون‌زوی چی له کوچینوا لی څخه د کا بل حکمران و، وفات سو او په کابل کی دبابر په هدیره کی ښخ سو. (جمعه ۱۲شعبان)اوکابل مستقیما دکنورمان سنگه تر اداری لاندی سو ، چی‌اکبر له هنده رالیږلی وو. (دمحمد حکیم ولادت ۱۵ جمادی الاولی ۹٦۰ ق) د خواجه محمود بن اسحاق شهابی هروی خطاطدژوند وخت .

په جارو نك کی دنیمروزدلښکر مقابله له صفوی مظفر حسین میرزا سره .

۱۵۸٦ م ۹۹٤ ق

میرزا پاینده حسن غزنوی دبابر نامی دشپږ وکاو برخه په فارسی ترجمه کړه او وروسته بیا محمد قلی حصاری هغه د ۹۳٥ ق کال‌تر ترواقعو پوری ترجمه کړه .

داکبر پاچا له خوا کنور مان سنگه دکابل سرلښکر او میر شریف ئی صدرو .

داکبر پادشاه او دجلال الدین روښانی جنگونه په خیبر ، تیراه، ننگرهار کی .

میر شمس الدین داعی کشمی شاعر دمیر جلال الدین زوی په کابل کی مړ سو .

خواجو ملیزی مؤرخ ، تواریخ افاغنه یاتو اریخ خا ن کجو په یو سفزوکی تالیف کیء . داکتاب پیر معظم شاه په‌هندکی دتواریخ‌رحمت خانی په نامه‌لنډ کړی دی ء (دپیښور چاپ ۱۹۷۰)

۱۵۸٦ م ۹۹٥ ق

میرزا سلیمان له لغمانه پر تالقان ورغی ، خو عبدالمؤ من خان د بلخ حکمران دی مات کیء اوهندوستان ته ئی وشاړه .

دکتور مان سنگه پر ځای د اکبر پاچا له خوا زین خان کوکه د کابل حکمران مقرر سو اوهغه له کابله تراتکه خپل حاکمان دلارو دساتنی لپاره مقرر کړل .

عبدالله خان دتوران پاچا پر خراسان حمله وکړه (۲۸ جمادی الاخری).

۱۵۸۶ م ۹۹۶ ق

عبدالله خان اوزبک سیستان ونیوی ع .

سلطان حسین میرزا دبدیع الزمان میرزا زوی سیستان ته راغیع .

په سوات ،باجوړ ،وزیر ستان ، تیراه کی داکبر پادشاه دلښکرو جنگونه دجلال الدین روښانی سره.

۱۵۸۸ م ۹۹۷ ق

داکبر پاچا لښکر په باجوړ او سوات کی پر پښتنو ور غلل ، او پخپله اکبر دوهمه پلا کابل ته راغیع، اوقاسم علی خان کابلی ئی ددی ځای حکمران مقرر کیع.

میرزا سلیمان دخان میرزا زوی دبدخشان پخوانی حکمران (۷۷) کلن په لاهور کی مړ سو، دی دفارسی او اوزبکی ژبی شاعرهم و. شیخ بوستان بړیخ «بستان الاولیاء» وکیښ (پښتو) .

دنیمروزملك محمد بن غیاث الدین محمد مړسو.اوسیستان اویوویوی ع.

۱۵۹۰ م ۹۹۸ ق

عبدالرحیم خان د بیرم خان زوی داکبر پاچا په امر بابر نامه له ترکی ځخه په فارسی ترجمه کړه .

ملك جلال الدین محمود د نیمروز پاچا سو . (ذی قعده) رستم میرزا صفوی پر نیمروز راغیع او ملك نصرالدین نیمروزی ئی له خپلو زامنو سره وواژه (رجب) .

سید معصوم قندهاری د تاریخ سند مؤلف داکبر پاچاپه عسکر ی ماموریت کی داخل سو .

دشیخ ابن یمین کو سوی هر وی وفات او په سینان کلی کی ښخیدل.

د اکبر پاچا په امر د شهباز کلا د هندوکش په لمنو کی جوړه سوه .

۱۵۹۰ م ۹۹۹ ق

په سیستان کی وچ کالی او کاختی راغله .

۱۵۹۱م ۱۰۰۰ ق

دجلال الدین روښا نی لوی جنگو نه داکبر **پاد شاه** له لښکرو سره په سر کاوی ،مینی ،تـوره بیله کی چی د جلال الدین ورونه شیخ عمر ،خیر الدین ،نور الدین پکښی و وژل **سول** .

سلطان محمود گدون د مهابن په لمنو کی د آزادی غور ځنگ وکیع. اخوند پنجو مولانا عبد الو هاب اکبر پوری د ده ملگری و .دوی د غرو د کاپرانو سره غزاری کولی، او **اخوند خالاك ختك ئی تاریخ د** (سلوك الغزات) په نامه په پښتو وکیښ .

د شهباز خان ختك د خوشحال خان دپلار ولادت د ختکو په اکوړه کی .

ملك علی د ملك اسحق زوی د نیمروز امیر وفات سو (رمضان) .

عبدالله نیازی عارف او صوفی **۹۰ کلن په سر هند کی وفات سو.**

۱۵۹۱م ۱۰۰۰ ق حدود

الله یار د شیخ صالح الکوزی قند هاری زوی خپل کتاب (تحفة صالح) وکیښ .

سلطان قند هاری شاعر په هند کی ژوندی و .

د ابتری بد خشی د ژوند وخت.

۱۵۹۲م ۱۰۰۱ ق

جلال الدین رو ښانی له تیراهه تر سواته پښتا نه سره را غونډ کړل او د اکبر پاچا ۵۰زره لښکرئی تباه کړل .د هند وزیر راجه بیربل ئی مړ کیع اوزین خان کو که پل لوی امیر اټك ته ځنی وتښتیدیع .

۱۵۹۲ م ۱۰۰۱ ق حدود

ملا عمر خو یشکی رو ښانی عالم او مؤلف په اکوزوکی هستیدیع او پر تصوف ئی رسالی کښلی دی .

مولانا سلیمان هروی انصاری په هند کی مقامات العارفین و مرآة السا لکین و کیښ .

عبدا لر حمن مانکر وی د هزاره ضلع عا لم او قا ئد او مؤلف ژو ندی و .

۱۵۹۳م ۱۰۰۲ق

د اکبر پاد شاه له خوا شاه بیگ خان کابلی د قند هار نیو لوته را واستول سو ،او هغه ښار ئی له مظفر حسین صفوی ځخه ونیویع (۱۰۰۳ ق) او د اکبر پاد شاه په **مملکت کی داخل سو .**

راجه تو در مل او قاسم خان کابلی د خیبر او کابل دلاری په ساتنه مقرر وو .

شیخ بستان بړیخ پښتون شاعر او زاهد د گجرات په احمد آبادکی وفات سو (۱۱ ربیع الثانی) دی د اولیای افغان مؤلف دیع .

مقصود هروی خطاط او هنر من او د **اسطرلاب او کرو پوهاند په هند کی ژوندی و .**

عبد الر حیم ما نگراوی عالم در دالبدع مولف ژوندی و .

۱۵۹۴ م ۱۰۰۳ ق

د اکبر پاچا لښکرو قند هار

ونیوی‌ء .

میر معصوم نامی دسید صفا ئی قند هاری زوی د قند هار کومکی مقرر سو .

خواجه نظام الدین احمد هروی د محمد مقیم زوی د طبقات اکبری لیکوال مؤرخ په هندکی وفات سو .

ملك جلال الدین محمود دنیمروز ملك قلعهٔ سبز ته نقل مکان وکړی‌ء .

عیسی د اخوند پنجو شا گرد او عالم د اهل بیت پر فضیلت‌یوکتاب و کیښی .

۱۵۹۵م۱۰۰۴ق

جلال الدین رو ښانی د اکبرپاچا عسکری مشر قلیچ خان کابل ته وتښتا وه ،او له تیراهه تر کابل او غزنی پوری ئی د پښتو نخوا سیمی و نیو لی .

شاه بیگ خان کابلی چی داکبر پادشاه له خوا دقندهار حکمران‌و، د کاکړانو ښو رښت ئی کښیناوه، او قند هار د اکبر په پاچا هی پوری اړه در لوده .

ملك جلال‌الدین محمود د نیمروز ملك د ملك شاه حسین سره د قند هار نیو لوته ولاړل .

شاه محترم شاه کټور چی ځان ئی د هرات د سلطان حسین له پښته باله په چترال کی د حکمرانی کورنی تاسیس کړه .

مولانا آگه ابن یمین شبر غانی شاعر او عالم په شبر غان کی وفات سو ،د شعر د یوان لری.

سید معصوم نامی د قندهار په سپیر وان کی د خپل نیکه سید شیر قلندر سبز واری بن سید میر انصا ری تر مذی پر مزار یو ډېر لیك و کیښی (۱۹ شوال) .

عماد هروی خطاط د محیی هروی خطاط زوی په‌بلخ کی دعبدالمؤ من خان لپاره د مولانا بلخی د مثنوی یوه مزینه نسخه وکښله.(د کابل دخطی نسخو کتابخانه) .

صادق محمد خان د محمد باقر هر وی زوی د هند عسکری مشر په دهو لپور کی وفات سو .

عیانی کابلی شاعر د هند په یوه جنگ کی و وژل سو .

شیخ هاشم کشمی د خواجه قاسم زوی مشهور نقشبندی‌صوفی دزبدةالمقامات مؤلف په هند کی ژو ندی و .

۱۵۹۷ م ۱۰۰۶ ق

ملك شاه حسین د نیمروز له تر قون څخه قند هار ته ولاړ .

۱۵۹۸ م ۱۰۰۷ ق

جلال‌الدین روښانی‌غزنی ونیوی‌ء او د پښتنو منلی‌ء مشر سو .

د سیستان ملکان او خلك له هراته قلعهٔ فتح‌ته راغلل ، او ملك حسین د شاه عبس لید و ته قند هار ته ولاړ .

۱۵۹۹م ۱۰۰۸ ق

د نیمروز ملك شاه حسین په هرات کی د شاه عباس لیدو ته ولاړ

عبد الله د ملا رکن الدین زوی دپښتو شاعر ژوندی و

۱۶۰۰م۱۰۰۹ ق

د اکبر پاچا لښکر و په غزنی‌کی پر جلال‌الدین رو ښانی حمله‌وکړه، او د جنگ پر میدان د شاد مان نومی په لاس ټپی سو او شریف خان اتکه د اکبر پاچا سپه سالار، مراد بیگ مقرر کی‌ء چی‌جلال الدین مړکی ،او سرئی د ډهلی دربار ته واستوی .

تر جلال الدین رو ښانی وروسته د ده ورا ره احداد دعمر شیخ زوی د بایزید لمسی ئی پر ځای کښینو ست .

۱۶۰۰ـ۱۶۲۵م۱۰۰۹ ـ ۱۰۳۵ ق

احداد د عمر شیخ زوی دپښتنو دآزادیخوا هی دنهضت مشر و .

میر معصوم نامی قند هاری‌شاعر اوعالم او دډیرو آثارومؤلف،تا ریخ سنه یا تا ر یخ معصو می وکیښی (۱۰۰۹ ق)

دو لت خان لودی د هندپښتون قائد په احمد نگرکی مړسو .

۱۶۰۱م۱۰۱۰ق

شیخ متی کاسی افغانی زاهد او صوفی په هند کی وفات سو.

مولا نا نیازی شاعر د مولا نا وصالی بد خشی زوی له دکنه‌حجاز ته ولاړ او هوری مړسو .

سدو خان د معروف زوی د قندهار په مشر توب دشاه عبا س صفوی له خوا پیژندل سوی و او مرکزیی ارغسان و .

زین خان کوکه د خواجه مقصود هروی زوی د لاهور صوبدار او شاعر مو سیقی دان وفات سو .

د نیمروز ملك شاه حسین په مروکی دشاه عباس ملگری و.

میر درست کابلی خطاط او عیار شناس‌په هند کی ژوندی و .

۱۶۰۲م۱۰۱۱ق

میرزا حسن د شا هرخ‌بدخشانی زوی پر قند هار حمله وکړه ،خو شاه بیگ کابلی د قند هارحکمران دی مات کی‌ء او چخچران ته وتښتیدی‌ء (ذی حجه) .

محمد صالح ندایی چی په کا بل کی دخسرو شیرین مثنوی دخواجه حسن خالدار په‌نامه او صرف‌بهائی هم‌نظم کړی‌و، په دغه کال هند او حجاز ته ولاړ .

۱۶۰۳ م ۱۰۱۲ق

میر معصوم نامی قند هاری د تاریخ سند مؤلف داکبر پاچا له خوادایران صفوی در بار ته سفیر واستول سو او د ده زوی میر بزرگ چی ور سره و، د فراه او قند هار ترمنځ ئی د ښوراو پرغره یو ډ برلیك و کیښی .

خواجه محمد باقی‌کابلی نقشبندی صو فی او عالم په هند کی وفات سو .

۱۶۰۴م ۱۰۱۳ ق

د احمد بن ابی القاسم بن محمد بن سالم بن عبد العزیز بن شعیب هروی صو فی د ژوند وخت (ولادت ۹۲۰ ق) .

۱۶۰۵ م ۱۰۱۴ ق

جلال الدین محمد اکبر د همایون زوی ٦٤ کلن پسله (٥٢) کالو

پاچهی دهند په اکبر آباد کی وفات سو (۱۳ جمادی الا خری) او د ده زوی شاهزاده سلیم د نور الدین محمد جها نگیر په لقب په آگره کی ۳۸ کلن پر تخت کښینو ست (۱۸ جمادی الاخری) .

۱۶۰۵– ۱۶۲۷ م۱۰۱۴–۱۰۳۷ ق

د نور الدین محمد جها نگیر بن اکبر پادشاه د پاچهی دوره .

د صفویانو لښکر له هراته‌راغلل او قندهار یی کلابند کیء خو د جهانگیر له در باره میرزا غا زی ترخان راغیء اوقند هارپی وساتی، صفوی لښکر ئی و شړل (۱۲شوال ۱۴ ق) ورو سته د قند هارحکمران میرزا غازی و .

شیخ محمد صالح الکو زی په قندهار کی ژوندی و دی د پښتو شاعراو عالم‌او زاهد سړی و چی ملاالله یار د ده پر احوال باندی تحفهٔ صالح وکیښ .

ملا یحیی (محیی) با غد شتی هروی خطاط او شاعر د محمدحسین زوی د هرات په گاز رگاه کی یوه نو شته په عالی ثلث و کښله چی د(عمل امام قلی خاتم بر)لیك هم لری . یحیی د فتوح الحرمین ناظم او ددیوان خاوند دیء .

عبدالکریم د اخوند در ویزه‌زوی د خپل پلار پښتو مخزن اسلام تکمیل کیء .

۱۶۰۶م۱۰۱۴ق

د علی بن محمد سلطان هروی مشهور په ملاعلی قاری مشهور فقیه اوهؤلف وفات په مکه‌کی. دی دخورا ډیرو کتابو مؤلف دی .

۱۶۰۶م۱۰۱۵ق

جهانگیر پاچا د پیښور له خواکابل ته راغیء (۱۸ صفر) دشیر خان افغان دپیښور او عرب خان جلال‌آبادحکمرانان‌او عارف‌دملاصادق حلویی زوی ئی د کابل په قضاا صدارت مقرر کړل او د کابل حکمران کفالت ئی تاش بیگ خان نه‌وسپاره .

د جها نگیر په امر د کابل پا بالا حصار کی ودانی جوړی سوی

د نیمروز ملك غیاث‌الدین محمود وفات سو .

۱۶۰۷م۱۰۱۶ق

خان دوران شاه بیگ خان کابلی د جها نگیر له خوا د کابل او تیرا او بنگښس او بنیر صو بدار مقرر سو (جمادی الاولی) دی تر ۱۰۲۶ق پوری د کابل صو بدار و .

د جها نگیر په امر د بابر پاچا د قبر شنخته د ده پر قبر په کابل کی و درول سوه .

محمد صد یق هدایت کشمی د «مبداء و معاد» رساله دشیخ احمد مجدد سر هندی له افاد اتو ښخه و لیکله د شیخ قاسم متی زی د تذکره اولیای افغان د مؤلف وفات د هند په چنار گړ کی .

۱۶۰۸ م ۱۰۱۷ ق

دنیمروزملك شاه حسین دهرات له لاری حجاز او حج ته ولاړ .

۱۶۰۹ م ۱۰۱۸ ق

د نیمروز ملك شاه حسین له مکرانه را ستون سو (۱۵ شعبان).

۱۶۱۰م۱۰۱۹ق

میر معصوم نامی قند هاری په بهکر کی امین الملك و ، اوپه دغه ښار کی وفات او ښخ سو (جمعه ٦ ذی حجه) .

د نیمروز شاه ابو القاسم او شاه حبیب الله او امیر سید علی اوامیر حسن مړه سول .اوملك شاه‌حسین له فراه ښخه اصفهان ته ولاړ .

قند هاری ملا الف هوتك خپل پښتو بحر الایمان منظوم کیء.

حسن بن محمد الخاکی شیرا زی احسن التوا ریخ و کیښس ،چی د افغانی شا هانو احوال هم پکښی سته .

۱۶۱۱ م ۱۰۲۰ ق

احداد د عمر شیخ رو ښانی‌زوی دپښتنو قائد ، پر کابل حمله وکړه اوپه بالاحصار کی یی د معزالملك سره جنگ‌وکیء،چی‌داحداد ملگر ی بارکی په دی جنگ کی مړ سو ، نو احدادبیرته‌لوگرته ولاړ (دوشنبه ۲ صفر .

د جها نگیر له د رباره د پنجاب حکمران قلیچ خان کابل ته داحداد مقابلی ته مقرر سو .

احمدخان کنبودبهیگ خان زوی معدن اخبار احمدی (مجمع التواریخ) په هندکی دپښتنو پا چها نو پر احوال و کیښس .

امام الدین متی زی د شیخ کبیر زوی دتاریخ افغانی‌مؤلف په پیښور کی وزیږیدیء.

۱۶۱۳م۱۰۲۱

خواجه نعمت الله بن خوا جه حبیب الله هروی نور زی خپل د پښتنو تاریخ(مخزن افغانی) د هند په‌بر هان پور کی تمام کیء(جمعه ۱۰ ذی حجه – ۲۲ جنوری) په فارسی ژبه .

اخوند درو یزه ننگر هاری خپل فارسی کتاب تذ کرة الا برار والا شرار و کیښس .

خوشحال خان ختك د شهباز خان زوی د ختکو دا کوړی په‌سرای کی‌وزیږیدیء. دی د پښتو لو ی شاعر او قومی زعیم و (ربیع‌الثانی –مئی).

احمدیادگار په هند کی تاریخ شاهی ، یاتاریخ سلاطین افا غنه) وکیښس (دکلکتی چاپ ۱۹۳۹م).

۱۶۱۴م۱۰۲۳ق

ملك شاه حسین له نیمروز ښخه کیچ او مکران‌ته‌ولاړ(۱۷ شعبان) .

۱۶۱۵م ۱۰۲۴ق

احداد رو ښانی په چرخ کی د جها نگیر پاچاله لښکرو سره‌جنگ وکیء چی دری زره تنه ملگری یی مړه سول .او احداد د قند هار خواته ولاړ .

عبدالطیف د عبد الله عبا س زوی د بنیر او سیدونکی په تیراه کی د مولوی معنوی د مثنوی اتیا خطی نسخی سره مقابله کړی ،او یوه صحیحه نسخه یی ځنی جوړه کړه (د کابل او پیښور خطی کتابخانه).

میر عماد حسنی مشهور خطاط اونستعلیق لیکونکی چی ډیر وخت په هرات کی و، دشاه عباس په

امر د مسعود بك مسگر په لاس وواژه سو، مولانا ابوالبقا ،و سوی خرا سانی خطاط د ده معاصر و.

۱۶۱۶ م ۱۰۲۵ ق

میرزا ارشد برنا بادی هـــروی شاعر او مولف او خطاط په برنا باد کی وزیږیدیء .

د نیمروز ملك غیاث محمو دی او میر محمد وفات سول .

— ۱۶۱۷ م ۱۰۲۶ ق

مهابت خان دبنگښ د صو بـــی حکمران مقرر سو او رشید خان یی کژمکی و . (ربیع الاول) .

خان دو ران شاه بیگ‌خان کابلی دتهتی صو بدار سو ، او په عوض کی قلیچ خان د کابل صو بـــدار سو .

۱۶۱۷ م ۱۰۲۷ ق

د لاور خان کـاکـړ د کشمیر صوبدار مقرر سو .

شاه حسین بن ملك غیاث الدین **محمد دسیستان دملکانو تاریخ‌احیاء** الملوك تالیف کیء .

۱۶۱۸ م ۱۰۲۸ ق

د احداد روښانی او امان الله د مهابت خان زوی دجهانگیری لښکر مشر جنگ او د احداد ماته .

د نیمروز ملك جلال الدین محمود اصفهان ته ولاړ .

ملایحیی محیی دهرات خطاط او شاعر وفات سو .

۱۶۱۹ م ۱۰۲۹ ق

د جهانگیر له خوا خواجـــــه **عبد العزیز نقشبندی د بهادر خان اوزبك پر ځای د قندهار صوبدار اوبا با خواجه ئی کومکی مقرر سو.**

۱۶۲۰ م ۱۰۳۰ق حدود

پیر محمد حنیف پلوسی پرانمجموعهٔ تاریخ افغانان وکیښ . لهمخـــزن افغا نی او اسرار الا فغان‌اوتذکرهٔ ابرارو اشرار څخه اقتباس(دپیښور موزیم خطی نسخه) .

ابراهیم بیتنی دنعمت‌الله هروی پرمخزن افغانی‌باندی الحاقات زیات کړل .

۱۶۲۱م۱۰۳۱ق

د شاه‌عباس صفوی لښکر وقندهار ونیویء او خواجـــه عبـد العـزیز دجهانگیر حکمران تسلیم سو(جمادی الاولی).

شیر خان ترین د پښین ملـــی مشرو .

۱۶۲۲ م ۱۰۳۲ ق

د شاه عباس صفوی له خوا گنج **علی‌خان دقندهار حکمران سو .**

حسین خان په پښتو او فارسی تواریخ افغان وکیښ .

۱۶۲۳ م ۱۰۳۳ ق

مدار المها م خواجه ابوالحسن د کابل حکمران اودده زوی احسن‌الله ظفر خان یی په وکالت دجهانگیرله خوا مقرر سول .

د پیر سباك د کلی پیر معظم شاه په هند کی تواریخ حافظ رحمـــت خانی د خواجو ملیزی د توار یـخ افاغنه څخه اقتباس او لنډ کیء .

۱۶۲۴م۱۰۳۴ق

شیخ احمد مجد د الف ثانـی د مولانا عبدالاحد کابلی نقشبند ی زوی ۶۳ کلن په سر هند کی وفات

او ښخ سو (سه شنبه ۲۸ صفر) .

میر محمد صلاح او بهی خطـاط د شرازی عرفی کلیات پـه هرات کی وکیښ (د هرات د ملا محمد علی خطاط نسخه)

مولانا شیرعلی هروی‌خطاط ژوندیو

۱۶۲۵ م ۱۰۳۵ ق

جهانگیر د پیښور له خوا کابل ته رغی (یکشنبه۲۱ شعبا ن) دی له‌کابله ددی کال پـه آخـر کښی هند ته ولاړ .

د احداد روښانی پـه مشری د تیراه د پښتنو او د جهانگیر دکابل دحکمران ظفر خان ترمنځ جنگ‌اود **احداد وژل او دده پری کړی سر** ډهلی ته استول .

تر ده وروسته ئی زوی عبدالقادر روښانی پر ځای کښینوست .

۱۶۲۵ ـ۱۶۳۴ م۱۰۳۵ ـ۱۰۴۴ق

عبدالقادر د احداد روښانی زوی د پښتنو مشرو .

۱۶۲۶ م ۱۰۳۵ ق

د بهاکـو خـان یـوسف زی او د کی .

شهباز خان ختك جنگ‌پهجهانگیره کی امیر خلیل قلندر هـراتی خطاط په حیدر آباد د کن کی وفات سو.

د کابل په جلگه کی دراجپوتانو او کابلیانوجنگ‌او د۹۰۰ راجپوتو **وژل او ۵۰۰ را جپـوت نیـول او خرڅول .**

یحیا سبز واری هروی منشی او شاعر په مکه کی وفات سو .

۱۶۲۷ م ۱۰۳۶ق

د نـظام الدین بن عبدالشکـو ر بلخی حنفی‌مفسر دریاض القدس **او شرح لمعات عراقی د مولـــف** وفات .

۱۶۲۸ م ۱۰۳۷ ق

جهانگیر د جلال الدین اکبر زوی په لاهور کی ۶۰ کلن پسله ۲۲ کاله پاچهی وفـات شو او د ده ز وی شاهزاده خرم د شهاب الدین محمد شاه جهان په نامه په آگره کی پاچا سو (دوشنبه ۷ جمادی الثا نیه ۱۶۲۸ ـ ۱۶۶۵ م ۱۰۳۷ـ۱۰۷۶ ق د شاه جهان ین جهانگیر پاد شاه د پاچهی دوره .

۱۶۲۸ م ۱۰۳۷ ق

ندر محمد خان د ماورا النهر پاچا او د دمزوی عبدالعزیز بامیان ونیوی او په قلعه ضحاك کی خنجر خا ن محاصره کیء (۱۵رمضان) وروسته ئی دری میاشتی‌کابل هم کلابندکیء **خوجی شاه جهان خواجه ابوالحسن** مهمند او مها بت خـان د ۳۵ روز **لښکرو سره کابل ته راواستول (۱۵ ذیقعده)**

۱۶۲۹ م ۱۰۳۸ ق

د شاه جهان لښکر راورسید ل او کابل ئی د ندر محمد خان لـــه محاصری څخه خـلاص کیء(جمعه **۱۶ محرم) ندر محمد خان دغوری له لاری بلخ ته ولاړ .**

د مهابت خان له خوا عوض بیگ د ضحاك د کلا په قلعه داری مقرر سو .

شیر خان ترین د حسن خان زوی د قندهار او هند تر منځ دپښین‌لار **ونیوله او د قندهار د صفوی‌حکمران** علی مردان خان سره ونښت .

کامران خان سد وزی په قندهار کی خپل کتاب (کلید کامرانـــی)

وکیښس .

پیر علی‌هروی خطاط د عبدالرحیم عنبرین قلم زوی د سعدی گلستا ن په ښکلی نستعلیق د شاه جهان د کتابخانی لپاره وکیښس (۲٤ صفر غره آبان دکابل د خطی نسخـــو کتابخانه) مخلص الدوله افتخارخان کابلی د احمد بیگ اتکه زوی دجمون فوجدار شو .

۱٦۲۹ م ۱۰۳۹ ق

د کمال الدین پښتون غور ځنگ او په یو لم گذر کی د عبدالقادر او کریمداد او محمد زمان روښانیا نو په ملگری د دهلی له لښکرو سره جنگ او د پیښور کلابند کول او د سعید خان صوبدار مقاومت .

۱٦۳۰ م ۱۰٤۰ ق

پیرا خان د دولت خان زوی چی په (خان جهان لودی) مشهور او د هند لوی امیرو دشاه‌جهان دلښکرو سره په جنگ کی و واژه ســـو (دوشنبه غره رجب)

میرزا خان د نورالدین روښانی زوی د پښتو شاعر په دکن کـــی وواژه سو .

احمد بیگ‌اتکه کابلی دشاه‌جهان له خوا د ملتان فوجدار شو .

دریا خان رو هیله دا و دزی په هند کی ووژل سو .

محمد عالم بن شیخ محمد صالح ندایی سمر قندی د غزنی خان لپاره دغزنی دمشایخو تاریخ (مرآه‌الاولیا) وکیښس . (د تاشکند خطی نسخـــه ۱۰۹٦ ق)

سید عبدالوهاب د سید غـــاز ی زوی مشهور مجاهد او عالم اومولف (اخوند پنجو) د پیښور په اکبر پوره کی ۹٦ کلن وفات او ښخ ســـو (دوشنبه ۲۷ رمضان) دی په ۹۹۰ ق اکبر پوری ته راغلی و او دپښتو کنزالد قایق ئی‌منظوم کیء.

۱٦۳۱ م ۱۰٤۱ ق

خواجه خضر خان د سدو خان زوی د قند هار مشر شو د ده نور وروڼه مغدود خان ـ زعفران خا ن کامران خان ـ بهـادر خان ورسره ملگری وو .

شیر خان ترین له پښینه پرسیوی لشکر کښی‌وکړه او د صفوی‌لښکرو مشر علی مردان خان له قند هاره پرپښین حمله وکړه او شیر خان‌د ملتان له لاری د شاه جهان در بار ته پناه وروړه (رمضان)

۱٦۳۲ م ۱۰٤۲ ق

رحمان بابا د پښتو صوفی شاعر د پیښور په بهادر کلی کی وزیږیدی دی دعبدالستار مومند زوی‌و (وفات ئی ۱۱۱۸ ق)

اسد خان د معصوم کابلی زوی د غزنی تهانه دار شو .

۱٦۳٤ م ۱۰٤٤ ق

سعید خان دکابل حکمـــرا ن عبدالقادر روښانی او الله داد د جلال الدین روښانی زوی ونیول او په هند کی بند یان شول .

۱٦۳٦ م ۱۰٤٦ ق

عبدالقادر د روښانی احداد زوی په پیښور کی محبوس وفات سو.

۱٦۳۷ م ۱۰٤۷ ق

کریمداد د جلال الدین روښانی زوی په پیښور کی د شاه جهـا ن په حکم وواژه سو . (رمضان)

شاه جهان د کابل حکمران سعید خان وگو ماره چی د قندهار دنیولو هڅه و کی ، د قندهار حکمران علی مردان خان د ملك مغدود او ملـك کامران د سدو خان د زامنو پـــه ملگری د صفو یانو اقتدار په‌قندهار کی‌ختم کیء اودشاه جهان لښکرو قندهار ونیو (۲۳ شوال) او سعید خان‌دشاه جهان‌له خوا دلته‌حکمران سو (۱۷ ذیقعده)

سیاوشس د صفوی لښکرو مشر پرقندهار راغـی او د سعید خـان سره ئی په سنزری کی جنگ وکی. خو مات سو نو اولاړ او د قندهار د غربی خوا کلا وی د شاه جها ن لښکرو ونیولی (دوشنبه ۲٦ذیقعده)

۱٦۳۸ م ۱۰٤۸ ق

سعید خان د شاه جهان لښکر مشر د قند هار مشران ملك‌مغدود سدوزی او ملك علاول ترین اوحیات ترین د ځان ملگر ی کړه او ساروان کلائی ونیوله وروسته ئی د زمیـن داور ښار کلابند کی ء او په ۱٦ صفر ئـی له رو ښن سلطان څخه ونیوی .

سعید خان په ۲۳ دربیع الثا نی کلابست له محراب خانه څخه ونیو اود ربیع الثانی په ۲۱ ورځ ئـــی له صفی قلی څخه گریشس هم ونیو او په‌دی‌پول‌دقندهار ټوله سیمه د شاه جهان لښکرو لاس ته کـړه (۸ جمادی الاولی)

اخوند درویزه ننگرهاری‌د گدای زوی په پیښور کی مړ او ښخ سو (د پښتو مخزن اسلام او فار سی تذکره الابرارو والاشرار او ارشاد الطالبین مولف)

۱٦۳۹ م ۱۰٤۹ ق

شاه جهان له پیښوره کابل‌ته راغی (۲۵ محرم) داراشکوه ئـــی غزنی ته واستاوه اوسعید خان ئی دهزاره‌جات دپلنگتوش د غورځنگ مقابلی‌ته واستاوه اوهغه دهـزاره مشر میراسماعیل‌د ۲۷ تنو مشرانو سره کابل ته راوستل (۲۱ صفر)

دقندهار مشران ملك مغـدوداود کامران سدوزی په کابل کی شاه جهان ته راغلل او پخپله پاچا له کابله لاهور ته‌ولاړ (۲۵ ربیع‌الثانی) قلیچ خان د قند هار اوسعید خان د کابل حکمران سول .

ملك او دل د قندهار قومی مشر او ملك حمزه د سیستا ن د ملـك جلال‌الدین زوی سره ملگری سو ل اردهلمند په خانشین کی په ملـی غور ځنگ لاس پوری کیء خوملك او دل په جنگ کـی ووژل سو او حمزه د سیستان قلعهٔ فتح ته ولاړ (شعبان)

اشرف خان هجری د خوشحال خان زوی د پښتو دیوان خاوتـد شاعر په اکوړه کی وزیږیدی .

قاضی تولك د بلخ قاضی القضاة په بلخ کی وفات شو .

د بنیر عبـداللطیف عـباسی د مولینـا بلخـی د مثنوی او حدیقه سنایی د نسخو مرتب او د لطایف اللغات مولف وفات شو .

۱٦٤۰ م ۱۰۵۰ ق

محمود ابن‌ولی‌خپل دائرةالمعارف د بحرالا سرارفی مناقب الاخیار

په نامه د ندر محمد خان لپاره په بلخ کی په فارسی وکیښی دا کتاب په ۱۰۴۴ ق شرو سوی و (خطی د شوروی کتابخانی) علی مردان خان د کشمیر حکمران د کابل او صفدر خان د قند هار او سردار خان د بنگښی په صوبداری مقرر شول (شوال)

ملك مغدود خان او کا مران د سدو خان زامن د قندهار مشر ان دهلی ته ولاړل .

دمولانا نورالدین هروی‌خطاط وفات.

خواجه محمد صدیق هدا یت بدخشانی نقش‌بندی صوفی اوشاعر په‌دهلی کښی وفا ت شو (شوا ل)

حسین شهابی هروی‌خطاط په هرات کی ژوندی و.

۱۶۴۰ م ۱۰۵۰ ق حدود

داخوند قاسم شنواری پاپین خپل د پښتو فواید الشریعه د مولف د ژوند وخت .

په همدغه وخت کی با بوخا ن د پښتو بل مولف ژوندی و .

خدا داد سلطان (خود کسی) سدوزی دخضر خان زوی دقندهار مشرو ده د خپلی سیمی تك له غلجو سره د جلدك پل سنگی وتاکه ، زوب او بوری ئی هم ونیول .

۱۶۴۱ م ۱۰۵۱ ق

داخوشالخان ختك حکمرانی په ختکو کی

– ۱۶۴۲ م ۱۰۵۲ ق

دشاه صفی صفوی سپه سا لا ر رستم خان گر جی دقند هار نیو لوته وگو مارل سو، خوشاه جهان‌شهزاده دارا شکوه اومرادبخش دپیرولښکرو سره قندهار ته را واستول.

خکه‌چی شاه صفی په۱۲ صفر مړسو، نو پر قند هار لښکر کشی‌هم وخنډیده او دواړه شهزادگان بیر ته هند ته لاړل (۱۵جمادی‌الاخری)

حسن خان شاملو دهرات حا کم‌او تکړه نستعلیق لیکول په هرات کی وفات او ښخ سو.

دسعادت‌خان دخوشحالخان دزوی ولادت (۶محرم–۱۷ اپریل)

۱۶۴۳ م ۱۰۵۳ ق

ملك مغدود سدوزی د قند هار مشر دکابل دیوان میر یحیی سره په جنگ کی وواژه سو.

نودی معزول سو او پر ځای ئی میر صمصام الدو له کابل ته مقرر سو.

خلیل بیگ دغوربند اوقلعهٔ‌ضحاك تهانه دار سو .

بهرام خان دخو شحال خان ز وی وزیریدیء (ربیع‌الاول – جون) .

۱۶۴۴ م ۱۰۵۴ ق

صفدر خان دقند هار صو بدارمړ سو او پر ځای ئی سعید خان ظفر جنگ مقرر سو .

را جه جگت دکلات قلعه دار کابل ته مقرر او پر ځای ئی خا نه زادخان دسعید خان زوی مقرر سو .

پر دل خان بریخ دبست او گریش قلعه دار سو ورو سته نو خان زاد خان دزمینداور قلعه دار سو او دده ورور عبدالله کلات ته مقرر سو.

ندر محمد خان خپل زوی سبحان قلی دپلنگتو ش پر ځای بلخ ا و بدخشان ته را واستاوه او پر قندهار هم دصفو یانو دحملی خطرو، نوراجه

جگت اوقلیچ‌خان قندهارته واستول سوه (ربیع‌الاول)

۱۶۴۵ م ۱۰۵۵

محمد طا هر بن قاسم (ابولقا سم) خپل کتاب عجائب الطبات په بلخ کی دندر محمد خان لپاره تا لیف کی ء (دکابل خطی کتا بخانه اوداز بکستان اکادیمی علوم) .

اصالت خان او علی مردان خان دندر محمد خان مقا بلی ته له کا بله غوربندته اولاړل (۲۶ جمادی‌الاولی) او په هندو کش او اندراب‌کی‌جنگونه وکړه. نو شا هزاده مراد بخش د۶۰ زرو لښکرو سره د شمالی‌افغانستان دنیو لو لپاره له لاهوره کابل ته را رهی سو.

خو شحال خان ختك دشاه جها ن په لښکرو کی تر اندراب‌اوبد خشانه ولاړ .

۱۶۴۶ م ۱۰۵۶ ق

شاهزاده مراد بخش له پیښو ره کابل ته راورسیدیء (۹ربیع‌الثانی) اوپه ۲۱چاریکارته ولاړ اودربیع الثانی بغه ۲۲پخپله شاه جهان هم دوهمه پلا

کابل ته راغیء .

شاهزاده مراد بخش مراد بخش شمالی افغا نستان تر بلخه پو ر ی ونیوی (۳جمادی الثانیه) ندر محمد خان دشبر غان په جنگ کی ما تاو مرو ته و تښتتیدیء.

شهزاده مراد بخش دبلخ تر نیولو ورو سته کابل راغیء اود شاه جهان له خوا مدالمهام سعد الله خان دشمالی‌و لایاتوحکمران‌او نورحاکمان هم داسی مقرر سول:

دبلخ صو بدار بهـا در خا ن داؤود زی.

دبد خشان حا کم قلیچ خان اونظر سهادر خو یشکی .

داند خوه حا کم رستم خان او راجه پهار.

دغوری حاکم شاه بیگ خان.

دمیمنی حاکم شاد خان.

اند خود قلعه دا ر دو لت خان.

دخان آباد حا کم حیات ترین.

درستاق حاکم خنجر خان.

د شبر غان حاکم جبار قلی .

دسر پل او سان چار یك حاکم خوشحال بیگ.

دآقچی حاکم شاد مان پکلی وال.

دخلم حاکم خوا جه عبدالعزیز.

ددره گز حاکم پهار لوا نی.

دبابا شا هو حاکم محمد شاه قدیم.

دنارین حاکم شاه محمد.

دمو من آباد حاکم شیخ فتح الله .

دایبك حاکم افلا طون بیگ.

درباط ریز گان حاکم سلطان بایزید.

دخنجان حاکم میرك‌بیگ.

ددو شاخ حا کم عبد ا لغفو ر بیگ .

دفتتح آباد حاکم فرخ حسین .

دقر یشك حاکم محمد زمان.

داندراب حاکم قاسم بیگ.

دکو لاب حا کم جلال‌الدین‌دروازی.

شپیو زرو الما نانو پر قندوزحمله وکړه، خو را جروپ دقند وزلښکری مشر دوی و شړل او ښارئی وسا ته

(رجب) دوی‌اندخوډ چور کیءاو تر آمو واو ښتل .

دشاه جهان په امـــر دبا بر شاه دمر مرو سپین مسجد په ځلو ینښت زره روپۍ جوړ کړه سو.

دشاه جهان په امر دنملی باغ‌ودان سو .

محمد صالح کمبود (محاربهٔ بلخ) کتاب ددی ښار دکلا بندۍ په شرحه کې و کیښې (دبر تا نیا دمو زیم‌خطی نسخه)

محمد یوسف دشیـــخ رحمت الله انکی زوی‌منتخب التواریخ وکیښې (دکیمبرج خطی کتابخانه) دشاه‌جهان له‌خوا خواص خان دقنـــد هار پـــه صوبداری او خواجه عبدالـــر حمـــن دبد خشان بخشی او سعا دت خا ن دتر مذ په قلعه داری او سید اسدالله دزمینداور په‌حکمرا نی‌اوذوا لقدرخان خان دکابل په قلعه داری‌مقرر سول او پخپله پیښور ته لاړ (۲٦ شعبان)

۱٦٤٦ م ۱۰۵٦ق حدود

الهام داد دالله داد رو ښنا نی زوی دهند په نا ند یر کې و فات سو .

۱٦٤۸ م ۱۰۵۸ق

شاه عباس صفـــوی د (۵۰) زرو لښکرو سره قند هار تر دوو نیمـــو میا شتو کلابندۍ ورو سته و نیـــو (۹صفر) او محراب خان ئی‌دکلابست او زمینداور په نیولو و گو ماره ا و پخپله بیر ته دهرات له لاری ایر ا ن ته ولاړ.

ځکه چی دا فغا نستان پر شما لی ولایاتو حملی کیدی او عبدالعز یز خان دندر محمد خان زوی پر بلـــخ راتیءِ اوپخپله ندر محمد خان‌هم له ایرانه‌راغیءِ نو شاه جهان کابل تـــه راغی او شهزاده او رنگ زیـــب ئی دهندو کش شمـــال ته واستاو ه (سلخ ربیع‌الاول) دهد عبدا لعز یـــز خان له لښکر و سره سخت‌جنگونه وکړه اوهغه ناچاره سو چی‌ور آمو آمو واړوی (۱۸ جمادی‌الاولی) .

شاه جهان د رجب په میاشت کـــی له کابله پیښور ته رهـــی سو ا و شهزاده او رنگ زیب هـــم پـــه ۱٤ شعبان له بلخه کابل ته ولاړ.

له بلخه تر میمنی پوری سیمـــی ندر محمد خان او دده زوی‌عبدالعزیز خان ته پا ته سوی.

الله‌داد دجلال الدین رو ښا نی‌زوی (رشید خان) په دکن کې و فات‌سو.

۱٦٤۹ م ۱۰۵۹ ق

دو لت خان سدوزی دقـــند ها ر کوټوال ته دو هم صفوی شاه عبا س یو ددوستی فر مان صادر کیءِ اود قندهـــار مشر سو ، ده د صفـــو ی حکمران زمان خان سره جنگـــو نه وکړل، او آزاد حکمران و، دده پـــه وخت کی حیات سلطان او لښکر خان دسلطان خدا داد زامن دشپږ و زرو ابدالی کورنیو سره‌ملتان ته ولا ړل شهزاده او رنگ زیب دملك‌حسن افغان په‌ملگری راغیءِ اود قند هارپه ښارکې صفوی حکمران محراب خان کلابند کیءِ (۱٤جمادی الاولی) شاه عباس محراب کو مك ته ۳۰ ز ر ه سپاره واستول او دقندهار په‌سیمه کی سخت جنگو نه و سوه. په د غه

وخت کی شاه جهان خلر مه پلاکابل ته راغی، خو قند هار ئی صفویانوته پر ینبواد اود روژی په میا شت‌بیرته لاهور ته ولاړ، او رنگ‌ز یب هـــم دقندهار محاصره پـــر ینبوه او لاهور ته ولاړ (ذیقعده).

مولانا نور محمد (محمد یـــو نس) داباسین د کـــوهستان مجـــاهد او مدرس وفات سو .

۱٦۵۰ م ۱۰٦۰ ق

شاهزاده شیر خان دخضر خا ن سدوزی زوی دقندهار مرز بان‌وده خپل ر قیب حسین دمغدود خان‌زوی ملتان ته و شاړه او توالو ابـــدالـــیو تر فراه پوری دی په مشری و مانه، بدال خان با میزی اومیر الکو ز ی هم دده تا بعان وو .

حاجی عبدالعلی تالقانی منشی او دانشاء دکتاب مؤلف په هند کی مړ سو .

شیخ امام الدین محمد عنا یت الله دشیخ کبیر بالا پیر متی زی ز و ی دتاریخ انساب‌افغانی‌مولف په‌پیښور کی مړ او ښخ سو (ولادت ۱ محرم ۱۰۲۰ق).

۱٦٤۳ م ۱۰٦۱ ق

شاه جهان خپل زوی او رنگ‌زیب د٦۰ زرو لښکرو ٤۰ تو پو او لسو جنگی فیلانو سره دملتان له لا ر ی پر قند هار را واستول (۱جمادی ـ الاولی) او شاه جهان هم پنځمه پـــلا کابل تـــه راغـــیءِ (۱٦ ربیع الاول) قند هار دوی میا شتی کلا بند سو، خو او رنگ زیب نا کامه کا بل ته ولاړ، او شاه جهان هم له کا بله پـــه ناکامی هند ته ستون سو (رمضان) اودارا شکوه‌ئی دکابل په حکمرا نی پرینبو.

میر من نازو تو خی دسلطان ملخی لور دمیرویس خان مـــور دپښتو شاعره دقلات په‌توخو کی و زیږیده.

قاضی محمد اسلم هروی مشهور عالم اود کابل قاضی و فات او پـــه لاهور کی ښخ سو .

میرك بلخی شا عر (فکـــری) پـــه اصفهان کی و فا ت سو.

۱٦۵۱ م ۱۰٦۲ق

شاه جهان خپل زوی دارا شکـــوه دیو لکو لښکرو او ٥٤ تو پو او ۱۷۰ جنگی فیلانو سره دکابل له خوا پر قندهار را وا ستاوه او ودریمه پلائی محراب خان صفوی په قند هار کـــی کلابند کیءِ خـــو تـــر (٥) میا شتو کلا بندی ورو سته نا کامه هند ته ستون سو (ذیقـــعـــده) او قند هار صفو یانو ته پا ته سو.

خواجه فاضل بیگ دکابل ا میر وفات سو، قبر او شنخته ئی د کابل په عاشقان او عارفان کی ده.

۱٦۵۲ م ۱۰٦۳ق

دشیخ رحمکارکستیرکاکا صاحب بن‌ابك صاحب مشهور صو فـــی او مر شدوفات ۸۰ کلن جمعه ۲٤ رجب مساوی ۲۱جون. دی دپیښور د نـــو ښاره سره ښخ اردکاکا خیلو نیکه دی. (ولادت جـــمـــعه ۱ ر مـــضان ۹۸۳ق).

رشید خان بدیع تو نـــی لطایف الاخبار یا تاریخ قند هـــار و کیښې، دتیر کال دکلابندی‌حال .

(دبر تانیا دموزیم او انډ یاآفیس خطی نسخی).

۱۶۵۳ م ۱۰۶۳ق

عبدالقادر خان دخوشحال خان‌زوی دپښتو شاعر او مؤلف و ز یږ یدیء (۲۵ ذی حجه = نومبر) .

موبد شاه په دبستان مذا هب کی دروښانیانو ښه معلومات وکښل.

توکل بیگ بن لو یـــك (تولك) بیگ حسینی وا قعه نو یس په غزنی کی دشا هنا می منتخب او منشور کتاب (تاریخ‌دلکشای شمشیر خانی) دغزنی د حکمران شمشیـر خـا ن لپاره و کیښ.

(دکابل خطی کتابخانه اودبر تش موزیم خطی نسخه).

۱۹۵۴ م ۱۰۶۴ق

بنگښو سره د خوشحال خان او ختکو جنگ.

مبارك خان نیازی دمحمد خان زوی دښگښ د صو بی تنها نه دارسو.

۱۶۵۵ م ۱۰۶۶ ق

هادیداد دجلال الدین رو ښا نی زوی دهند په نا ندیر کی وفات‌سو.

۱۶۵۶ م ۱۰۶۷ ق

بهنا در خان افغان دکابل مستقـل صو بدار معزول او پـــر ځای ئـی دشاه جهان‌له درباره رستم‌خان‌مقرر سو. ددغه کال دلوی اختردمیاشتی په اومه شاه جهان نا رو غه سو ا و او رنگ ز یب پر و لیعهد داراشکوه غالب سو او ډهلی ئی و نیویء.

دصا لح محمد زایر بد خشی‌شاعر وفات.

۱۶۵۷م۱۰۶۸ق

شاهزاده او رنگ زیب عا لمگیر محی الدین خپل پـلار شاه جـهان ونیویء اود هند پاد شاه سو(غره ذیعقده) دی دشاه جهان دریم زو ی‌ؤ چی‌په ۱۵ ذیقعده ۱۰۲۷ق زوکړی‌و ۴۰ کلن پر تخت کښېنو ست اوخپل ورور دارا شکوه ئی وواژه.

حیات تر ین دعلی خان تر ین زوی دکابل حکمران سو.

۱۶۵۸ م ۱۰۶۹ ق

شاه حسین دمغدود خان سدوزی زوی دهند په رنگپور کی مړ سو . دی دملتان دسدوزو ناظمانو شجا ع خان‌او شریف خان اومظفر خان رکن الدو له نیکه کیږی.

داو رنگ زیب‌له‌خواپه افغانستان کی دغه مأ مورین وو.

مهابت خان دکابل صو بدار.

مغول خان او سعادت خان دکابل کومکیان

رعایت خان او اسحاق خان‌دکابل بخشیان..

میر یعقوب دکابل دیوان.

شمشیر خان دغزنی حاکم.

سعـــید خان دبنپراو نو ښا ر فوجدار.

۱۶۵۹ م ۱۰۷۰ ق حدود

ښالم خان دکرم خان هو تك زوی دکلات دسیمی مشر و ، چی نا ز و دسلطان ملخی تو خی لورئی وکړه.

ملا شاه بد خشی عالم او صو فی وفات سو .

۱۶۶۰ م ۱۰۷۱ق

میرك هروی عالم دداراشکوه‌معلم او دیوان حرم په هند کی مړ سو .

۱۶۶۱ م ۱۰۷۲ ق

عبدالکریم (کریمداد) داخـو ند در ویره زوی دپښتو مؤلف و فات سو.

۱۶۶۲ م ۱۰۷۳ ق

محمد حسین بن حسین‌سبز واری محدث اواخباری زبدة الاخبار تألیف کړ ۱۷ ربیع الاول.

۱۶۶۴ م ۱۰۷۴ ق

سید امیر خان دپیښور صو بدار خوشحال خان بندی‌کړ (جمادی ـ الثانیه = جنوری) او ډهلی ته ئی بندی واستاوه (رمضان = اپریل) ضیاء الـد ین حسین اسلام خـــان (والا) تخلص قطغنی خوستی شاعر اود کشمیر صو بدار په اکبر آبادکی مړ سو .

۱۶۶۵ـ م ۱۰۷۵ ق

خوشحا ل خان له ډهلـی ښخـه رنتبو رته بندی واستول سو.

خر می بد خشی شا عر اولیکوال رو ضة العشاق دسعـدی دگلستان په تقلید و کیښ (خطی) .

۱۶۶۵ م ۱۰۷۶ ق

خو شحال خان دستار نا مه پـه پښتو نثر و کښله . (۱۷ربیع الاول = ستمبر) داکتاب دده دجهانداری سیاسی نظریه څرگندوی .

شاه جهان چی ۳۱ کاله د هند او افغانستان پاچا ؤ ، تر اته کاله حبس ورو ستته ۷۶ کلن په آگره کی مړ سو (دو شنبه ۲۴ رجب).

۱۶۶۶ م ۱۰۷۷ ق

امیر خان دکابل صو بدار معزول سو او پر ځای ئی محمد امین بخشی مقرر سو (ذیقعده)

په پکهلی او مهابن‌کی دباکواوملا ځالاك او سلطان محمود گډون پـه مشری دپښتنو یوسفزو غور ځنگ اوداتك د فوجدار کـامل خان سره دوی جنگونه، چی‌دهزاره په‌جنگ‌کی دوه زره تـنـه مـړه سوه (شوال) خو شحال خان دډهلی په بازار کی له آسه ولو یدی او پښه‌ئی ما ته‌سوه (غره رجب = دسمبر) .

توماس هیکس دجان هیکس‌زوی انگر یز ی گ ر ز ند و ی په کا بل کی مړ او ښخ سو. (۱۱ اکتـو بر)

۱۶۶۷ م ۱۰۷۸ ق

دډهلی له خوا حکمران شمشیـر خان اودیوسفزو جنگ‌په‌شاه منصور کی، او د شمشیر ما ته (دمـحـرم منځ = دجولائی اوایل)

مهابت خان دسیدامیرخان پرځای دکابل صو بدار مقـرر سو او هغـه د یوسفزو دایلولو لپاره خـوشحال خان هم له ډهلی ښـــخه ور سـره را وست .

۱۶۶۹ م ۱۰۷۹ ق

مهابت خان دمغو لیه در بار له‌خوا دکابل او پیښور صو بدار دیوسفزو په سیمه کی دلنگر کوټ جنگـی‌کلا جوړه کړه.

علی مکی بن طیفور بسطـــا می د شاهنامی دلغاتو شرح او کښلـه

۱۶۶۸ م ۱۰۷۹ ق حدود

ایمل خان مهمند په خیبر کـــی دایمل شاه په نامه سکه وو هله ا و محمدامین دکابل صوبدار ئی مـات کړ اودخوشحال خان ختك په گډه او رنگزیب ته ولاړ سو ل.

۱۶۶۹ م ۱۰۸۰ ق

داور نگزیب دلښکر مشر اغر خان دکابل دصو بدار فدایی خان پـــه مرسته په علی مسجد کی دپښتنـو سره و جنگیدی، خو تر خیبر ر اتیر

نسو .

خوشحال خان کابل ته راغیء .

میا محمد معصـــو م مجـــددی نقشبندی د حضر ت شیخ احمـــد مجدد زو ی په سر هند کی و فات سو .

محمد صالح هرو ی خطاط دهرات دسعد په مسجد نو شته و کښله .

۱۶۶۹ م ۱۰۸۰ ق حدود

سر مست خان‌دشیر خان سدوزی زوی دقندهار مشرؤ .

عبدالحلیم دعبدالله زوی دا خو ند درویزه لمسی دپښتو مـــو لـــف ژوندی ؤ.

حاجی یاد گاربلخی استادنستعلیق لیکونکی ژوندی ؤ .

۱۶۷۰ م ۱۰۸۱ ق

مها بت خان دکابـــل صـــو بدار پیښور ته ولاړ (۱۰ ربیع الاخر = اگست) .

شهزاده محمد اعظم له کا بلـــه لاهور ته و لاړ او امیر خان دخلیل خان زوی دکابل صو بدار اواغر خان ئی کو مکی سو .

او رنگ زیب دری کاله پـــه‌حسن ابدال کی پښتنو په مقابله کی تیر کړه او ډهلی ته ولاړ .

میر محمد شفیع هروی (شفیعا) مشهور خطاط ، ادیب، نقاش‌اومذهب وفات سو.

۱۶۷۲ م ۱۰۸۳ ق

دایمل خان او خو شحا ل خان‌په مشری دپښتنو غـــور ځنگـــك دهـــند دمغولی حکو مت پر خلاف .

دخیبر په لنډی خانه او تا تره‌کی دمحمد امین خان صو بدار د ۴۰زرو لښکرو سره دشنوارو او مو مند و او اپریدو جنـــگ د ایمل خـــان په مشری اود مغولو دلښکر تبا هـــی (۳محرم = امئی)

امیر خان دکابل صو بدار اوا غر خان فو جی کو مکی دایمل‌خان سره په لغمان کی سخت جنگ و کی ء .

فدا یی خان داور نگز یب نو ی صو بدار پیښور تـــه را غـــیء ا و مستحاب مو مندنی مړ کی ء . تردی ورو سته دده پر ځای بیا مها بت‌خان مقرر سو .

۱۶۷۳ م ۱۰۸۴ ق

دخوشحال خان جنگونه له خپـــل زوی بهرام خان سره چی‌دمها بـــت خان صو بدار په لمسون جنگیدیء .

خو شـــحال خان له در یـــا خان اپریدی اوتا تارخان‌او شاه بیگ کوهاتی اوملك خواص خان اونورو پښتنو مشرانو سره دتیراه‌په‌راجگل کی لویه جر گه و کړه او پر نو ښار باندی دحملی کو لو فیصله ئی‌وکړه.

ددی کال په منځ کی خـــوشحال اوتاتار اپریدی د اپریدو او خـــټکو په‌کومك پرنو ښارحمله وکـــړ ه او عالمگیر دپښتنو مقا بـــلی تـــه شجاعت خان اومها راجه جسو نت سنگه را ولیږل (۱۷ شعبان) .

ایمـــل خـــان مومند او پښتنـــو کړه‌کی دعالمگیر صوبدار شجاعت خان اودده په زرو لښکرو وو ژ ل (۱۸ ذی قعده = فبروری) .

ددغه کال په آخره میاشت ذی‌حجه کی دریا خان او اپریدو دکو ها ټ

پرکلا حمله وکړه، خوشیر محمد خان دکلا ساتندوی دوی و شړل اوتاتار خان ددریا خان اپریدی ورور په‌دی جنگ کی ووژل سو .

۱۶۷۴ م ۱۰۸۵ ق

او رنگ زیب عا لمگیر دهند پاچا دپښتنو دمقابلی اود خو شحال خان دماتولو لپاره حسن ابدال ته راغیء. (۱۱محرم = اپریل) او خو شحا ل خان تیراه ته‌ولاړ(غره ربیع الا ول = جون) وروسته نو دیوسفزو سیمـــو ته راغیء او عا لمگیر پیر محمد اغر خان دپښتنو مقا بلی ته مقرر کیء .

شهزاده محمد اکبر اوفدایی‌خان صو بدار دعا لمگیر له خوا کابل ته واستول سوه (رجب = اکتوبر) دوی دپښتنو سره ډیر جنگو نه و کړ ل اوددی کال په آخر کی فدا یی خا ن له کابله پیښور ته را غیء.

۱۶۷۵ م ۱۰۸۶ ق

دپښتنو قبایلو دایمل خان او دریا خان په مشری دعا لمگیر لښکر چی مکرم‌خان او شمشیر خان ئی‌مشرانؤ په خا پخ کی ټوله تباه کړل،شمشیر خان ددریا خان په لاس وو ژ ل‌سو اومکرم خان زخمی وتښتیدی ء .

دخاپخ دپښتنو فتح‌په ربیع الاول = جون کی وه.

د خاپخ ترمانی وروسته عالمگیر بخشی الملك سر بلند خان‌دنوزرو سپرو سره دپښتنو مقابلی تـــه مقرر کیء اغر خان ئی دجـــلال آباد تهانه دار او هر بزخان ئی جگدك او الله داد خان یی لنډی کوتل او خنجر خان ئی بنگښوته ولیـــږل (۳۰ ربیع الاول) ددغه کال پـــه جمادی ا لاخر کی (ستمبر) پښتنو هزبرخان په جگد لك او عبدالله خان دعالمگیر منصب دار ئی پـــه باجوړ کی وواژه .

په‌دغه کال کی خو شحا ل خا ن داورنگزیب مقابلی تـــه د پښتنو قبایلو په تیاره‌ولو بخت و، خـــو اورنگزیب نا کام له حسن ابدالـــه لاهور ته رهـــی سو (۱۵ شوال ، دسمبر)تردی وروسته دگنبت په جنگ کښی شیر محمد خان بنگښ پر خوشحال خان غالب سو او دی په جنگ کی زخمی‌سو (۹ذی حجه) نظام خان‌دخو شحال خان زوی وفات سو دجمادی الاولی = اگست) دده ولادت ٤ مـــحـــرم ۱۰۶۰ ق

۱۶۷۶ م ۱۰۸۷ ق

عالمگیر پاچا خپل زوی محمـــد معظم دشاه عالم بهادر په لقـــب دپښتنو د مقابلی لپاره کابل تـــه راواستاوه او امیر خان ئی دده په ملگری مقر ر کیء .د و ی په ۲۵ جمادی الاخری (۲۵ اگست) کابل ته ورسیدل .

۱۶۷۷ م ۱۰۸۸ ق

اعظم خان کو که (فد ایی خا ن مظفر حسین)دکابل صوبدار مقرر سو .

په دغه کال سخته وچ کالی وه.

۱۶۷۹ م ۱۰۸۹ ق

خوشحال خان خپله فضل نامـــه په پښتو مثنوی منظو مه کړ ه .

۱۶۷۹ م ۱۰۹۰ ق

سلطان ملخی توخی د زابل حکمران او دډهلی له‌خوا په‌رسمیت پیژندل سوی و .

قاسم خان دپښتو دیوا ن‌خا وند شاعر ژوندی و.

سید حسین دپیر بابا لمسی دپښتو دیوان خاوند او دجنگنامه حسنین او خلاصة الا سلام‌لیکونکی ژوندی و .

۱۶۸۰ م ۱۰۹۱ ق

دکوهاټ په ډوډه کی د خوشحال او بنگښو جنگ اود بنگښو ماته (رجب = اگست) دا جنگ د عالمگیر دمامورینو په لمسون د پښتنو په منځ کی اچول سوی و خوشحال وایی :

چه په نام پښتون غو
ځیږی پری خوښیږ ی
اور نگ ز یب هسی
پا چا دی د اسلام

اخوند ملاسید ابلخی شاعر، خپل فارسی دیوان په‌بخارا کی‌تکمیل کی‌ع.

۱۶۸۱ م ۱۰۹۲ ق

میر محمد عیسی همت‌خان امیر الامراء اود اجمیر صوبدا ر قطغنی شاعر په اجمیر کی وفات سو .

۱۶۸۲ م ۱۰۹۳ ق

اشرف خان‌هجری دخوشحال‌خان زوی دهند په بیجاپو رکی بندی سو .

۱۶۸۲ م ۱۰۹٤ ق

جلال خان (دلیرخان روهیله)داؤد زی دهند لوی پښتون صو بدار مسموم او مړکړ سو .

ملاشر ف الدین سمر قندی تاریخ راقم یا تاریخ کثیره وکیښ ، چی‌د افغانستان دشمالی خواو احوال هم ئری .

عبدالرحمن چشتی دمراة مسعو دی مؤلف په هند کی وفات سو. دا کتاب دسالار مسعود غزنوی دژوند احوال دی .

۱۶۸۳م۱۰۹۵ق

ددی کال په محرمه میاشت کی دخوشحال ماتی‌شروسوی (دسمبر) او امیر خان دعالمگیر صوبدار په پښتنو کی نفاق‌واچاوه. اود ریاخان چی‌په جنگ‌کی زخمی سوی‌ؤ خپلو ملگرو خوست ته یووی او هلته مړ سو .

فقیر الله سیف خان خوستی (تخاری) دکشمیر صوبدار چی یو کشف الایات اوبل کتاب‌ئی‌دهند پر راگ او موسیقی باندی کښلی وو وفات سو (۲۵ رمضان).

۱۶۸٤ م ۱۰۹۵ ق

د خوشحال خان د پښتو اشعارو دیوان ٤۰ زرو بیتو ته ورسیدی‌چی په آخرکی ٤۵ زره بیته سوه .

۱۶۸۵ م ۱۰۹۷ ق

په دغه کال دپیښور په سیموکی وچ کالی او کاختی او وباوه .

۱۶۸۶ م ۱۰۹۸ ق

شیخ محمد امین بدخشی عالم او زاهد دقطرات‌در- اورساله ضروریه مؤلف په کشمیرکی ۷۰ کلن وفات

سو (۱۱ رمضان) .

سکندر خان د خوشحالخان ختك زوی چی دپښتو شعر دیوان هم‌لری دمهر او مشتری قصه په پښتونظم کړه (د۹۸ق حدود) .

۱۶۸۹ م ۱۱۰۰ ق

خوشحال خان داپریدو په ډنبره کښی ۷۸ کلن وفات اوپه اکوړه‌کی ښخ سو (جمعه ۲۸ ربیع الثانی ۲۰ فروری - حوت) دی جنگی مشر او دپښتنو لوی شاعر او لیکوال دی. حاجی عادل دسلطان ملخی تو خی زوی دکلات د شاوخوا حکمران و. تاش محمد قندوزی حجة الاورنگ شاهیه تالیف کی (دکابل ارگ کتابخانه) حافظ نظام مومند دلیلی مجنون قصه په پښتو نظم کړه .

د محمو د بن علی میمندی خراسانی امامی عالم د اشراف العقائد - حدایقا لاحباب - حیاة القلو ب دمولف وفات .

۱۶۸۹ م ۱۱۰۰ ق حدود

الله یار بن حاجی محمد یار بلخی ، خپل دوه کتابونه او صاف نامه عالمگیری او اعظم‌نامه‌په هند کښی وکښل .

قاضی عبدا لکر یم راجن غزنوی دملتان په امیر پور کښی انیس الشعراء دملتان دوالی احمد خان بن پیر خان په‌نامه دشعر اوو پراصطلاحاتو باندی تالیف کی ع .

اخوند میاداد محمد زی داشنغر او سیدونکی دشیخ رحمکار مرید او دپښتو شاعر دژوند وخت .

نازو د سلطان ملخی توخی لور دحاجی میرویس خان مور د پښتو شاعره ژوندی وه .

۱۶۹۰ م ۱۱۰۲ ق

آغر خان د کابل‌فوجدار له کابله پیښور ته تیع په لار دی پښتنو مړکیع او خپل انتقا م ئی ځنی واخیست .

امیر الا مرا شیر علی خان لودی دمراةالخیال تذکره په‌هند کی وکښله .

۱۶۹۳ م ۱۱۰۵ ق

شیر خان سدوزی په‌کوټك کی دصفویانو لښکر پوپنا کړل ، دی دقندهار د پښتنو مشرو .

۱۶۹٤ م ۱۱۰۶ ق

اشر ف خان ختك (هجری) دپښتو شاعر د خوشحال خان‌ختك زوی په بیجا پورکی تر ۱٤ کالو قید وروسته پردیس وفات سو .

۱۶۹۵ م ۱۱۰۷ ق

مصطفی خان خښی د محمدسعید زوی افغانی عالم او لښکری مشر دامارات الکلم په نامه یو کشف الایات په هند کی تالیف کی‌ع.

۱۶۹۷ م ۱۱۰۷ ق

شیخ محمد ضیا او شیخ نیازخرقه شریفه له بخارا او بلخه دجوزجان فیض آباد ته راوړه (یکشنبه ۲٤ محرم)چی اوس‌په قندهار کی ده.

۱۶۹۸ م ۱۱۱۰ ق

خواجه محمد بنگښ دپښتو دیوا ن خاوند شاعر ژوندی و.

محمد بدیع بن میرزا بد خشی دروضة الانساب تاریخ وکیښ .

امیر خان هجری چی د پښتو شعر دوه دیوانه لری دپیښور په سیمو کی ژوندی و (دانه یا آفس خطی نسخی)

۱۶۹۹ م ۱۱۱۱ ق

قاضی میر محمد زاهد هروی دقاضی محمد اسلم زوی مشهور عالم او مولف دزواید ثلاثه مؤلف اوعسکری محتسب اود کابل‌وقایع نگار وفات آوپه کابل‌کی نښخ سو.

۱۷۰۰ م ۱۱۱۲ ق

مصطفی محمد د نور محمد زوی دکریمداد لمسی داخوند درویزه پرمخزن اسلام باندی په پښتو الحاقات زیات کړل .

عبدالقادر خان خټك‌پښتو یوسف وزلیخا نظم کړه (خلور زره بیته)

۱۷۰۲ م ۱۱۱٤ ق

دپښتنو مشر پردل خان له خوسته پرکابل راغی ،خودشهزاده محمد معظم لښکرو دی مړکی .

میرزا محمد ارشد د خواجه علی اکبر بر نابادی هروی زوی ،شاعر او منشی او خطاط او مورخ په برناباد کی وفات سو (ولادت ئی ۱۰۲۵ ق)

شاه حسین هوتك دمیرویس‌خان زوی دکلات په سوری کی وزیریدی .

۱۷۰۳ م ۱۱۱۵ ق

دولت خان سدوزی دسر مست خان زوی دقندهار مرزبان او دده زوی نظر محمد خان په ښار صفا کی دقندهار بیگلر بیگی گر گین خان گرجی په‌یوه شبخون کښی ووژل .

بای خان دحاجی عادل توخی‌زوی دزابل حکمران‌و .

دسید حسن بن عبدالله بن سید محمود پیښوری قادری مرشد وفات په پیښور کی .

غلام محمد د شیر خان موگاخیل زوی داشنغر ددواوی‌او سیدو نکی معراجنامه په پښتو نظم کړه دسیف الملوك دقصی ناظم هم‌دی.

۱۷۰٤ م ۱۱۱٦ ق حدود

رستم خان دخپل پلار دولت خان سدوزی پر ځای دسرور خان بامیزی او کټه خان الکو زی په مرسته د قندهار مشر سو . دده کشر ورور زمان خان په کرمان کی دصفو یانو سره یرغمل و، او ده دبلوڅو په لاس صفوی لښکر دقندهار جنوب ته تباه کړل .

۱۷۰۵م ۱۱۱۷ ق

حاجی میرویس خان دقندهار په کوکران کی لو مړی لو جر گه وکړه او دصفوی پاچا پر خلاف‌دآزادی غورځنگ شرو سو .

محمد صلاح سیاه گردی بلخی، سبحان قلی نامه وکښله .

۱۷۰٦ م ۱۱۱۸ ق

اورنگ زیب عالمگیر تر ۵۰کلو پاچهی وروسته نیوی کلن دهندپه احمد نگر کی مړ سو (جمعه ۲۸ ذیقعده) دده زوی شهزاده محمد اعظم په احمد نگر کی پاچا سو (۱۰ ذی حجه) بابا سعید دپښتو

شاعر په پیښور کی ژوندی و.

صدر خان خټك د خوشحال خان زوی ددلی اوشهی قصه په پښتو مثنوی نظم کړه .

په همدغه کال ده دآدم خان اودر خانی قصه پښتو کړه .

عبدالرحمن مومند د پښتو صوفی شاعر وفات او دپیښور جنوبی خواته په هزار خانی کی ښخ‌سو.

خیر الله عارف لاهوری مسعود نامه د سلطان مسعود غزنوی پر احوال‌باندی په فارسی‌نظم کړه.

عبدالرسول د سید علی زوی دملك فتح خان په غوښت خپل‌کتاب مجمع اللغات والاسماء وکیښ (دکابل ارگ کتا بخانه)

۱۷۰۷ م ۱۱۱۹ ق

حاجی میرویس خان دقندهار دمانجی په دوهمه لوجرگه کی داستقلال اعلان وکیع ، اودصفویانو بیگلر بیگی گرگین خان ئی وواژه (۲۹ذی قعده) په قند هار کی ملی حکومت جوړ سو .

۱۷۰۷– ۱۷۱۵ م

۱۱۱۹ –۱۱۲۷ ق

د حاجی میرویس خان د ښالم خان زوی ملی ریاست په قندهارکی

۱۷۰۷ م ۱۱۱۹ ق

شهزاده معظم بهادر شاه چی دپلار د مرگ پروخت په کابل کی و، له دی ښاره ولاړ ، اوپه لاهور کی پاچا سو (دمحرم‌سلخ) ده خپل ورور محمد اعظم ددهولپور په جنگ کی مړ کی ع.

۱۷۰۷ – ۱۷۱۲ م

۱۱۱۹ – ۱۱۲٤ ق

دمعظم شاه بن عالمگیر د پاچهی دوره .

۱۷۰۸ م ۱۱۲۰ ق

گوهر خان د خوشحال خان زوی خپل کتاب قلب السیر په پښتو دافضل خان بن اشرف خان بن خوشحال خان په نامه تا لیف کیع داد سیر نبوی یوه مجموعه ده (دپیښور موزیم خطی نسخه)

۱۷۰۸ م ۱۱۲۰ ق حدود

ملا نور محمد غلجی دملایارمحمد کندهاری زوی په پنجوایی کی خپل پښتو کتاب نافع المسلمین داخوند درویزه په ډول وکیښ (د پښتو ټولنی خطی نسخه)

مهری هروی شاعره په هند کی ژوندی وه .

ملا محمد علی هروی خطاط د سلطان حسین صفوی لپاره دمیر خواند دروضة الصفا یو ټوك وکیښ (دکابل خطی کتابخانه)

۱۷۰۹ م ۱۱۲۱ ق

محمد خان بلوڅ د هرات صفوی حکمران دقندهار میرویس خان ته په سفارت راغی ،

۱۷۱۰ م ۱۱۲۲ ق

دهرات له خوا صفوی لښکرو پرقندهار حمله وکړه او میرویس خان مات کړل اووئی شړل .

۱۷۱۱ م ۱۱۲۳ ق

(۲۵) زره تنو صفوی لښکرو دخسرو خان گرجی په مشری

قندهار محاصره کده، مگردمیرویس خان ۱٦ زرو لښکرو دوی ټـــول ووژل او خپله آزادی ئی وساتله . (۲۸ رمضان)

حیات سلطان د حـداد د سلطان سدوزی زوی د هرات مشر و .

معزالدین جهاندار شاه د بهادر شاه زوی په دهلی کی پاچا سو .

۱۷۱۲ م ۱۱۲٤ ق

معظم بهادر شاه تر (٥) کالـــو پاچهی وروسته په دهلی کی مـړ سو (محرم) عبدالقادر خان ختـك دسعدی گلستان په پښتو ترجمـه کیء او نوم ئی گلدسته پر کښیښو (۲٤) رمضان

۱۷۱۳ م ۱۱۲٥ ق

حاجی میرویس خان خپل ورور حاجی امکو دډهلی در بار تـــــه واستاوه او دډهلی تیموری دولـت دقندهار ملی حکومت د حـــا جی میرویس خان په مشری پـــــه رسمیت وپیژاند .

۱۷۱۳ م ۱۱۲٥ ق حدود

میرمن مسری د قاضی احمدگل ختك لور ژوندی وه چـی دپښتـو فالنامه ئی نظم کړه .

۱۷۱٤ م ۱۱۲٦ ق

رستم خان صفوی حکمران ډیـر لښکر پر قندهار راوستل ، خـــو میرویس خان دوی بیا وشړل .

محمد مظفر د ملا اسماعیل زوی دافضل خان ختك په غوښتنه داعثم کوفی تاریخ له فارسی څخه پـــــه پښتو تر جمه کیء (دپیښور دفتح محمد ختك قلمی نسخه)

۱۷۱٥ م ۱۱۲۷ ق

حاجی میرویس خان دقندهارملی مشر تر ۸ کالو مشر تابه وروسته وفات او په کو کران کی ښخ سو . (۲۸ ذی حجه) دده ورور عبدالعزیز ئی پر ځای کښینو ست.

۱۷۱٥ـ۱۷۱٦ م

۱۱۲۷ـ ۱۱۲۹ ق

دعبدالعزیز د ښالم خـــان زوی اقتدار په قند هار کی .

۱۷۱٥ م ۱۱۲۷ ق

مهین دپښتو شاعر خپل کتـاب تذکره الابرار دعظمت داود زی په غو ښت منظوم کیء.دی‌پښتو غزل هم لری .

۱۷۱٦ م ۱۱۲۸ ق

صدر دوران امیر آلامرا بهادرخان دقندهار دشاه حسین هوتك ددربار سپه سالار او دپښتو شاعر دژوند وخـــت .

۱۷۱٦م ۱۱۲۹ق

عبدالعزیز خان د میرو یس خان

ورور دقندهار دنارنج‌له مانۍ څخه راولویدا او مړ سو،یا خلکو ووا ژه (مارچ) او پر ځای ئی شاه محمو د دمیرویس ۱۸کلن زوی پاچا کیء.

۱۷۱٦ـ۱۷۲٤م ۱۱۲۹ ـ۱۱۳۷ق

شاه محمود دمیرو یس‌خان زوی له قندهاره تر اصفها نه پاچاو .

۱۷۱٦م ۱۱۲۹ ق

په‌هرات کی دسدوزواوابدالیو ملی حکومت جوړ سو .

عبدالله خان بن حیات سلطا ن سدوزی او دده زوی اسدالله خان‌په هرات کی پرعبا سقلی شاملو صفوی

حکمران باندی ورغلل ، اوهرات‌ئی له‌جعفر خان څخه ونـــیوی‌ء (۲٦ رمضان)

بابو جان‌بابی‌داته غر اوسیدونکی دکرم خان زوی دشها او گلان قصه په‌قندهارکی په پښتو نظم کړه .

دمحمد حسن بن‌محمد خراسا نی کیمیاوی پوهاند دشرح المفتا ح فی الصناعه او شرح شذ و ر الـذ هب مؤلف وفات.

۱۷۱۷م ۱۱۳۰ق

تول هرات او غوریان او کوسان اومرغاب او بادغیس او غور دهرا ت دسدوزو ترملی حکو مت لانـد ی راغلل.

په‌قند هارکی دهو تکوشا هی‌وه.

محمد شاه دخجسته ا ختر زو ی په‌دهلی کی پاچا سو (ذیقعده)

محمدحسن دملایحیی‌زوی هرو ی خطاط وفات سو .

دمحمد یونس خیبر ی د پښتو دیوان خاوند شاعر دژوند وخت .

۱۷۱۷ م ۱۱۳۰ ق حدود

ملا پیر محمد هوتك دملا سرور اخوند کند هاری زوی (پیر افغان) خپل کتاب افضل‌الطرایق په‌پښتو مثنوی نظم کی اوبل کتاب‌القرا یض فی ردالروافض ئی وکیښ .

۱۷۱۸ م ۱۱۳۱ ق

فرخ سیردعظیم‌الشان زوی‌دډهلی پاچا ووژل سو او رفیع الدرجـات درفیع الشان زوی مړ سو او رفیع الدوله وروروئی پرځای ودرید ی‌ء .

۱۷۱۹م۱۱۳۲ ق

ددلا رام په جنگ کی‌اسـدا لله خان سدوزی دشاه محمود هوتك‌په مقابل کی ووژل سو. او دهـرا ت حکومت زمان خان ددولت خـــان سدوزی زوی ته وسپارل سو .

۱۷۱۹ م ۱۱۳۲ق حدود

محمد فاضل برپیڅ دقندهار پـه ښوور اوك کی درو ضهٔ ربا نی کتاب وکیښ .

۱۷۲۰ م ۱۱۳۳ ق

زمان خان سدوز ی‌دهرات ملی‌مشر، صفوی حکمران صفی قلی خان پـه کافر کلا کی مات کـیء او جعفـر خان صفوی بیگلر بیگی ئی وواژه.

میر زاعبدأ القادر بیدل(متولـد ۱۰٥٤ق) په شاه جهان آباد کـــی وفات او ښخ سو .

۱۷۲۰ م ۱۱۳۳ ق حدود

محمد حافظ د محمد اکبر بارکزی زوی په‌قندهار کی د تحفهٔ و ا عظ پښتو کتاب وکیښ .

۱۷۲۱ م ۱۱۳٤ ق

شاه محمود هوتك له قندهـــاره پرکرمان ورغی او دهغه ځای‌دحاکم لطف علی خان سره ئی روغه‌وکړه. وروسته بیا پـــراصفهان ورغی او دصفو یانو پا یتخت‌ئی‌محاصره‌کیء.

شاه حسین هوتك د میرویس‌خان زوی په قندهار کی پاچا و.

۱۷۲۲ م ۱۱۳٥ ق

دگناباد په جنگ‌کی د شاه‌محمود هوتك لښکرو صفویان مات کړل . (۸مارچ).

شاه محمود هو تك اصفهان تـر ۸ میاشتی کلابندی وروسته ونیوی‌او

دایران پاچا سو،دصفویانو سلطنت ئی ختم کیء (۱۵محرم) شاه حسین صفوی دایران تاج، شاه محمود تـه وړاندی کیء (اکتو بر) زمـان خان سدوزی دهرات ملی‌مشر وفات سو اوپرځای ئی محمد خان دعبدالله‌خان زوی کښینو ست. احمد خان‌ابدالی دزمان‌خان سدوزی زوی دزر غونی‌له نسه په هرات‌یاملتان‌کی‌وزیږیدی .

۱۷۲۲ـ۱۷۳۷م ۱۱۳۵ـ۱۱۵۰ق

شاه حسین دمیر ویس خان زوی دکندهار پا چاو .

۱۷۲۳م ۱۱۳٦ ق

محمد خان سدوزی‌له هراته ولاړ: او مشهدئی خلور میاشتی کلا بنـد کیء مگر ذوالفقـار خان دزمانخا ن مشر زوی له ښو راوکه راغـی اود هرات ملی مشر سو (تـر ۱۱٤٤ ق پوری).

داؤد خان هوتك دقادرخان ز وی دپښتو شاعر دکندهار په‌کوکـرا ن کی وفات سو.

ریدی خان‌مومنددغیاث خان زوی له کندهاره دشاه‌محمودهو تك سره اصفهان ته ولاړ، چی بیرته‌راغی په پښتو ئی محمودنامه نظم کـړه . د پښتو شعر دیوان ئی هم در لود.

استا دالعلماءملا یار محمدهوتك دشاه حسین هو تك ددر بار مـلا د مسایل ارکان‌خمسه کتاب وکیښی .

۱۷۲۵م۱۱۳۷ق

شاه محمود هو تك په اصفـهان کی ۲۷ کلن تر اتو کلو پاچـهی وروسته ووژل سو. (۱۲ شعبان)

او دده پرځای‌شاه اشرف‌دعبدالعزیز زوی دمیر ویس وراره په اصفـهان کی پاچاسو.

۱۷۲۵ ـ۱۷۲۹م ۱۱۳۷ـ۱۱٤۲ ق

شاه اشرف دعبدالعزیز هو تـك زوی دایران شهنشاه و.

۱۷۲۵م ۱۱۳۷ ق

عبدالحمیدماشو خیل دشاه‌گدای قصه په پښتو مثنوی منظو مه کړه (۱۲۰۰) بیته.

میر من زینبه دحاجی میر ویس خان لور په کندهار کی‌ژوندی وه، اوپه پښتو ئی دخپـل‌ورور شـاه محمود ویر نه وویله .

۱۷۲۵م۱۱۳۷ ق‌حدود

دهو تکو دسلطنت په‌وخت کی‌د ایران اداری تشکیلات او مالیـات یوه نامعلوم مو لف دتذکرةالملو ك په‌کتاب کی دشاه اشرف هوتك په نامه سره را ټول‌کړل (دمینار سکی طبع لنډن ۱۹٤۳م)

۱۷۲۵م۱۱۳۸ق

دهرات ملی‌جرگی بـاخـر ز او بادغیس ذوالفقار خان او فراه ئـی رحمان خان دعبدالـله خان زوی او هرات‌ئی الله یارخان دعبدالله خان زوی ته وسپارل(تر۱۱٤٤ ق‌پوری)

۱۷۲٦م۱۱۳۹ق

احمد پاشا دبغداد والی پرایران لښکر راوستل، خو شاه اشـر ف هوتك دوی مات کړل.

شاه اشرف هوتك‌په‌اصفهان کی جامع مسجدجوړکیء چی دملازعفران اویعقوب خان افغان نو شته دمحمد علی مولوی په خط لری.

۱۷۲۷م۱۱٤۰ق

شاه اشرف هوتك عثمانی لښکر وشړل ، اوله عثمانی دولت سره‌ئی

روغه وکړه.

شاه اشرف هوتك افـغان پـه اصفهان کی سکه ووهله.(داصفهان موزیم) شاه حسین‌هوتك دکند هار پاچا له هرات اوفراه څخه تر غزنی اوگومل اوډیره اسماعیـل خـان او ملتان اودره‌بولان‌پوری پاچهی‌کوله.

ناصر خان دکابل او پیښـور او باقرخان دغزنی حکمرانان و.

۱۷۲۷م۱۱٤۰ق حدود

میا عبدالحکیم کاکړ نقشبنـدی عارف په کند هارکی خپله (مقا له) وکښله ، چی په‌هند کی چاپ سوی هم ده.

نصر الدین خان اندړ دغـزنـی اوسیدونکی په کند هار کی دنصر به تخلص خپل پښتو دیـوان دشاه حسین هوتك په‌دربار کی تر تـیب کیء.

۱۷۲۸م۱۱٤۱ ق

الله یار خان سدوزی په تر بت جام او کافرکلاکی دنادر شاه‌افشار سره جنگونه وکـړل اودنادر پښـه زخمی سوه اوبیرته مشهد ته‌ولاړ .

محمد هو تك دداود خـان زوی‌د شاه حسین هوتـك‌ددر بارمنشـی په‌کندهار کی (پټه خزانه) تالیـف کړه . دده بل‌تالیف خلاصةالفصاحة دی.

محمد عادل بړیڅ دمحمد فاضـل زوی دکند هار په ښـوراوك کـی محاسن الصلوة په پښتو نظم کیء

۱۷۲۸م۱۱٤۲ ق

دهرات دملیونو مشر تـو ب ذوالفقار خان‌ته‌وسپارل سـو . (۳ شوال)

۱۷۲۹م ۱۱٤۲ ق

دخلیفه سلطان احمد خان ثا لث له خوا راشد پاشا اصفهان ته‌دشاه اشرف هوتك در بار ته دسفیر په نوگه راغی اود شاه اشرف له خوا هم محمد علی خان بلوڅ استا نبول ته سفیر ولیږل سو، اود افـغان‌او ترك روابط قائم سول.

۱۷۲۹م۱۱٤۲ق

شاه اشرف هوتك تر ٥ کالـو ۷میاشتو سلطنت وروسته دنادر افشار له‌خوا مات سو اود ښوراوك په ژیړ غره کی دابراهیم بلوڅ پـه لاس ووژل‌سو.(ذی حجه ۲۹ نومبر) یر ایران د پښتو سلطنت هم ختـم سو.

۱۷۳۰م۱۱٤۳ق

ذوالفقار خان دهرات ملی مشـر داتو زرو لښکرو سره مشهدکلابند کیء (۱۳محرم)

۱۷۳۱م۱۱٤٤ق

الله یار خان له مرو چا ق څخه راغی او دهرات ددفاع کار ئی پـه لاس کی ونیو (۱۸ صفر) ذوالفقار خان دخپل کشر ورور احـمد خان سره کندهار ته ولاړل.

هرات تر یوه کال محا صـری وروسته نادرافشار ونیو (۱رمضان) اود هرات دابد لیانو دمشری وخت ختم سو .

۱۷۳۲م۱۱٤۵ق

محمدفهیم دکاکا صاحب لمسـی پښتو نور نامه په لنډ بحر منظومه کړه.

۱۷۳۳م۱۱٤٦ق

میا عبدالحکیم کاکړ عارف دشاه

حسین هوتك په حکم له کنـد هاره ویوست سو.

۱۷۳٤م۱۱٤۷ق حدود

ملا زعفران تره کی دکنـد هار د شاه حسین ددر بار طبیب‌اوریاضی دان اوشاعر دگلدسته‌زعفرانی کتاب په طب کی وکیښی.

۱۷۳۵م۱۱٤۸ق

نا در شـــاه د امـــام قلی افشار زوی دایران پاچا سو.

ملایونس توخی د قندهار د شاه حسین د دربار مدرس د جامـــع فرایض کتاب وکیښی .

عبدالحمید ماشو خیل درکـــن الدین محمد بخاری شرعةالاسلام په ۱۵۰۰۰ بیته په پښتو مثنـوی نظم کیء (۲٦ شوال) .

۱۷۳٦ م ۱۱٤۹ ق

نادر افشار دسیستـان او هلمنـد له خوا راغی او شاه حسین هوتك ئی په‌قند ها ر کی کـلا بند کی ء (دذی قعدی اوئل) .

۱۷۳۷ م ۱۱۵۰ ق

نادر افشار قندهار تر یوه کـال کلابندی وروسته لـه شاه حسین هوتك څخه ونیوی(دذی حجی‌اوائل) اودهوتکو پا چهی تر (۳۰) کا لو وروسته په قندهار کی ختمه سوه.

نادر شاه افشار دقندهار نـادر آباد بناکیء اودلته ئی‌سکه ووهله.

سیدال خان دابدال خان نـاصر زوی افغانی لـــوی سپه سالار او دایران دجگړو فاتح اودپښتو شاعر په کلات کی‌دنادر شاه افشار په‌لاس کښیووت اوړوند کړ سو .

شاه عالم دعلی‌خان زوی دسلطان ملخی توخی وراره د زابل او کلات حکمران و .

تاج خان افغان (ممنون شاعر)په هندکی مړ سو .

دمسری خان مردانی پښتو شاعر دژوند وخت . دی داشعارو دیوان لـــری .

عبدالحمید ماشو خیل دپښتولوی شاعر دپیښور په ماشو خیلو کـی وفـــات اوښخ سو (ولادت ئی د ۱۱۰۰ (حدود) دپښتو دیوان خاوند او دنیرنگ عشق پښتو مترجم .

سعادت خان د پښتو مثنـــوی کیمیای سعادت‌منظوم کیء.

عبدالرحیم هوتك قندهاری شاعر له قندهاره فرار سو او د خراسان په ورامین او بخارا کی اوسیدی . دپښتو دیوان لری .

قلند راپریدی د پښتو دیـــوان خاوند په خیبر کی اوسیدی .

۱۷۳۸ م ۱۱۵۱ ق

دنادر افشار له خوا عبدالغنـــی خان الکـوزی د هرات مشر سو ، پیر محمد خان هروی دبلوچ حاکـم او حاجی اسماعیل‌الکوزی داسفزار او اشرف خان غلجی دکلات‌حاکمان سول . نور محمد خـــان علی زی (میرافغان) د ٤۰ زرو پښتنو لښکرو مشر سو ، او ذوالفقار خان اواحمد خان ته‌په ما زند را ن کی جا گیر ورکړه سو .

شاه حسین هوتك مازندران تـه نفی سو او هلته پـــه زهرو ووژل سو (۱۰ شعبان) دده پاچهی پـــه

قندهار کی ۱۵ کاله وه. نا در شاه دقندهار ښار وران کیء.

نا در افشار غز نی و نیو او د کابل دناصر خان او شـر زه خان سره ئی جنگ ونښلاوه ، رحیم‌داد خان د کابل کوتوال ئی کلابند کی، خوچی دا ښار ئی ونیو بیر ته ئـی ناصر خان ته‌وسپاره‌او ترهندوکش او بامیانه سیمی ئی فتح کړی .

۱۷۳۹م ۱۱۵۲ ق

نادر افشار دپیښور له لاری پر لاهور او دهلی حمله و کړ ه‌او هندوستان ئی ونیوی ء، او د۷ ۸ ملیونو پونډو ثروته سره بیرتـــه کابل ته راغی ، او تربنگښ اوډیرو پوری ئی ونیول او ددرهٔ بو لا ن له خوا قندهار او هرات ته‌ولاړ .

سید جعفر روهی تدقیق‌التحفیق وکیښی .

مجهربن عیسی داود (اشـــرف العنوان فی معر فة انساب افغا ن) وکیښی‌دبمبئی دملافیروز کتابخانه)

۱۷٤۰ م ۱۱۵۳ ق

نادر شاه افشار دخپلو فتوحاتو جشن په مشهد کی جوړ کیء،دد ه مملکت له سنده تر فراته اولـــه سیحونه تر بلوچو پوری رسیدیء.

میان عبدالحکیم بن سکـند ر شاه سنتیا کاکړ دقـندهـار د سیمـی نقشبندی مشهورپیر اودحصن‌الایمان مولف وفات اوپه تهل چو ئیالی‌کی ښخ ســو (ولادت ئـی ۱۰۷۰ق)

۱۷٤۱م ۱۱۵٤ ق

نادر شاه افشار احمد خـــان ابدالی له مازندرانه را وغوښت او دخپلو همرکابو ابـدا لیانـو پـــه مشر تو ب ئی وگو ماره.

۱۷٤۲ م۱۱۵۵ ق

خوشحال خان توخی د علی خان زوی دکلات حکمران و .

حافظ عبدالکبیر در درمجالس او مناجات او معجزاتو ناظم خپل در مجالس په پښتو نظم کی .

۱۷٤۵ م ۱۱۵۸ ق

محمد اکرم هروی خطاط د هرات دسعدیه مدرسی نوشته وکښله .

۱۷٤۷ م ۱۱٦۰ ق

نادر شاه افشار دخبو شان پـه فتح آباد کی دخپلـو در بـاریانـو له خوا ووژل سو (دیکشنبی شپه ۱۱ جمادی الاخری) احمد خـــان ابدالی او نور پښتانه د هرات لـه لاری له مشهده قندهار ته راغلـل (رجب) د قندهار په شیر سرخ‌کی دپښتنو لو جرگه جوړه‌سوه او پـه نهمه ورځ ئی احمد خـان سدوزی دزمان خان زوی ۲۵ کلن ځوان په افغانی‌سلطنت د احمد شاه درانی‌په نامه انتخاب کیء او دغنمو وړی‌ئی دده په پگړی کی وتړمبه (شو ا ل ۱۱٦۰ق اکتو بر).

تیمور شاه په مشهد کښـــی وزیږیدی ء.

۱۷٤۷-۱۷۷۲م۱۱٦۰- ۱۱۸٦ ق

داحمد شاه بابا ابدالی دزمان خان سدوزی دسلطنت دوره چی‌پایتخت ئی قند هار و.

تقی خان اخته بیگی ۲٦ کروره روپۍ دپېښور او کابل مالیات نادر شاه افشار ته وړی ، چې قندهار ته راغلل نواحمد شاه دغه خزانه واخیستله .

احمد شاه غزنی او کابل او پېښور له ناصر خان ځخه ونیول .

اشرف خان او الله یار خان دخوشحال خان توخی زامن د کلات اوتوخو سرداران وو ، اواحمدشاه ابدالی منلی وو .

اخوند گدادپښتو نافع المسلمین ناظم اوددیوان خاوندشاعرژوندی‌و.

معزالدین ختك خپل پښتو کتاب ربقة الاسلام په پښتو لنډ مثنوی منظو م کیء، دی‌دشعردیوان‌هم‌لری.

محمد نظام معجز کابلی شاعر په دهلی کی وفات سو.

۱۷٤۸ م ۱۱٦۱ ق

احمد شاه ددیرش زرو لښکرو سره د کابل او پېښور له لاری تراتك او جیلم پوری ونیول . اود لاهور ځخه تر۱۳ربیع‌الاول ۱۱٦۱ق سرهند تەورسیدی، په سند ه کی ئی میان نورمحمد کلهور ەپاچا کیء دده په امر محمد قاسم دعندلیب‌په نامه یوتوپ په‌پېښور کی جوړکیء.

احمد شاه د محمد شاه گورکانی زوی په دهلی کی پاچا سو .

شاه حسام الله‌پرهند داحمدشاه دلو مړ ی یر غل «فتح نا مه » په فارسی منظومه کړه (دپاریس ملی کتابخانه).

علم‌خان اپریدی خپل پښتودیوان ترتیب‌کی (دهند دتونك کتابخانه) سردار زاهد خان‌سدوزی‌له ۱۱۳۲ق تر ٦۱ق پوری دملتان‌حکمران و.

۱۷٤۸ م ۱۱٦۲ ق

لاهور ته داحمد شاه جنگی سفر او دپنجاب دمالیاتوټولونه ومیرمنو معین الملك ته سپارل .

دنور محمد خان‌علی زی میرافغان او گد وخان او محبت خان‌دسیسه او ددوی وژل په قندهار کی .

۱۷٤۹ م ۱۱٦۲ ق

میافقیر الله جلال آبادی ښکا پوری مرشد له ښکا پوره دحجازپه سفر ولاړ اوپه ۱۲ دجمادی الاولی په‌مد ینه کی و .

قاضی نصر الله بار کزی خوانچه زی دارغسان او سیدونکی د احمد شاه له خوا دقندهار قاضی سو ، دخان علوم کورنی‌دده له‌پښته دی. دده زوی محمد اسماعیل ژلی بیکه او دهغه زوی قاضی محمد سعیدو.

ملامحمدی (املا) دعلاءالد ین‌زوی دسنگ چارك شاعر او صوفی په بخاراکی وفات سو، دوشنبه ۱۸ ربیع الاول (ولادت ۱۱۰۰ ق).

لقمان خان د ذوالفقار خان سدوزی زوی د قندهار نائب الحکومه وفات سو .

۱۷٤۹ م ۱۱٦۳ ق

احمدشاه هرات ونیو او میر زا شاهرخ دنادر شاه لمسی ته ئی مشهد وسپاره اوپه هرا ت کی درویش علی خان هزاره‌مقرر کیء.

عابد خان سدوزی مغدود خیل

دشاه حسین کروسی د ملتان دپښتنو مشر مړ سو .

میا محمدعمربن ابرا هیم دپېښور دځوکنو اوسیدونکی خپل شمایل نبوی په پښتو منظوم کړه .

۱۷٥۰ م ۱۱٦٤ ق

احمد شاه قلات ونیو اومیر نصیر خان بلوڅ ته ئی‌وسپاره . دهراته پرنشا پوز حمله او نیول‌او عباسقلی خان ته سپارل .

وزیر شاه ولی خان مرو ـ میمنه اندخود ـ تربد خشانه ونیول .

شاهرخ د نادر شاه افشارلمسی په مشهد کی داحمد شاه په نامه سکه ووهله :

یافت از الطاف احمد پاد شاه شاهرخ برتخت شاهی تکیه گاه

احمد شاه له زور آباده ملامیرزادملا محمد سلجوقی زوی راوست او د هرات د پای حصار په مدرسه کی مدرس کیء .

دوزیر شاه ولیخان بامیزی په‌امر شاه نظیر توپ ساز «توپ زمز مه» په لاهور کی داحمد شاه بابا په نامه جوړ کیء .

۱۷٥۱ م ۱۱٦٥ ق

احمد شاه دلاهور جنگی سفر و کیء او ښا غا سی عبدالله خا ن کشمیر ونیوی ء.

قلندر خان دهلی ته داحمد شا ه له خوا په سفارت ولاړ او پنجاب‌ـ سند ـ کشمیر په احمد شاهی سلطنت کی داخل سوه .

حاجی ملاولی ساکزی قندهاری ملاباشی و .

محمد علی حزین ایرانی شاعر «متولد ۱۱۰۳ ق متو فا ۱۱۸۰ ق» په‌تذکرةالاحوا ل کی د پښتنو په لاس دایران او اصفهان دنیولو احوال په هند کی و کیښ.

کامگارختك دپښتو شاعر وفا ت سو.

۱۷٥۲م۱۱٦٦ق

سر دار خان جهان پو پلزی د احمد شاه په امر دکابل کلا ترمیم کړه اولس در وازی‌ئی ورکړی.

سید فتح علی حسینی گردیز ی دسید عوض خان زوی‌مورخ اوشاعر او مو لف په هند کی تذکره ریخته گویان وکښله (دده وفات ۱۲۲٤ق)

۱۷٥۳ م ۱۱٦۷ ق

احمد شاه سند ته ولاړ اوبیا ئی مشهد محاصره‌کیء او نورمحمدخان افغان ئی دشاهرخ‌میر زا نایب‌وټاکه اوټول خراسان‌ئی په هرات‌پو ر ی ونښلاوه.

میرمنو دلاهور حاکم مړ سو او احمد شاه دده‌زوی‌میر مومن ته‌لاهور وسپاره.

په ٤ دمحرم ۱۱٦۷ ق احمد شاه سند ته ورسیدی او دښکار پور ولایت ئی په قندهار پوری وتاړه او محمد مراد یاب خان دنور محمدزوی یی دسر بلند خان په لقب دسند پرتخت کښیناوه.

ملامحمد غوث دا خوند تر کمان بن تاج خان زوی چی له کندهاره پېښور ته تللی و داحمد شاه له‌خوا دپېښور لوی قاضی سو ده‌دمنطقو پر میر زا باندی حاشیه کښلی اود احمد شاه بابا عر فانی خبری ئی د

شرح الشرح په کتاب کی بیان‌کړی.
میر زا هادی‌عشرت داحمد شاهی دربار منشی په پینبور کی یو قصر جوړکیء چی تاریخ‌ئی«مسکن‌عشرت هادی آباد » دی.
دکندهار په دربار کی دسندسفیر گدومل هند وو، اود احمد شاه‌سفیر په سند کی اسماعیل خان پنی و.
دوهم عالمگیر دجهاندارشاه‌ز وی دډهلی پاچا سو.

۱۷۵۴م۱۱۶۸ق

په کندهار کی لو مړی موزیم (بیت الاشراف) جوړ سو (ربیع الثانی)

۱۷۵۵ م ۱۱۶۹ق

آزاد خان افغان په اصفهان کی سکه ووهله (داصفهان موزیم).
غلام محی الدین خان افغان په‌هند کی داحمد شاه ابدالی (ظفر نامه)د میرمنو قمر الدین‌خان‌په نامه وکښله (دلاهور پو هنتون خطی نسخه) ملا عبدالرشید دحسین زوی په لنگر کوټ کی پښتومثنوی اودرسی‌کتاب رشید البیان وکیښ (دفقه احکام)

۱۷۵۶م ۱۱۷۰ق

دشا هزاده تیمور په امر خصم افگن توپ په لاهور کی جوړ سواوپه پنجاب کی۲۰۰کښتی جوړی سوی.
احمد شاه دهلی په ۷ د جمادی الاولی ۱۱۷۰ق ونیوی دوهم عالمگیر ئی‌دهغه‌ځای‌پر تخت‌کښیناوه اودهغه وزیره ئی شهزاده تیمور ته وغوښته ، نظام الدوله ئی ددهلی وزیر او نجیب الدوله ئی سپه‌سالار مقرر کیء.
په‌مکه‌کی دافغانی حاجیانو لپا ره سلیمانی کاروانسرای دا حمد شاه یه‌امر حاجی عبدالکریم بارکزی او حاجی محراب‌خان نور زی جوړ کیء (ربیع الاول غره۱۱۷۰ق)
په‌هرات کی نوی‌کلاوی اوپل‌مالان جوړ سول.
بی‌بی صا حبه بنت کامران دشاه محمود هوتك ماینه په کابل کی‌مړه اوښخه سوه. (سه شنبه ۹ رجب شنخته ئی په کابل‌کی ده).
واقف بتالوی مشهور شاعر په لاهور کی دشهزاده تیمور حضورته راغی.
شاکر خان سدوزی له ۱۱۶۳ تر ۱۱۷۰ق دملتان حکمران و.

۱۷۵۷م ۱۱۷۱ق

محمود المنشی دابراهیم حسینی زوی داحمد شاه ددربار منشی(تاریخ احمد شاهی) له ۱۱۶۰ تر ۱۱۷۱ ق پوری وکیښ. (دبرټش موزیم‌اولینن ګراد خطی نسخی).

۱۷۵۸م۱۱۷۲ق

یوه خراسانی شاعر چی‌دقاسمی نمسی ودحسین‌خان فراهی‌دخراسان دحاکم په خوا هښت نادرنامه‌په ۱۷ زره بیته کی داحمد شاه بابا په نامه منظومه کړه (ربیع الاول) (دکراچی موزیم خطی نسخه) په کندهار کی‌د شاه واله(اشرف‌الانهار) جوړه‌سوه.
اختیار خان بامیزی دا حمد شا هی دربار مهر بر دار و.

۱۷۵۹م۱۱۷۳ق

احمد شاه دهند و دتا (۸۰) زره لښکر په شمالی هندکی مات کړل جمادی الاخری).

۱۷۶۰م۱۱۷۳ ق

شاه عالم ددوهم عالمگیر زوی د دهلی پاچا سو.
محسن الملك معتمدالد و له یعقوب‌علی‌خان‌بامیزی په دهلی کی داحمدشاه‌له‌خوا مقررسو چی‌دابنارله مر هټانو څخه وساتی .
یاقوت خان خواجه سرا دملتا ن صو بدار سو.
سر دار علی محمد خان‌سدوز ی په ملتان کی دپښتنو مشر و.

۱۷۶۰م۱۱۷۴ق

احمد شاه د (۶۰) زرو لښکرو سره دپانی پت پر ډګر دلسو لکو مرهټانو اوهندوانو سره‌جنګ وکیء اوپه ۶دجمادی الاخری۱۱۷۴ ق ئی بری وموند دزه لکه تنه ووژل سوه ۵۰زره آسان او۲ لکه غوایی او۵۰۰ فیلان او ۲۲ زره بندیان ئی ونیول وروسته ئی‌شاه‌عالم دډهلی پرپاچهی بریښو.
په همدغه کال کی احمد شاه د کندهار اوسنی‌ښاربناکیءاوشهزاده تیمورئی دهرات حکمران کیء.
سر دار شجاع‌خان سدوزی‌لومړی پلا تر۱۱۹۷ق‌پوری‌دملتان حکمران‌و.

۱۷۶۱م۱۱۷۵ق

په‌پنجاب کی‌دجیسا سنگه‌شورش اوپه ۱۱ درجب ۱۱۷۵ق له دوی‌سره داحمد شاه جنگ اوماتول اوپر دوی بری اوتر ۱۱۷۷ق پوری په پنجاب کی پاتیدل.
احمد شاه بابایو سفارت چین‌ته واستاوه .
دتاشقر غان (خلم) دښار بنا چی په ۱۱۶۵ ق نوی شروع سوی وه ، په ۱۱۷۵ق دشهزاده سلیمان او عبدالله خان په‌امر بهرام خان دهغه ځای حاکم تمامه کړه.
ملا شیر محمد هوتك کندهاری داسرارالعارفین پښتوناظم اودتجوید افغانی لیکوال په کندهار کی وفات سو (ولادت ئی۱۰۹۲ق)

۱۷۶۱م۱۱۷۵ق حدود

شاه عزت الله مجد دی له کابله یارکند ته تللی وچی اولاده ئی هوری وه.

۱۷۶۲م۱۱۷۶ق

حافظ مر غزی دمردان پښتوشاعر احمد شاهی‌شاهنامه په پښتومثنوی نظم کړه.

۱۷۶۳م۱۱۷۷ق

احمد شاه سلطان مصطفی خا ن خلیفه عثمانی ته‌ولیکل چه دی په مدینه‌کی یو مسجد جوړول غوا ړی مگر خلیفه جواب‌ورکی‌اووئی نه‌منل. دالیك په دفتر همایون نمبر۳ کی ساتلی دی (استانبول).
داحمد شاه په‌امر زمان خان‌دلاش کلا په فراه کی‌جوړه کړه.
په‌هرات کی دحسین شاملو باغ جوړسو.معراج الدین‌ختك خپل طبی مثنوی دلیل‌العلیل منظوم کیء .

۱۷۶۴م۱۱۷۸ق

شاه غلام محمد مجد دی‌نقشبندی صوفی په پینبورکی وفات‌او ښخ سو، دده اولاده په کندهار کی وه.

۱۷۶۵م۱۱۷۹ق

واقف بتالوی مشهور شا عر کندهار ته راغی .

۱۷۶۶م۱۱۸۰ق حدود

محمدی صا حبزاده دمیا عمر څوکنی زوی دپښتو دیوان خاوند

شاعر خپل دیوان تر تیب کیء .
استاد احمد علی خان دتوره‌باس باروت ساز زوی له ملتانه کند هار ته راغی او دده زوی پاینده خان په کابل کی دآهنگری‌او باروتو کارخانی جوړی کړی.
قاضی دل محمد افغان په طب‌کی بحرالفوائد تالیف‌کیء ۵۵۸ مخه .
سر دار محمدشجاع خان‌سدوزی دوهمه پلا تر ۱۱۸٦ پوری دملتان حکمران و.

۱۷٦۷م ۱۱۸۱ق

شاه ولی خان وزیرله کند هاره د((٦) زرو سپرو سره بلخ ته ولاړ او وروسته پخپله احمد شاه هم‌د هرات له لاری میمنی ته ورسیدی‌او دبخارا دپاد شاه مراد بی سره ئی دریای آمو سر حد وتاکه.
پیر معظم شاه دپیر محمد فاضل دپښتو دپیر سباك او سیدو نکی دپښتنو تاریخ(تواریخ رحمت خانی) په پښتو وکیښ(یوه‌مقدمه په‌فارسی اوه مقامات) دا کتا ب په هند کی دحافظ رحمت خان بړیڅ لپاره کښل سوی دی ،چی دمو لف ماخذ یوبل پښتو کتاب (تواریخ‌افاغنه)و، چی په ۱۰۳۱ق کښل سوی و، او مولف‌ئی خواجو ملیزی و. کاظم‌خان شیدا دافضل خان‌ختك زوی چی‌هند ته شړلی سوی و، خپل دپښتو دیوان ئی تر تیب کیء.
علی خان دپیښور دشاوخوا اوسیدونکی خپل پښتو دیوان‌بشپړ کیء.
میر غیاث الدین غیاثی دمیرك بدخشی زوی‌چی‌دفارسی شعردیوان لری په بدخشان کی‌وفات او په فیض آباد کی ښخ سو (ولادت ۱۱۱۷ق)

۱۷٦۸م۱۱۸۲ق

احمد شاه په سندکی دحیدرآباد ښار بناکیء .
خرقه شریفه له جوز جانه دکابل له‌لاری شاه ولی‌خان‌کندهار ته‌یووړه (یکشنبه ۹ربیع الاول)
وکیل الدوله عبدالله خان‌پوپلزی په‌میدان کی(قلعه‌درانی) ودانه کړه.

۱۷٦۹م ۱۱۸۳ق

احمد شاه مشهدته‌ولاړ او نصیر خان بلوڅ همد ۲۰ زرو بلو څانو سره دده ملگری و. هلته‌ئی نصرالله میرزا دشاهرخ زوی دنادر افشا ر لمسی پر تخت کښینا وه او گوهر شاد دشاهرخ لو رئی تیمورشهزاده ته وغوښتمه په ۸د صفر ۱۱۸٤ ق قندهار ته راور سیدی ء د مجمل التواریخ لیکوال‌وایی چی احمد شاه په دغه سفر کی دری لکه سپاه ا و اوه سوه تو په لرل.
میرز ا محمد هاد ی متخلص په عشرت هروی دهرات منشی با شی او شاعر ژوندی و.
ملا عبدالله زوری او ابا سهل ا و ملامسکین په هزاره گی لهجه شعرونه ویلی دی .
دکابل د شاه شهید «ا سحا ق ختلانی» پر هد یره‌گنبده جوړه‌سوه.
شهزاده داراب‌په‌کابل‌کی حکمران او ملا عبدالله قاضی او ملا شا ه بیگ مفتی و.

دافضل‌خان ختك داشر فخان زوی د خو شحال خان لمسی و فات دی دپښتو تاریخ مر صع او پښتو کلیله د منه مو لف دی .
محمد مسعو د پیښو ر ی لو ی نقشبندی صوفی وفات سو(ذیحجه)

۱۷۷۰م ۱۱۸٤ق

حافظ رحمت خان بړیڅ په‌بر یلی کی دپښتنو خلا صه‌الانساب وکیښ (رجب)
حافظ محمد صادق په هند کی‌په فارسی تواریخ رحمت‌خا نی‌و کیښ (اوه مجلسه دلندن موزیم).

۱۷۷۱م ۱۱۸۵ق

دشهزاده تیمور په امر په هرات کی یولوی توپ جوړ سو .
قاضی عبدالر سول‌درانی پوپلزی ته‌چی دعسکر قاضی و دخان با لا ستقلال مر تبه ور کړ ه‌سوه .
اوشیخ‌الاسلام سو.
محمد اعظم د خیرالزما ن حسینی دومړ زوی چی مورخ‌او مفسر ووفات سو. د ه دقرا ن تفسیر او معیا ر العلو م لیکلی دی .
اخوندی ملا گندم علی د هرا ت دخلچان کلی د مشهو رعا رف ۸۵ کلن وفات سو . (ولادت ئی ۱۱۰۰)

۱۷۷۲ م ۱۱۸٦ق

احمد شاه پسله ۲٦کاله سلطنته په‌جمعه ۲۰ رجب۱۱۸۸ ق دقندهار دتوبی په غره کی مړاو په قندها ر کی‌ښخ سو په قند هار کی‌دده زوی شهزاده سلیمان دشاه‌ولی‌خان وزیر په‌سعی پادشاه سو ،خو شهزاد ه تیمور له‌هراته راغی ، او شا ه ولی خان ئی په‌بکوا کی مړکیء اوپه قندهار کی پادشاه سو .
دشاه ولی خان وزیر سره اعتماد الدوله دوست محمد خان‌او شکرالله خان دده زامن هم ووژل سو ه.
سردار محمد شر یف خان سدو زی تر ۱۱۸۷ ق‌پوری دملتان حکمران‌و.
۱۷۷۲-۱۹۷۲ م۱۱۸٦ - ۱۲۰۷ ق
تیمور شاه شیخ عبداللطیف د دلوی افغانستان پاد شاه و .

۱۷۷۲م ۱۱۸٦ ق

شجاع خان سد وز ی د ملتا ن حکمران په بهاولپور کی مړ سو .
تیمو ر شاه شیخ عبد الطیف د وکالت په‌منصب او التفات‌خا ن‌خواجه سرای خز انه‌داراو نور محمد خا ن بابړئی امین الملك او فتح الله خان سدوزی ئی خپل ندیم او میر هزار خان الکو ز ی ئی د خپل قوم په سرداری او قاضی فیض ا لله ئی مدار المهام او ملا عبدا لغفا ر جدید الاسلام ئی ددیوان‌په‌مستو فی گر ی وتاکل .شاهزاده هما یو ن دقندهار او شاهزاده سلطان محمود د هرا ت حکمرا نان سول .
نظام الدین عشرت سیا لکو تی «شهنامهٔ احمدی» په فا ر سی نظم کړه داحمد شاه بابا په نا مه .
پیرمحمد کاکړخپل‌کو چنی کتاب «معرفة الافغانی» دشهزاد ه سلیمان بن احمد شاه ابدا لی‌په‌نامه وکیښ.

۱۷۷۲م ۱۱۸٦ ق حدود

حسن علی یو سفزده داحمدشاه بابا «کرامت نامه» و کښله «دکابل خطی کتابخانه». محبت خان د حافظ رحمت‌خان بړیڅ زوی (اخبار محبت) په هندکی وکیښ.

۱۷۷۳م ۱۱۸۶ق

تیمور شاه پایتخت له قند هار ره کابل ته تبدیل کیء اوپه‌کابل کی دسردار جهانخان‌اودیوانبیگی‌عبدالله خان‌اوقاضی فیض الله خان اومراد خان پو پلزائی او علی رضا خان موسوی مستوفی او اخکزو په نامه کوڅی جوړی سو ی.

۱۷۷۴ م ۱۱۸۸ ق

په‌قندهار کی عبدالخالق خان سدوزی یاغی سو ، خو تیمور شاه دی ونیو ی‌او ړوند ئی‌کیء اوسردار پاینده خان بار کزی ته ئی د سر فرازخان لقب ورکیء .

حافظ رحمت‌خان دشاه عالم خان بړیڅ زوی دهند پښتو ن جنگی سردار او مورخ او شاعر د خلاصة الانساب مو لف په‌جنگ کی ووژل سواو دهند په بریلی کی ښخ سو . کودیزی شاعر د جلات‌او محبوباقصه په‌پښتو مثنوی نظم کړه .

۱۷۷۵ م ۱۱۸۹ ق

وکیل الدوله دیوان بیگی عبدالله خان پو پلزی په‌کابل کی یوه ما نی دبالا حصار سره جوړه کړ ه.

وکیل الدوله پر فراه رودپل جو ړ کیء.

سردار فتح‌الله خان سدوزی له ملتانه د تیمور شاه دربار کا بل ته راغیء او دشاهی دربار خاص ندیم سو .

۱۷۷۶ م ۱۱۹۰ ق

تیمور شاه داحمد شاه بابا دقبر گنبده اوباغ په قند هار کی جو ړ کړه.

میاعمر ځو کنی د پښتنو مشهور پیشواو مو لف وفات اود پیښو ر په ځوکنو کی ښخ سو .

استا د محمد یا سین معما ر له قندهاره د تیمور شاه په‌امر کابل ته راغیء ،دکابل دمعما رانو کور نی دده او لاده ده .

۱۷۷۶ م ۱۱۹۰ ق حدود

محمد نو ر بن محمد حسن بن عبدالحبیب تو خی نور خیلی جا مع السلوك عربی په قندهار کی وکیښ دی دمیا فقیر الله شاگرد د ی .

مسعود گل پا سنی په پښتو یو تاریخی مثنوی نظم کیء (د لندن موزیم خطی نسخه).

اخوند ملا خدابخش د قند هار او سند ملا باشی و، دی د ملاو لی ساکزی زوی دیء چی‌تر ۱۲۱۶ ق پوری لاژو ند ی‌و .

فیض الله دملا بابړ موسی خیل کاکړ زوی په قندهار کی دتحقیق التوبه رساله په‌عر بی و کښله .دده بله رساله د منطق مبادی د ی .

۱۷۷۷ م ۱۱۹۱ ق

سر دار جهان خان پو پلزی‌سپه سالار دقندهار په‌دل‌آرام‌کی مسموم

او په قندهار کی ښخ‌سو.

۱۷۷۹ م۱۱۹۳ق

په‌پیښور کی د فیض الله خا ن خلیل او ارسلا خان مو مند بغاو ت اودهغو وژل اود ځمکنو کلی چورول اود یاقوت خان خواجه سرای وژل. دپښتو شاعر بیدل دژوند و خت داشنغر په اتمانزوکی .

دکا بل با لاحصا ر نو ی‌کلاجوړه سوه .

کاشی راوپه هندکی دا حمدشاه او مرهتانو د جنگ تار یخ و کیښ (دبر تا نیا موزیم خطی نسخه)

کریمداد خان بامیزی داحمدشاهی دربار عرض‌بیگی‌دکشمیرحکمران و. مظفر خان دشجاع‌خان سدوزی زوی تر ۱۲۳۲ق پوری دملتان حکمران و.

نواز خان ختك د خوشحال خا ن کړوسی د پښتو شا عر او خطا ط په‌کابل کی و. دده ژوند تر۱۱۹۷ق پوری یقینی دی.

۱۷۸۰م ۱۱۹٤ ق

خواجه عبد الکریم‌کشمیر ی‌له‌نادر وشاره تر تیمور شاه پوری وقا یع په «بیان واقع» کتا ب کی و کښل (دلندن دموزیم خطی نسخه)

۱۷۸۰م ۱۱۹۵ق

میرزا محمد رفیع سوداد میرزا محمد شفیع کابلی زوی داردو ژبی مشهور شاعر او ملك‌الشعراء په هندکی وفات سو «ولادت ئی ۱۱۲۵ ق‌په ډهلی کی»

ملاعبداللطیف صدرالعلماء وفات سو .

شاه فقیر الله بن عبدالر حمن حصار کی جلال آبادی نقشبندی مشهور عالم او روحانی مر شد په ښکار پور کی وفات او ښخ سو (۳صفر) دی داحمدشاه‌ابدالی‌مرشدو. دقطب‌الارشاداومکتوباتواوفتح الجمیل او ډیرو نورو پښتو اوفا ر سی اوعربی تالیفاتو خاوند. په‌هند کی‌د عروج وخروج احمد شاه ابدا لی کتاب تالیف سو (دما نچستر خطی نسخه) دتیمورشاه په فر مان‌دکروخ دموقوفا تو متو لی تو ب خوا جه محمدسعیدته‌وسپارل‌سوچی‌د سلطان بابا لاش له اولادی څخه‌ یو عارف‌او شاعر متخلص په (سیدا) و، اود شعر دیوان لری.

۱۷۸۱م ۱۱۹٦ ق

تیمور شاه‌ملتان له سکهانو څخه بیا ونیو او هغه ئی شجاع خان سدوزی ته وسپاره.

محمد علی انصاری دهدایت الله خان زوی په‌هندکی‌تاریخ احمدشاهی وکیښ . (دبر یتانیاموزیم) پیرمحمد کاکړخپل دپښتو دیوان ترتیب‌کیء.

۱۷۸۲م ۱۱۹۷ق

نائب امین الله خان دمیر زایی خان لو گری زوی دلو گر په برکی راجان کی وزیږیدی ، مور ئی‌دکمال خان وردگ لور وه.

میر عبدالله دپښتو سواتی‌شاعر دننگرهار او سیدونکی‌دپښتو دیوان (جام محبت) خاوند او صوفی‌وفات سو (۲۵ رجب) ولادت ئی ۱۱۳۰ ق

کال دی.

۱۷۸٤م۱۱۹۹ق

دفارس میر زا محمد کلانتر چی دنادر افشار معا صر او ملگری و، تر ۱۱۹۹ ق پوری ئی خپلی لید نی وکښلی چی دهو تکو آخرنی حال‌هم لری (دتهران چاپ ۱۳۲۵ش)

قاضی محمد اکبر شاه دقاضی محمدغوث زوی‌دپیښور لوی قاضی‌و.

محمد شاه خان هزاره دهرات بیگلر بیگی (حکمران) و.

محمد خان هزاره دمحمد شاه‌خان زوی دتیمور شاه په‌فر مان‌دباخرز حاکم‌بالاستقلال‌مقرر سو (۸ذی‌حجه)

۱۷۸۵م ۱۲۰۰ق

امو خان داشرف‌خان تو خی زوی دکلات دسیمی مشر و.

میان محمد عمر دمحمد ابراهیم زوی دباجوړ دمیا کلی او سیدونکی (دخو کنو میا) مشهور عالم‌اومرشد او مولف وفات‌اودپیښوردخوکنو کلی کی ښخ سو (یکشنبه ۱٦ شعبان) ولادت ئی ۱۱۰۰ق. تالیفو نه‌ئی:(۱) معالی شرح‌امالی(۲) تو ضیح‌المعانی پښتو منظوم (۳) دافغا نانو شجره نسب (٤) شمایل نامه په ۱۱٦۳ ق پښتو (٥) مخمس درود شریف به پښتو.

حافظ الپوری خپل پښتو د یوان ترتیب کیء.

مسعود بن عبدالله دآدم خان او درخانی قصه تالیف کړه.

محمد نور بن محمد حسن بن عبدالحبیب تو خی کندهاری خپل کتاب جامع السلوك وکیښ (عربی).

۱۷۸۵م ۱۲۰۰ ق حدود

بابه خان ریکا باشی او دده زوی سر فراز خان دکابل د ریکا نسی مشران اود لښکر منصبداران وو، دریکا قبیله احمد شاه له کردستانه راوستلی وو.

سر دار رحیمدادخان دحاجی‌جمال خان بارکزی زوی دافغانی دربار د سلطنتی اسنادومحافظ اومهر بردارو.

دجلال آباد دبهسود اود ښکار پور د گړی یاسین محمد زی دده له پښته دی.

میرزامحمد هاشم بهشتی‌داحمد شاه بابا اوتیمورشاه دحضو ر منشی (نگارستان سلطانی) وکیښ چی سیاسی او ادبی معلو مات لری.

یوه نامعلو م مولف پښتو تذ کر ة الملو ك د سدوزو په تا ریخ کی و کیښ (درا ورتی خطی نسخه)

محمد جعفر شاملو خراسانی چی داحمد شاه سره دپانی پت په جنگ کی ملگری‌و، په‌هندکی منازل‌الفتوح ددی جنگ پراحوال‌وکیښ (دبرتانیا موزیم خطی نسخه)

۱۷۸٦م ۱۲۰۱ ق

مدد خان دتیمور شاه له خواشخه په سندکی دتالپورانو سرو کو ټلی اوبیائی میر فتح خان دسندحکمران کیء . ملاحسن‌ساکزی‌دکندهاردتلکان پښتو اوفارسی شاعر او عارف‌خپل فارسی‌دیوان‌تکمیل‌کی (تحفة‌المدایح)

دکابل په بالا حصار کی دو کیل الدو له عبدالله خان پو پلزی په امر یوه خا نقاه جوړه سوه (پنجشنبه (۱) جمادی الاخری).

وکیل الدو له عبدالله خان پوپلزی دعلی خان قند هاری زوی چی‌شاعر، اداره چی، او لښکری لوی وزیرو ، په غزنی کی وفات او ښخ سو (دو شنبه ۲۲ذی قعده).

۱۷۸۸ م ۱۲۰۲ ق

دعلیم الله بن عتیق الله بن فضل‌الله بلخی حنفی صو فی او فقیه او دزبدة الروایات دمؤ لف وفات . (ولادت ئی ۱۱۰۹ق)

۱۷۸۸م ۱۲۰۳ق

په کشمیر کی دآزاد خان‌ښورښت اودهغه آرامو ل‌دغه وقایع په«جنگ نامه آزاد خان »کی‌په فارسی منظوم سوی دی .

دتیمور شاه په فر مان شهد اد خان پو پلزی دننگر هار مستأ جر او حا کم دجلال آباد کلا جو ړه‌کړه. میر هو تك خان افغان پو پلز ی دخپلو فار سی اشعا رو کلیا ت تر تیب‌کیء (۱٤) زره بیته.

۱۷۸۹ م ۱۲۰٤ ق

دبخارا شاه مراد معصو م مرو و نیو له، او تیمور شاه در یای آمو دده سره سر حد و ټا که.

تیمور شاه په‌کابل کی یولوی قصر جوړ کیء .

۱۷۹۰ م ۱۲۰٥ ق

مولوی محمد عمر ساکزی دپښتو تجوید مؤلف په قند هار کی و فات سو .

۱۷۹۱م ۱۲۰٦ق

دشاهزاده محمود د هرات دحکمران په امر خان علوم ا قضی القضاة احمد خان دهرات جا مع بیا ودانه‌کړه .

سید ابو الحسن عنوان د جر م بد خشان شا عر ووژل سو (ولادت ئی ۱۱۲۳ق)

۱۷۹۲م ۱۲۰٦ق

اسدالله خان نورزی په دهلی کی دتیمور شاه سفیر او غلام احمد خان‌ئی و قایع نگارو. دهند له‌خوا وجیه الدین سفیر کابل ته را غیء چی تیمور شاه وجیه الدو له لقب ور کی ء .

۱۷۹۲م ۱۲۰۷ ق

تیمورشاه تر (۲۲) کلو سلطنت ورو سته (٤٦) کلن په کابل کی په یکشنبه ۷ شوال و فات او ښخ‌سو ولادت ئی ۱۱٦۰ق پر ځای یی دده زوی شاه زمان پادشاه سواود کابل پر تخت کښینو ست .

۱۷۹۲ ـ۱۸۰۰م ۱۲۰۷ـ۱۲۱٥ق زمانشاه دتیمور شاه زو ی دلوی افغا نستان پاچا و.

۱۷۹۲م ۱۲۰۷ ق

رکن الدوله نواب مظفر خان سدوزی او امین الدو له سر دا ر محمد خان دیار محمد خان سدو زی زوی کابل ته راغلل ،او دواړه بیرته دملتان او کچهی حکمرا نان سو ل.

نواب مستجاب خان بړیڅ په‌هند کی گلستان ر حمت و کیښ .

سید انور شاه دتیراه په کلایه‌کی دپښتو دیوان تر تیب کیء.

قنبرعلی خان اور کزی د پښتو

دیوان خا وند شا عر په پیښورکی مړ سو (پنجشنبه ۱۱ رجب).

میر زا محمد خلیل مر عشی په مجمع التوا ریخ کی دهو تکوفتوحات په ایران کی بیان کړه (د تهران چاپ ۱۳۲۸ ش)

شاه زمان حافظ شیر محمد خان دشاه ولیخان و زیر زوی ته دمختار الدوله اشرف الو زراء لقب ورکیء او قاضی القضات مدارالمهام فیض‌الله دولت شاهی‌ئی بندی کیء (شوال)

۱۷۹۳م ۱۲۰۷ ق

دشوال په‌اومه تیمور شاه پسله ۲۲ کاله سلطنته په‌کابل کی‌مړاوښخ سو اوشهزاده زمان په کابل کی پرتخت کښینوست .

شهزاده همایو ن چی دقلا ت ، نصیر خان بلوڅ‌ئی پناه ورووړی وه، دغه خان‌ئی شفا عت نامه دشاه‌زمان حضور ته را و لیږ له .

۱۷۹٤ م ۱۲۰۸ ق

دکابل شاهی باغ اود لکشا قصر له‌بالا حصار سره جوړ سو ه.

شاه زمان دسکها نو ددفع لپاره پیښور ته و لاړ، خو بیرته قندهارته را و گر زید او خپل ورور هما یون ئی په‌لهیه‌کی ونیواو دحسن قزلباش په لاس ئی ړوند کیء ، بلخ یی هم بیا ونیو. دانگریزانو دوه تنه استاځی کابل ته راغله، چه‌یو ئی سیدغلام محمد خان نومیدی ء .

۱۷۹۵ م ۱۲۱۰ ق

قاسم علی افر یدی خپل پښتو دیوان په هند کی تر تیب کیء (۲۰ ربیع‌الاول ۱٦ اکتوبر)

۱۷۹۵ م ۱۲۰۹ ق

محمد علی خان انصاری په‌هندکی (بحر مواج) ددر نو د عصر پراحوال باندی تالیف کیء (دلندن موزیم).

ملا سعد الله خرڅی قندهار ی‌چی پر جلالین او مو لوی عبدالغفور ئی حا شیی لیکلی دی و فات سو.

دزمان شاه له خوا څخه شا ه غفران لله مجددی بخا را او خوقندته په سفارت ولاړ.

۱۷۹۵م ۱۲۱۰ ق

دکابل دچهل ستو نقصر په هند کی دشاه زمان لپاره جوړ سو.

په‌حسن ابدال کی شاه زما ن دسکها نو سره و جنگید، او لاهور ئی بیا و نیو .

رحمت داوی قندهاری شا عر ، دلیلی مجنون قصه په پښتودسردار عبدالله الکو زی دکشمیر دوا لی اود شاه زمان سدو زی په نامه نظم‌کړه، دی پښتو دیوان هم لری.

آقا محمد خان قا جار پر مشهد تعرض و کی ء او شا هرخ‌ئی بندی کیء دده زوی نادر میر زا دهرا ت له‌لاری شاه زمان ته پناه را و ړه. قا جاری پاچامحمد حسین قراقوزلو کابل ته سفیر را وا ستاوه او شاه زمان هم خپل سفیر گدو خان درانی ایران ته و لیږ لی ء .

ړوند شهزاده هما یو ن‌ئی کابل کی بندی و.

۱۷۹۵ م ۱۲۱۰ ق

قا ضی محمد حسین خان‌ملا

پیښوری دمیرزاهددمنطق پر حاشیه بله حا شیه و لیکله.

کل محمد دهلمند دما لگیر او سیدو نکی پښتو شا عر خپل پښتو دیو ن بشپړ کیء.

حاجی در و یش بها در خا ن صو فی او شا عر د حا جی جما ل خان بارکزی زوی په قند هار کی ژونـدیؤ (دمحمد ر حیم خا ن امین الملك او محمد اکر م خان امین الملك پلار) .

شیخ الا سلام میر خیر ا لد ین دشاه زمان ددربار ملا او قا ضی — القضات ؤ .

۱۷۹٦م ۱۲۱۱ ق

دډهلی سفیر سید محمود خا ن کابل ته راغیء اوشاه زمان دډهلی دمیر زا محمد اکبر د ولیعهدی تصدیق وکیء.

شاه زمان دجیلم اوسند دوابی ته احمد خان بار کزی او درا و ی ا و چناب ناوی ته حسن خان قز لبا ش حا کمان مقرر کړل. محمد خان‌توخی او بو ستان خان اونورالله خان ختك دلازرو سپرو او سلو ز نبور کو اوخاورو تو پوسره ددغو دوولایاتو دسر حداتو سا تنی ته و گو ما رل سوه.

شهزاده قیصر دهرات نائب — الحکو مه او سر دار احمد خان نورزی اوسردار زمان خان بامیز ی دهرات دانبکر مشران او مشکی خان خواجه سراد ضراب خانی ا و باروت سازی مشر او قلیچ خا ن تیموری دهرات قلعه بیگی سو.

شیر محمد خان با میزی نا درمیرزا افشار بوت اود افغا نستان په حمایت‌ئی د مشهد پر تخت‌کښیناوه.

هارون خان دحاجی جمال خا ن محمدزی زوی دفارسی‌ژبی خورابنه شاعر په‌گریشس او قندهار او کابل اوهندکی ژوندی‌و،دده دشعر دیوان هم سته .

۱۷۹۷م۱۲۱۲ق

شاه‌زمان سدوزی د جنوری په اوله لاهور ته ولاړ، اوپه ۱٦ ما رچ بیرته کابل‌ته راغی ء.

دهند درامپور نواب غلام محمد خان دفیض‌لله خان رو هیله ز و ی کابل ته راغیء اود شاه زمان‌څخه‌ئی کومك و غوښت، چی دده و لایت بیر ته ور و نیسی . (رجب)

په دی کال شاهزاده سلطا ن منصور دکابل حاکم، او جان نثا ر خان امیر الا مراء قوللر اقاسی ئی مختار کار ؤ. حسن خان تو پساز په کابل کی دشاه زمان په امر دزبر زنگ توپ جوړ کی ء.

د کابل په بالا حصار کی بنگله طلا جوړه سوه.

۱۷۹۸م۱۲۱۲ق

په هرات کی شهزاده محمودیاغی سو، او شاه زما ن ور غی، هرات‌ئی و نیوی‌ء، او شهزاده قیصرئی دهرات حکمران کیء (۱٤ اکتوبر) محمود، کا مران او فیروز الدین سد و زی شاهزادگا نو تهران ته فتح علی شاه ته پناه‌یووړه (۲۸ رمضان).

شاه زمان گدو خان سفیر تهران دشاه زمان په امر سر دا ر ته واستاوه، چی قاجاری پا چا ،

سدوزی شا هزادگان دشاه ز ما ن پرخلاف ونه لمسوی.

شاه زمان له هراته کابل ته ر ا ستون سو او لاهور ته رهی سو (دسمبر).

زمان شاه له خرا سانه ۱۲ ز ره کوره نا قلین دکا بل سیمو ته را وکو چول.

مظفر خان رکن الدو له د شجاع خان سدوزی زوی دتیمور شاه له خواد ملتان ناظم سو .

رنجیت سنگه د شاه زما ن په فرمان دپنجاب حکمران سو، او د مها را جه لقب ور کړ سو .

شاه زمان خپل ۱۵کلن زو ی شجاع الملك دپیښور حکمر ان کیع.

شاه صفی‌الله صفی‌مجددی شاعر او صوفی د یمن په حدیده کی وفات او ښخ‌سو، دی دشعر دیوان لری ا و خلور کتابونه ئی په تصوف کی کښلی دی . (دلا دت ئی ۱۱۵٦ ق)

میر عزت الله له اتکه خپل سفر د یار کند، پر خوا ، بلخ ، بامیان، کابل، پیښوزاوبخارالهلاری شروکیع (۲۷ رجب) ده په ۱۲۲۷ ق د ولیم مور کرافت په‌حکم خپله سفر نامه هم وکښه ، چی یوه برخه ئی په ۱۸۲۵ م له کلکتی څخه چاپ سوه .

شیخ رحم علی هندی د ایسټ انډیا کمپنی په امر راغی ، او (بیان حالات منازل کابل ازبلدهٔ شاه‌جهان آباد) بی وکیښ .

۱۷۹۸ م ۱۲۱۳ ق

شاه زمان د خپل ورور د مقابلی لپاره قند هار ته ولاړ (٦ جولایی)

د شاه زمان د وژلو دسیسه چی د میان غلام محمد هندی په لمسون دده په‌کوټه‌کی په‌کندهار کی جوړ سوی کشف‌سوه‌او۱۳تنه‌سرداران‌چی‌پ دسیسه‌کی‌ئی‌لاس درلود،دشاه زما ن په مخ کی ووژل سوه ، چی سردا پاینده خان بار کزی هم و ، مگر دد زوی فتح خان ایران ته وتښتید ، ا هلته شهزاده محمود ته‌ورغی‌ع .غلا محمد درویش هم‌هند ته وتښتیدی خو پرلاری ونیول سو او ووژل سو (۱۳رمضان).

علامه حبیب‌الله قند هاری محق دمولوی فیض الله موسی خیل زو په قندهار کی وزیږید .

د افغانستان صادرات ایران د کاله څاور ملیونه روپی وی ، او ایرانه واردات تر ۳۰ ملیونو روپ رسیدل .

شاه زمان د هند د بیانیولو لپا دیولك عسکر سره پیښور ته ورسید (۲۵) اکتوبر .

انگزیزانو د هند د دفاع لپاره دایرا په‌دربار کی دافغانستان پر خلا ف فعالیت شروع کیع چی قا جاری حکومت پر هرات حمله وکی ، او د شاه زمان توجه د هند له خوا راوگرزوی .

امام الدین حسینی چشتی په هندکی تاریخ حسین شاهی‌دسدو زو پراحوال اوشاه زمان باندی وکیښ. و کیښ

معتمد الد وله رحمت الله خان سدوزی دشاه زمان په فرمان وزیر اعظم سو ، او توره باس خان پوپلزی تهران ته واستول سو ، چی د ایران صدر اعظم حاجی ابراهیم د شهزاده محمود له لمسولو لاس واخلی .

د شاه زمان د سلطنت رجال :

رحمت الله خان سدوزی صدراعظم معتمد الد وله .

مختار الد وله حافظ شیر محمدخان وزیر او د درانو سردار .

امین الملك نور محمد خان بابړ مهتمم دیوان مالیات .

میرزا علی رضا خان قزلباش مستوفی دیوان اعلی .

میرزا میر ابراهیم‌موسوی مشرف .

میر محمد علی خان موسوی کفایت خان منشی .

میر احمد خان موسوی منشی
میرزا شریف خان قزلباش منشی باشی.

میر هوتک خان پوپلزی دا روغه دفتر او هر کاره باشی .

التفات‌خان اویرسف‌خان خواجه‌سرا.

د شاه زمان کار داران :

۱ـعبدالله خان مخلص الد وله پوپلزی د کشمیر حکمران په ٤۰ لکه روپی اجاره چی‌فقط ۷لکه‌ئی خزانی ته رسیدی نقدی یا تحفه .

۲ـ مظفرخان صفدرجنگ سدوزی د ملتان حکمران دری لکه روپی .

۳ ـ عبد الرحیم خان هوتک د ډیرو اجاره دار په نه لکه روپی .

٤ ـ میر فتح علی خان تالپور د سند میر شپږ زره لښکر .

۵ـ دقلات‌بلوخان‌خانان نصیرخان او محمودخان شپږزره سپا ره.

٦ ـزر داد خان پوپلزی د پیښور حکمران په اوه لکه روپی اجاره .

۷ ـ عبد الله جان نثار خان د کابل حکمران .

۸ ـ امین الد وله محمد خان سدوزی د لهیه حکمران .

۹ ـ شهزاده قیصر د هرات حکمران .

۱۰ـ شهزاده حیدر دقند ها ر حکمران .

۱۱ ـ په شمالی ولایاتو کی محلی میران .

۱۲ـا حمدخا ن با رکز ی شا هنچی باشی دجیلم حکمرا ن .

۱۳ـ نواب جمال خان دقصور حکمران .

۱٤ـ ملك محمد عظیم خان دکا لا باغ حکمران .

۱۵ـ امیر گونه‌خان زعفران لرد خبوشان حکمران

۱٦ـ ابراهیم خان شادلو افشار داسفراین حکمران .

۱۷ـ ابراهیم خان کرد داسفزار حکمران .

۱۸ـ عباسقلی خان بیات اوجعفر خان بیات دنشاپور حکمران .

۱۹ـ جلال خان پوپلزی د کابل مستوفی .

په‌دی ډول دشاه زمان مملکت له لاهوره او کشمیر ه‌او سنده تر نشاپوره‌و، چی‌جنوبی‌خواته‌ئی بحیره عرب و.

دشاه زمان عسکر :

۱۲ زره غلامان مغول اوقزلباش.

۱۲ زره سپاره همرکا به چی امین‌الملك ئی مشرو .

۳۰ زره قندهاری سپاره .

۳۰ زره پیاده .

۱۵ زره‌سپاره‌په سند اوملتان‌کی.

په جنگی سفرو کی گرده سل زره سپاره .

۱۷۹۹ م ۱۲۱٤ ق

دشهزاده محمود اووزیر فتح‌خان خطر له‌ایرانه ډیر سو ، شاه زمان خپل ورور شجاع الملك په پیښور کی پریښو ، کابل اوقندهارته‌راغی

(۳۰ جنوری) .

هارون خان دحاجی جمال خان بارکزی زوی ددری تکړه شاعر د گرشك حکمرانؤ .

۱۸۰۰ م ۱۲۱۵ ق

د توره باس خان ابدالی افغانی سفیر ترمذاکراتو وروسته فتحعلی شاه قاجار دشاه زمان په نامه یو خط وکیښ اوخراسان یی خپلهپدری موروثه وبلله، مگر شاهزمان پخپل جوابی فرمان (۱۸ جمادی ا لاخری ۱۲۱۵ ق) کی ورته وکښل، چیکه پرافغانی حدودو تجاوز وسی،جواب بهیی پهتوره درکړه سی .

حضرت شاه دمردان اوسیدونکی پښتو شاعر خپل دیوان ترتیب کیء.

مدرس فیض الله اخوند زاده داشنغر او سیدو نکی دپښتو ذخیرةالقراء کتاب وکیښ. (رمضان)

۱۸۰۱ م ۱۲۱٦ ق

جان ملکم دانگریز سفیر پهتهران کی لهفتح علی شاه سره معاهده وکړه، چیکهد افغانستان پاچاپرهند حمله وکی، نوبه دقاجاریانو لښکرپر افغانستان باندی راځی .

شهزاده محمود او وزیرفتحخان لهایرانه راغلل اوقندهار یی ونیوی شاهزمان له کابله ورغی او سردار احمدخان نورزی دشاهزمانهد ۳۰زرو لښکرو سره وزیر فتحخان ته اورواو ستل اوشاهزمان مات سو،له تازی رباطه. کابلته راغی (صفر).

شاه محمود سدوزی تهپه قندهار کی دایران دقاجاری پاچا د تبریك مکتوب ورسیدیء او انگریز انو د هندو ستان دنیولو رقیب شاهزمان پهدی چم هیسته کی ء.

شاه زمان لهبالا حصاره دننگرهار پرخوا رهی سو او شاه محمود په بالاحصارکی پاچا اوسردار فتح خان شاهدوست یی وزیر سو(دربیع الاول اوائل) .

شاه زمان ونیول سو او پوانـد کړ سو، وزیراعظم سردار رحمتالله خان بامیزی او وروریی سردارخان اومحمد زمان بامیزی پهبالاحصارکی ووژل سوه .

دوزیر فتحخان په فرمانملامحمد علی قزلباش دکابل دمرادخانی ـ خیابان ـ وزیرآباد دامامیانو په قضا مقررسو. (شعبان)

دشاه محمود سدوزی په فرمان نائب امینالله لوگری دلوگر او بتخاك خان سو، چی لقب یی (امینالد وله او نائبالسلطنه) و .

شجاع الملك دشاه زمان سکه وروز دپیښور له خوا حمله وکړه، ،داشپان پهجنگ کی مات سو او بیرته خیبر ته و لاړ .

دوزیر فتحخانفرمان دفتحالهخان امین الملك پهنامه صادر سو، چی دامین الله خان برهکیلوگری لپاره دوه سوه تومانه مواجب مقرر د یء (۱۹ صفر ۱٦ق) .

۱۸۰۲ م ۱۲۱۷ ق

شهزا ده کامران دخپل پلار شاه محمود له خوا دقندهار نائب الحکو مه سو.

۱۸۰۳م ۱۲۱۸ق حدود

میرهوتك خان (افغان) دزمان خان پوپلزی زوی خپل دفارسی شعر دیوان ترتیب کیء .

غلجی قبایل شاه محمود ته وبسوریدل اووزیر فتحخان دلسوزرو لښکرو په مرسته له دوی سره ډیر جنگونه وکړه، او شپږزرهتنهئی مړه کړه.

غلجیان چی شاه محمود ته یاغی سوی‌ؤ په سجاوند کی مات سول، اود دوی مشر عبدالرحیم خان او دوه زامن یی‌په توپ کی‌والوزول سوه،په کابل کی دمختار الدوله شیر محمد خان ښورښت .

۱۸۰۳ م ۱۲۱۹ ق

په کابل کی دشیعه اوسنی جنگ ونښتاوخلکوبلوا وکړه، شاهمحمود ونیول سو، اوشاه شجاعپادشاه سو بالاحصارتهراغی(۱۳جولایی)او وز یر فتح خان قندهار ته ولاړ. پانده شاهزمان نه پریښو چی دشاهمحمود سترگی پرندی سی، دی یی په بالا حصار کی بندی کیء ، او د شاه شجاع د سلطنت لومړی دوره تر ۱۲۲۵ق پوری‌وه .

شاه شجاع تر جلوس وروسته دغه لوړ مامورین مقرر کړل .

مختار الدوله شیر محمد خان بامیزی وزیر .

شهزاده حیدر دشاه زمان زوی دقندهار نائبالحکومه .

گلستان خان اخکزی مستو فی الممالك .

محمد اکرمخانپوپلزیامینالممالك گلمحمد خان پوپلزینظام الملك جلالخان پوپلزی د کابل مستوفی فتحالله خان شاهی مهر بردار .

شیردل خان درانی دکابلحاکم.

میر هوتك خان پوپلزی د شاهی دفتر مهتمم اودا روغه .

میرزا علی عسکر منشی .

ابوالحسن خان خزانه دار .

شیخ الاسلام محمد یوسف دقندهار لوی قاضی.

حاجی رسول خان هوتك شاهعام خیل غلجی (دمیرویسخانله کورنی شخه) پهکابلکی اوسیدی .

۱۸۰٤ م ۱۲۱۹ ق

شاهشجاعد ۳۰ زرو لښکروسره کشمیر او پنجاب ته ولاړ اوسندیی بیاونیو، دکامران او قیصر مخالفت لهشاه شجاع سره جاری ؤ.

۱۸۰۵ م ۱۲۲۰ ق حدود

قاضی محمد اکبر خان ملادقاضی محمدغوث زوی په پیښورکی دمحمد زاهد بن محمد اسلام پرتعلیقاتو یوه شرحه وکښله، دغه تعلیقات دعلامه جلالدوانی پرشرح تهذیب باندی دی .

قاجار یانو بیا د انگریزانو په لمسون پرهرات حمله وکړه خونکام ولاړل .

۱۸۰٦ م ۱۲۲۰ ق

نوابمحبتخان دحافظ رحمتخان بریڅ زوی ریاض المحبت د پښتنو تاریخ په هند کی وکیښ .

میان محمدی صاحبزاده د میان عمر ځوکنی زوی دپښتو دیوان خاوند .شاعر وفات اود پیښور په ځوکنو کی ښخ سو .

آثاریی ریاحین الصلوه ۱۱۹۰ق

مقاصد الفقه ۱۲۰۲ ق

د پښتو شعر دیوان .

۱۸۰۶م۱۲۲۱ ق

نواب محبت خان بریخ دریاض المحبه په‌نامه دپښتوگرامرپه هندکی وکیښی .

دوهم اکبر د شاه عالم زوی په دهلی کی پر تخت ناست و تر ۱۲۵۳ ق پوری .

۱۸۰۷ م ۱۲۲۲ ق

عبدالله خان مخلص الدوله د جمعه خان الکوزی زوی د کشمیر حکمران هلته وفات سو ، او برخای ئی د شاه شجاع له خوا عطا محمد خان بامیزی د شیر محمد خان مختار الدوله زوی مقرر سو .

دوهم الکسندر د روس پاچا او نا پلیون په تیلسیت کی د هند د گډ یرغل نقشه د ایران له خوا وتړله .

د هرات مشهور صوفی اسلام گروخی د قاجار یانو سره دشکیبان په جنگ کی شهید او په کروخ کی ښخ‌سو (ولادت بی دمیمنی به‌هبرك کی ۱۱۳۸ ق) .

میرزا سنگ محمد بدخشی

۱۸۰۹ م ۱۲۲۳ ق .

د بدخشان د امیرانو تاریخ دی .

مصطفی د محمد ابراهیم هروی زوی (مخلص) د خپل پیر شیخ سعدالدین انصاری شرح حال «نشأة القدس» په کا بل کی‌وکیښی.

سید محمود المو سوی د افغانی ځلورو قبیلو احوال او شجری ترتیب کړی د (چهار قبیله افغان) په نامه (د برتانیا موزیم خطی نسخه).

عبدالرحمن عارض بدخشی شاعر وفات سو .

۱۸۰۹ م ۱۲۲٤ ق

شاه شجاع د کابل له بالاحصاره پیښورته ولاړاوملاعاشق‌شنواری ئی چی شاه زمان ئی شاه محمود ته په لاس ورکړی‌و، په‌توپ کی‌والو زاوه ود کوه نور غمی‌ئی واخیست .

په پیښور کی د انگریز ایلچی ایلفنستو ن له شاه شجاع سره دفاعی معاهده د فرانس او ایران‌د حملی پر خلاف وکړه ، چی په ۱۷ جون ۱۸۰۹ م لاړه منتهو د هند ویسرای تصدیق کړه .

میر مجتبی الفت د میر مر تضی کابلی زوی د دری شعر دیوان خاوند په کابل کی وزیر یدیء.

امین الملك وزیر اکرم خان د حاجی درویش خان محمدزی زوی او عبد الغفور خان پوپلزی د نملی په جنگ کی ووژل سوه .

۱۷٤۹– ۱۸۰۹م ۱۱٦۳– ۱۲۲٤ ق

د پیښور د سیمو مالیات د افغانستان د سدوزو حکومت ته (۵۵۰ر ۷۵۹) روپی وی هره رو پی ۱۰ شاهی. ملاولیداد کاکړپه‌قندهار کی دعین‌العلم ترجمه په‌پښتومثنوی وکړه .

۱۸۱۰ م ۱۲۲۵ ق

شیخ سعد الدین احمد انصاری د عبد الغفار زوی مشهور مجذوب صوفی او شاعر او مؤلف ۸۵ کلن وفات اوکابل‌په‌ده یحیی‌کی ښخ‌سو.

سو (ولادت ئی رمضان ۱۱٤۰ ق) دده منثور او منظوم آثار تر ٤۳ پوری رسیږی .

شاه شجاع پیښور ته ولاړ او وزیر فتح خان د شهزاده قیصر په ملگری له‌قندهاره راغی ، او شاه شجاع هم له پیښوره را وگرزید او په ده مزنگ کی ئی شهزاده او وزیر فتح خان مات کړل ، او دوی بیر ته قند هار ته ولاړل .

میر واعظ سید احمد د کابل د ښار پیش امام په کابل کی ووژل سو (داگست اوایل د جمادی الاولی اواخر) اشرف الوزراء مختار الدوله حافظ شیر محمد خان او حاجی میراحمد خان د شاه ولی خان بامیزی وزیر اعظم زا من په پیښور کی و وژل سوه.

۱۸۱۱ م ۱۲۲۵ ق

شاه محمود د بالا حصار له زندانه ووت او د وزیر فتح خا ن په مرسته ئی شاه شجاع د قندهار په جگان کی مات کی او هغه ملتان ته ولاړ ، خو شاه محمود کابل ته راغی بیا په بالا حصار کی پاچاسو.

شهزاده عباس د تیمور شاه‌زوی له بند ښخه وتښتید او په کوهدامن کی ئی دپاچهی اعلان وکیء.

ملا یوسف عطار متخلص په مقتول‌دغه واقعی‌په فارسی‌مثنوی‌نظم کړی .

۱۸۱۲ م ۱۲۲٦ ق

شاه محمود او وزیر فتح خان د کشمیر د نیولو لپاره پیښور ته ولاړل ، شهزاده عباس د سید اشرف او نظر محمد او شاخل په ملگری کابل ونیوی‌ء . خو سردار دوست محمد خان له پیښوره را غی او بالاحصار ئی ونیو ، او سید اشرف اوسید عطائی‌دپیل ترگونډو لاندی کړه .

په پیښور کی‌سخته وچ‌کالی وه.

مور کرافت انگریز د روس او شمال غربی هند پر تجارت خپل راپور ترتیب کیء (دهند آرشیف)

ابراهیم خان جمشیدی د کابل د عاشقان و عارفان (عبدالسلام او عبد الصمد د جابر زامن د خواجه عبدالله انصاری هروی لمسیانو) هدیره جوړه‌کړه چی ډبر لیک‌لری.

۱۸۱۲ م ۱۲۲۷ ق

وزیرفتح‌خان له‌عطامحمد خان‌بامیزی ابن‌شیرمحمد خان مختارالدوله ښخه کشمیر ونیوی‌ء اوسردار محمدعظیم خان ته ئی وسپاره.

امیر محمد انصاری د میرمحمد زوی په کلکته کی د سعدی گلستان په پښتو ترجمه کیء (د لندن‌موزیم خطی نسخه) .

۱۸۱۳ م ۱۲۲۸ ق

انگریزانو چی میر عزت‌الله‌هندی یارکند او بخاراته لیږلی و ، له بلخ او کابله بیرته هند ته ولاړ (ذی حجه) دده سفر نامه په ۱۸۲۵ م په کلکته کی چاپ سوه ، چی اصل ئی په اندیا آفیس لندن کی دیء .

قاضی عبدالکریم د قاضی دادالله زوی د قاضی محمد غوث لمسی په پیښور کی نصاب‌التوحید وکیښ .

مسعود گل د قاضی عبدالرحمن پیښوری محتسب زوی د سردار محمد عظیم خان په‌نامه خپل فارسی کتاب ((عجائب الاخبار)) وکیښ ٤٦٧ مخه (د پیښور موزیم خطی نسخه) .

نواب الله یار خان بړیڅ دحافظ رحمت خان زوی پښتو عجائب اللغات په هندکی تألیف کیء .

۱۸۱۳ م ۱۲۲۹ ق

حاجی رحمت الله خان د حاجی دریا خان پوپلزی زوی د کوهدامن او سیدونکی وزیر او سردار وفات او هوری ښخ سو. (۱۷ شعبان).

۱۸۱٤ م ۱۲۳۰ ق

وزیر فتح خان بیا سند او کشمیر ونیول ، سکهان ئی په اټك کی مات کړل او کشمیر ئی سردار محمد عظیم خان ته‌وسپاره.

میا نعیم متی زی د قند هارپه ناکودك کی خپل پښتو دیوان بشپړ کیء (١٦ ربیع الثانی)

قاسم علی اپریدی په هند کی دخپلوپښتواشعارو کلیات ترتیب‌کی. (د پیښور اسلامیه کالج خطی نسخه)

شهزاده فیروز الدین د تیمور شاه زوی په هرات کی مشر و .

۱۸۱۵ م ۱۲۳۱ ق

آغا اسمعیل شاه د سند د میرانو له خوا د سفیر په توگه پیښور ته د شاه محمود سدوزی در بار ته راغیء .

۱۸۱٦ م ۱۲۳۲ ق

قاجاریانو بیا هرات محاصره کیء خو هراتیانو له هغه ځایه وشړل‌او وزیر فتح خان هرات ته راغیء .

عایشهٔ درانی د یعقوب علی خان بار کزی لور خپل فارسی دیوان په کابل کی ترتیب کیء (١٦ رجب ۳۲ ق) .

میر عبدالکریم ندیم بن‌اسماعیل بخاری افغانی (احوال خوانین‌افغان و کابل و بخارا و خو قند) په فارسی وکیښ چی تراحمد شاهی جلوس وروسته د افغانستان تاریخ لری .

۱۸۱۷ م ۱۲۳۳ ق

وزیر فتح خان تر کهسانه مځکی په هرات پوری بیاونښلولی (ذی حجه) .

ملا احمد بن اسماعیل الکوزی قند هاری لوی قاضی او محقق په قند هار کی وفات سو (٦ ربیع الثانی) .

دده تالیفونه :

(۱) بیان الوافیه لطوایف الصوفیه.
(۲) رسا له کا شفه د تو حید وجودی او شهودی تحقیق .
(۳) رساله فارقه.

ملا پیر محمد د اسماعیل الکوزی یعقوب زی زوی د ملا احمد قاضی ورور، خپل کتاب عقیدة المشا یخ

والعلماء په قند هار کی وکیښ ، دده بله رساله وافی نومیږی .

عبیدالله احمدی میاگل د ځوکنو د میا عمر صاحب زوی د هفت‌پیکر لیکوال او د پښتو عبرت نامی او شمایل نبوی او د دیوان شعرناظم (غریب تخلص) وفات سو .

۱۸۱۷ م ۱۲۳٤ ق

آغا اسماعیل شاه د حیدر آباد سند د میرانو او حا جی شیر محمد خان د خیر پور د میرانو له خوا په افغانی دربار کی سفیران‌وو اود وزیر فتح خان سره هرات ته ولاړل .

شاهزاده کامران عبد المنصور خان بارکزی مشهد ته د سفیر په توگه فتح علی شاه قاجار ته واستاوه او هغه د قاجاری پاچا مکتوب کامران ته راوړی چی باید وزیر فتح خان پوند کی .

شاهزاده کامران له قندهاره هرات ته راغی او وزیر فتح خان‌ئی ونیوی‌ء او پوند ئی کیء چی په ټول افغانستان کی کورنی جنگ ونښت .

۱۸۱۸ م ۱۲۳٤ ق

دبارکزو سردا رانو او کامران او محمود جنگونه اود وزیر فتح خان وژنه دوردگو په سید آباد کی.

شاه زمان پوند پاچا له مدینی منوری څخه دسلطان محمود ثانی په نامه یوخط وکیښ (محرم) .

دوزیر فتح‌خان ورونو دده دمرگ په انتقام دسدوزوسره جنگونه‌وکړه چی سردار دوست محمد خان کابل ونیوی، نویی‌پرشهزاده سلطان علی بن تیمور شاه دپاچا نوم کښیښو .

ملا عبد الحلیم کاکړ قند هاری په عربی ژبه خپل کتاب (ردحلیمیه‌علی مطاعن احمد یه) دملااحمد قاضی د بیان الوافیه په ردکی وکیښ .

عبد الکریم کاکړ قندهاری دعین العلم عربی پښتو منظومه ترجمه د زین العلم په نامه وکړه .

۱۸۱۹ م ۱۲۳۵ ق

ټول افغانستان د بارکزو ورونو (د سردار پاینده خان د زامنو) په لاس کی ولوید. فقط هرات شاه محمود ته پاته سو . رنجیت سنگه کشمیر ونیوی‌ء .

۱۸۲۰م ۱۲۳٦ ق

علامه حبیب الله قند هاری دامام غزالی منهاج العابدین په پښتو په قند هار کی منظوم کیء .

ملا زبردست کاکړپه قند هار کی روضة النعیم په پښتو نظم کیء .

۱۸۲۳ م ۱۲۳۸ ق

سردار محمد عظیم خان ۳۸ کلن په لته بند کی وفات او په عاشقان و عارفان کی ښخ سو (ذی حجه)

کابل دده د ناپوه زوی سردار حبیب‌الله په لاس کی ولوید .

(ولادت ئی ۱۲۰۰ ق) .

محمد فضل الله ولد غلام نبی مجددی په قند هار کی ٥٤ کلن

وفات سو ، دی دعمدة المقامات مؤلف دی . (ولادت ۱۱۸٤ ق قند هار) .

شمس‌الدین کاکړ د قند هار د کلچا باد او سید ونکی خپل پښتو دیوان ترتیب کیء .

لعل محمد عاجز د پیر محمدزوی چی د عبد الشافی په لقب د تیمور شاه د دربار طبیب او د دیوان خاوند شاعر و په کابل کی وفات سو .

۱۸۲٤ م ۱۲۳۹ ق

په کابل کی د سردار حبیب‌الله او شیردل خان او دوست محمد خان مقابله او د بارکزو ورونو په منځ کی د لوی افغانستان د خاورو سره ویشنه .

جنیدالله حاذق هروی د یوسف زلیخا قصه په فارسی نظم کړه (طبع لکهنو ۱۳۳۳) دده وفات ۱۲۵۹ ق .

۱۸۲٤ م ۱۲٤۰ ق

نور محمد بن‌میرزامحمد خراسانی خپل‌کتاب سراج‌التواریخ دهندپه‌کرنا ټک کی بشپړ کیء (۱۹ جمادی الا ولی) .

عبد المنصور خان بارکزی ابازی افغانی آخرنی حاکم له ښکار پوره نواب ولی محمد خان لغاری را ویوست .

۱۸۲٤ م ۱۲٤۰ ق حدود

علی اکبر اور کزی د قاسم خان زوی د تیراه اوسیدونکی خپل پښتو او فارسی دیوان گلشن افغان ترتیب کیء . (دایروان شوروی خطی نسخه ۵۳۸) .

امیر د مردان د سوابی پښتو شاعر دتمیم انصاری قصه نظم‌کړه.

دوستم د سوابی دزیدی شاعر خپل پښتو کتاب مدح الا برار نظم کیء .

۱۸۲۵ م ۱۲٤۱ ق

هندی مها جرین سید احمد بریلوی او مولوی اسماعیل قندهار او کابل ته راغلل .

ویلیم مور کرافت د لندن جراح اوآس پیژوندونکی د ایسټ انډیا کمپنی له خوا دا سانو د پلټنی‌لپاره له کشمیره کابل او بلخ او میمنی ته راغی ، او په اندخوی کی مړ سو ، دده سفر نامه په ۱۸٤۱ م له لندن نه ویلسن چاپ کړه.

شیخ فرح الدین د قند هار نقشبندی صوفی او مؤلف ۸۲ کلن وفات او په هرات بازار کی ښخ‌سو (۱۱ ذیقعده) .

۱۸۲٦ م ۱۲٤۱ ق

شاه شجاع الملک سدوزی خپله روزنامه له ۱۲۱٦تر ۱۲٤۱ق پوری ولیکله چی په‌کابل کی په ۱۳۳۳ش چاپ سوه .

انگریزی ترجمه ئی په ۱۸۲۷ م په کلکته کی ختم او په ۱۸۳۹ م خپره سوه . یوه نسخه ئی د برتانیا په موزیم کی سته چی له ۱۸۱٦ تر ۱۸٤۵ م احوال لری .

۱۸۲٦ م ۱۲٤۲ ق

سردار دوست محمد خان دغزنی حکمران کابل ونیو .

دسردار پاینده خان زامنو د لوی افغانستان د تقسیم میثاق سره لاس لیک کی ، ۱۰ ربیع الثانی (د کابل موزیم) .

سردار شیردل خان د سردار پاینده خان زوی ٤۱ کلن په قندهار کی وفات او ښخ سو .

(جمعه ۲۵ محرم) .

محمد علم خان وکیل الدوله د عبد الله خان زوی ۸۵ کلن په میدان کی وفات او په غزنی کی ښخ سو (۲۷ جمادی الثانیه) .

گل احمد د کریم شاه بټنی زی زوی د پښتو جواهر الانبیا او شهزاده رت ویپدمن او د توتی او میناد قصوناظم وزیریدی .ده هدایة المؤمنین په۵ذی‌حجه ۱۲۹۵ق پښتو نظم کیء .

۱۸۲٦ـ۳۸ م ۱۲٤۲ ـ۱۲۵٤ ق

چار لس میسون په افغانستان کی و ، او خپل یاد داشتونه ئی په دری ټوکه کی په لندن کی چاپ کړل ۱۸٤۲ م .

۱۸۲۸ م ۱۲٤٤ ق

د پینبور د یو سفزو په سیمه کی سردار یار محمد خان محمدزی د سید احمد او هندی مهاجرانو په جنگ کی ۳۹ کلن و وا ژه سو (محرم) .

میان عبد الغفور د سوات آخوند ډیر شهرت وموند ، او د هندی مهاجرینو سید احمد او مولوی اسماعیل سره په جهاد کی ملگری سو .

۱۸۰۰ـ۱۸۲۹ م ۱۲۱۵ـ۱۲٤۵ ق

شاه محمود د تیمور شاه زوی د افغانستان پاچا و (په وقفو) .

۱۸۲۹ م ۱۲٤۵ ق

په هرات کی شاه محمود د کامران په امر ووژل سو .

سردار غلام محمد طرزی د سردار رحمدل خان محمدزی زوی‌په قند هار کی وزیږیدیء .

ملا حسن ساکزی د قند هار د تلکان اوسیدو نکی شاعر او عارف چی پښتو او فارسی دیوان لری ٦۸ کلن په تلکان کی وفات او ښخ سو (ولادت ئی ۱۱۷۷ ق) .

سردار پردل خان محمد زی په قند هار کی وفات او ښخ سو (شنبه ۳۰ ذی قعده) .

سردار دوست محمد خان په کابل کی د عبدالصمد خان تبریزی په مشری په نوی ډول زر تنه فوج نظام ترتیب کیء .

نوره دین د پښتو عامی شاعر د پینبور په سیمو کی اوسیدیء .

مستوره غوری شاعره د سید محمد عظیم لوردپرچمن اوسیدونکی چی دشعر دیوان لری ژوندی وه .

۱۸۳۱ م ۱۲٤٦ ق

سید احمد بریلوی مجاهد او مولوی اسماعیل د هلوی د ۱۳۵

مجاهدینو سره په بالا کوټ کی سکهانو شهیدان کړل (۲٤ ذی قعده ۱۰ مېځ) .

حاجی فیروز الدین د تیمورشاه زوی په سلطان آباد کی د کامران‌په ټونګ وواژه سو (رمضان) .

۱۸۳۱ م ۱۲٤۷ ق

قاضی محمد حسن د قاضی اکبر شاه پښو ری زوی (خان‌علما) د شاه شجاع مشاور او پیش نماز د رنجیت سنګه او میر مراد علی خان تالپور دربار وته د سفیر په توګه واستول سو او همده په ۱۲٥٤ق دلاهور مثلثه معا هده دشاه شجاع له خوا امضا کړه .

شاه شجاع دسند دوالی میر مراد علی خان تالپور په مرسته له لود هیانی څخه شکار پور ته راغیء خو مراد علی خان مړ سو ، او سندیان د سید کاظم شاه په مشری د شاه شجاع جنګ ته راغله ، مګر شاه شجاع غالب سو ، سید کاظم ووژل سو، او شاه شجاع ښکار پور ونیوی‌ء .

۱۸۳۲ م ۱۲٤۸ ق

الکسندر برنس د بخارایی سوداګر په‌بڼه په شمالی افغانستان او بخارا کی وګرزیدی .

عباس میرزا د قاجاری کورنی نائب السلطنه د هرات د نیولولپاره شهزاده محمد میرزا را واستاوه ، او شهزاده کامران سدوزی ئی په هرات کی محاصره کی‌ء . خوبیرته ئی صلح وکړه او ایرانی لښکر مشهد ته ولاړل ، هرات شهزاده کامران او وزیر یار محمد خان ته پاته سو .

میر یزدان بخش د بهسود هزاره مشر د حاجی خان حکمران هزاره جات په لمسون ووژل سو .

اخوند زاده محمد اکرم دمیان احمد زوی د بنون او سید ونکی (عمدة الاملا) وکیښ .

۱۸۳۳ م ۱۲٤۹ ق

د سند میران نور محمد خان‌او محمد نصیر خان او د خیر پور میر شاه شجاع ته یاغی سول . خو په آخر کی روغه وسوه او هغو ٤ لکه روپی شاه شجاع‌ته ورکړی ، خوچی شاه ددغه کال د میانی د میاشتی په سرکی له ښکار پوره قند هار ته رهی سو .

سعادت یار خان بړیڅ د حافظ رحمت‌خان بړیڅ‌لمسی (ګل رحمت) د هند د پښتنو تاریخ وکیښ .

د ملا عبدالغفور هروی خطاط د ژوند وخت .

۱۸۳٤ م ۱۲٥۰ ق

رئیس العلماء خا نملا قا ضی عبدالرحمن خان دخانملا قاضی محمد سعید خان ابدالی بارکزی قندهاری زوی‌نصیحة‌المؤمنین وفضیحة‌الشیاطین وکیښ، چی‌دروافضوردی (دقندهار دسلیمی کتابخانه) .

قاضی طلامحمد بن قاضی محمد حسن په پیښور کی لوی عالم او مؤلف او شاعر او خطاط ؤ. دی د فارسی او عربی شعر دیوان لری

اود سلوة‌التحریر او نفحة المسلك او تسلیة العقول مؤلف دی .

عزیز خان رنا خیل په پښتو جنګنامه هرات منظومه کړه .

دشاه شجاع او رنجیت سنګه معا هده ۱۲ مارچ ۱۸۳٤ اود شاه شجاع حمله پر قندهار (۱محرم ٥۰ق) او محاصره .

دوست محمدخان له‌کابله قندهار ته راغی، او شاه شجاع‌یی مات‌کی اودی بیرته هند ته وتښتید .

سردار امیر محمد خان ددوست محمد خان ورور ٤۱ کلن وفات اوپه کابل کی ښخ سو .

رنجیت سنګه پیښور ونیوی او سردار سلطان محمدخان باجوړ ته ولاړ، دپیښور حکمران هری سنګه سپه سالارو .

نایب عبدالصمد خان د سردار دوست محمد خان سره دقندهار په جنګ کی خیانت وکی او وشړل سو .

۱۸۱۰ـ۱۸۳٤ م ۱۲۲٥ـ۱۲٥۰ ق

دپیښور د سیمو مالیات بارکزو سردارانو ته (٦۹۲ر٥۰۹) روپی وی .

۱۸۳٤ م ۱۲٥۰ ق حدود

محمد حسین قندهاری د مداح الکوزی زوی په قندهار کی د میرزاهد هروی پر تصور اوتصدیق (شرح انکشافیه) په عربی وکښله (دقندهاری سلیمی خطی نسخه) .

ملا عبدالاحد هوتك قندهاری د قاضی غلام محمد زوی دایقاظ النیام رساله په عربی وکښله .

نیاز محمد هوش دحافظ رحمت خان بړیڅ کړوسی دهند در وهیل کهنډ دپښتنو تاریخ په هند کی وکیښ .

ملا عبدالحق دملاعبدالغفورخروتی زوی په قندهار کی په پښتو یاقوت السیر منظوم کی او شرح اربعین‌یی وکیښ .

۱۸۳٥م ۱۲٥۱ق

سر دار دوست محمد خان د کابل او قندهار مستقل حکمران سو.

کلب علی خان شرر قند هاری شاعر او منشی ژوندی وچی دشعر دیوان هم لری.

خواجه ملا دکابل عارف او عالم داحمد زنده پیل له‌پښته ۷۹ کلن‌په خواجه ملاکی وفات سو (٥ رجب) کله چی سردار دوست محمد خان د سکهانو مقابلی ته دجهاد له پاره له کابله پیښور ته ولاړ، نو دشیخان‌په کلی کی دسوات اخو ند میان عبدا لغفور دزرو مریدانو سره دامیر په‌جهادکی ملګری‌سو (تر۱۱می۳٥م)

۱۸۳٦م ۱۲٥۲ق

علامه حبیب الله قند هاری خپل کتاب ابجد التوا ریخ‌داسلام په‌تاریخ کی په عربی په‌قند هار کی وکیښ

۱۸۳۷م ۱۲٥۳ق

یوتنجر پرنګی داسانو دسوداګر په لباس کی کابل ته راغی، او بیا دملایانو په کالیو کی هرات ته ولاړ، او هلته‌ئی دهرات‌دمحاصری په‌وخت کی ملایی او خپل پټ سیاسی کار کاوه.

عبدا لعظیم سواتی شاعر دپښتو دیوان خاوند وفات سو (ولادت ئی ۱۱٦۷ق) .

سردار دوست محمد خان دهری سنگه د مقابلی لپاره پیښور ته لښکر وا ستول.

سر الکساندر برنس دهند د انگریزی حکومت له خوا دمذاکری لپاره کابل ته راغیء. او په اپریل ۱۸۳۸ ولاړ.

دروس ایلچی ویتکویچ هم کابل ته راغی(دسمبر ۳۷ترجون۳۸پوری)

سردار سلطان محمد خان له باجوړه کابل ته راغیء چی دسردار دوست محمد خان څخه دپیښور د نیو لو کومك واخلی.

ددوهم بهادرشاه (ظفر)جلوس په دهلی کی.

۱۸۳۸ م ۱۲۵٤ ق

محمد شاه قاجار دهرات دنیولو لپاره پـه۷ شعبان غوریان ته راور سیدیء اود هرات پـه ښار کـی شهزاده کامران او وزیر یار محمد خان کلابند کړه، خو هرا تیا نـو د جهاد اعلان وکیء اود ایرانیانو سره یی مقابلی کولی.

دامیر دوست محمد خان لو مړی جلوس دکابل په امارت ـسکه‌وهل او ځان امیر المؤ منین بال.

دامیر دوست محمـد خـان او د روسیه دنما ینده ویتکو یچ ترمنځ سیاسی مذا کری په کابل کی.

دشاه شجاع او انگر یزی ویسرا اورنجیت سنگه تر منځ د لا هـو ر دفاعی معاهده په ۲٦ جون ۱۸۳۸ م امضا سوه‌چی‌شاه‌شجاع دافغانستان پاد شاه کی.

مولوی عبدا لحق توخـی دهرات لوی عالم دهرات پـه محاصره کـی وفات سو.

لارډ اکلینډ دهند ویسرا داکتوبر په اوله دافغا نستان سره لومړی جنگ اعلان کیء چی د ۱۸٤۳م تر نومبر پوری جاری ؤ.

سید جمال الدین افغانی دشرق سیاسی‌ویښوونکی‌دکنرپه اسعدآباد کی وزیږ یدیء.

عصمت الدین دمحمد اسما عیل زوی دمیر محمد لمسی د امیردوست محمد خـان دژوند حـال خـلا صة الاخبار په نامه وکیښی (دبنگال د آسیائی ټولنی خطی نسخه)

۱۸۳۹م ۱۲۵٤ق

انډوس ارمی او شاه شجاع دسرجان کین په مشری دسند او بولان لـه لاری پر قندهار راغلل (فروری۳۹) او په ۲۰د اپریل ۱۸۳۹م ۱۲۵۵ ق ئی قند هار ونیو او شاه شجاع بیا پر تخت کښینو ست (دوشنبه ۱۳ صفر ۱۲۵۵ق)

برنس د انگریـز استا خـی او میسن احوال لیکونکی لـه کابلـه د بتخاك پر خوا هند تـه رهـی سول (۲٦ـاپریل)مکناتن انگلیسی‌نماینده دشاه شجاع سره په قند هار کـی نوی‌معاهده وکړه‌چی شاه‌شجاع‌تش په‌نامه پادشاه وی، نور ټول اختیار به دپرنگی په لاس کی وی (۷مـی ۳۹م ۲۲ صفر ۵۵ق).

۱۸۳۹م ۲۳ جولای ۱۲۵۵ ق

د انگریـز لښکر او شاه شجاع مزنی ونیو او سردار غلام حیدر هم ونیول سو.

دهرات کلابندی لس میاشتی وه اوهرا تیانو د محمد شاه قاجارسره جنگونه کول، خو چـی محمد شـاه ناچار سو اوپه۱٦دخلورمی خوږ۵۵ ق ئی هرات پریښو او بیرتـه ناکـام تهران ته ولاړ.

سردار کندل خان او دده زامن‌په ایران کی پناهنده سول .

شاه شجاع دانگریز دنما ینـده مکناتن له خوا دکابل پر تخت بیـا کښینول سو او امیر دوست محمد خان بخارا ته ولاړ (۱۷اگست ۳۹م غره جمادی الاخری ۵۵ق) شاه‌شجاع ملا عبد الشکور دکابل نائب‌الحکومه او شهزاده تیمور ئی نایب السلطنه وټاکه.

دامیر دوست محمد خان دپاچهی مالی عایدات ټولـه ۲۳۹ر ۵۰۹ر ۲ کابلی روپی وی چه‌لـه ۲۲۲٦ر۹٤۳ کمپنی د روپو سره برابری وی .

رنجیت سنگه دسردار مهن‌سنگه زوی دپنجاب مها راجه په لاهورکی مړ او ښخ سو (۲۷ جون).

کله چی دپرنگی لښکر دکرنـل ویلډ په مشری دشا شجـاع د زوی تیمور سره کابل ته تلل ، اپریدی په خیبر کی له دوی سره ونښتل.

سپینه دنور محمد الکوزی لـو ر دپښتو شاعره په هرات کی ژوندی وه اود هرات دکلابندی حال ئی په یوه حماسه کی منظوم کیء.

اخوند مصطفی هروی په کابل کی دشاه شجاع پـه غوښت د شیـخ سعدا لدیـن انصاری شـرح حـال (نشاة القدس) وکیښی .

ملا عبدا لاحد سلجوقی دملامحمد میرزا زوی دهرات مشهور مدرس او صوفی وفات سو (۲۵ محر م)

۱۸٤۰ م ۱۲۵٦ ق

یوسفزی او خیبر یان پرانگریزانو باندی را ولاړ سول.

دکابل په شمال کی دمیرمسجدی خان په مشری خلك ولاړ سول، او امیر دو ست محمد خان لـه بخارا څخه بیرته راغیء.

په ایبك کی امیر دوست محمد خان دانگر یزانو څخه مات سو، او ځان ئی په کابل کی انگر یزانو ته‌تسلیم کیء (۲۸ ستمبر ٤۰م).

انگر یزانو امیر دوست محمدخان دخپل ټهره سره کلکتی ته واستا وه (نومبر ٤۰م)

شا هزاده کامران دشاه محمـود سدوزی زوی دهرات حکمران هلته ووژل سواوهرات وزیریارمحمدخان الکوزی ته پاته سو، په هرات کی د ده اقتدار له ۱۸۱۸م ۱۲۳٤ق څخـه شرو سوی و.

حاجی خان کاکړ ته دشاه شجاع له خوا دنصیر الدوله لقب ور کـړ سو،خو وروسته‌دی بندی‌هندوستان ته ولیږل سو او هوری مړ سو.

ویگنی T.VIGNE دافغا نستان

دسفر احوال مصور له لندنه په۴۷۹ مخه کی ۱۲ فصله خپور کیء.

معین الدین پیښوری دوامـق او عذارقصه په پښتو نظم کړه.

میر واعظ میر معصوم دمیرواعظ سید احمد زوی ،دخپل عصر متنفذ روحانی او شاعر او سیاسی سړی په استالف کی ژوند کاوه.

میرزا محمد ابراهیم گـو هـری هراتی شاعر او مؤلـف او خطـاط مذهب چی په ۱۳۰۰ ق کابل تـه راغلی و په‌هرات کی وزیر یدی ،دی تر ۱۳۲۱ق پوری لا ژوندی و.

میر محترم حافظجی دکابل د میر واعظ د کورنی ددری شعر خاونـد ژوندی و.

شاه‌شجاع‌خپل زوی صفدر جنگ دقندهار په حکمرانی مقرر کیء .

۱۸۴۱ م ۱۲۵۷ ق

په ټول افغا نستان کی پرانگریزانو باندی خلک‌راولاړسول، اوپه ۲نومبر ۴۱م ۱۷ رمضان ئی‌په کوهستان‌کی دانگر یزانو یوغنډ لښکر و وژل.

سردار اکبر خان اوعبدالله خان اخکزی اونور مجاهدین په کابل‌کی پرانگر یزانو راولاړ سول او برنس پرنگی ئی په۲ نومبر ۴۱م مړ کیء، بیایی نودانگریزانو لوی سیاسی‌مشر مکنا تن په ۲۳د دسمبر په کابل کی و واژه.

لوی مجاهد عبد الله خان اخکزی په کابل کی دانگر یزانو په لمسون وواژه سو (۲۷ رمضان) عـلا مـه حبیب الله قند هاری محقـق خپـل ابتکاری کتاب مغتنم الحصول فـی علم الاصول په قندهار کی‌په عربی وکیښس.

میر مسجدی خان د کـو هستان مجاهد چی په غزا کی زخمی سوی و (یاد انگریزانو په لمسون زهرو کړه سوی و) شهید سو.

(۱۱ شوال ۲۶ نومبر)

محمد بدرالرحمن د (واقعات درانی کتاب له احمدشاهه تر شاه شجا پوری وکیښس(دکانپورچاپ) داکتا له اردو څخه سید حسین شیراز پـه فارسی ترجمه کیء (د برتانـ موزیم اود تهـران پوهنتون خط نسخی)

سر الکسندر برنس urnes

خپل کتاب (کابل) وکیښس چی د سکونت له ۱۸۳۶ تر ۳۸ پوری کابل بیانوی او دده تر قتل وروسـ په ۱۸۴۲ له لندنه خپور سو .

پوټنجر انگلیس په پـټ ډول دکابل په شمالی سیمو کی فعالیـ کاوه‌او ۱۹ لکه روپی‌یی خرخی‌کړی

میر عصمت الله کشوری د بلـ دهدادی شاعر وفات سـو، دشعـ دیوان لری.

۱۸۴۲م ۱۲۵۸ق

په اوله‌دجنوری ۴۲م‌دملی مجاهدین اوانگریزانو تر منځ معاهده وسو چی له افغا نستانه و وزی.

له ٦ تـر ۱۳ جنوری د انگریزانـ قتل عام شرو سو.

په ٦مارچ غزنی هم ملی مجاهدین ونیو، او انـگریزان ئـی هلته تبا کړل .

دده زوی فتح جنگ په بالا حصار دکابل خلکو شاه‌شجاع هم وواژه (۲ صفر ۵۸ ق ۳ اپـریـل ۴۲ م) کی پاچا سو.

وزیر اکبر خان دفتح جنگ‌شاه سره داطاعت عهد نامـه وکـړه او هغه دی پخپل وزارت وټاکه، مگـر فتح جنگ وروسته دلباس په تغییر جلال‌آباد ته و تښتیدی اود جنرال پالك سره ئی پر کابل حمله رکړه اوپه بالاحصارکی پرتخت کښیناست (۱۸ شعبان ٦ ستمبر) خـو وزیر اکبر خان بامیان او تاشقر غان تـه ولاړ.

جنـرال پالك اوناتهه دخیبـر له خوا جلال آباد ته‌راغلل اوپه‌لار کی اپریدو پردوی په‌خیبر کی اور بـل کی (۱۸ اپریل‌تر ۱۱ ستمبر۴۲م)

انگر یزان چی‌په جنگ کی‌وځبل سوه، نوله افغانستانه‌تر ۱۲ اکتوبر ۴۲ م پوری ووتل .

اود شاه شجاع ټبر هم‌دپرنگیانو سره هند ته ولاړل (لومړی جنگ ختم سو)

جیمس اټکین سون د انـډس د لښکر جـراح خـپل کتاب (لښکر کښی په‌افغانستان کی) ۸۲۴ مخـه له لندنه خپور کیء، چی‌د ۱۸۳۹ تر ۴۰ پوری دافغا نستان دلومړی‌جنگ احوال دیء.

۱۸۰۳ـ۱۸۴۲ م ۱۲۱۸ـ۱۲۵۸ ق

شاه شجاع دتیمور شاه زوی په وقفو دافغا نستان پاچا و.

۱۸۳۸ـ ۴۲م ۱۲۵۴ـ ۱۲۵۸ ق

جنرال‌ایبټ دافغان او انگلیس د لومړی جنگ روز نامچه په لندن‌کی چاپ کړه ۱۸۷۸ م.

۱۸۴۲م ۱۲۵۸ق

چـارلس میسون د افغانستان او بلو چستان دسفر احوال په ۳ ټوکه کی، له لندنه چاپ‌کیء چی‌له ۱۸۲٦ تر ۱۸۳۸م پوری دده مشاهدات‌دی.

سر الکسندر برنس چی خپـل کتاب (کابل) په ۱۸۴۱م لیکلی و، په ۱۸۴۲م له لندنه خپور سو.

جنگی عملیات په افغانستان کی دونسنت ایر تالیف له لندنه په‌دری ټوکوکی خپور سو .

احمد گل مومند شاعر او مدرس عالم دپښتو دیوان احمدی خاوند د ننگرهار په گلایی کی وزیریدی .

۱۸۴۳م ۱۲۵۹ق

دافغا نستان دشبخون روز نامچه دلیدی سیل په قلم پـه لندن کـی خپره سوه (۴۵۱ مخه) دا وقایع د ۱۸۴۱م دی.

په خیبر کی داپریدو غـزاوی د پرنگی له هغو لښکرو سره چی له افغانستان ته‌په ناکامی راوتل.

امیر دوست محمد خان له هنده راوستل سو او بیاد کابل پر تخت کښینوست او نائب امین الله خان لوگری یی بالاحصار کی بندی کیء Allen

دافغا نستان دسفر یاد داشتونه (۱۱) فصله په لندن کی خپاره کـړه، دی دجنرال سرولیم ناتهه سره افغانستان تـه راغلی و .

ملا غلام محمد اخـند زاده دمـلا

محمد جی اخوند زاده گـدون د تیمورزوی متخلص په غلامی کوهستانی (متوفا ۲۰ رجب۱۳۰٦ ق) دافغان اوانگر یز دلومړی جگړی (جنگنامه) په دری نظم کړه .

ملاجمعه بارکزی قندهاری دپښتو دیوان خاوند شاعر په قندهار کـی وفات سو .

جنید الله حاذق بن صوفی اسلام هروی شاعردیوان‌خاوند اودیوسف زلیخا د مثنوی ناظم پـه قند هـار کی وفات‌سو .

۱۸٤٤ م ۱۲٦۰ ق

شاه زمان دتیمور شـاه زوی د افغانستان پوند او مخلوع پاچا په سر هندکی وفات او ښخ سو .

حمید کشمیری مولوی حمید الله (متوفا ۱۲٦٤) فارسی مثنوی اکبر نامه دافغان او انگریز دلومړی‌جنگ پراحوال باندی منظومه کړه .

میرزا محمود سالك بالاحصاری دفارسی دیوان خاوند ژوندی‌و .

امیر عبدالرحمن خان په کابل‌کی وزیږیدی .

د افغانستان د جنگونو پرحـال (ظفر نـامه کابل) منظومه سوه. د شاعر نوم ندی معلوم (د بـرتـش موزیم خطی نسخه) .

قاسم علی خان دمحار بـه کابل کتاب په‌نامه نه‌زره بیته‌فارسی‌مثنوی په هند کی منظوم‌کی‌ء (دآگری‌چاپ ۱۲۷۲ ق) .

۱۸٤٤ م ۱۲٦۰ ق حدود

محمدجی آخوندزاده‌گدون دپښتو شاعر اوفقیه دشرح الوقا یه شارح ژوندی ؤ .

محمد سلیمان خان دموسی بریچ‌زوی (متخلص په اسد) دپ تاریخ (نقش سلیمانی) په هند وکیښی .

قاضی عبدالرحمن‌خان علوم‌بار دقاضی محمد سعید قندهاری قاضی القضات و .

۱۸٤٥ م ۱۲٦۱-۱۲٦۲ ق

علامه حبیب الله قندهاری‌م خپل لـوی کتاب ریاض المهند تالیف کی‌ء (خطی) چی دریاض تو لـو علو مو مجمو عه ده او روضی لری :

۱ـ دصوری اقلیدس د هـند ترجمه اود ثاوذو سیوس د اکر مانا لاوس داکـر شرح ۲۹ ذی

(۲) علم حساب له صحاح بیاتر جبرو مقابلی پوری .

(۳) عـلم هندسه : مساحـ تکسیردوائر استخراج مقادیر جی واظلال اود مثلثاتو مسایل او ن

(٤) علم الا بصار او مناظر او م اوعلم الانعکاس او احـکام ابـ

(٥) علم هیئت: افلاك ، مـرا اورصدی آلات اود ابعاد اواجر معرفت.

(٦)دموا مرات زیج و تقویم

میر اشرف علی په‌بمبئی کی‌ا تاریخ افغا نستان چاپ کی‌ء چ افـغا ن‌اوانگلیس دلـو مړی جگ وقایع لری (۳۳۱ مخه)

دلیل خـان محمد زی دنـو ښ دکندی او سیدو نکی دپښتو خ شاعر وزیږ یدی (وفات‌ئی۱۹٤۰

۱۸٤٦ م ۱۲٦۲ ق

علامه حبیب الله قـند هـاری د قیدالحیثیة پـه انتقادی شرح کـی مرآةالحق په قندهار کی‌تالیف کی (خطی) موهن لال کشمیر ی دامیـر دوست‌محمدخان دژوند کتاب ۲ټوکه په‌انگریزی له‌لندنه خپور کی‌ء . چی دافغانستان مهم معلومات لری .

مازوخان او صاحبزاده جانان په تگاب‌کی یاغی سول، خـو سـردار شیرعلی خان دلښکرو سره پر ورغی اوجانان‌یی وواژه اودوی یی ایل کړه.

۱۸٤٦ م ۱۲٦۳ ق

نواب محمد زمان خان پـه کابل کی مړ او په عاشقان وعارفان کی ښخ سو .

وزیر اکبرخان په‌جلال آبادکی ۳۱ کلن وفات اوپه مزار شریف کـی ښخ‌سو. پرځای‌یی سردار غلام‌حیدر خان ولیعهدسو (ولادت‌یی۱۲۳۲ق).

منشی عبدالکریم دمحاربه کابل و قندهار کتاب وکیښی (دلکهنو چاپ ۱۲٦٤ ق) .

له پرنگی سره دپنجتار دمخ‌دری دپښتنو غزا .

په کابل کی سخته وبا راغله .

ماما خیلو بغاوت وکی او وزیـر اکبرخان ددوی سرکوټلو ته ولاړ .

سردار شیر علی خان دغلام حیدر خان پرځای دغزنی حکمران سو .

دلغمان غلجی دمحمد شاه خـان بابکر خیل په‌مشری‌یاغی سول، خو امیر دوست محمد خان پخپله ورغی او دوی‌یی دنورستان غرو ته ترشا کړه .

محقق قندهاری علامه حبیب الله بن مولوی فیض الله موسی خیل‌په قندهار کی وفات‌اوښخ سو، عمریی ۵۲کلن‌ؤ ، دی عربی ـفارسی‌ـ پښتو لوی‌مؤلف اودمعقولو اومنقولوعالومو استادو. دمغتنم الحصول فـی علم الاصول او ریـاض المهند سین او پښتو منهاج العـا بدیـن مؤلـف (رمضان) .

دوزیر ستان پر گمبتی انگریزی کیمپ باندی احمد زو حمله وکړه او ملك سوهان خان دپرنگی ملگری کوله .

نایب محمد حسن دبلوخو دقلات سیاسی او ادبی سړی چی فارسی اوبلوخی دیوان اشعار هم‌لری، خپل فارسی اول دیوان یی بشپړ کی . (متوفا ۱۲۷۰ ق) .

۱۸٤۷ م ۱۲٦٤ ق

محجوبه دسکندر خان هروی لور دفـار سی شاعره پـه هرات کـی ژوندی‌وه .

قاضی غلام محمدهوتك قندهاری عالم ارشاد الحق په قندهار کی په عربی وکیښی (۱٤ جمادی الثـانیه پنجشنبه) .

قاضی غلام‌محمد قندهاری‌دخپل کتاب تنزیـه الخلفاء عـن مطا عـن الاعداء په‌عربی په قندهارکی‌تالیف‌کی (یکشنبه ۷ ربیع الثانی) .

منشی عبدالکریم علوی خپل‌کتاب (تاریخ احمد یـا واقعات درانی) د امام الدین حسینی دتاریخ حسینی څخه اقتباس کـی (دهـند چـاپ ۱۲٦٦ ق) .

برن هارډ ډورن دپتر سبرگ د اکاډیمی غړی دپښتو منتخبات (کرستو ماتهی) په هغه ښار کی چاپ کړه .

۱۸۴۸ م ۱۲۶۵ ق

سردار محمد اکرم خان بیاد هندو کش شمالی ولایات په مرکز پوری ونښلول .

دا ملا عبدالقیوم دمحمد نبی زوی دخلم صوفی شاعر دمجمع الاشعار قیامت نامه- او فارسی او ترکی دیوان خاوند شاعر وزیږیدی .

محمد کلان خان امین الوجو هات عضد الدوله دمحمد عالم خان پوپلزی زوی وفات اوپه غزنی کی دخپل نیکه وکیل الدوله عبدالله خان دقبرسره ښخ سو .

۱۸۴۹ م ۱۲۶۵ ق

امیر دوست محمدخان دپرنگیانو په مقابل کی اتک ته ولاړ، خو چتر سنگه اوشیر سنگه ماته وکړه، او امیر دوست محمد خان له سلطان محمد خان او پیر محمد خان اوسید محمدخان خپلو ورونو سره کابل ته راغی او انگریزانو تر پیښوره ونیول .

۱۸۴۹ م ۱۲۶۶ ق

په شمالی ولایاتو کی د میرانو بغاوت اود سردار محمد اکرم خان مرگ ۳۳ کلن په مزار شریف کی، او برځای ئی دسردار محمد افضل خان مقرری (ولادت یی ۱۲۳۳ ق) .

قاضی غلام قادر د قاضی حسن پیښوری زوی په پیښورکی دسردار سلطان محمد خان سره ؤ .

میر محمد امین دقلیچ علی بیگ زوی دتاشقرغان والی دفارسی شعری دیوان خاوند دآمو سره و فات سو .

۱۸۵۰ م ۱۲۶۷ ق

ظهیر الدوله وزیر یار محمدخان دهرات حکمران دلاش په رباط میر کی وفات اوپه هرات کی ښخ سو. (دشعبان سلخ) زوی ئی سعید محمد خان پرځای کښینوست .

مشهور عالم اود سراج الاخبار افغانستان مؤسس مولوی عبدالرؤف په قندهارکی وزیږید (صفر ۶۷ق).

دسوات اخوند عبدالغفور صاحب دپښتنو لویه جرگه جوړه کړه اود ستهانی سید اکبرشاه یی په شرعی امارت وټاکه، پخپله دی شیخ الاسلام سو .

دکوهاټ داپریدو او بنگښوغزاوی له پرنگیانو سره .

مولانا زین العابدین پیښوری چی په حساب، ریاضی، نجوم کی استاد اود استخراجات جبر یه مؤلف و ژوندی و .

دبهادر خیلو ختکو غزاله پرنگی سره .

منشی عبدالکریم د محاربه کابل وقندهار کتاب دکانپور په مصطفایی مطبع کی چاپ کیء .

۱۸۵۱ م ۱۲۶۸ ق

له لنډ نهد (خوان مصر) په نامه یوکتاب خپور سو، چی یو فصل یی دافغانستان او سند پر احوال دی او دلومړی جنگ انگلیسی سیا ست غندی .

میر عبدالرحمن د افغانستان مشهور خطاط په هرات کی وفات او د سید عبدالله په گنبده کی ښخ سو .

له پرنگیانو سره د مومندوغزا او دمیچنی لومړی جنگ .

سردار شیر علی خان دکلات غلجی اول کړه .

۱۸۵۲ م ۱۲۶۹ ق

سردار محمد افضل خان دتخته پل ښار دبلخ په ولایت کی جوړکیء .

د مومندو سره د پرنگی دوهمه د میچنی جگړه او هم د پرانگ غار غزا .

د امیر دوست محمد خان او سردار کهندل خان بوله بله مخالفت دکلات پر کلا او د نواب جبار خان په بو گاښ د دوی روغه .

په مله کنډ کی د پرنگی سره درانی زو غزا .

د بهادر خیلو ختکو د و همه غزا له پرنگی سره او د سپری جنگ

میر محمد نبی احتر بدخشی د شعر ددیوان خاوند او دحدایق الحقایق او هشت بهشت مؤلف په رستاق کی وفات سو .

فیض الله قریشی د تر بیلی او سیدونکی د پښتو لیکوال او شاعر خپل گنج سعادت نظم کیء چی ددغه عصر ښه تاریخی معلومات لری .

میر احمد اظهر مجددی د هفت مجلس او مناقب الطاهر ین مولف او ددیوان خاوند شا عر وفات سو (ولادت یی ۱۲۰۶ ق) .

۱۸۵۳ م ۱۲۷۰ ق

دغلجو شورش په کلات کی .

د بلخ د ولایت د دار الامان خلیفه میرزا امان معروف صوفی ۸۴ کلن وفات سو .

دپرنگی او مو مند و معاهده نمبر ۱۵،۷۸ نومبر ۵۳ م .

محمد رسول شهید مار ملی بلخی شاعر ددیوان خاوند ژوندی و .

سردار فتح محمدخان دوزیراکبرخان زوی د کلات حکمران او جنرال فرامرز خان یی دلښکر مشر مقرر سول .

د کوهاټ د غاښی غزا وی له پرنگیانو سره . دبوری غزا له ۱۵ نومبر ۵۳ څخه تر ۱۴ جنوری ۵۴ م پوری .

نواب جبار خان د سردار پاینده خان زوی ۷۳ کلن وفات او دکابل په عاشقان وعارفان کی ښخ سو . (ولادت ۱۱۹۷ ق) .

دسلیمان پن خوا جه ابرا هیم قبلان حسینی نقشبندی قندو زی دینابیع المودة د مؤلف وفا ت په استا نبول کی . (ولادت ئی ۱۲۲۰ ق)

استاد عبد العلی هروی د میرزا باقر کابلی زوی د هرات مصوّر ژوندی و .

۱۸۵۴ م ۱۲۷۰ ق

د مهدی بن اسماعیل موسوی هروی امامی فقیه او اصولی وفات او په مشهد کی ښخیدل .

۱۸۵۴ م ۱۲۷۱ ق

سرار کهندل خان د قند هار حکمران ٦٣ کلن پسله ٢٦ کالو حکومته په سه شنبه ٧ ذی حجه په قندهار کی مړ سو (ولادت یی ١٢٠٨ ق)

پرنګیانو پر مومندو حمله وکړه (اګست) او د پنډ یالی د مومندو سره تر ١٨٦٠ م پوری وجنګیدل .

میر محب بیګ هزاره دیکه او لنګ اوسیدونکی یاغی سو ، خو سردار محمد اسلم‌خان دی بیرته کښیناوه.

سردار مهردل خان مشرقی ٥٩ کلن په قند هار کی وفات او ښخ سو جمعه ٢٧ جمادی الاخری (ولادت ئی محرم ١٢١٢ ق)

حاجی دوست محمد قند هاری د ملا علی اخوند یوسفزی زوی د ښون د دامان مشهور نقشبندی عارف ژوندی و ، او دده د مناقبو کتاب معزالدین د عبدالکریم زوی تألیف کیء (خطی) .

میرزا حنان بارکزی شاعر په قند هار کی خپل پښتو دیوان ترکیب کیء .

١٨٥٥ م ١٢٧٢ م

سردار غلام حیدر خان دامیر دوست محمد خان له خوا په پیښور کی د مودت معاهده له سر جان لارنس د پنجاب له کمشنر سره په ٣٠ دمارچ ١٨٥٥ م امضا کړه او له انګریزی هنده سره روابط قائم سول .

په قندهار کی خانه جنګی وه خو امیر دوست محمد خان قندهار ونیوی او خپل زوی سردار غلام حیدر خان ته یی وسپاره .

شهزا ده محمد یوسف د ملک قاسم زوی د فیروز الدین لمسی د عیسی خان بر درانی په مرسته هرات ونیوی او سعید محمد خان الکوزی ئی مړکیء ، خو په آخرکی محمد یوسف هم‌ووژل سو او هرات پر دو ته پاته سو .

مولوی محمد حسن او محمد عثمان د هرات قاضیان او شیخ مرتضی د شهزاده محمد یوسف وکیل و .

امیر دوست محمدخان په‌قند هار کی قاضی محمد سعید خان علوم بار کزی قاضی القضات وټاکه .

د کوهاټ د اکا خیلو سره د پرنګیانوجنګونه‌تر ١١ جنوری ٥٦م پوری جاری و .

١٨٥٦ م ١٢٧٣ ق

د ناصر الدین شاه قاجار لښکرو هرات ونیو ، خو سردار سلطان احمد خان د هرات حکمران سو ، او د ایران لښکر ولاړل .

راورټی انګریز مستشرق او لښکر مشر د پښتو ګرامر په انګریزی ژبه‌په کلکته کی‌چاپ‌کیء .

د امیر دوست محمد خان عسکر ١٦ غنډه پیاده ٣ غنډه سپاره توپخانی سره ګرده ٧٠٠ ر ١٣ منظم عسکر او ٨١ توپه وو .

امیر دوست محمد خان قند هار سردار غلام حیدر خان ولیعهد ته وسپاره او پخپله کابل ته ولاړ .

١٨٥٧ م ١٢٧٣ ق

علی قلی میرزا د فتح علی شاه

قاجار لمسی (اعتضادالدوله متوفی ١٢٦٨ ق) خپل کتاب (تاریخ وقایع وسوانح افغانستان) په تهران کی چاپ کیء . چی د احمد شاه بابا له وخته احوال لری .

په جمرود کی دامیردوست محمد خان او سر جان لارنس ترمنځ د دوستی او امداد معاهده ٢٦ جنوری ٥٧ م ٢٩ جمادی الاولی ٧٣ ق .

قاجاری لښکرو هرات تخلیه‌کیء ٢٧ جولائی ٥٧ م .

میجر لمسون د انګریزانو له خوا په قند هار کی سیاسی مبصر مقرر سو .

د پاریس په معاهده کی انګریزانو ته وویل سوه چی د ایران او افغانستان په شخړو وکی منځګړی سی .

مولوی غلام جیلانی د پیښور محقق عالم کابل ته راغی .

د ستهانی سیداکبر شاه دسوات د پښتنو امیر وفات سو (١١ می ٥٧ م) په‌سوات کی نفاق ولویدی.

سید مبارکشاه په نارنجی کی په ١٨ جولای ٥٧م له انګریزانوسره غزا وکړه .

کله چی امیر دوست محمد خان د هند دوایسرای تر ملا قات وروسته‌جمرودته راغی،کوکی‌خیلود پرنګیانو پر لښکرو په خیبر کی حمله وکړه او د هغو مشر افسرئی مړکیء .

١٨٥٧ م ١٢٧٤ ق

د لمسون سیاسی ډله په افغانستان کی وه ، ددی ډلی رویداد دډاکټر بیلیو په قلم په ١٨٦٢ م له لندنه چاپ سو .

١٨٥٨ م ١٢٧٤ ق

سردار سلطان احمد خان په هرات کی حکمران سو . سردار غلام حیدر خان ولیعهد په کابل‌کی په جمعه ٢١ ذیقعده ٧٤ ق نه دیرش کن مړ سو (ولادت ١٢٣٥ ق) .

روسی استاځی خانیکوف هرات ته راغی .

له پرنګی سره د پنجتار په چنګلی کی د پښتنو غزا (اپریل ٥٨ م)

نائب امین الله خان لوګری دامیر دوست محمد خان په محبس کی‌په کابل کی مړسو .

١٨٥٩ م ١٢٧٥ ق

مراد خان اتالیق د قطغن میر، وښوریدی، خو سردار محمد افضل خان دی مات کیء او کولاب ته وتښتیدی .

جرنیل شیر محمد خان (کیول انګلیس چی په ١٢٤٩ ق کال د قندهار په‌جنګ‌کی زخمی اومسلمان سوی‌و) په تخته پل کی عسکری قوماندان وهلته مړسو .

سردار رحمدل خان ٦٤ کلن وفات اود نجف په وادی السلام کی ښخ سو (رجب) دده ولادت ١٢١١ ق.

١٨٥٩ م ١٢٧٦ ق

دکورم دخلکو غزا له‌پرنګی سره (٢٠ دسمبر) .

سردار عبدالر حمن خان شمالی ولایات سره‌سم کړل. او کله چی

امیر مظفر خان دبخارا پاچا تر آمو راتیر اوچارجوی ته راغی، نوسردار محمد افضل خان او افغانی مشرانو دی بیرته دآمو خواته وشاړه .

له پرنگی سره په میدانی غره کی دمسیدو او ختکو غزا .

پر وزیرستان باندی دسر نیول چمبر لین دلښکرو حملی تر ۱۸۶۰ م پوری .

۱۸۶۰ م ۱۲۷۷ ق

د تیرا دتورغره پښتنوله ۱۸۵۸م ځخه بیاتردی کاله پوری دپرنگی له لښکرو سره جنگونه کړل .

سردار محمد شریف خان دفراه او پشت رود حکمران غور ته ولاړ، اود تایمنو سردار عبدالغفور خان یی ایل کی.

۱۸۶۱ م ۱۲۷۸ ق

سردار محمد اعظم خان د قطغن حکمران دهغه ځای اداره سردار عبدالغیاث خان دنواب جبار خان زوی ته وسپارله اوپخپله له خان آباده کابل ته راغی .

دسردار سلطان احمد خان زامن له هرات ته راغلل او سردار میرافضل خان یی په فراه کی حکمران کی . مگرامیر دوست محمد خان دمیانی په میاشت ورغی او هغه ښاریی ونیوی .

سردار عبدالرحمن خان دقطغن حکمران سو .

په کابل وباگډه سوه او سردار پیرمحمدخان ۶۴کلن ۲۲ دربیع الاول وفات سو . دغسی هم سردار سلطان محمد خان ۶۸ کلن په پنجشنبه ۱۸ ربیع الثانی په کابل کی وفات سو .

د دوړو پښتنو غزا له پرنگی سره .

دپښتو مشهور عالم صاحبزاده غلام جیلانی وفات سو (چهار شنبه ۹ شوال) .

۱۸۶۲ م ۱۲۷۹ ق

دفراه تر نیولو ورو سته امیر دوست محمد خان دهرات نیولو ته لښکر بوت، او سردار سلطان احمد خان اود هغه زامن یی په هرات کی محاصره کړل. (۱۰ صفر) .

دسردار سلطان احمد خان ماینه چی دامیر دوست محمد خان لور وه دهرات په کلابندی کی مړه سوه .

میرزا رضا هروی مصور اونقاش دامیر دوست محمد خان او سلطان احمد خان دجنگ تصویر په هرات کی وکیښ (دهرات موزیم) .

ملاصفی الله ختک د مسری باندی اوسیدونکی په پښتو مخزن الاسرار اوبدرمنیر اوپه فارسی نظم الدررفی سلك السیر وکښل .

سیف الدین حسینی دانشا کتاب په کابل کی تالیف کی .

دکتر بلیو دهغی ډلی دسفر ورځ لیك له لنډ نه په ۱۱ فصلود ۸ تصویرو سره خپور کیء ، چی په ۱۸۵۶ م د لومسدون په مشری افغانستان اوقندهار ته راغلل او تر ۱۸۵۸ م هلته‌و اود افغانستان ښه معلومات لری دکتاب نوم: (په افغانستان کی دیوه سیاسی وفد ورځ لیك) .

دیویس دپنجاب دحکومت سکرتر دافغانستان پرتجارت باندی یومفصل راپورتچاپ کیء (جولای) چی د لکهنود نولکشور په مطبعه کی په اردو هم چاپ سو ۱۸۷۱ م .

دیویس انگریز دافغانستان اوهند دتجارت په راپورکی (۱ جولایی ۶۲) دافغانستان ټول واردات له هنده ۳۱۸،۳۸۳ پونډه او صادرات یی ۳۰۳،۵۳۵ پونډه او گرده تجارت یی ۶۲۱،۹۱۸ پونډه ښوولی دی .

۱۸۶۳ م ۱۲۷۹ ق

سردار سلطان احمد خان دهرات حکمران په رمضان ۱۲۷۹ ق ۶ د اپریل ۶۳م دهرات په محاصره کی مړسو اوزوی یی شهنوازخان پرځای ودریدی .

امیر دوست محمد خان په ۸ ذیحجه ۷۹ق ۲۷ مې ۶۳م هرات ونیو، اوهلته په ۲۱ دذیحجی ۷۹ق ۹ جون ۶۳م مړ او ښخ سو او امیرشیرعلی خان یی پرځای امیر سو .

سلطان محمد خان دسعادت خان موبدزوی دانگریزانو سره وجنگیدی خود امیر شیرعلی خان لښکرو دی باجوړ ته وشاړه .

سیدجمال الدین افغانی په افغانی دربار کی داصلاح اوتجددحرکت شروع کیء استاد ابراهیم په هرات کی د امیر شهنواز خان لپاره یو لوی توپ جوړ کی ء .

دسوابی په توپی کی دملك عیسی خان حدون او مولوی عبدالله په مشری له انگریزانو سره د پښتنو غزا. دقتل گړلوی جنگونه تر سوات او باجوړ پوری .

له پرنگی سره دسورکاوی اوامبیلی دپښتنو غزاوی (د اکتوبر ۶۳م)

۱۸۶۳ م ۱۲۸۰ ق

د سوات د اخوند عبدالغفور او مولوی عبدالله مجاهد په مشری د امبیلی په کوتل کی د انگریزانو (۷) زرو لښکرو سره جهاد ، چی ۹۰۸ تنه پرنگیان مړه اودری زره تنه پښتانه شهیدان سول .

دنومبرپه ۱۸ ورځ دقتل گړجهاد ۱۵ زرو تنوغازیانولخواد پرنگی سره شروع سو او تر ۱۵ دسمبر پوری جاری و.

امیر شیرعلی خان خپل خورلس کلن زوی یعقوب خان دهرات حکمران اوجنرال فرا مرزخان یی لښکرمشر مقرر کیء . قاضی عبدالسلام خان یی دهرات قاضی او ملاشاه محمدیی مفتی او میرزا غلام صدیق بی سر دفتری مقرر کیء اود قندهارله لاری کابل ته راغی .

حاجی عبدالرازق دمولانا عبدالخالق اندړ زوی دغزنی دپای لوچ په کلی کی وزیریدی (۱۶صفر) .

میرزا احمدخان کابلی مستوفی اود شعر ددیوان خاوند وفات سو .

په خان آباد کی دسردار محمداعظم خان دفوجونو یاغی توب پر سردار عبدالرحمن خان باندی اوددوی ارامول. میراتالیق په قطغن کی ولاړسو، خو سردار عبدالرحمن بیر ته پرځای کښیناوه اومالیات یی ځنی واخیستل.

دسوات د اخوند میان عبدالغفور او انگریزانو روغه اود اخوند تگ سیدو شریف ته (۲۷ دسمبر) .

شرو سو

۱۸٦٤ م ۱۲۸۱ ق

دامیر شیر علی خان سره د دهد ورونو کورنی جنکونه .

دباجکاه په جنک کی محمد افضل خان مات او گرفتار سو او سردار عبدالرحمن بخارانه وتښتید .

جلالی دیوسف مسکین زوی دقادس د ده گزك او سیدونکی دسیاه موی او جلالی دقصی هیرو وزیر یدی .

پر مومندو دپرنکی حمله اودمیچنی خلورمه غزا .

۱۸٦٥ م ۱۲۸۲ ق

امیر شیرعلی خان په کابل کی دوه زره تنه لو یی جر گی ته راوغوښته چی ده ته دده دورونو د اختلاف په باب کی مشوره ورکړی تردی لویی جرگی وروسته امیر د خپلو ورونو جنك ته متوجه سو.

دامیر شیر علی خان او سر دار محمدامین خان دکجباز جنگ ، اود محمد امین او محمد علی یوله بله سره وژل ۱۰ محرم ۸۲ق .

امیر شیر علی خان دخپل ورور او زوی په مرگ غم جن سو او قندهارته‌ولاړ، اودانبارئی ونیوی‌ع .

میرزا محمد محسن دبیر دمیر زا علی‌خان زوی ددربار منشی اوشاعر په‌کابل کی‌وفات‌سو(ولادت ۱۲۲۷ق)

مراد علی کاموی د عبدالرحمن زوی پښتو تفسیر یسیر وکیښ .

۱۸٦٦ م ۱۲۸۲ ق

امیر شیر علی خان شمالی ولایات ونیول اوله تاشقرغانه تخته پل ته ولاړ، بیاو کابل ته راغی .

سردار عبدالرحمن خان چی‌بخارا ته تللی‌و، بیرته راغی اود بلخ‌ولایت یی ونیو او بیا پر کابل راغی، امیر شیر علی خان له‌قندهاره راووت او دوزدکو په سید آباد کی د امیر شیر علی خان اوسردار عبدالرحمن جنگ وسو، خو امیر شیر علی خان مات سو او قندهار ته ولاړ.

۱۸٦٦م ۱۲۸۳ق

امیر محمد افضل خان دکابل‌امیر سو او امیر شیرعلی خان قندهارته ولاړ .

مستوره غوری حورالنساء دمیر سید اعظم لور (بی‌بی سپیده پوش) دفارسی د یوان تحفة العاشقین خاونده دغور دپرچمن او سیدونکی شاعره وفات سوه (ولادت یی ۱۲٤۸ ق) .

میرزا عبدالواسع‌طبیب‌دلعل‌محمد عاجز زوی دشعر ددیوان خاوندوفات سو (ولادت‌یی ۱۲۰۸ ق)

امیر شیر علی خان له قندهاره راووت چی کابل ونیسی، مگرسردار عبدالرحمن خان دی په کلات‌کی‌مات کی‌ع .

سردار فیض محمد خان دامیر دوست محمد خان زوی په بلخ کی وښوریدی او امیر شیر علی خان دهرات او میمنی له‌لاری بلخ‌ته‌ولاړ اوسره ملگری سوه .

د سردار احمد خان د امیر دوست محمد خان دزوی په امر دده دشعارو دیوان په باغ کی ترتیب او وکیښ سو (۲۷ شعبان) (دکابل خطی کتابخانه) .

سردار عبدالرحمن‌خان دخپل‌پلار امیر محمد افضل‌خان لخوا وگومارل سو چی دامیر شیر علی خان او سردار فیض محمد خان مقابلی ته ولاړ سی .

د دواړو خواو لښکر د پنجشیر په بازارك کی سره ونښتل، په دی جنگ کی سردار فیض محمد خان دتوپ په گولی ووژل سو او امیر شیرعلی خان بیرته بلخ ته ولاړ .

امیر محمد افضل خان ٥٤ کلن په جمادی الثانیه ۸٤ق په کابل‌کی مړ اوښخ سو او پرځای یی امیر محمداعظم‌خان پادشاه‌سو. (دافضل ولادت ۱۲۳۰ ق) .

میر سعدالدین د سعدالله زوی دتنگی سیدان ددیوان خاوند شاعر وفات سو (ولادت‌ئی ۱۱۹۸ ق) .

سید جعفر رستاقی د عبدالصمد زوی دگلشن عشق او چمن عشق ناظم وفات سو .

سردار عبدالرحمن خان بلخ ته ولاړ او امیر شیر علی خان له‌هغه ځایه ووت اوهرات ته ولاړ .

سردار عبدالرحمن خان شبر غان میرحکیم خان ته وسپاره اود هغه لوریی وکړه .

حیات خان دپښتنو تاریخ حیات افغانی په اردو په لاهور کی چاپ کی‌ع .

ملامحمد یعقوب فراهی د فارسی او پښتو مقتدر شاعر او عالم په‌فراه کی وزیریدی .

۱۸٦۸ م ۱۲۸۵ ق

د امیر محمداعظم‌خان سره دامیر شیرعلی خان جنگونه اوپه شش گاو او زنه خان کی دامیر محمد اعظم خان ماته او دده او عبدالرحمن‌خان تښته ایران او روس ته .

د شوال په میاشت کی امیر شیرعلی خان‌بیا کابل ونیواوپادشاه سو اودهندویسراد ۲ نومبر ۱۸٦۸ م په مکتوب دده سلطنت ومانه .

دگتهر ډبلیو بیو انگریزی افغان پوهاند دپښتو گرامر په انگریزی په لاهورکی چاپ کی‌ع .

منصور غزنوی دمحمودخان مومند شالیجی زوی دفارسی لیکوال او شاعر په غزنی که وفات‌سو (ولادت ئی ۱۲۲۰ ق) .

بهاول خان دبنادی خان زوی د بنون دسیمو او سیدونکی جنگنامه زیتون په پښتو منظومه کړه .

۱۸٦۹ م ۱۲۸۵ ق

انگریزانو دوو لس لکه روپی او دوولس زره توپك امیرشیرعلی‌خان ته ورکړه .

امیر شیر علی خان دهند دویسراپه بلنه دانبالی سفر هندته وکی‌ع اوپه رسمیت ومنل‌سو، مگر دده ولیعهد عبدالله جان یی ونه مانه .

د روس او انگریز مذاکره دافغا نستان دشمالی سر حداتو د ټاکنی لپاره شرو سوه .

پر انمانخیلو او مومندو پښتنود پرنگی حملی او دمیچنی شپږمه غزا .

امیر محمد اعظم خان دفرار په

حال‌کی پنجوس‌کلن وفات اود

~~شاعر پښتو کتابونه وکښل:~~

بایزید بسطامی په مزار کی ښخ‌سو (ولادت ئی ۱۲۳٦ق)

۱۸٦۹م ۱۲۸٦ق

له پرنکی‌سره‌دکابل خیلو وزیرو غزا.

سردار فتح محمد خان د هرات حکمران سو او سردار محمداسماعیل خان دسردار محمد امین خان زوی په چند اول کی یاغی سو، خو دی ونیول سو او هند ته فرار سو.

دامیر شیر علی خان له خواسردار شیر علی خان قند هاری دقند هار حکمران سو .

امیر شیر علی خان دنوی کابل شیر پور په جوړولو دناظر حسین علی‌خان تر کتنی لاندی پیل‌وکیء .

۱۸۷۰م ۱۲۸۷ق

سردار محمد یعقوب خان په قندهار کی یاغی سو او هرات یی ونیو، دهرات حاکم سردار فتح‌محمد خان او سردار محمد عزیز خان په جنگ کی مړه سول .

امیر شیرعلی خان په افغانستان کی دنوی مدنیت په خپرولو پیل وکیء .

سپه سالار فرامرز خان په هرات کی دجمعی په‌شپه ۲۷ ربیع الاول وواژه سو .

دافغانستان لومړی کابینه د سید نور محمد شاه قندهاری صدراعظم په‌مشری جوړه سوه‌چی دغه وزیران یی درلودل :

(۱) سید نورمحمد شاه قندهاری دپښین دسید سلیمان شاه‌زوی لوی حاجی کی پیغوسن کلن وفات اود ژول مختار (صدراعظم) .

(۲) میرزا حبیب الله خان وردگ لوی ملك (مستوفی الممالك = وزیر مالیه) .

(۳) ارسلا خان جبار خیل لوی مینی دباندی (وزیر خارجه) .

(٤) عصمت الله خان دعزیز خان غلجی زوی لوی مینی دغرو (حشمت الملك وزیر کوهستانات) .

(٥) میرزا محمد حسن خان لوی کښل (دبیر الملك = سر منشی حضور).

(٦) حسین علی خان پنجشیر ی ټولمشر (سپه سالار)

(۷) احمد علی خان چغتائی لوی ټرلو ل (معیر الملك = وزیر خزانه)

شیخ محمد اکرم افغانی چی د خیبر له اپریدو څخه و، او په شام اومصر کی علمی شهرت در لود او مشهور مدرس و، په قاهره کی وفات سو (ربیع الثانی).

شاه عبد الباقی مجد دی د شاه صفی الله مجد دی زوی د کابل د مجدد یانو نیکه په کابل کی ۹٤کلن وفات او ښخ سو (سه شنبه ۲۱ ربیع الاول) دشعر دیوان ئی درلود او متخلص په باقی و.

میر زا محمد اسما عیل د پیښور دحکومت سر محرر تسهیل القواعد افغانی- نصاب افغانی- قواعدافغانی ولیکل.

مولوی احمد دنواز خان اخونـد زاده زوی دپیښور دتنگی عیسی‌خیل

شاعر پښتو کتابونه وکښل :

آدم درخانی- توتی نامه- قصه‌جمجمه او نور.

۱۸۷۱ م ۱۲۸۸ ق

د افغانستان لومړی اخبار شمس النهار په کابل کی دمرزا عبدالعلی په اهتمام خپرو سو .

سید نور محمد شاه صدراعظم دپالك انگریز سره د سیستان د سرحداتو او اوبو دویشلو لپاره هلته ولاړ، او بیایی دمذاکراتو لپاره تهران ته هم سفر وکیء اود بمبئی له‌لاری کابل ته راغی .

امیر شیر علی خان یومنظم لښکر جوړ کیء چی شمیرئی ٥۲ زرو ته رسیدیء .

شیخ الاسلام ملاخدا بخش دملا محمد قاسم زوی (عـط) شاعر اود شرح کامه طیبه لیکونکی په هرات کی وفات سو .

صوفی محمد رسول ساکزی د قندهار مشهو ر عالم او نقشبند ی مقتدا ٥٥ کلن وفات سو (دوشنبه ۱۳ ذی‌حجه) .

سید خان شبرغانی دقاضی سید نعمان زوی نستعلیق لیکونکی‌خطاط او شاعر اذنب تخلص ژوندی‌و .

ولی طواف دمحمد علی کابلی زوی ناخوانه شاعر پـه کابل کـی ژوندی و .

سردار محمد یعقوب خان له‌هراته دامیر شیرعلی خان حضور ته راغی او معافی یی وغوښته او بیرته‌هرات ته مقرر سو .

۱۸۷۱ م ۱۲۸۸ ق

محمد زردار خان ناغر افغان په هندکی صولت افغانی دپښتنوتاریخ په اردو وکیښ. (دنو لکشور طبع ۱۲۸۹ ق) .

۱۸۷۲ م ۱۲۸۹ ق

سردار محمد یعقوب خان کابل ته راغیء او بندی سو او سردار محمد ایوب‌خان په هرات کی دپلار مخالف سو .

سردار حبیب الله خان دسردار عبدالرحمن خان زوی پـه سمرقند کی پـه دوشبه ۲٥ د ربیع الثانـی وزیږید .

دانگریز دولت او روسانو ترمنځ دگر ینویل او گورچا کوف معاهده وسوه چی افغانستان د روسانو د نفوذ دسیمی څخه وتلی دی .

دکابل په بالاحصار کـی دپـلو لښکرو دمشق دقواعدو کتاب ۳۸۲ مخه مصور دقاضی عبدالقادر له‌خوا چـاپ سو چـی بـولی یـی پښتو دی .

دامیر شیرعلی خان منظم عسکر ۵۱٫۹۹۰ تنه او غیر منظم ۲٤٫۰۰۰ تنه‌وو چـی ٤۰ زره ټوپك او ۳٦۹ توپونه‌یی درلوده .

برهان الدین لاغر دمیر یو سف علی بدخشی زوی دجام‌جم او دیوان اشعار ناظم ژوندی‌و .

نعمت‌الله محوی دمیمنی شاعـر او احمد قلی بن سکندر هروی دآتش فشان دتذکری مولف ژوندی وو .

پر شمالی وزیرستان دپرنگی‌حمله اود کجوری لـوی جنگ اود بادی فقیر شهادت .

۱۸۷۲ م ۱۲۸۹ ق حدود

قاضی عبدالرحمن خانملا دقاضی محمد سعید بارکزی قندهاری زوی درفیصل التفرقه‌بین الضال‌والناجیه) رسالهٔ‌وکتبله (دکابل‌خطی کتابخانه)

۱۸۷۳ م ۱۲۹۰ ق

نائب محمد علم خان د ترکستان نائب الحکومه دامیر شیرعلی خان په امر میمنه ونیوله .

روسانو خیوا فتح کړه .

سید نور محمد شاه صدراعظم دشملی په کنفرانس کی شامل‌سو.

دامیر شیر علی خان په فرمان (رمضان ۱۲۹۰ ق) عصمت‌الله خان جبارخیل حشمت الملك او (لوی مینی دغرو) وزیر داخله‌سو. امیر عبدالرحمن خان دی په ۱۸۸۰ م په دار وځړاوه .

قاضی عبدالقادر پیښوری د امیر شیر علی خان ددربار ښوونکی او مصاحب یا عسکری سکرتر، چی دفتاوای امیری یاتشریح الجرایم‌اود عسکری تعلیماتنامو او وعظ نامو مولف دی. دی دقاضی فضل قادر زوی او د خان علما قاضی حسن لمسی دی. خود انگریز جاسوس

قاضی عبدالسلام دقاضی محمد سعید بارکزی قندهاری زوی قاضی القضاتؤ .

دوست‌محمد ختك په‌قندهارکی‌په پښتو بدرمنیر اوبحرالعلوم اواخلاق احمدی منظوم کړه .

امیر محمد بن عبد القادر بن محمد اعظم سلیمان خیل کتوازی‌د امیر شیر علی خان په نامه الدافعه لشکوك الطایفة الوهابیه په عربی تالیف کړه .

دمحمد عظیم ابکم نقاش ژوندپه کابل کی .

عبدالرسول قندهاری‌شاعر دسفر نامی اوازاد نامی مولف دخپل شعر دیوان جوړ کیء .

امیرشیرعلی خان دبالاحصارپه خاصه سراچه کی دولیعهدی‌جلسه وکړه او سردار عبدالله‌جان ولیعهد سو. (۱ شوال ۱۲۹۰ق)

دشوال په دوهمه شپه دسردار عبدالله‌جان دولیعهدی جشن وسو او په هرات کی سردار محمد یعقوب خان مخالفت وکیء .

په دغه کال دشمالی ولایاتو(مزار شریف)مالیات پنځه لکه روپی وی اونائب محمد علم په‌مزارکی تروپونه جوړول.

دقندهار پلټنی دوه کاله کابل‌ته راغلی، چی دلته عسکری قواعد زده‌کی.

سردار ولی محمدخان دکورم لوی ناب دهغه ځای دیاغی قبائلو توبه نامه امیرته راواستوله اوصدراعظم نورمحمد شاه ددوی‌مشرانوته‌خلعتونه ورکړه.

امیرشیرعلی خان خپل‌ولی عهد دسوات آخوندته معرفی‌کیء اوآخوند هم‌هغه ومانه اوتبریك‌ئی ورته‌ووایه (دوشنبه ۱٤شوال ۹۰ق)

صاحبزاده غلام جان دپنجشیر او نجراوکم ناب اوعلی محمد خان دکنر حاکم اوخدای نظرخان دغزنی‌حاکم‌و.

میر عنایت‌الله بدخشی داصول

لمس‌شت نظم‌اود دیوان‌خاوندوفات سو.

۱۸۷٤م۱۲۹۱ق

د نائب محمد علم‌خان مرگ.

د شاغاسی شیردل خان لوی ناب مقرری دشمالی ولایاتوپه حکمرانی.

امیرشیرعلی خان دکوچنی اختر‌په ورځ دنولمشر حسین علی خان‌په سلاری اود قاضی عبدالقادر په ملگری دکابل‌دلښکرونمایش‌دمرنجان دغرنډی سره ولید، ۳۷ پلی کنډکه خلور رجمنته سپاره لس‌توپخانی.

د کابل په سیمو کی سخته زلزله وسوه چی له پنجشیره تر کوهدامنه ۷۰۵۲ تنه مړه او ۳۹۰۰ تنه زخمی سوه . په پروان کی ۱۳۰۰ تنه اوپه کابل کی ۱٤ تنه مړه سوه (شمس النهار ٦ـ۷ رمضان ۹۱ ق) .

میر عبدالرحمن دواخان حاکم مړ سو (۱۵ صفر ۹۱ ق)

نظام الملك د چترال د میر زوی دامیر شیر علی‌خان دربارته‌راغیء .

شاغاسی شیر دل خان ته دلوی ناب او دده زوی خوشدل خان ته د کمکی ناب او میرزا محمد حسن خان د بیر ته د کمناب لقبونه ورکړه سوه او میرزا محمد نبی خان وا صل وفات سو.

سردار شیر علی خان هزاره وفات سو .

سردار نصرالله خان د امیر عبدالرحمن خان زوی په سمر قند کی وزیږیدی (چهار شنبه ۳۰ صفر ۹۱ ق).

د افغانستان د لومړی جنگ تاریخ د جان ولیم کی تالیف دری ټوکه دریمه طبعه په لندن کی‌خپور سو .

هنری والتر بلیوچی په ۱۸۷۲ م افغانستان ته‌راغلی و، په‌خپل کتاب (له انډوس ترتا یگریس پوری) کی دافغانستان احوال‌له‌لندنه خپورکیء (۱۳ فصله) .

ملا شاه پسند پوپلزی د قند هار د نیش اوسیدونکی عارف او شاعر د قادری طریقی خلیفه په نیش کی ۷۵ کلن وفات سو (ولادت ئی ۱۲۱٦ ق) ده زاد الرحلین په پښتو نظم کیء (دلاهور طبع ۱۳٤۷).

۱۸۷۵ م ۱۲۹۲ ق

میرزا نیازی دملابرات زوی‌دسمنگان شاعراوخطاط چی دوه‌دیوانه‌یی لرل وفات سو .

د امیر شیر علی خان نصیحت نامه ((تحفة العلماء)) د قاضی عبدالقادر پیښوری په اهتمام او د میرزا بیضا خان په خط ۸۰ مخه په کابل کی چاپ سوه .

د باجوړ د فیض طلب خان او د ناوه کی د غلام حیدر خان اختلاف د امیر شیر علی خان په توصیه فیصله سو (۲ شوال ۹۲ ق) .

ملا سکندر اخند په کابل کی قاضی عسکر و .

۱۸۷٦ م ۱۲۹۳ ق

نواب عطا محمد خان د انگریز سفیر له‌امیر شیرعلی‌خانه وغوښتل چی دروسانو دپیش قدمی، دنیولو لپاره د انگریزانو مامورین افغانستان ته پریږ دی خو امیر شیر علی خان

نه و منله .

انگریزانو کوټه ونیوله .

سید نور محمد شاه صدر اعظم او میرا خور احمد خان او میرزا محمد باقر افغانی سیاسی ډله د مذاکراتو لپاره پیښور ته ولاړه .

اخوند زاده حضرت ملا یحیی دملا عبدالله زوی د هرات عالم او مدرس دهرات په دښت یلان کی وفات سو.

محمد عمر خان د محمد کلان پوپلزی زوی د خپل وخت پښتو او فارسی شاعر او خطاط او مؤلف په مزار شریف کی وفات سو .

محمد علم خان وکیل الدوله پوپلزی د عبدالله خان زوی په کابل کی وفات سو.

عبدالعلی مستغنی د فارسی او پښتو مشهور شاعر د ملا رمضان هوتک زوی د ملا قضا لمسی د ملا رسول داد کروسی د کابل په بالا حصار کی وزیریدی (۱۷ ذی حجه)

مستوفی حبیب الله خان له هراته کابل ته راوغوښتل سو، او پرځای یی سردار محمدعمرخان دسردار محمد عظیم خان زوی د هرات په حکومت مقرر سو .

د امیر شیر علی خان له در باره احمد خان ساکزی د جلال آباد حاکم سوات ته د اخوند عبدالغفور د لیدو لپاره استاځی ولاړ .

د لوگر دموسیی فیض محمداخوند زاده پښتو روضة المجاهدین د امیر شیر علی خان په نامه نظم کیء (د کابل خطی کتابخانه) .

پیر امان الله د مولانا رحمت‌الله قندهاری زوی دخپل عصر مشهور صوفی او زاهد په غور کی وفات‌سو.

۱۸۷۷ م ۱۲۹٤ ق

د پیښور په کنفرانس کی دسید نور محمد شاه صدر اعظم او سر لیویس بیلی مذا کرات ناکام سول (۳۰ جنوری) او سید نور محمد شاه په پیښور کی مړ سو ، او میرزا حبیب الله خان مستوفی د ملا شاه محمد و تاج محمد پوپلزی او میرزا محمد طاهر سره پیښور ته دمذاکری لپاره ولاړل ، مگر له جمروده بیر ته نگریزانو راواستول .

ارسلا خان وزیر خارجه مړ سواو پر ځای ئی ملا شاه محمد قطب‌خیل وزیر خارجه مقرر سو .

سردار محمدعلم خان دپشت‌رود حاکم معزول سو او پرځای ئی سردار محمد یوسف خان د امیر دوست محمد خان زوی مقرر سو .

د سلطان عبدالحمید له خوا حاجی محمد حسن خان بگرامی وال د کابل در بار ته د خاص استاځی په ډول راغی ، او دعثمانی دولت سفیر فوزی افندی و ، چی مستشارئی هدایت الله او با شکاتب ئی حسین او د وه تنه غړی یی منیر او خیری بیك وو.

د انگریز سفیر په کابل کی نواب محمد حسن خان اونائب‌یی عطامحمد خان اومنشی‌یی بختیار خان‌و .

د قاضی عبدالقادر (بنوونکی صاحب بهادر) وعظ نامه د بالاحصار په چاپخانه کی چاپ سوه .

د پست ټکټ (محصول چاپارخانه دارالسلطنه کابل ۱۲۹٤) خپور سو چی د زمری سر ئی په منځ کی کښل سوی دی .

اخوند عبدالغفور بن عبدالواحد (اخوند سوات) لوی نقشبندی او قادری مرشد او مجاهد د سوات په سیدو شریف کی په ۱۲ جنوری وفات او ښخ سو . (ولادت ئی دلوړ سوات په شامیزی صافیو کی د ۱۷۹۰ م حدود) دی د سوات د ریاست او شرعی حکومت مؤسس دی .

د سلیمان بن ابراهیم قندوزی بلخی حسینی صوفی مؤلف وفات . داجمع الفراید ، مشرق الا کوان ، ینا بیع المو ده مؤ لف (ولا د ت ۱۲۲۰ ق)

۱۸۷۸ م ۱۲۹۵ ق

په ۲۲ جون ستهیلا ټوف د روس نماینده کابل ته راغیء . اوپه ۱۱ اگست دامیر شیر علی خان دربارته ورسیدی او د یوی معاهدی مذاکره ئی ور سره وکړه .

امیر شیر علی خان د انگریز رالیږلی نماینده سر نیول چمبرلین نه را پریښو چی افغانستان ته راسی کلنل کرودیکوف له‌سمر قنده هرات ته راغی (نومبر) په ۳۱ د اکتوبر لارډ لیټن د هند ویسرا افغانستان ته‌اولتیماتوم ورکیء په ۲۲ دنومبر د انگریز او افغان دوهم جنگ‌ونښت اوانگریزی لښکر پر افغانستان‌راغلل

سردار عبدالله جان ولیعهد ۱۷ کلن وفات او په حرم باغ کی ښخ‌سو (د نقیب باغ) د ۱۷ شعبان شپه ۱۲۹۵ ق .

پر راتی زو پښتنو د انگریزانو لښکر کشی دمله کنډ پرخوا .

میر محمود شاه بدخشی د میر احمد شاه زوی د دیوان اشعار خاوند وفات سو .

سردار محمد یعقوب خان چی بندی وله قیده ایله سو او د کابل حکمران مقرر سو او سردار محمد ایوب خان هم له مشهده هرات ته راغیء .

ددغه کال تقویم د ملا عبدالرحیم او عبدالرحمن استخراج د کابل د شمس‌النهار به‌چاپخانه‌کی چاپ‌سو.

دغه د وه وروڼه د عزیز الله اخند زاده قند هاری زامن وو .

د کابل د شمس النهار په مطبعه کی مجمع البحرین یعنی مقابله حکمت قدیم و جدید د حکیم او ډاکترچتین شاه تالیف چاپ سو . او داله‌لمړیو مطبوعاتو څخه دی .

قاضی طلا محمد د قاضی حسن خان زوی د پښتو – فارسی – عربی لیکوال او شاعر او تکړه مؤلف په پیښور کی اوسیدیء . د عربی او دیوان خاوند او د جواهر النغز – سلوة النقریر – نفحة المسك – تسلیة العقول سلوة الکئیب مؤلف.

د افغان وار په نامه د جنرال‌ایبټ ورځ لیک ۳٤٦ مخه له لنډ نه د افغانستان پر احوال له ۱۸۳۸ تر٤۲ م پوری خپور سو .

نور محمد نوری قند هاری د افغانستان تاریخ وکیښ چی د

سمدوزو او محمد زو احوال لری .
(د لندن د انډیا آفیس خطی نسخه)
ده د امیر شیر علی خان په نامه یو
پښتو گرامر هم کښلی دیء .
دی دگلشن امارت هم مؤلف دی
د امیر شیر علی خان سوانح تر
۱۲۸۷ ق پوری (د کابل چاپ
۱۳۲۵ ش) پر کور می د پرنگیانو
حمله او له دوی سره د خلکو غزا .

ارباب عبدالرحمن خلیل دعبدالکریم
زوی دپښتو او فارسی او عربی
لیکوال اوشاعر دمردان اوسیدونکی
ژوندی و .

۱۸۷۹ م ۱۲۹٦ ق

پر افغانستان دانگریزی لښکرو
حمله اود انگریز او افغان ددوهم
جنگ پیل .

امیر شیر علی خان له کابله بلخ
ته ولاړو ۵۸ کلن په پنجشنبه ۲۹ صفر
۱۲۹٦ په مزار شریف کی مړاوښخ
سو (ولادت ۱۲۳۸) .

په کابل کی امیر محمد یعقوب
خان پادشاه سو . (ربیع الثانی
۱۲۹٦) .

جنرال رابرتس کابل په ۱۲ د
اکتوبر ۷۹م ونیوی .

دگندمك معاهده په ۲٦ می امضاء
سوه (٤جمادی الثانیه ۱۲۹٦) .

په ۲٤ جولایی ۷۹ دانگریز سفیر
کیوناری کابل ته راغی خو په ۱٦د
رمضان ۹٦ ق ۳ دسمبر ۷۹ په
بالاحصار کی و وژل سو او خلکو
پر انگریزانو حملی شروع کړی .
انگریزانو بالاحصار وران کی اود
ذیحجی په میاشت یی امیر یعقوب
خان دیره دون ته واستاوه .

محمد جان خان وردگ، ملامشك
عالم اندړ، محمد عثمان صافی په
کابل کی جهاد شروع کی اود تپه
مرنجان او کوه اسمایی جنگونه
وسوه. محمد عثمان خان شهید
سو .

امیر شیر علی خان له مزاره خپل
آخری مکتوب جنرال کو فمان ته
د شکند ته دیوه سیاسی هیئت سره
واستاوه: سردار شیر علی خان
قندهاری ـ شاه محمد خان وزیر
خارجه ـ قاضی عبدالقادر پیښوری
ملا دین محمد مشك عالم مشهور
عالم اومجاهد اوملا عبدالغفورلنگری
اومحمد جان خان وردگ په جهاد
کابل ته راغلل .

پرنگیانو دگندمك دمعاهدی سره
سم کورمه خپله وبلله، خو پښتنو
له دوی سره دریمه غزا شروع کړه،
اوغازی محمد سرور خان چکی دغزا
مشرو .

دنیراه لام اوله پرنگیانو سره
غزاوی. چی دپرنگی ۵۳ زره لښکر
پر پښتنو باندی ورغلل .

دتاك پر بازار دپښتنو مجاهدینو
حمله اود ٦۵۳ تنو انگریزی سپاهیانو
وژل . (شنبه ۱۰ جنوری ـ ۲٦
محرم) .

۱۸۸۰ م ۱۲۹۷ـ۹۸ ق

دمیوند جنگ اود انگریزانو ماته
۱۷ شعبان ۹۷ ق ۲۷ جولایی ۸۰م.
جنرال رابرتس له کابله قندهار
ته ور سیدی او سردار محمدایوب

خان یی مات کیء ۳۱ اگست ۸۰م
سردار عبدالرحمن خان له
سمر قنده تر آمو را واوښت قندوز
ته راغی (٤ جمادی الثانیه ۹۷ ق) .
د سردار عبدالرحمن او گریفن
مذاکره او موافقه په زمه کی .
امیر عبدالرحمن خان په ۵ درمضان
۹٦ق (جولایی ۸۰م) په کابل کی
پادشاه سو او انگریزانو هم ومانه
اوکابل یی وروسپاره .

۱۸۸۰ـ۱۹۰۱ م ۱۲۹۷ـ۱۳۱۹ق

دامیر عبدالرحمن خان د امارت
دوره .

جنرال رابرتس د قندهار د پیر
پایمال په جنگ کی په ۲٤ رمضان
سردار محمد ایوب خان مات کیء .
او ایران ته ولاړ. امیر عبدالرحمن
دشوال په میاشت کی قندهار ته
ورسیدیء .

۱۸۸۰ م ۱۲۹۸ ق

امیر عبدالرحمن خان دقندهارله
علماو څخه ملاعبدالرحیم اخوندزاده
کاکړ اوملاعبدالاحد پوپلزی دقندهار
په خرقه شریفه کی ووژل (شوال)
سردار عبدالرسول خان د قندهار
حاکم او سپه سالار غلام حیدر خان
توخی عسکری مشر او ملا یوسف
رستاقی کوتوال او ملا سعد الدین
خان قاضی مقرر سول .

مولوی احمد جان تاجر الکوزی په
قندهارکی دامیر عبدالرحمن خان د
فتح مدحیه دالیه قصیده وویله .

سلطان محمد خالص قندهاری د
موسی خان بارکزی زوی خپل (تاریخ
سلطانی) دامیر محمد ایوب خان په
نامه په بمبئی کی چاپ کیء دا کتاب په
۱۲۸۱ق شر وسوی او تر ۱۲۹۷ ق
پوری وقایع لری .

په وزیرستان کی پرمکین باندی
دپرنگی حمله اود خلکو جهادونه تر
۱۸۸۱م پوری جاری و او مولانا
گلاب دین شهید سو .

د پرنگی سره دمومندو جهاد اود
میچنی اومه غزا .

په ذیحجه کی سردار عبدالقدوس
خان هرات ونیو .

د سردار شیر علی هزاره زوی
تسلیم سو، سید محمود کنری او
محمد اکبر خان دلال پوری بغاوت
وکیء ، سید محمود راولپنډی ته
وتښتیدی او اکبرخان په کابل کی
نظر بند سو .

امیر عبدالرحمن خان دپنځه لکو
روپو اخیستلو لپاره ملا ابوبکر او
محمد اکبر تاجران دپیښورکمشنر
وتر فیلډ ته معرفی کړل، دغه خط
دپیښور په موزیم کی دی (۲۷صفر
۱۲۹۸) .

امیر عبدالرحمن دهند دویسرا په
خواهش جنرال میر احمدخان د
افغانستان په وکالت په دهلی کی
مقرر کیء اود ویسرا په نامه یی په
۲۵ صفر اود پیښور دکمشنر په
نامه یی په ۲۷ صفر مکتوبونه ولیکل
(دپیښور موزیم) .

میرمحبتی الفت دمیر مرتضی زوی
په کابل کی ۷٤ کلن وفات سو .
(ولادت ۱۲۲٤) د فارسی ښه
شاعر و .

دا ملا عبد الله بن مراد محمدبدخشی
شاعر دخپل شعردیوان ترتیب کیء.

سردار غلام محمد طرزی د خپلی کورنۍ سره دهند کراچی ته فرار سو.

دبرگو یرناتو په افغانستان کی د ۱۸۳۸ تر ۴۲م پوری احوال په ۱۱۳ مخه کی په بمبئی کی چاپ سو

قاضی عبد الرحمن دامازو گړهی (مردان) افسانهٔ دلپذیر په پښتو نظم کړه.

۱۸۸۱ م ۱۲۹۹ ق

انگریزانو په اپریل ۸۱م کی قندهار امیر عبد الرحمن ته وسپاره او دی بیرته په ۲۲ محرم ۹۹ق کابل ته را ور سید.

جنرال فرا مرز خان هرات ته مقرر سو.

دشوال په میا شت کی ناظرمحمد سرور خان دسردار عبدالقدوس خان پر ځای دهرات حکمران مقرر سو او دغه سردار بندی سو.

سردار محمد صدیق خان د نظر محمد خان زوی دسر دار امیر محمد خان لمسی په پیښورکی دمیوند جنگنا مه په فارسی مثنوی نظم کړه (۱۷ شعبان ۹۹) ق

دامیر عبد الرحمن خان لښکرو لغمان ونیوی.

۱۸۰۲– ۱۸۸۲م ۱۲۱۷– ۱۲۹۹ ق

دمحمد تقی بن حسین هروی عالم، دنهایت الامال او توضیح الحساب او عیون الا حکام دمؤلف دژوند وخت.

سردار عبد الر سول خان دقندهار نائب الحکومه معزول سو او دخلکو اتیا زره روپی اود حکومت لسس زره ځای یی سردارنورمحمدخان دسردار سلطان محمد خان زوی دقند هار نائب سو.

دهراوت دخلکو ښو رښت آرا م سو او صاحب خان علیزی د هغه ځای حاکم دښور ښتیانو مشرنائب اکرم ونیوی او کابل ته یی راواستاوه.

سردار محمد یوسف خان د امیر دوست محمد خان زوی دفراه حاکم، سردار ابراهیم بلوڅ په چخانسور کی تاراج کی او سردار تاج محمدخان بلوڅ هم افغانستان ته راغی.

سپه سالار فرامرز خان په هرات کی دهغه ښارکلاوودچار باغ عمارتونه ترمیم کړه اودغوریانو کلاتی هم جوړه کړه.

مخدوم فلی خان له مرو ښخه امیر عبدالرحمن خان ته عرض وکی چی مرو په افغانستان پوری ونښلوی (لکه پخوا) ترنلجو تره کو باندی دامیر دلښکرو بری اوکنړ نیول اود میمنی دوالی رایتول له شنوارو سره دامیردلښکرو جنگ.

۱۸۸۲ م ۱۳۰۰ ق

دانگر یزانو یو مسلمان نماینده عطاء الله خان په کابل کی مقررسو ،تر دی وخته گریفن او قاضی عبد القادر پیښوری په پټه په کابل کی وو.

امیر عبدا لرحمن خان ،محمدجان خان وردگ اودعصمت الله خان جبارخیل کورنۍ او نور دری زره تنه بندیان کړل.

د ربیع الاول په پنځلسمه امیر

په قند هار کی دمنز لباغ او د جلال آباد دشاهی باغ ودانونه.

دهرات دمصلا ورا نونه.

شهزاده لوبا نوف او لارډ گرینویل دروس او انگر یز له خوا د۱۸۷۳م دگور چا کوف پر موافقه نامه باندی دافغانستان په باب کی خبری وکړی

مولوی عبد الرؤف قند هاری د سراج الاخبار مؤسس په کابل کی (مدرس) شاهی مدرس او د حضور عربی ترجمان مقرر سو (وروستنی ملای حضور) .

په دغه کال دامیر عبد الرحمن گرده لښکر ۷۴۰ ر۵۸تنه وو.

سردار محمد حسن خان سیاه او سعدو په منگلو کی وښوریدل، خو جنرال غلام حیدر خان اور کزی دوی دتیراه خراته وشړل او زرمله ئی ونیوله.

مو لوی احمد جان دپښتو تکړه نثر لیکونکی دگنج پښتو او تاریخ افغانستان لیکوال په پیښور کی ژوندی و.

مولانا محمد عثمان بن محمد علی پاد خانی لوگری دعجائب الاخبار او گلشن اسرار اونورو تالیفاتو خاوند عالم ژوندی و.

رحمت بدخشی دمیرزا اسماعیل زوی دپنځو دری دیوانو خاوندشاعر ژوندی و.

دپنجشیر دخلکو ولاړیدل او ددوی بیرته ارا مول.

دقند هار داخکزو ښورښت اوبیرته امر منل.

۱۸۸۳ م ۱۳۰۱ ر۲ق

روسانو دتجن رود مجاری دهرات شمال غربی سیمی ونیولی.

انگر یزانو دکوټی ټوله سیمه و نیوله.

امیر عبد الرحمن خان شغنان او روشان ونیول.

امیر عبد الرحمن خان ته دوولس لکه روپی دکله انگر یزانو کومك منظور کی.

دانگر یز او روس گډ کمیسیون دافغا نستان دشمالی او غربی سر حداتو دټاکلو لپاره مقرر سو.

او امیر عبدالر حمن خان په پنجشنبه ٦ذیقعده ۱۳۰۱ق ددی کمیسیون د منلو فرمان صادر کی او خلکو ته ئی هدایت نامه صا دره کړه.

سردار محمد نادر خان دهند په دیره دون کی وزیریده(۲۱ حمل ۱۲٦۲ شس ۱۳۰۱ق) .

سردار محمد ایوب خان په تهران کی و، دمیمنی دوالی دلاورخان په غوښتنه له تهرانه پټ د دغو مشرانو سره مشهد ته راغی (۱۰ ربیع الاول) سپه سالار حسین علی خان

–جنرال پرویز شاه خان– خورشدل خان لوی ناب– سردار محمد هاشم خان– قاضی عبدالسلام خان– عبد الله خان ناصر–احمدعلی خان – مگردغه ډله دایران حکومت د انگر یزانو په غوښتنه ونیول او په قوچاق کی نظر بند کړه.

په دغه واقعه کی دلاور خان هم په میمنه کی یاغی سو، خو امیر عبد الرحمن خان میرمحمد حسین خان هلته والی وټاکه او میمنه آرامه سوه

دکتار او کنبیر دکا فرانو حمله پر عای شنگ اود لغمان دحاکم سردار گل محمد خان په مشری د دوی شړنه.

محمد علی غریب دسید عای زوی دپیښور دسیمی اوسیدو نکی عالم دپښتو او فارسی شاعر دډیرو عربی کتابو حاشیه لیکونکی ړوندی و.

۱۸۸٤ م ۱۳۰۱ ق

(۱۵ جمادی الاولی ـ۱۳ مارچ)

سید جمال الدین افغانی په پاریس کی دعروة الوثقی جریده په عربی خپره کړه.

دوهمه طبع ئی په قاهره کی ۱۳۲۸ق دتوفیق مطبع ۲۳۲مخه.

دامیر عبدالرحمن خان پخپل خط او انشا دهرات حکمران محمد سرور خان ته یوه مفصله هدایت نامه صادره سوه.

۱۸۸٤ م ۱۳۰۲ ق

سر پیتر لمسدن انگریز د سرحد ویشلو دلی‌مشر هرات ته‌ورسید او دافغانستان له خوا قاضی سعدالدین خان ورغی.

انگریزانو دکو ټی دریل لارجوړه کړه او روسانو پل خاتول ونیوی.

امیر عبدالرحمن په پنجشنبه ۲٤ جمادی الاولی ۱۳۰۲ ق له‌کابله راولپنډی ته رهی سو اوپه‌پنجشنبه ۱٦ جمادی الثانیه ای دهند ویسرا لارډفرن سره ولیدل اوپه ٦ درجب جلال آباد ته را ور سید.

انگریزانو دروسانو دپیشر فت د مخ نیوی لپاره خپل ۵۰ زره مجهز لښکر کو ټی ته راوستل .

درجب په میاشت لمسدن هند ته ولاړ اود سرحد ویشلو کاریی کرنل رجوی ته وسپاره .

نظام الدین انصاری دکمال‌الدین مزاری بلخی زوی دخپل عصر خطاط او شاعر او مولف د (اعتقاد لمتحققین) په نامه بر اسلامی فرقو باندی یوه رساله په‌کابل کی وکښله (یکشنبه ۲۲ ربیع الثانی ۲ ق)

سردار غلام‌محمدخان‌طرزی دسردار رحمدل خان فند هاری زوی ددری شاعر او لیکوال او خطاط هنر مند چی دامیر عبد الرحمن‌خان په امر هند ته فرار سوی‌و له ٤۵ تنو خپلوانو سره له کرا چی خجه بغداد ته ولاړ .

په‌راولپنډی کی دامیر عبدالرحمن خان او دهند دوایسرای دمذاکراتو راپور (سوال وجواب دو لتی) په پښتو او دری له کابله چاپ اوخپور سو دپښتو مترجم یی ملا غلام جان لغمانی دی .

امیر عبدالر حمن خان دهرات د ساتنی لپاره په شل لکه روپی دیرش‌زره لښکر تیارکړل، انگریزانو ۲۸ لوی، توپرنه او گولی ورکړی او ٤۰۰ تنه تو پچیا ن هم تیار سول .

دسوات او بنیر دخلکو نما یندگان امیر عبد الر حمن ته راغلل او امیر د دوی اطاعت ومانه او د افغانستان دساتلو اطمنان‌یی ورکړ (۲۲ ذی حجه) .

دروس او انگلیس د شمالی افغانستان د سر حد و یشنی

قرارداد عملی سوآو دهنه ذوالفقار او مروچاق افغانستان‌ته پریښوول سوه .

سردار محمد هاشم خان (وروستنی صدراعظم) په دیره دون کی وزیږیدی.

۱۸۸۵ م ۱۳۰۳ ق

روسانو دذوالفقار خواته آق رباط ونیو او پنجده ته پرمخ راتله .

دمارچ په ۱۸ روسا نو په‌تاش کیپر یون کی افغا نان مات کړه او پنجده یی ونیو .

دانگریز او روس دسرحد ویشلو ډلی په نو مبر کی بیا سر ه‌ولیدل اود افغا ن ـ روس دسرحد لومړی ګډی یی رسماو درا و ه.

کرنل ستیوارت انگریز ی منصب دار دهرات استحکا مات وکتل ا و ځلور لکه کلداری یی داستحکا م لپاره ور کړی .

ملا مشک عالم دین محمد اندړ ددوهم جنگ لوی‌مجاهدپه پنجشنبه ۱۰ـ ربیع‌الاول ۱۳۰۳ق‌وفات‌سو.

مستو فی حبیب الله خان وردگ (لوی ملك) د امیر شیر علی خان مشر وزیر په راولپنډ ی کی دفرار په حال‌کی وفات سو دده و لا دت دوردگ په‌جغتو کی ۱۲٤۸ ق و.

قا ضی عبد الوا حد صریر د سمنگان شاعر او عالم او خطاط ۸۰ کلن په بخارا کی‌وفات سو (۲۲ شوال) سردار غلام محمد طر زی له‌بغداده شام او استانبول ته ولاړ او دعثمانی سلطان میلمه و .

دجلال‌آباد شاهی باغ دعبدالسبحان خان په مهندسی جوړ سو .

امیر عبدالرحمن خان خپله پند نامه دنیا ودین په‌کابل کی دروژی په میاشت کی وکښله (د کابل دخطی نسخو کتا بخا نه او هم د کابل چاپ)دامیر لښکروتول لغمان رایت‌کی‌ع .

رضوان الله رضو ان ماما خیل دهوتی مردان اوسیدو نکی فقیه او طبیب او دپښتو شاعر او لیکوال «طب اکسیر » په‌پښتو وکیښس .

۱۸۸٦ م ۱۳۰٤ ق

دانگریزانو قبضه پر ټول پښین اوسیوی ، دروسانو د جلوگیری په بها نه انگر یزا نو دبولان دریل لارجوړه کړه .

دسر حداتو دویشلو ډله په‌اکتوبر له کا بله هند ته ولاړه اوسر حدی قرار داد په جو لایی ۱۸۸۷ م په پتر ز برگ کی امضا سو .

اندړ و او غلجو اقوامو دملا مشک عالم دزوی ملا عبدالکر یم په مشری سر واخیست .

قاضی سعد الدین خان دهرا ت حکمران مقرر سو .

سردار نورمحمد خان دو لی‌محمد خا ن ز و ی په خو ست کی اوتیمور شاه خان نایب سالار په هرات کی یاغی سول ، او د سردار محمد ایوب خان راتگ هرات ته ناکام‌سو او خان یی په مشهد کی انگر یزا نو ته وسپا ر ه چی

هندوستان ته ولاړ سی .

دهوتکو اوتره کو ولاړید ل او ددوی رایتول .دآخوند ملا نجم الدین ظهور دننگرهار په قبایلو کی .

۱۸۸۷ م ۱۳۰۵ ق

روسا نو کر کی ونیو .

دروسانو اوانگریزانو حکو متو د افغانستان او روس د سرحداتو پرویشنه باندی آخرنی موافقه وکړه ملاولی الله تیراهی دقبایلو مشر مړ سو .

شاه ابو الفیض او شا ه محمود خان دروازی مشران او ورو نه سردار عبد الله خان دقطغن حکمران ته تسلیم سول او کا بل ته راغلل

امیر عبد الر حمن جلال آباد ته ولاړ .

مفتی عیسی مخدوم دنیاز محمد بلخی زوی ، عالم او شا عر په بخارا کی مړ سو (دده ولادت ۱۲٤۲ ق) دعایشه درانی فارسی دیوان په کابل کی دامیر عبدالرحمن په امر چاپ سو .

سید فخر الدین مجنون شاه د سید هاشم کابلی زوی دبوستا ن خیال شاعر (طبع لاهور ۱۳۲۸ ق) دکابل په ده افغانان کی مړ سو سه شنبه ۸ ربیع الاول (ولادت یی ۱۲٤۲ ق) .

دپرنگی حمله پر بونیر باندی.

پرنگیانو پر کور می بیایرغلونه وکړل اوخلکو ځلرمه غزا ور سره ونښلو له .

میر محسن قند هاری دسیدنعیم خان زوی دیورپ جغرا فیا له عربی ښخه تر جمه کړه (دکابل خطی نسخه)

الحمد پیښوری په پښتو انیس الواعظین او قصص الا نبیاء نظم کړل .

میا حسیب گل کا کا خیل دپښتو دافع الغم اوزاد الفر ح او گلدسته حکایات مولف ژوندی و .

سید محسن دمیر حسن زو ی متخلص په (شا مل) بالا حصاری کابلی شاعر وفات سو دوه دشعر دیوا نه لری (ولادت یی ۱۲۳۸ ق)

۱۸۸۸ م ۱۳۰٦ ق

سر دار محمد اسحق خان په مزار شریف کی یاغی سو، په پنجشنبه ۲۰ محر م یی دقایب سالارغلا م حیدر خان سره په غزنی گك کی جنگ وکیء ، او مغلوب سو بخارا ته وتښتید .

امیر عبدالر حمن په ۱۹ دصفر له کابله د بلخ و لایت ته رهی سواو په مزار شریف کی دتو پک وار پر وسو خوخطا ولاړ او امیر زخمی نسو .

په ۲۸ دجماد ی الاولی امیرفرمان صا در کیء چی چمن انگریزی حکو مت ته وسپاری چی هلته دریل درید ځای جو ړ کی.

په باجوړ کی دجندول دعمراخان او ددیر دخان جنگ .

سردار غلام محمد طرزی په شام کی اخلاق حمید ه کتاب دسلطا ن عبدالحمید په نامه وکیښی .

له پرنگی سره دپښتنو جنگ په کوتکی کی .

سعد الله دغلام حضرت قند هاری زوی خپل تفسیر کشف المحجو بین عن خدی تفسیرالجلالین تالیف کیء .

دغلجو ښور ښت آرام سو او په کونړ کی صافی وښور ید ل .

۱۸۸۹ م ۱۳۰۷ ق

قاضی میر جمال الد ین پشه ی په مزار شریف کی په ۹ محرم مړسو .

د انگریز حکومت پر ړوب باندی جاری سو .

جنرال میراحمدخان دافغا نستان سفیرپه کلکته کی مړ سو او پرځای یی دده زوی کر نیل ولی احمد خان هلته سفیر مقر ر شو .

په ۲۲ دذیقعد ی امیر عبدالرحمن خان له مزار شر یف ښخه کابل ته را ستون او شاغاسی محمد سرور خان دهغه ځای حکمران وټاکل سو (۲۱ شوا ل)

دهزاره قبا یلو یاغی توب او د هغو د رایتو لو لپاره ذ سر دار عبدالقدوس خان مقررول .

میرزا یعقوب علی داحمد علی خافی زوی دکابل دچند اول اوسیدونکی چی دسر دار محمد اسحاق سر ه سمرقندته فرار سوی و دافغانستان دمتاخر و پاچها نو تاریخ لیکل یی په سمر قند کی شروع کړ ه (رمضان) دده ولادت په کابل کی ۱۲٦۷ ق و .

دارمستتر مشهور فرا نسو ی مستشرق خپل پښتو کتا ب د پښتو نخوا ها ر و بها رد پښتو پر ملی سندرو باندی په پاریس کی چاپ کیء .

خان علو م سعد الدین خا ن قاضی القضات دازالة الشین فی حق الو الدین رساله دحضرت محمد(ص) دوالدینو دایمان په باب کی وکښله (دکابل خطی کتابخانه) .

د مالیاتو او رسمی دفترو اصلاح او فرد په کتاب تبدیلول .

دانگریز د سفیر کرنیل عطاالله خان پرځای محمد افضل خان گنډه پور په کابل کی سفیر سو (شعبان)

دهزاره سیمی دتسخیر لپاره د امیر عبدالرحمن فرمانو نه صادر سول .

په باجوړ کی چی ددیر خان او عمراخان جگړه نښتی وه ددیر خان مات سو او عمراخان دیر ونیوی (جون) .

د بد خشان دمیر لور امیر عبدالرحمن خان نکاح کړه او کابل ته راغله (جون) .

سردار محمد یوسف خان دامیر دوست محمد خان زوی په شمالی افغانستان (بلخ) کی حکمران سو.

(جولائی) جنرال غلام حیدر خان اورکزی عسکری مشرو .

روسانو دپنجده مرکز تخت بازار دافغانستان سره دتجارت مرکزکیء (جولایی) .

دامیر عبدالرحمن خان لښکر پر فیروز کوهیانو باندی بری و موند (جولایی).

امیر عبدالرحمن خان خپل مشر زوی سردار حبیب الله دملکی کارو مشر او سردار نصرالله‌یی د کابل عسکری مشر وټاکه (جولایی) .

سردار محمد ایوب خان په مری او رولپنډی کی عمر تیراوه .

امیر عبد الرحمن خان انگلیسی انجنیران منع کړل چی‌دکابل پررود دافغانستان خوانه راتیر نسی .

دهندوستان انگریزی اخبارو‌خپل حکومت‌ته انتباه‌ورکړه چی داحرکت دوستانه ندی (ستمبر = محرم) .

دپیښور دباړی ور جو او دبر غاله ننباکو تخمو نه افغا نستان ته راوغوښتل سوه (ستمبر) .

میرمحمدعلی‌دافغانستان دپوستی‌مشر په پیښور کی مقرر سو (سپتمبر)

د تعمیرانجنیر مسترپائن انگریز کابل ته راغی .

دری تنه خارجیان یو روسی بل رومی بل سمرقندی له افغانستانه دخیبر پرلار وایستل سوه (دسمبر)

منگل و ښوریدل اوله خوسته ددوی مقابلی ته لښکر راغلل (دسمبر).

ښاغاسی محمد سرور خان دبلخ نائب الحکومه سړی‌هوا ناجوړکیء او په‌کابل کی دډاکترغلام قادر خان‌تر علاج لاندی سو (دسمبر) .

جان‌محمد خان خزانه‌دار دخیانت په‌الزام موقوف سو . (ستمبر).

انگریزانو زوب او قدرزی او شیرانی او وانه ونیول اولاری‌یی جوړی کړی (نومبر– ربیع الاول) .

حاجی ملاعبدالخالق الندړ عالم د کابل دشاهی مدرسی مدرس ۹۵ کلن وفات سو(۱٦ ربیع‌الثانی) .

مریم کنیزك دسید عبدالله لور د هرات د کرو خ فارسی ښا عره ددیوان خاونده وفات سوه(ولادت‌ئی ۱۲۵۷ ق

دافغا نستان سره دروسی تجارت انکشاف او په پنجده کی دبریکوف او لوگو ئینوف سودا گرانوفعالیت (جولا یی)

سر ادرمحمد شریف خان‌دامیر دوست محمد خان زوی ٦۵کلن مړ او په بغداد کی ښخ سو (ولا دت ۱۲٤۳ق)

سرور سلطان دلویناب شیردل‌خان بارکزی لور چی په ۱۲۹٤ق زیږیدلی وه پنځلس کلنی دسردار حبیب‌الله سره‌واده سوه (۲۷ رمضان) داد اعلیحضرت امان الله خان مور وه.

ملارمضان هوتك‌دسردار نصرالله‌خان لپاره عقاید نسفی په فارسی ترجمه کیء (دکابل خطی کتابخا نه)

۱۸۹۰ م ۱۳۰۷ ق

داسمار نیول او ددغه ځای دخان راینول.

۱۸۹۱ م ۱۳۰۸ ق

دکوزك سوری کول ختم سوه او دمارچ په‌میاشت کی‌دهند سپه‌سالار فتاح کیء.

دسر رابرټ سنډ یمن له خوا د زوب دپښتنو او کاکړ انو دایلولو لپاره انگریزی لښکرو استول سوه.

۱۸۹۱ م ۱۳۰۹ ق

دافغا نستان او انگلینډ دوالشس لوټ کمپانی ترمنځ لومړی تجا رتی قرار دادوسو (۱محرم) چی‌دبدخشان لاجورد او هم وړی، یاقوت، دارچی لرگی به له افغا نستان نه وړی.

علی محمد خان دلاجوردو اوسرپو دتان آمر مقرر شو .

په قند هار کی وبا ولویده او د هزاره جات شورش جاری و.

انگر یزانو دکورمی سیمی ونیولی او توریان ئی ایل کړل.

دربیع الاول په (۱٦) امیر فرمان صادرکیء چی کافرستان دی ونیول سی او سپه سالار غلام حیدر خان خرخی په لښکر کشی پیل وکیء.

سردار محمد علی خان دقند هار حکمران مړسو (۱٦ ربیع الثا نی)

دناوگی مشر صفدر علی خان په اسمار کی خرخی سپه سالار ته تسلیم سو.

سردار عبد الله خان تیموری د قند هار حکمران سو.

جنرال مکلین انگریز په هشتادان کی دافغا نستان او ایران سرحدونه وټاکل.

محمد شریف خان د دیر رئیس ایل سو.

سردار محمد عزیز خان دبلخ‌والی مقرر سو.

خرخی سپه سالار اسمار ونیو.

دمولوی احمد جان قند هاری په قلم دحکومتی قاعدو کتابچه٦۳فقری خپره اود تعمیل فرمان ئی صادر سو، او دا لومړی حکو متی اداری هدایت نامه اود ستورالعمل و چی‌د حکا مو وظایف ئی ټاکل .

غلام رسول خان دکرنیل ولی احمد پرځای په‌کلکته‌کی دافغانستان سفیر مقرر سو (۲۸ رمضان) .

سردار گل‌محمد خان دشرقی او جنوبی سرحداتو په سرحد دا ری مقرر سو .

دتاشقران دباغ جهان نمادو دانی کار داستاد محمدشاه په مهندسی پای ته ورسید .

میر سلطان مشهور ظالم‌کاردار د امیر په امر په پغمان کی په و نه وځړول سو .

اعلیحضرت امان الله خان دپغمان ددره زرگر د حاجی اسد خان په کورکی وزیږیده (۵ذیقعده ۱۳۰۹ق دپنجشنبی شپه).

دکابل په ماشین خانه کی مولتن او استورټ نومی انگلیسی‌انجنیران مقرر سول اوپه کارتوسو جوړولو پیل وسو. دکابل په دارالضرب‌کی په دقیقه کی ۵۰ رو پی جو ړیدی (جنوری = جمادی الاخری) .

دکوهاټ خان چی انگریزا نو ته پورته سوی‌ؤ دده د ایلولو لپاره دمیران زی سالار جنرال لوکهارټ هنگوته ولیږل سو (۱۷ جنو ری) .

شاغاسی محمد سرور خان‌د شمالی افغا نستان (بلخ) حکمران سو (جنوری) .

شیخ علی هزاره و ښو ریدل (جنوری) .

دزوب کاکړو د انگریزانو سره جهاد شروع کیء، اوسررابرټ سنډ یمن ددوی مقابلی ته وگومارل سو (جنوری) .

امیر عبدالرحمن خان دوه زره‌نور اپریدی په لښکر کی واخیستل (جنوری) .

میرزامحمد نبی واصل دمحمدهاشم

زوی دامیر شیرعلی خان او امیر عبدالرحمن خان دبیرالملك اوددری تکړه شاعر په‌کابل کی وفات سو . (پنجشنبه ۱٤ شوال) دشعر دیوان لری .

سردار غلام محمد خان طرزی‌خپل کتاب وقوعات سته (تحفه شامی)په دمشق کی تالیف‌کیء (دکابل خطی کتاب‌خانه) .

۱۸۹۲ م ۱۳۱۰ ق

دقندهار حکمران اود مزارشریف سپه سا لار غلام حیدر خان او ډیر لښکر په هزاره جات کی د سردار عبدالقدوس خان کومك ته ورسیدل اود هغه ځای دهزاره گانو شورش په زور ختم کړسو .

دوزیرو او مسیدو اطاعت نامه امیر ته ورسیدله .

قاضی بابا مرادخان اندخوییعالم دکابل قاضی مقرر سو، چی د امیر حبیب‌الله په وخت کی قاضی عسکر هم‌و .

میر ابوالقاسم د دربار لوی دبیر مقرر سو.

په کابل کی دمهمان خانی باغ‌او ودانی ذاستان ولی محمد قندهاری په معماری جوړه سوه.

تاجو خان ساکزی دپشت رود د کوچیانو مشر مړ سو.

لو مړی پلار ددو لت لخوا د تجارت دانکشاف لپاره تاجرانو ته تقاوی ور کول سوه.

سید عطا محمد شاه قند هاری خطاط دجما دی الثانیه په اومه ددربار خوش نویس مقرر سو .

ددولت کاتبانو ته امر وسو چی متشابه کلمات دی په حرکت (زور- زیر- پیښس) لیکی.

دچترال شیر افضل خان دکابل در بار ته پناه را وړه.

دمیمنی کلا اود تل عاشقان برج ترمیم سول.

ملا فیض محمد هزاره دسراج التواریخ مولف دملا محمد سر ور ساکزی په سپارښت په تاریخ لیکلو وگمارل سو.

دامریکائی پنبه تخم په جلال آباد اولغمان کی وکرل سو .

په کابل کی دمستر نارنتن په مشری دځرمنی کارخانه جوړه‌سوه.

سردار کاکو جان دفتیر محمدخان زوی چی دسردار ایوب خان سره ایران او بغداد او هند ته فرارسوی و بیرته وطن ته راغی‌ء.

کرنیل ییټ انگریز دکشك او چهل دختران د افغا نی روسی سر حداتو دټاکلو لپاره دهرات‌شمال ته ولاړ.

انگر یزانو وانه- گومل- دوړ ونیول.

محمد اکبر خان دلاړوری مومند خان تسلیم او په کابل کی میشته کړ سو .

ټولو محمد زوته دسن په لحاظ نروته‌له ۲۰۰تر ٤۰۰ روپواوښځوته ۳۰۰ روپی‌نسبی کالنی تنخواه‌مقرره سوه په‌دی شرط چی دحاجی جمال نیکه له‌نسله وی .

سردار غلام محمد طرزی خپل

کلیات په کرا چی کی د خپل زو ی محمدزمان په خط چاپ کیء .

د امیر عبدالرحمان گرده مسلح عسکر ٤۰۰ ر ۱٤۸ ته رسیدلی چی ایله جاری هم ورسره شامل دی .

مهتر امان الملك دچترال حکمران‌چی دامیر شیر علی خان سره‌یی ښه روابط لرل وفات سو .

دجنرال‌سر لاکهارت پرنگی‌لښکری دټوچی پر سیمه ورغلی، پښتنو د محی الدین ملاپونده په مشری په غزا لاس پوری کیء او غازی گلستان خان دوړ شهید سو.

په‌همدغه کال دشگتوی غزا وسوه‌چی‌پښتنو۱۳۳۵پرنگی سپاهیان او ۹ تنه لوی افسران ووژل اوغازی شیرعلی خان له ۲۵۷ تنو پښتنو سره شهید سو.

غلام محمد پوپل زی دچار سدی او سیدونکی دمولانا حالی مدو جزر اسلام په پښتو منظوم او محمدی قاعده یی ولیکله .

ملااحمد جان پیښو ری په پښتو ورقه گلشاه- قصه ممتاز- شهزا ده بهرام‌گل اندام او نوری قصی نظم کړی .

ملا نعمت‌الله نو ښاری زبردست قصصی پښتو شاعر دلیلی مجنون فتح‌خان - موسی، گل‌مکی او نورو کتابو ناظم ژوندی‌و .

۱۸۹۳ م۱۳۱۱ ق

دمالستان دورشو گانو تاکنه د کوچیانو او هزاره گانو تر منځ .

دډیورنډ دهند خارجی‌سکرتردهند او افغانستان دسرحداتو دټاکلولپاره مقرر او په ۲۱ ربیع الاول کابل ته راغی، چی له‌پامیره او بدخشانه بیا ترکاکړو اوچغیء پوری ډیورنډ لین وټاکل سو، اودکابل په دربار کی‌په دوشنبه ۳ جمادی الاولی اعلان سو. اومعاهده یی په ۱۲ دنومبر امضا سوه دامیرتنخواه ۱۸ کلداری‌مقرره سوه اود وسلو درانیولو اجازه یی ومو ندله.دا ویش ملت ندیء منلیء

ملا احمد جان توخی په مدرسه شاهی کی مدرس مقرر سو .

انگریزانو په نوی چمن کی دریل دریدځی جوکیء .

پادری هیوز خپل پښتو منتخبات کلید افغانی په لاهور کی چاپ کیء .

دمریانو د خرخلاو ممانعت .

دډیورندلین دټاکلو اوخلواینمو‌ولو له‌پاره د افغانستان له خوا لومړی سپه سالار غلام‌حیدر خان اوسردار گل‌محمد خان اوسردار شیریندل‌خان وټاکل سوه او په پښتو دولتی اعلاناتو د ویش ښو و لو خپاره سوه .

شاطر باشی بابا برق دغلو په نیولو او په دار ولو او په ا منیت جوړ ولو وگمارل سو .

له انگریز څخه دری ملیونه او شپږ سوه زره کارتوس رانیول .

دهزاره جات ورشوگانی حکومتی سوی .

دکابل دعیدگاه مسجد د ودانولو کار په دو شنبه ۱٦ شوال ۱۱ ق داستاد محمداکبربن استادمحمدعمر په معماری شروع سو، چی په ۹

جمادی الاولی ۱۳۱۵ ق ختم سو .
مساحت ۴۳.۶۸۰ فت ۷۷ گنبد ۸ مناری په ۳۴ فټ لوړتیا. رواق ۴۴ فټ .

نوی ونی او نوی زرا عتی تخمونه اود مرغانو نسلونه‌په افغانستان‌کی خپاره سوه .

دامیر عبد الرحمن فارسی رساله مرآت‌العقول په کابل کی چاپ سوه (۵ ذی حجه ۱۱) .

دمولوی احمد جان الکوزی‌اساس القضات گرده ۱۳۶ قاعدی دوهمه‌پلا په کابل‌کی ۱۲۳ مخه چاپ سو .

پیر احمدعلی‌شاه قندهاری‌چشتی صوفی شاعر د دیوان خاونـد پـه امرتسرکی وفات‌سو (۲رجب۱۱ق).

۱۸۹۴ م ۱۳۱۲ ق

دقند هار تاجر دوست محمدخان دعبید الله توخی زوی په کراچی‌کی تجارتی نماینده مقرر سو او ۱۸فقری هدایت نامه ور کړه سوه.

میرزا عبد الله قند هاری کاکړ د میر زا محمد یوسف پرځای پەمشهد کی وقایع نگار مقرر سو.

جنرال تاج محمد خان بدخشان‌ته ولاړ، چی هلته دشغنان پر سرحدو دروسیانو سره دتصادم دفاع وکی .

لاړ کرزن دواخـان او بدخشان سرحدونه له روس سره وکتل اود چترال لەلاری هند ته ولاړ (ربیـع آلاخر) او بیاپه ۲۰ دجمادی الاولی دپیښور له لاری کابل ته راغی‌اوپه ۳ دجمادی الثانیه دقندهار له لاری هند ته ولاړ .

ملك امیر محمد خـان لوگری د قندهار حکمران مقرر سو .

د غزنی بند چی ډك سوی‌و بیا تعمیر او ترمیم سو.

سید دلاور عـلی شاه لاهوری د دمیرزا محمد تقی پرځای د انگریز گماشته په قندهار کی مقرر سو .

دمسیدو په تنگی کی د ملاپوندہ او انگریزانو جنگ .

شیر افضل خان چترالی له‌کابله دباجوړ عمراخان ته وتښتید، او د امیر الملك او انگریزانو سره ئـی جنگ وکی‌ء.

دهند ویسرا امیر عبدالر حمـن وبله چی لنډن ته ولاړ سی، مگـر امیر خپل دوهم زوی سردارنصرالله خان‌پـه ۱۱د شوال دهند لـه لاری لنډن ته واستاوه او هغه ته ئی یو مفصل پرو گرام ورکی‌ء چـی لـه وکتوریـا ښخه دا وغـواړی چـی د افغا نستان سفیر په لنډن کی ومنی

انگر یزانو پر باجوړ حمله وکړه اوعمرا خان افغاستان ته پناه راوړه او کابل ته راغی ء.

شیر محمد خـان گنـډه پـوری پښتون دخور شید جهان په نامه د پښتنو تاریخ اود قبیلو ځانگی پـه لاهور کی چاپ کړی.

دوزیر ستان دوانه پـه غزا کی ۴۷۰ تنه وزیر اومسید شهیدان‌سوه اود پرنگی له لښکره (۱۷۶۳) تنـه و وژل سوه.

دمولانا همز الله په مشری دمکین دریمه غزا (۲۱ دسمبر)

ملا قطب الدین توخی قند هاری (دمحمودنامی) شرح‌پەفارسی وکښله

قاضی نقیب الله دقاضی میرجمال کنړی زوی دخانملا قاضی عبدالرحمن خان دنصیحة المو منین رساله شرح کړه (قند هار ۱۳ رمضان)

۱۸۹۵ م ۱۳۱۳ ق

سپه سالار غلام حیدر خان تـه فرمان صادرسو، چی ټول‌کافرستان بیخی ونیسی، هغه دکال تر پایـه ټول کافر ستان په نور ستان بدل کی‌ء اوټول خلك‌ئی مسلما نان‌سول

دپـا میر دسرحد اتـو تاکنه د انگر یزانو او رو سانو پـه وسیلـه ۲۰ ربیع الاول.

میر مرتضی خان دهرات دگازرگاه میر په ۴د ربیع الاول په هرات کی مړ سو او زوی ئی میر محمد عثمان پر ځای کښینوست.

شهزاده حفیظ الله دامیر عبدالرحمن زوی مړ سو (دربیع الثانی لومـړی ورځی)

سردار نصر الله خان دلنډن لـه سفره دکراچی ،قند هار له خوا په یکشنبه ۲۹ جمادی الاولی کابل ته راغی‌ء.

عمرا خان بلجوړی دقند هار او هند له لاری حج ته ولاړ.

امیر محمد خان دقند هار حکمران مړسو، او محمد علم خان قا بو چی باشپی په یکشنبه ۲۸شوال دقندهار حاکم مقرر سو.

په قند هار کی هراتی او نورزی سپاهیانو جنگ سره وکی‌ء اوپـر برگه محمد صادق خان‌پی بلواوکړه چی په ۲۵ دلـوی اختر کابل تـه را وغوښتل سوه.

چترال او دیر انگر یزانو ونیول اوغازی مهتر امیر الـملـك ئی پـه مدراس کی بندی کی‌ء.

دملـه کنډ په گنډوکی دانگریزانو او پښتنو جنگ اود رانی زو سره معاهده (۱۲ ستمبر ۹۵م)

امیر عبد الرحمن خان دخپل کتاب پندنا مه دنیاودین لو مړی برخه‌پخپل خط ولیکه (کابل دروزی میا شـت اصل نسخه دکابل دخطی نسخوپه کتابخانه کی سته) .

دسر رابرټ سنډ یمن ژونـد او کارونو کتاب دهنری تهارن ټون په قلم له لند نه ۲۹ فصله ۷ ضمیمی خپور سو، چی دافغان او انگلیس د دوهم جنگ ښه تفصیلات لری.

سردار ولی محمد خان مشهور په لاتی دامیر دوست محمد خان زوی ۷۲ کلن په امر تسر کی مړسو .

(ولادت ۱۲۴۱ق)

۱۸۹۶ م ۱۳۱۴ق

دمجرم په میاشت امیر عبدالرحمن دضیاء الملةوالدین لقب غوره کی‌ء اوسکه یی هم پدغه نامه ووهله .

ملاپوندہ پـه وزیرستان کـی د انگریزانو سره ونښت او بیا کابل ته‌راغی‌ء اوافغانستان‌ته‌یی دمهاجرت درخواست وکی‌ء .

په ۲۴ ربیع‌الاول چهارشنبه‌قاضی عبدالرحمن خان علوم مـړ سو، او عبدالودود زوی یی دکابل پەشرعی محکمه کی دده پرځای مقرر سو .

دروازه چی روسانو نیولی و، افغانستان ته وسپارل سو .

امیر عبد الرحمن خان په ټول افغانستان کی ۱۴۸٫۴۰۰ تنه‌مجهز لښکر درلود چی پیاده او سپاره او توپخانه او خاصه شاهی اوپلیس‌او ایله جاری وو .

۱۸۹۷ م ۱۳۱۵ ق

دآزادو سرحدا تو پښتنو له انگریزانو سره جنگونه وکړه .

ملارجب بلخی خطاط وفات سو .

دسوات په لنډا کی کی‌دپښتنو او انگریز جنگ د غازی ملا مستان بونیری سر تور فقیر په مشری (۲۶ جولایی ۹۷م) .

دپرنگی حمله پر بونیر باندی .

د ډیورنډ دویش پرخلاف دمومندو غزاله پرنگی سره، اود میچنی اتمه غزا اود پرانگ غار دریمه غزا .

سید جمال الدین افغانی د سید صفدر کنړی زوی دشرق‌لوی فکری پیشوا په استانبول کی وفات‌اوښخ سو (ولادت یی دکنړ په اسد آباد کی ۱۲۵٤ق = ۱۸۳۸م) دده هډوکی په ۱۰ جدی ۱۳۲۳ش کابل ته راوړل سوه اود پوهنتون په منځ‌کی ښخ سوه .

دکوهاټ لهخوا دپرنگیانو حمله پر اورکزو باندی اود خلکو دفاعی جهادونه .

دخمکنو غزاوی له پر نگیانو سره .

دسوات دپیر زامنو عبدالحنان‌او عبدالخالق په مله‌کنه کی دپرنگی سره غزا وکړه .

له پرنگی سره دمده خیلو وزیرو غزاچی ۵۳ تنه شهیدان سوه او ۹۵۷ تنه پرنگیان‌یی ووژل .

عباس خان دسردار سلطان محمد خان محمدزی زوی جواهر خمسه‌یا عناصر اربعه په بحر متقارب‌مثنوی منظوم کړه (دکابل خطی کتابخانه) دی دگل عباسی اویوه تفسیرمؤلف هم دی .

سر دار احمد خان د امیر دوست محمد خان‌زوی دفارسی‌شعر دیوان لرونکی ۷۰ کلن وفات او په پیښور کی ښخ سو (ولادت‌یی ۱۲٤۷ ق) .

۱۸۹۸ م ۱۳۱٦ ق

صاحبزا ده حبیب الله فاروقی عشرت قند هاری په کابل کی فارسی شراره عشق نظم کیء (غره رجب) پر بونیر دپرنگیانو بله‌حمله.

دمیر بشیر خان ملك دین خیل په مشری په تیراه کی یو حکومت غوندی جوړ سو او دخرمنی نو ټونه یی جاری کړه، خو تر شپږ و کا لو وروسته بشیر خان افغانستان ته راغیء .

۱۸۹۹ م ۱۳۱۷

دشهر آرا برج او باغ په کا بل کی د امیر عبدالرحمن په امر جوړ سوه .

حمیدالله د امیر الله زوی دسوابی د کالو خان او سیدونکی د پښتو احوال النساء ناظم ۹۲ کلن وفات سو (ولادت ئی ۱۲۲۵ ق) .

۱۹۰۰ م ۱۳۱۸ ق

روسانو د ۲ فروری په یاد داشت کی انگریز ته وویل ، چی له شمالی سرحداتو څخه د افغانستانه سره مستقیم روابط قایمول غواړی .

سردار غلام محمد طرزی افغا ن شاعر او مؤلف او هنر من دشام په دمشق کی وفات او ښخ سو (د جمعی شپه ۱۵ شعبان ۱۸ ق)

دافغا نستان گوده تجار ت ۱٫۱۵٦٫٤۰۵ روپی و ی

میرزا محمد عبدالقادر خان‌کابلی د(او یماق مغل) کتاب په هند کی وکیښ چی د افغا نستان‌اوهزاره او مغولو احوال او قبایل پکښی لیکل سوی دی . (د امر تسر چاپ ۱۹۰۲ م) .

د سید جمال الدین افغانی تتمة البیان فی التاریخ الافغان‌کتاب په عربی په مصر کی چاپ سو (قاهره ، العلم العثمانی) ۱۹۲مخه.

میر محمد عثمان بن قاضی میر حسین خان کابلی شاعر خپل دیوان انیس المخزونین ترتیب کیء ده جمع النصایح په ۱۳۱٦ ق لیکلی‌و.

د منشی سلطان‌محمد هندوستانی په قلم دوه ټوکه (لائف آف امیر عبدالرحمن) له لنډه نه چاپ او خپرو سو چی فارسی ترجمه ئی د (تاج التواریخ) په نامه دوه‌ټوکه د غلام مرتضی خان او حسین علی شیرازی په قلم له مشهده چاپ‌سوه (۱۹۰۱ م) او بیا په بمبئی کی په (۱۳۲۲ ق) دوهمه طبع لری .

۱۹۰۱ م ۱۳۱۹ ق

امیر عبدالرحمن خان دکابل‌په‌باغ‌بالا کی د نقرس په ناروغی پسله ۲۱ کالو امار ته مړ سو ۱۹ جمادی الثانیه ۱۳۱۹ ق = ۱ـ اکتوبر ۱۹۰۱

په ۳ داکتو بر دده مشر زو ی حبیب‌الله خان په کابل کی پرتخت کښینو ست دده امارت ۱۸ کا له و،له ۱۹۰۱ څخه‌تر ۱۹۱۹م = ۱۳۱۹ تر ۱۳۳۷ ق پوری .

په ۹ د نومبر دهند شمالی غربی صوبه د هندوستان په قانون کی داخله سوه .

دسر دار محمد نادر خان کو رنی له دیره دونه کابل ته راغلل .

ملا رمضان د ملا قضا هوتک زوی د عقلی او نقلی علومو استاد ۷۰ کلن په کابل کی وفات سو (۷ ذی حجه) مشهور مجاهد عالم او مرشد ملا نجم الدین کاکړ (دهډی صاحب) په هډه کی وفات او ښخ سو (۲۱ رمضان) الرضی الی‌الله امیر حبیب الله ټول مفرورین چی خارج ته تللی وو ، معاف کړه او د راتگ فرمان ئی صادر کیء (جمادی الثانیه) .

ملا عبدالباقی افغان خپل کتاب تبیین الواجبات لتخریب‌العا دات په قند هار کی په پښتو نظم کیء .

۱۹۰۲ م ۱۳۲۰ ق .

په افغانستان کی کاختی او وبا وه .

انگریزی استازی سر هنری دابس دافغان‌ـ روس د سر حدا تو

خلی په ۱۹۰۲ – ۱۹۰۳ م کی بیا نوی کړل.

له شلمه کابل ته د محمود طرزی بیرته راتګ.

مولانا خال محمد خسته دفارسی شاعر او لیکوال او مولف دملارستم تاجیک زوی په مزار شریف کی وزیږیدی.

سید ضیاء الدین د عربی اقوم المسالک فی تدبیر الممالک په فارسی ترجمه کی.

سردار عبدالله خان توخی د عبدالرحیم زوی ملکی نائب سالار او د مزار شریف نائب الحکومه و.

۱۹۰۳ م ۱۳۲۱ ق.

مکما هون دانګر یزی دلی مشر په سیستان کی دافغانی سرحداتو خلی ودرول.

دارالعلوم حبیبیه (اوسنی حبیبیه لیسه) لومړی عالی مکتب په کابل کی پرانستل سو.

انګریزانو د کوټه او نوشکی په ریلوی جوړ ولو پیل وکی.

سردار محمد نادر خان په عسکری منصب زر مشری (کند کمشوی) مقرر سو ۱۳۲۱ ق = ۱۳۸۲ ش سردار محمدعزیزخان دسردار شمس الدین خان زوی دبلخ نائب الحکومه او دفارسی شعری دیوان خاوند وفات او په مزار شریف کی ښخ سو.

حمیدالله اخوند زاده (حمید) د پښتو شاعر او عالم د سید و شریف او سیدونکی وفات سو.

مولوی رحیم بخش خپل کتاب دولت درانیه (اردو) وکیښی چی له ۱۱۶۰ تر ۱۲۱۳ ق پوری د افغانستان واقعی لری (قومی پرس دهلی) دا کتاب د دهلی په رفیق اخبار کی هم له اکتوبر تر نومبر ۱۹۰۳ م پوری خپور سوی دی.

۱۹۰۴ م ۱۳۲۲ ق.

سردار عنایت الله خان د امیر مشر زوی د هند ویسرا لارډ کرزن په بلنه هند ته ولاړ (۱۲ د سمبر).

محمد یوسف اشنغری پښتو پښتو لیکونکی د توبة النصوح قصه له اردو څخه ترجمه او چاپ کړه.

حاجی محمد محسن قند هاری متخلص په شباب چی په ۱۳۰۰ ق له قند هاره فرار سوی و خپل د پښتو دیوان ئی تکمیل کی (دهند پتیاله طبع ۱۳۲۸ ق).

شیخ عبدالوهاب د مانکی پیر د سوات د اخوند خلیفه د نوښار په مانکی کی وفات او ښخ سو.

میرزا یعقوب علی خافی کابلی مورخ د (پادشاهان متاخر افغانستان) کتاب وکیښی.

دوه توکه د کابل طبع ۱۳۳٤ ر ۱۳۳٦ ش.

امیر حبیب الله خان د تولوهزاره ګانو فرار یانو د معافی او وطن ته د بیرته راتګ فرمان صادر کی (یکشنبه ۱۲ رمضان ۲۲ ق) دغسی هم د لوی اختر په میاشت کی یو چاپی فرمان د اشتهار په ډول خپور سو، او د دولتی کارو د تنظیم لپاره داسی مقرری و سوی:

۱ – سردار نصرالله خان د نائب السلطنه په لقب چی د پاچا نائب و.

۲ – شهزاده عنایت الله خان د معین السلطنه په لقب د سردار نصرالله خان نائب.

۳ – شهزاده امان الله خان د عین الدوله په لقب.

٤ – سردار عبدالقدوس خان ایشک آقا سی د اعتمادالدوله په لقب.

٥ – میرزا محمد حسین خان پر ګډیر کوتوال د افغانستان مستوفی الممالک. ملکی او نظامی جرنیل.

٦ – خوشدل خان لوی ناب دکابل نائب الحکومه.

۷ – سردار عبدالوهاب خان امین المکاتب سو، چی قول د نائب الحکومګانو تر اختیار لو ړ لیکونه به ده ته راځی او نائب السلطنه یا پاچاته به ئی و پاندی کوی.

۸ – سردار محمد یونس خان امین الوجوهات یعنی د تجار باشیانو او بندر یانو او قاغله باشیانو مشر.

۹ – فتح محمد خان د کوتوالانو مشر.

۱۰ – ناظر محمد صفر خان امین الاطلاعات چی د ممیزانو او اخبار چیانو مشر و.

۱۱ – سردار عبدالله خان قوم تیموری دامین الزکات په لقب د زکاتچیانو مشر.

۱۲ – دشرعی او حقوقی مرافعه تو او دعوا وو لپاره د (۲۲) تنو علما وو یوه ټولنه د (میزان الشرع) په نامه جوړه سوه چی مشر ئی میر علی جان خطیب او نائب ئی ملاعبدالرزاق خان دی او دوی به د «دستورالعمل میزان الشرع» سره سم کار کوی (د امیر حبیب الله مهر).

۱۹۰۵ م ۱۳۲۳ د ۲٤ ق.

لویس ولیم دین د هند خارجه سکرتر کابل ته راغی او د امیر حبیب الله خان سره ئی په ۲۱ مارچ = ۱٤ محرم داسی معاهده لاس لیک کړه چی د مخه امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ – ۱۸۹۳ م له انګریزانو سره منلی وه.

د سراج الاخبار د انجمن تاسیس او په کابل کی د مولوی عبدالروف خان قند هاری په مدیری د سراج الاخبار افغانستان لومړی شماره خپریدل، پنجشنبه ۱۵ ذیقعده ۲۳ ق ۱۱ جنوری ۱۹۰٦ م (فقط یوه شماره نشر سویده).

سردار محمد نادر خان غنډمشر سو.

محمد شهاب الدین خان ثاقب خپل تاریخ (افاغنه) دوه توکه په اردو په لاهور کی چاپ کی.

۱۹۰٦ م ۱۳۲٤ ق.

دایران پادشاه دمکما هون حکمیت دهلمند داوبو په ویشنه کی ر دکی.

محمد یوسف ریاضی هروی د محمد حسن سدوزی زوی (دحیات سلطان ابدالی له پښته) چی مورخ اولیکوال په سیاست لگیا سړی و، خپل کتاب بحر الفوائد (کلیات ریاضی) یی په مشهد کی ۵۷۲مخه چاپ کیء چی دافغانستان او ضاع ښه ښکاره کوی. (ولادت په هرات کی ۱۲۸۸ ق) .

افغانستان د اوگست هملتون تالیف په لندن کی چاپ اوخپورسو دکتاب دافغانستان مفصل جغرافی اواجتماعی معلومات لری .

۳۱ مـی ۱۸۲۵ ـ ۲۰ اکتوبر ۱۹۰٦ م ۱۳۲٤ ق

دهنری جارج را ورتی مشهور پښتو پوهاند او مورخ اوپر پښتو دډیرو تالیفاتو خاوند دژوند دوره . یوخوتالیفات یی: (۱) پښتو گرامر په انگلیسی دریمه کامله طبعه ۱۸٦۷م (۲) پښتولغت دوهمه طبعه ۱۸٦۷م (۳) گلشن روه ۱۸٦۰م (٤) دافغانی شاعرانو منتخبات د ۱۸٦٤ م طبعه (۵) دطبقات ناصری انگریزی ترجمه ۱۸۸۱م .

۱۹۰۷ م ۲۵ر۱۳۲٤ ق

امیر حبیب الله خان دهند د ویسرا لارډ منټو په بلنه هند ته ولاړ (۲ جنوری) .

ده په ۱٦ جنوری غره ذوالحجه ۱۳۲٤ دعلی گړ اسلامی کالج وکوت اوالطاف حسین حالی دهند شاعر په فارسی دده استقبا لیه قصیده وویله، امیر دی کالج ته ۲٦ زره کلداری اعانه ورکړه اود لاهورکالج ته یی ۲۰ زره روپی اعانه ورکړه او بنیادیی پخپل لاس کښیښو په ۷ مارچ له هنده وطن ته راغی .

د عبدالباقی افغانی کابلی عالم دژوند وخت، دی دمشق ته تلی و یوه رساله لری : رسا له فی ا لا خذ بخبرالبرق لاثبات ر مضان و غیره لومړی طبی مکتب په کابل کی جوړ سو .

انگریز او روس په ۳۱ داگست په افغانستان او ایران او تبت کی دخپل نفوذ دسیمو د تاکلو لپاره معاهده سره وکړه .

دجبل السراج داوبو د برښنا کارخانه جوړه سوه .

امیر حبیب الله خان دگرد افغانستان پهدوره ولاړ (۱۳۲۵ق = ۱۲۸٦ ش) .

دقند هار نهر سراج دهلمندله رود څخه افتتاح سو .

دزخه خیلو اپریدو غزاوی له پرنگی سره پهوادی بازار کی .

شیخ محمد رضا هروی د امیر حبیب الله په نامه (خزاین السکوك فی مسکوکات الملوك) دافغانستان پر مسکوکاتو باندی وکیښی .

محمد عبد الحکیم خان لودی د پښتنو تاریخ (حیات لودی یا شوکت افغانی) دری ټوکه په آگره کی په اردو خپور کیء .

هتورام (تاریخ بلوچستان) په لکنهو کی چاپ کیء چی دبلو څو او پښتنو تاریخ دی .

۱۹۰۸ م۱۳۲٦ ق

سردار محمد نادر خان دجنرالی (لوامشری) منصب ته ورسیدی .

پښتنو پر برنگی حملی شروکړی او اتمان خیلو د پرانگ غار څلرمه غزا وکړه اود میچنی نهمه غزا ونښته .

په لندن کی دافغان ا نگلیس ددوهم جنگ تاریخ چاپ سو .

داملاعزت الله عزت انصاری بلخی عالم اوشاعر په صالح آبادکی وفات سو .

خیر الله خیری نعمت خیل دبر سوات اوسیدونکی پښتو شاعروفات سو .

شاپسند محمدز ی پښتو شاعر دکندی نوښار او سیدونکی ۸۰کلن وفات سو (ولادت یی ۱۸۲۸م) .

ملتان زخه خیل اپریدی دخیبر د جنگونو پهلوان او پر پیښور ښار حمله کوونکی دپر نگی دښمن ژوندی و.

دعبد الحکیم افغانی قند هاری حنفی فقیه او زاهد او مؤلف وفات په دمشق کی، دکشف الحقاق او شرح شاطبیه اوحاشیه شرح بخاری او شرح هدایه او حاشیه تفسیر نسفی او شرح المنار مؤلف.
(ولادت ئی ۱۲۵۱ ق)

شیخ محمد رضا هروی د غزنی دشنختو او تاریخی ډبر لیکنو په بیان کی په خورا ښه خط (ریاض الا لواح) دامیر حبیب الله لپاره تالیف کیء (عکسی چاپ کابل ۱۳٤٦ ش) .

۱۹۰۹ م ۱۳۲٦ ق

دلنډی کوتل غزاله پرنگی سره .

جی ـ بی ټیټ TATE دافغانستان او بلوچستان او ایران دسرحدونو دسفر کتاب ۹ بابه مصور دنقشو سره له لندنه خپور کیء. دی دافغانستان دسرحداتو دتاکنی دډلی یوغړی و .

۱۹۰۹ م ۱۳۲۷ ق

دمارچ په میاشت کی د اخوان افغان دسیاسی او مشرو طیت غو ښتو نکی ډلی غړی ونیول سوه او مولوی محمد سرور واصف قندهاری او دده ورور سعد الله قند هاری دمولوی احمدجان الکوزی زا من او لعل محمد کابلی او جوهر شاه غور بندی او محمد ایوب پوپلزی قند هاری و وژل سوه او ۳۵ تنه بند یان سول.

۱۹۱۰ م ۱۳۲۸ ق

دکابل او جلال آباد ترمنځ دتیلفون لو مړی لین جوړ سو.

لو مړی مکتب حربیه په کابل کی جوړ سو.

دافغا نستان گز یټیر په هند کی مرتب او چاپ سو.

د سراج الا حکام فی معا ملات الا سلام فارسی فتاوی لو مړی ټوك

٦٧٤ صفحه میر علمی جان خطیب دار السلطنه او مولوی عبد الرازق مدرس تالیف اود میزان التحقیقات الشرعیه علما وو تصحیح کړه چی د امیر حبیب الله خان په نامه دکابل په شاهی مطبعه کی چاپ سوه (یوه مقدمه ۲۱ بابونه)

عمر دین عمرد زین المعابدین انمان خیل زوی د مردان او سیدو نکی خپل پښتو دیوان ترتیب کیء (۷میء) ۱۹۱۱ م ۱۳۲۹ ق

سراج الاخبار افغانیه دمحمود طرزی په مدیری خپور سو (۱۵ شوال ۱۳۲۹ق ۱٦ میزان ۱۲۹۰ ش)

سردار عبد الله خان توخی دبلخ دولایت حکمران مړ سو او سر دار عبد الوهاب خان دمخنی امین المکا تیب دهغه پر ځای حکمران سو.

عبد الرحیم خان دهرات دعسکرو په جر نیلی مقرر سو (رمضان)

دنیلاب پل په گل بهار کی د مستر هالیدی په انجیری په ۱۷ شوال ۱۱ اکتوبر ۱۸ میزان ۱۲۹۰ ش افتتاح سو.

په کابل کی لومړی یتیم خانه جوړه سوه ذیحجه ۲۹ ق

په کابل کی دامیر حبیب الله خان په فرمان دطرابلس غرب دشهیدانو او یتیمانو لپاره بسپنه تولنه سوه (ذیحجه)

له انگر یزانو سره دبابړی دملاصاحب (میر سید جان) دشبقدر غزا (دی په ۱۳٤۲ ق په چار منگ کی مړدی) ۱۹۱۱م ۱۳۳۰ ق

دجلال آباد او لغمان پر لاره، د کابل پر سین دمستر هالیدی په انجنیری په درو نته کی یو ۳۰٦ فټ اوږد معلق د اوسپنی پل جوړ سو (صفر ـ جدی)

دجلال اباد نهراج سراج جوړ سو (صفر ـ دلو)

دوست محمد خان ناظم بار کزی په ۱۲ محرم د دار العدالت سرکرده مقرر سو.

دلغمان دقلعة السراج و دانی جوړه سوه.

سردار عنایت الله خان په کابل کی مطبعهٔ عنایت جوړه کړه.

سردار محمد عزیز خان د سردار محمد یوسف خان زوی ایشیک اقاسی خارجه مقرر سو.

سید شاه خان نایب سالار د جلال آباد عسکری مشر مقرر سو.

دمنگاو ښورښت او ددوی دآرامولو لپاره دحضور دجرنیل سر دار محمد نادر خان لیږل (۲۳ جمادی الاولی) دغه ښورښت د روژی په میاشت کی تمام سو او سر دار محمد نادر خان دحضور نایب سالار مقرر سو.

په پغمان کی ځنی نوی ودانی لکه سهیل ـ ستاره ـ بیت الصیف.

سراج الاخبار په دوهم کال کی په حروفی چاپ او مصور خپور سو

(۱۶ شوال = ۲۷ سپتمبر = ٤ میزان ۹۱ ش.)

دهند دسر حدی صوبی په پیښور او مردان کی معارف او مکتبونه جوړ سول چی دنوی بیداری اثرونه ئی پر پښتنو وکړه.

مولوی شاه عباس مجذوب د شاه عبد الرحیم دهلوی زوی د شاه عبد العزیز وراره چی په ۱۲٤۲ق ئی له دهلی څخه کابل ته هجرت کړی و ۱۱۵ کلن په کابل کی وفات سو (جمعه ۱۵ رمضان)

حاجی ملا عبد الله هروی خطاط دملا دلدار زوی په هرات کی ژوندی و.

۱۹۱۲ م ۱۳۳۱ ق

سراج الاخبار دپښتو پر قدامت او اصالت خاصه مقاله نشر کړه (۱۵ صفر ۲۳ جنوری ۳ دلو.)

برگډ عبد الوکیل خان دقندهار عسکری قومانداں مقرر سو (جوزا ۹۲ ش)

سردار عنایت الله خان دمعارفو په نظارت وگمارل سو.

په وزیرستان کی دمسیدو او تورو قبیلوی جنگ (۳ اگست)

دراعداری دتذکری نظا منامه په (۱۱۰) مادو کی دامیر حبیب الله خان په امضا خپره سوه (۲۵ سنبله)

سیا چاه او شکنجه کول منع سول (شعبان)

انجمن معارف دسردار عنایت الله خان په نظارت جوړ سو او نظا منامه ئی نشر سوه (۹عقرب)

قومی باغ په کابل کی جوړ سو (وزو ستنی وزارت حربیه)

په قند هار کی په یکشنبه ۱۹ دشوال خلکو پر سردار محمد عثمان خان نائب الحکومه باندی بلوا وکړه او قاضی اه الله دقاضی میرجمال پشدی زوی اود هغه زوی حمید الله ئی مړه کړل. سردار محمد عثمان خان موقوف او پر ځای ئی سر دار محمد یونس خان امین الو جوهات مقرر سو. اود قند هار دسپاهیا نو پر معاش دمیاشتی ۲ رو پی زیاتی سوی (۲٤ ذیقعده)

مهدیخان دانگر یزی هند سفیر له کابله ولاړ او پر ځای ئی سیف الله خان کابل ته راغیء.

دسراج التواریخ اول او دوهم ټوک دفیض محمد هزاره په قلم په کابل کی چاپ او خپور سو.

اخونه ملا محمد عمر سیلجو قی دملا محمد ایوب زوی دهرات مشهور مدرس او مؤلف دالملهم فی الاصول او شرح کافیه ـ رسالهٔ امکان خاص وعام ـ حاشیهٔ ایسا غوجی او نورو کتابو مؤلف په هرات کی وفات سو.

محمد عمر خان بردرانی هروی خطاط او هنرمن ملاك په هرات کی ممز سو په هغه وخت کی دهرات بل

خطاط محمد رحیم خان الکوزی هلته ژوندی و.

۱۹۱۳ م ۱۳۳۲ ق

دشرکت موتر کار افغانیه په نامه لومړی دحمل ونقل شرکت په کابل کی جوړ سو. (قوس)

دوزیرو روحانی او مجا هد مشر ملا پونده په وزیر ستان کی وفات سو (جدی)

دحکومت مالی مشاور برگد عبد الاحمد خان دسمت مغربی لوی خان په کابل کی ووژه سو (دیکشنبی شپه ۷ صفر)

لومړی دار المعلمین په کابل کی افتتاح سو (ربیع الاول) مد یر ئی مو لوی عبد الرب خان و.

لومړی دهند وانو ابتدائی مکتب په کابل کی جوړ سو (محرم)

حاجی شاه بیك خان په دهلی کی دافغانستان سفیر سو.

دوړینو کالو ماشین خانه په کابل کی افتتاح سوه (یکشنبه ۱ جمادی الثانیه)

دمعا ریفو دمامورینو نظامنامه (۸۵) مادی دسردار عنایت الله خان له خوا نشر سو (۱۵محرم)

محمد نعیم خان نائب سالار د هرات عسکری قوماندان سو (۲۷ جمادی الثانیه)

سردار محمد ایوب خان دمیوند مجاهد په سه شنبه ۱۷ د اپر یل ۱۹۱٤م ۱۱ جمادی الاولی ۳۲ ق = ۱۷ حمل ۹۳ش په لاهور کی وفات او په پیښور کی ښخ سو. عمر ئی ۵۷ کاله و.

سردار محمد قادر خان نائب‌سالار دسپه سالار امیر محمد خان پرخای دافغا نستان سپه سالار سو.

(سه‌شنبه ۲۱ رجب ۳۲ق)

عمومی لومړی جنگ ونښت (رمضان = اگست ۱۹۱۴ = اسد) او امیر حبیب الله خان دشوال په اوله ورځ په یوه لوی دربار کی د افغا نستان بیطرفی اعلان کړه، او بیا ئی په شنبه ۱۲ذیقعده ۱۳اکتوبر ۱٤م په بل لوی دربار کی تایید کړه.

شهزاده امان الله خان دمحمودطرزی دلور ثر یا سره واده وکړه (چهار شنبه ۲۲ ذیحجه ۱۹ عقرب ۱۱ نومبر)

په شرقی سرحداتو کی دانگریزا نو پر خلاف دقبایلو نهضتونه.

محمد عبد السلام خان عمر خیل پښتون په هند کی دنسب نامهٔ افغا نان کتاب چاپ کړ (رامپور ۱۹۱٤)

ندیم بلخی دسردار نصر الله خان لپاره (ندیم المحافل فی ترجمه نزهت المجالس) په فارسی وگیښ

(خطی) محمد رحیم اندړ په قند هار کی‌هزار مسایل په پښتو نظم کړ

میا فضل حق مجددی د میامحمدعمر شهید زوی په هرات کی وفات او ښخ سو.

نعمان الدین احمد کساگا خیل د

پښتو ظفرالنسا تالیف کړ او دده ماینی زینت النساو کیښی .

شیخ عبد الو هاب دمانکی ملاصاحب مشهور مرشد اود پښتو عقا ید المؤ منین مؤلف په مانکی شریف کی وفات او ښخ سو.

قاری رحمت الله واضح بخاری (تحفة الاحباب فی تذکرة الاصحاب) وکیښی چی دافغا نستان د شمالی خوا دشاعرانو حال هم لری.

(دتا شکند چاپ)

۱۹۱٤م ۱۳۳۳ ـ ۳٤ ق

دجبل السراج دبر یښنا کا رخانه افتتاح سوه (صفر جدی جنوری) غلام محی الدین خان دقطغن او بدخشان نائب الحکومه په ۱۱محرم مړسوه اوپرځای یی‌امین‌الاطلاعات ناظر محمدصفر خان مقرر سو

په کابل کی‌پنځه ابتدایی‌مکتبونه دمولوی عبد الرب خان په مدیری افتتاح‌سوه (سه‌شنبه۱۲جمادی‌الثانیه)

د اکتوبر په میاشت دنـدر مایر او هنتینگ په مشری دالمان او ترکیی او استریا یوه را لیږلی ډله دایران او هرات له خوا کابل ته راغله، چی دافغا نستان حکومت پر انگریزانو را ډوپا روی د۱۹۱٦ ترمئی پوری په کابل کی وو، له دی ډلی سره راجه مهندر پرتاب او مولوی برکت الله هندی آزا دیخوا هان هم وو.

مولوی عبد الروف قند هاری مشهور عالم اود امیر حبیب الله‌خان ملای حضور په شنبه ۱٦ شوال په کابل کی وفات سو.

په کا بل اونورو ښارو کی دکولرا ناروغی خپریدل (رمضا ن ـ شوال)

مولوی عبد الرب خان د دار المعلمین مدیر اود ابتدائی مکتبو سر ښته دار دخپل پلار مولوی عبد الروف‌پر خای ملای حضور هم سو.

دسندا کی ملا احمد جان دباباسین دکو هستان او سید ونکی مجا هد سید عبد الجبار شاه له ستانی شخه را وغوښت او هغه ئی امیر وتاکه، پخپله قاضی القضا ت سو، او له انگریزانو سره یی‌دجهاداعلان‌وکړ اود چکدری او ملا کند غزاوی ئی شرو کړی.

ملا محمد حسین سلجوقی د ملا عبد الاحد هروی زوی چی خطاط او عالم او صوفی سړی‌و ۹۸ کلن په هرات کی وفات او ښخ سو.

شاه محمد سدوزی د شهزا ده ایوب لمسی دسند په تهلی ښارکی دخپل خاندان تاریخچه ولیکله دآغا بدردرانی کتابخانه‌په‌کړی یاسین‌کی)

عبد الله پوپلزی شاعر د پښتو عبرت نامی او دیوان خاوند په قند هار کی وفات سو.

سید میر مشوانی هروی زبردست شاعر ا و نقاش او خطاط اود دیوان خاوند په هرات کی وفات سو.

(ولا دت ئی ۱۲۸۰ ق)

۱۹۱۵م ۱۳۳٤ـ ۳۵ ق

پښتو زبه د حبیبیه مدرسی په نصاب کی داخله سوه .

د وزیرستان دخلکو جنگونه له انگریزانو سره .

محمود طرزی دسراج الاخبار په سرمقاله کی د (حی علی الفلاح) تر عنوان لاندی دافغانستان داستقلال تحریک علنی کیء، اودغه سر مقاله شنسر سوه. (غره ربیع الاول ۳٤ق ۱٦ جدی ۹٤ ش).

- په جمادی الثانیه حمل ۱۲۹۵ کی دافغانستان مشهور مشایخ کابل ته دعوت سوه چی دامیر سره وگوری لکه داسلام پور پاچا دموسهی آخوند زاده - دنگاب ملا - د هدی آخوند زاده - دبرومیا صاحب - میانصاحب حصارك شمس الحق - استاد هده - دشوربازار حضرات شیخان صاحبان - حافظ جی صاحب صوفی صاحب - ملامحمد مرید - ملا عبدالغفار آخوند زاده.

ددغو مشایخو اود خلکو دوکیلانو په شمول یوه لویه جرگه دامیر په حضور کی جوړه سوه اود ملت داتفاق اوددولت دسیاست (بیطرفی) تا ییدیی وکیء (جمادی الثانیه اپریل - حمل).

دهندو ستان دآزادیخوا هانو مهاجرین افغانستان ته دراجه مهندر پرتاپ سفره راغلل چی دبابر په باغ کی اوسیدل.

سردار عنایت الله خان ناظم حربیه سو.

فضل واحد دترنگزو حاجی صاحب دمومند وپه ملگری پر شیقدر حمله وکړه.

عبد الغفور ندیم دکابل شاعر و غلام حیدر زوی ۳۸ کلن په کابل کی وفات سو. (سه شنبه ۱۳ رجب دده دیوان په ۱۳۰۹ ش په تهران کی چاپ سو. (ولادت یی ۱۲۹٦ ق)

سرمست اپریدی په تیرا کی له پرنگی سره دغزا اعلان وکی.

محمد عثمان فرحت کابلی شاعر خپل کلیات ترتیب کیء.

نیك محمد چاریکاری عمدة الفرایض په فارسی وکیښ چی دکابل پیسنگی چاپ په دغه کال دمعین السلطنه عنایت الله په امر خپور سو.

۱۹۱٦ م ۱۳۳۵ ق

په وزیرو قبیلو کی بنورښتونه.

سید عظیم شاه مشهور په شاه آقا دقلعه قاضیی، په جمعه ۲٤ رمضان ۳۵ق وفات سو.

د افغانستان داستقلال غوښتنی دبلبل گرفتار په رمزی شعر کی د بناغلی عبدالهادی پریشان لخوا په فارسی اود مولوی صالح محمد قندهاری له خوا په پښتو په سراج الاخبار کی نشر سوی اربیع الثانی ۲۵ق ۵ دلو).

محمد حسن راقم اخکزی شاعر او محاسب او مؤلف چی په ۱۳۲۷ق دمشرو طیت په حرکت کی بندی سوی و په محبس کی وفات سو

(ولادت - ۱۲۹۰ ق) . ۱۳ کلنه)

ناصر الملك دچترال مصطلح مهتر دتحفة الابرار او مشرق الانوار او صحیفة التکوین مؤلف دچترالی ژبی دلیك او لوست بنیاد کښیښو او دی ژبی مخصوص حروف یی رواج کړه. (متوفا ۱۹٤۳ م).

ندیم بلخی د رحمت الله زوی د دیوان خاوند شاعر و فات سو (ولادت یی ۱۲۵٤ ق).

۱۹۱۷-م ۱۳۳٦ - ۳۷ ق

میان گل عبدالودود دعبدالخالق زوی دسوات داخوند لمسی په سوات کی دامارت اعلان و کیء.

په نورستان کی (٦) ابتدایی مکتبونه جوړ سوه.

(جمادی الاخری ۳٦ ق)

۱۹۱۸-۱۹۱۹-۱۹۲۰ م ۱۳۳۷-۳۸ - ۳۹ ق

دپښتنو غزاوی له پرنگی سره:

دمغول کوټ غزا - دتانك غزا - د اپوزی غزا - دتوچی غزا - دکسی غره غزا - دکاوړ غزا - دمانجی گری غزا دژژی غزا - ددراپین غزا - دترکی غزا دقلعه دوه غزا -

۱۹۱۸ م ۱۳۳۷ ق

لومړی موزیم په کابل کی جوړ سو.

په ۲٤ دلو ۹٦ش ۱۳ فروری ۱۸ م سراج الاخبار دافغانستان داستقلال ته باب کی یوه مفصله مقاله خپره کړه چی دافغانستان داستقلال غوښتلو فکر ئی تقویه کیء (سراج الاخبار ۷ کال

د افغانستان ذ ابتدایی او عالی مکتبو او دارالمعلمین نصاب ترتیب او خپور سو (۱۵ میزان ۹۷ ش ۱ محرم ۳۷ ق).

میر غلام نبی دخپل پلار میر محمدعثمان پرځای دهرات ذگازرگاه میر وتاکل سو.

محمود طرزی یود کوچنیانو اخبار له کابله دسراج اطفال په نامه خپور کیء (غره محرم ۳۷ ق ۱۵ میزان ۹۷ دسراج الاخبار آخرینه شماره په ۱۵ ربیع الاول ۳۷ق ۱۹ دسمبر ۱۸م ۲۷ قوس ۹۷ ش خپره سوه.

(اتم کال ٦ شماره) تردی وروسته ندی خپور شوی.

اخوند ملا محمد حسن اوبنهی دملا شمس الدین تو خی زوی نقشبندی صوفی او عالم په اوبه کی ۸۰ کلن وفات سو.

د شوروی تر کستان خارجه کمیساریت امیرحبیب الله خان ته پیغام وکیء چی دوستانه روابط سره ولری.

عبدالله بن محمد سبرو ستانی هروی دحاجی عبدالرحمن اسحق زی په غوښت دعربی ترتیب الدول کتاب دقوانین الحکما په نامه په فارسی ترجمه کیء (۱٦ ذی حجه ۳۷ ق).

دافغانی آزادی خوا هانو له خوا مولوی برکت الله او کاظم بیگ د شوروی تر کستان جمهوریت ته د

د مذاکری له پاره واستول سوه .

۱۹۱۹م۱۳۳۷ق۳۸ق۱۲۹۷ـ۹۸ش

امیر حبیب‌الله خان تر ۱۸ کاله سلطنت وروسته دلغمان په‌کله‌گوش دره کی به تفنگچه و وژل سو (د پنجشنبی شپه دری بجی ۱۸ جمادی الاولی ۳۷ق ۱۹ دلو ۹۷ش ۲۰ فروری ۱۹ م) اوپه جلال‌آبادکی دسردار نصرالله خان سره په امارت بیعت وسو .

مولوی عبدالرب دامیر حبیب الله خان دحضور ملا اود ابتدایی مکاتبو او دارالمعلمین مدیر په جلال‌آبادکی دحوت ۹۷ ش په اولوورځو کی وفات اوهوری ښخ سو، دغسی هم دچارباغ ضیا معصوم نقشبندی لوی روحانی پیر هلته وفات سو. امان افغان دامیر حبیب الله مرگ د سلطنت دمقام اود مولوی عبدالرب مرگ یی دشریعت دریاست اودضیا معصوم مرگ یی دطریقت دریاست خالیتوب وگانه، چی په یوه واردری سره مقامه خالی سول (امان افغان لومړی گڼه ۲۲حمل ۱۲۹۸ ش) .

د فروری له ۲۱ تر ۲۸ پوری امان‌الله خان په کابل کی دخپل امارت لپاره اقدامات کول .

او په جمعه ۲۱ فروری ۱۹ م ۹حوت ۹۷ش ۱۹ جمادی الاولی ۳۷ق اعلیحضرت امان الله خان په کابل کی پر تخت کښینوست .

په ۲۸فروری دافغانستان کامل استقلال دکابل په لوی دربار کی اعلیحضرت امان الله خان اعلان‌کړ او سردار نصرالله خان له‌جلال‌آباد په پنجشنبی ۲۵ جمادی الاولی ۱۳۳۷ق خپله بیعت نامه ورته راوا ستوله دغسی هم سردار عنایت الله او حیات‌الله په جمعه۲۶ جمادی الاولی دبیعت مکتوب ورته راولیږلی. (امان افغان ۲ گڼه ۷ثور ۹۸ ش .)

په ۳ مارچ ۱۹ م = ۱۲۹۷ ش امان‌الله خان دهند ویسرا ته‌دافغان او انگریز د نوی معاهدی پیشنهاد دافغانستان دکامل استقلال اومتساوی حقو قو پر اساس باندی وکړ

محمود طرزی د سراج الاخبار مدیر ناظر خارجیه مقرر سو (حمل ۱۲۹۸ ش) .

دشورا خاص مجلس په کابل کی افتتاح سو (ثور ۹۸) .

په افغانستان کی دوهمه پلا کابینه جوړه او وزیران (ناظران) ئی په سر کی مقرر سول (ثور ۹۸ ـ می ۱۹) .

(۱) دائره نظارت عدلیه ـ ناظر عدلیه محمد ابراهیم خا ن.

ځای: عین العمارت .

عین العمارت .

(۲) دائره نظارت حربیه ـ ناظر حربیه صالح محمدخان سپه‌سالار ځای قومی باغ.

(۳) دائره‌نظارت خارجیه ـ ناظر خارجیه محمود بیگ طرزی . ځای بیت الشوری .

(٤) دائره نظارت معارف ـ ناظر معارف عبد الحبیب خان ځای: قصر شهر آرا .

(٥) دائره نظارت مالیه ـ ناظر مالیه میرزا محمود خان . ځای باغ مهمانخانه .

(٦) دایره‌نظارت تجارت :نا ظر تجارت غلا م محمد خان . ځا ی: باغ مهمانخانه .

(۷) دایره نظارت نقلیات : ناظر نقلیات میر زا عبدالقا در خا ن ځای: اصطبل عا مره .

(۸) دایره نظارت زراعت ـ ناظر علی جان خان . ځای : محکمه مراد خانی .

(۹) دایره صدارت عظمی اعتماد الدوله عبدالقدوس خا ن. خا ی : قصر باغ مهمانخانه .

په ۲۷ مارچ ۱۹ م ۷ حمل ۱۲۹۸ ش د شوروی روسی ترکستان د خار جی امورو کمیسار بوکو یا ولینسکی د افغانستان حکومت ته ولیکل ،چی دشوروی حکومت ټول زاړه قرار دادونه لغو کړل ، او دټو لو اسلامی دو لتو او افغانستا نه سره د دو ستی روا بط غواړی او استقلال ئی منی ، او له مسکوه ښاغلی براوین تا کلی سو ی دی چی د افغانستانه سره سیاسی دوستانه روابط او تجارتی مناسبات ونښلوی .

په ۷داپریل ۱۹م ۱۸ حمل . ۱۲۹۸ ش رجب ۱۳۳۷ ق :

اعلیحضر ت امان الله خا ن لینن ته یولیک واستاوه چی د افغانستان استقلال او ددوستی خوا هشو نه ومنی .

په همدغه تاریخ د افغانستان خارجه وزیر محمود طرزی دشوروی دولت خارجه کمیسار چیچر ین ته یولیک واستاوه ، چی د افغانستان دوستانه خواهشو نه او استقلا ل ومنی او د اعلیحضرت امان الله خان مکتوب لینن ته وړاندی کی ددی لیک جواب د لینن له خواه په ۲۲ می ۱۹ م ثور۹۸ دمبارکی او خوښی سره راورسید .

په ۲۱ داپریل ۱۹ م ۳۱ حمل ۱۲۹۸ ش .

امان الله خان لینن ته ددو ستی لیک او د افغانستان د استقلال د اعلان د کامیابیدو لیک واستاوه او جنرال محمد ولی خان ئی د فوق العاده سفیر په ډول د مذاکری‌لپاره ورته معرفی کی ء، دی دمی په ۲۸ تاشکند ته ورسید . او په ۱٤ اکتوبر ۱۹ م ئی دلینن سره په مسکو کی ملاقات وکړ

د امان افغان لومړی شماره د سراج الاخبار پر ځای د ښاغلی

عبدالنهادي په مدیري خپره سوه (۲۲ حمل ۹۸ ش ۱۱ رجب ۳۷ ق ۱۲ داپریل ۱۹ م) په دی شماره کی د امیر حبیب‌الله خان د وژلو او د امیر امان الله خان د جلوس احوال چاپ سو .

سردار عبدالقدوس خان صدر اعظم د قند هار د مجاهدینو مشر مقرر سو او هلته ولاړ (حمل ۹۸ ش)

افغانستان درولیت بل پر خلاف خپل پرو تسټ د هند حکومت ته واستاوه (می ۱۹ م ثور ۹۸)

سپه سالار محمدنادر خان دعسکرو سره په ۲۱ رجب ۳۷ ق ۳ ثور ۹۸ش ۲۳ اپریل ۱۹م له کابله‌ولاړ او گردیز ته ورسید ، او ملی قوانی د استقلال جنگ ته تنظیم کړل . په جمعه ۱۵ شعبان ئی د گردیز په جامع کی د جهاد خطبه وویله سوه. او د قبایلو په منځ کی دجهاد اعلان وسو ، او مسیدو د انگریز پر فوج حملی شروع کړی د افغان او انگریز تر دریم جنگ وتښت (۳ مئی ۱۹ م) .

د سپین وام تانه مجاهدینو په ۲۵ شعبان و نیو ل ـ او دوانا او سرویکی چو نی مسید و ونیولی (۲۰ شعبان ۳۷ ق ۳۱ ثور ۹۸ش ۲۱ می ۱۹ م) .

دانگریزانو طیاره رو پر دگه جلال آباد ـ کابل ـ سپین بولدک بمباری وکړه (ثور ۹۸ ش) .

په ٦ جوزا ـ ۲۷ شعبان ۲۸می دقل بنار افغانی مجاهدینو دسردار محمد نادر خان‌سپه سالارپه مشرتوب ونیو، دجنگ‌استقلال‌متارکه‌۳رمضان ۲۲ جوزا ـ۲جون (۱۳۹۸ ش) .

په هندوستان کی د خلکو ښورښت زیات اود هجرت تحریک تود سو. (جو زا ـ سر طا ن) د هندوستان د آزادیخواو هانمو موقتی ملی حکومت (په کابل کی) جوړ سو او د وزیر داخله مولنوی عبیدالله سند هی او عزیز هندی. په امضا یو اعلان خپور سوه، چی‌دهند خلک پر انگریزانو راولاړ سی (جوزا۹۸ش) ددی موقتی حکومت مشر راجه مهندر پرتاب هندی آزادیخواه و .

د اتحاد شوروی له خوا پاکوف ژاخار و یچ سو ریتس په منځنی آسیا او افغانستان کی د فوق‌العاده مختار نماینده په ډول معین سو ، چی د افغانستان او د بلو چستان دآزاد و قبایلو اوخیوا اوبخارا او د هندوستان او کشمیر او تبت له آزادي خواها نو سره رابطه ونښلوی او انتلا بی د آزا دی غو ښتنی تحریکات و روزی (۲۳ جون ۱۹م جوزا ۹۸ش) دغه سفیر په سپتمبر کی کابل ته راغی .

عبدالشکور خان د افغانستان سفیر دبخارا دامیر دربار ته ورسید (سرطان ۹۸ ـ جولائی ۱۹) .

حسین د اسحاق زوی د شوروی دو لت لوی سفیر کابل ته را غی (سرطان ۹۸ـ۱۹ جولای).

دافغان اوانگلیس روغ لیک چی په راولپنډی کی په (۸) اگست په ۵ مادو کی امضا سوی و په (۲۸) اسد ۹۸ ش ۲۰ ذی قعده ۳۷ ق (۱۸) اگست ۱۹ م د افغانستان پاچا اعلیحضرت امان‌الله خان تصدیق کی‌ء اوداستقلال اعلان او لوړی جشن وسو .

دمعرف معارف مجله دوزارت معارف له‌خوا په‌کابل کی‌چاپ سوه (۱سنبله ۹۸)

د سردار محمد نادر خان غازی سپه سالار قوا فاتحانه کابل ته راغلل .

(۲۸ میزان ۹۸ ش ۲۱ اکتوبر ۱۹ م) او ده ته داعلی‌لمر نښان‌ورکړ سو اود استقلال ځلی دده په نامه‌په کابل‌کی جوړسو اودی (وزیرحربیه) سو اوهم په‌دغه کال ۱۲۹۸ ش د سمت مشرقی رئیس تنظیمه مقرر سو (ربیع‌الاول ـقوس ـدسمبر)

د حوت په اولولسو ورځو کی د مشرقی داقوامو جرگه په جلال‌آباد کی وسوه اود اتحاد مشرقی جریده هم خپره سوه ۱۲۹۸ ش (ربیع‌الاول ـحوت ـ دسمبر) .

د افغانستان د روغی د مذاکری یوهیئت دعلی احمد خان په مشری راولپنډی ته ولاړل (دلو ۱۲۹۸ش) د روغی لیک‌ئی امضاکی‌ء (۸)اگست ۱۹م (۱۱ ذیقعده ۱۳۳۷ق) .

د افغانستان د استقلال د جنگ پروخت دترنگزو حاجی صاحب او مولانا سیف الرحمن‌الکوزی دومندو په ملگری دشبقدر دوهمه غزا له پرنگی سره وکړه .

قاضی القضات‌خان‌علوم سعدالدین خان بارکزی په کابل کی وفات سو (٤ میزان ۱۲۹۸ ش) .

او دده پر ځای یی زوی قاضی عبدالشکور خان قاضی القضات‌سو.

محمد ابرا هیم حیر ت کابلی شاعر د تحفه شهنشاهی او دیوان اشعار خاوند و فات سو په‌پنجشنبی ۲۵ جمادی‌الاولی۱۳۳۷ (ولادت ۱۲۵۰ ق) .

د اعلیحضرت امان الله خان به امضاء (کتابچه قانون گذاری حکام افغانستان) په کابل کی چاپ او خپره سوه ۱۲۹۸ ش .

سردار محمد سلیمان خان وزیر معارف سو (۹۸ ش) .

د ۱۲۹۸ ش کال مالی واردات څلویښت ملیونه کابلی او مصارف ۳۱ ملیونه او ذخیره ۹ ملیونه‌وه .

۱۹۲۰ م ۱۳۳۸ر۳۹ق ۱۲۹۹ش

دافغانستان لو مړی د ما لیی نظامنامه خپره سوه (۱حمل ۹۹ ش ۲۱ مارچ ۲۰ م) .

په کابل کی لو مړی ملی‌کتابخانه جوړه سوه (حمل ۹۹) .

دمحمود طرزی په مشری دسیا سی مذاکرې لپاره یوه افغانی ډله دهند مسوری ته ولاړل اود هنری ډابس انگریزی نماینده سره یی خبری وکړی (۱٦ اپریل تر ۱۸ جولایی ۲۰ م) داډله په ۱۰ر اسد ۱۲۹۹م کابل ته راورسیده .

په نظارت معارف کی لومړی علمی انجمن افتتاح سو (۲۰ رمضان ۳۸ق ۱۸ جوزا ۹۹ ش) .

د افغا نستان لومړی سفیر سردار عبد العزیز خان تهران تـه ورسید (۷ شعبان ۳۸ق) په جمعه ۲۸ جوزا ۹۹ ش یی د افغانستان بیرغ پورته کیء.

په کابل کـی دافغان روزنامه د محمد جعفر په مدیری خپـره سوه (دوشنبه ۱٤ سرطان ۹۹) .

په کابل کی لومړی پلا داصول دفتری مکتب افتتاح سو (۱۲ ذیقعده ۳۸ق سرطان ۹۹ ش) سپه سالار محمد نادر خان له سمت مشرقی څخه کابل ته راغی (ذیقعده ۳۸ق اسد ۹۹ ش آگست ۲۰ م)

په جلال آبادکی ابتدایی مکتبونه جوړ سول (اسد ۹۹) .

سردار محمد هاشم خان دسمت مشرقی ملکی او نظامی نایب سالار مقرر سو (اسد ۹۹ ش) .

په ۱٤ اگست ۲۰م اسد ۹۹ یود بیسیم تلگرافی د ستگاه د شوروی دمیخانیکانو سره کابل ته راورسید او لومړی دتشکر تلگرام دامان الله خان لهخوا لینن ته ولیږل سو ۱۸ سپتمبر ۲۰م سنبله ۹۹ ش .

د بخارا دشوروی جمهوریـت د رئیس فیض الله خو اجه لـهخوا د افغانستان پاچا ته تلگرام راورسیدی چی دهغه جمهوریت سره روابط قایم سی (۱۵ ستمبر ۲۰م) دافغانستان خارجه وزیر محمود طرزی په جواب کی دبخارا دمملکت استقلال وغوښت اودښاغلی عبدالـهادی خان مقر ری یی دبخارا په سفارت ورته ولیکله .

په هرات کی داتفاق اسلام هفتگی جریده دعبدلله قانع هروی په مدیری نشر سوه (۱ سنبله ۹۹) .

په مرکزی آسیا کـی د شوروی روس فوق العاده سفیر سورتس په یوه لیك کـی دافغانستان خارجه وزیر محمود طرز ی تـه و کښل چـی عبدالشکور خان افغانی نماینده په بخارا کی پـرو پاگنـد او عسکر ی فعالیتو نه کوی چی باید جلوگیری یی وسی ۲۱ ستمبر ۲۰ م) .

دهندی مهاجرانو ډلی افغانستان ته راغلی، دمهاجرینو انجمن په کابل کی تاسیس سـو (سنبله ۹۹ ش ستمبر ۲۰ م) یوه ډله مهاجرین د شوروی له لاری اناطول ته ولاړل .

غلام نبی خان خرخی د مزارشریف عسکری قوماندان مقرر سو (میزان ۹۹ ش) .

د افغانستان سفیر عبدالهادی خان بخارا ته واستول سو (جمعه ۸میزان ۹۹ ش) .

په پختیا (جنوبی خوا) ولایت کی ابتدایی مکتبونه جوړسول (عقرب ۹۹)

جمال پاشا دترکیی دحرب وزیر کابل ته له تاشکنده راغیء (٦عقرب ۹۹ش نومبر ۲۰ م)

اعلیحضرت امان الله خان او محمود طرزی دلینن او چیچرین په نـامـه مکتو بونه وا ستول چی دافغان او شوروی لو مړی معا هده ترتیب سوی او در ولیږل سوه چی تصدیق سی (اول دسمبر ۲۰م قوس ۹۹ ش)

دستارهٔ افغان هفتگی جریده د میر غلام محمد په مدیری له جبـل السراج څخه خپره سوه (۹ قوس ۱۲۹۹ ش)

سپه سالار محمد نادر خان دقطغن او بد خشان رئیس تنظیمیه مقرر سو (جمادی الاولی ۳۹ جدی ۹۹)

د افغا نستان خارجه وزیر محمود طرزی د شوروی اتحاد خارجه وزیر چیچرین ته د دواړو دولتو دمعاهدی دتشکر مکتوب دبدری بیگ په لاس واستاوه او دشرق دآزادی دتحریك مننه ئی وکړه او د جمال پا شا پـر راتگ یی خوښی وکړه (دسمبر ۲۰م) ۱۹۲۱م ۱۳۳۹ق ۱۲۹۹ر ۱۳۰۰ شس

سر هنری ډابس دانگر یزانو نماینده دمعا هدی لپاره دافغانستان سرحد ډکی ته را غیء دده سره یوه ډلـه نـور مامو رین هم ملگری وو (۱۵ جدی ۹۹ش ٥جنوری ۲۱ م)

دوی دجدی په ۲۰ = ۱۰ جنوری د دلکشا په مانی کـی د اعلیحضرت امان الله خان حضور ته په یوه لوی در بار کی ور غلل.

دسمت مشرقی داقوامو جرگه کابل ته را غله (۲۱ جدی ۹۹ ش)

موسیو برا وین دشوروی دولت سفیر چـی پـه ۱۲۹۸ ش ئـی د افغا نستان تابعیت قبول کړی و، او غوښته ئی چی دقند هـار له لاری هند تـه ولاړ سی، دچهار شنبی دما ښام پر ۷بجو ۲۹جدی ۱۲۹۹ش په غزنی کی و واژه سو.

پاینده محمد فرحت دامان افغان دجریدی مدیر سو (۲دلو ۹۹ جنوری ۲۱ دانـا طـــو لـی د ملیو نـو هیئت د عبد ا لـر حـمـن بیـگ پیښوری پـه مـشری بخا را تـه را ورسیدیء (۲٤ جنوری ۱۹۲۱م)

دافغا نستان سفیر عبد الهادی خان د بخارا دربار ته ور سیدیء (۲۱دلو ۹۹ شس)

په کابل کی دنجونو لومړی مکتب مستورات افتتاح سو (دلو ۹۹جنوری ۲۱)

عبد العزیز خان دحضور یاور په نظارت داخله مقرر اومحمود خان د ده پـر ځـای د حضور یـاور سو متوفا ۱۹ جدی ۱۳۵۰) .

محمد یعقوب خان دحضور شاغاسی سو (دلو ۹۹ شس)

دافغا نستان او شو رو ی تر منځ لو مړی معا هده په مسکـو کـی د افغا نستان له خوا محمد ولی خان او مرزا محمد خان اوغلام صدیق خان اود شوروی دولت له خوا چیچرین

او قره خان په ۱۲ مادوکی امضاکړه ۲۸ فبروری ـ۲۱ م ـ ۱۰ حوت۹۹ اودافغانستان فو ق العاده هیئت د محمد ولی خان په مشری د مارچ په او له و رځ له مسکوه غربی ارو پاته رهی سو. دا معا هده داسد په ۲۲ ورځ ۱۳۰۰ ش په پغمان کی اعلیحضرت امان الله خان امضا کړه.

دافغانستان او تر کیی لو مړی معا هده په مسکو کی امضاء سوه (۱۱ حوت ۹۹ ش ۲مارچ ۲۱م) دافغانستان له خوایی امضا کوونکی محمد ولی‌خان فوق‌العاده سفیر اود ترکیی له‌خوا یوسف کمال بیگ د اقتصاد ناظر او ډاکتر رضا نورپیگ دمعارفو ناظروو .

دامعاهده دجمعی په‌ورځ ۲۷میزان ۱۳۰۱ ش ۱۹ اکتو بر ۲۱م د داعلیحضرت امان الله خان له خوا دکابل په عید گاه کی خلکو ته‌اعلان سوه .

سلطان احمد خان دافغانستان د وفدمشر دانا طولی دولت ته‌دباکو له خوا ولاړ (۲۱ حوت ۱۲۹۹ ش) .

د ۱۲۹۹ ش دولتی واردات ٤٥ ملیونه او مصارف ۳٦ ملیونه او ذخیره نه ملیونه‌وه .

ددولت دنبنانو لو مړی نظامنا مه خپره سوه (۹۹ ش) .

داعلیحضرت امان الله خان‌دوژلو یوه دسیسه کشف سوه، چی په هغه‌کی میرزا محمد علی تائب دمیرزا سیف‌الدین تره‌کی زوی شاعر او خطاط او منشی (متولد ۱۲۹۵ ق) او اختر جان د ناظر صفر زوی او دلوخان پنجشیری او محمد امین‌ـ عبدالله ـغلام حیدر ووژل سوه ـ

له پرنگی سره دچوری د پښتنو غزا (۳۹ ق) .

قاضی عبد اللطیف سواتی پښتو تفسیر تیسیر تالیف کیء (۳۹ ق) .

محمد ابراهیم خان عدلیه وزیر د مزار شریف رئیس تنظیمیه او بیا محمد سرور خان دهغه ځای نائب الحکومه سو (۹۹ ش) .

(۱۹۲۱ ر ۲۲م ۱۳٤۰ ر ٤۱ ق)

دافغا نستان‌دښځو لو مړی‌جریده ارشاد النسوان له کابله د محمود بیگ طرزی د ماینی (اسما) په مدیری او د روح افزاعدمحمدزمان خازن الکتب دلور په‌سر محر ری خپره سوه (پنجشنبه ۱ حمل ۱۳۰۰ ش)

دبخارا لومړی سفیر یوسف‌زاده عبدالرحیم کابل ته راغی (٦ حمل ۱۳۰۰ ش) دی دبخارا د رئیس فیض‌الله خواجه‌د (٦ جنوری ۲۱ ۲۵ربع الثانی ۳۹ه) په مکتوب د افغانستان خارجه وزیر ته معرفی سوی‌و .

دمصطفی کمال له‌خوا داناطولی لومړی فوق‌العاده سفیر عبدالرحمن بیگ پیښوری دبخارا او هرات له لاری کابل ته راورسید (۱۵ حمل ۱۳۰۰ ش) .

په قند هار کی لو مړی ابتدایی مکتب تجار افتتاح سو (۲۰ حمل ۱۳۰۰ ش) .

سید عالم خان دبخارا امیر کابل ته دپناهنده په توگه را ورسید (پنجشنبه ۱۵ ثور ۱۳۰۰ ش) .

له ایتالیاسره‌دافغا نستان‌لو مړی معاهده امضا سوه (۳ جون ۲۱م ۱۷ جوزا ۱۳۰۰ ش) .

دشوروی دو لت نوی‌سفیر رسکول نیکوف ته دچیچرین وزیر خار جه له‌خوا هدایت ورکړ سوچی دروسیه شوروی اوانگلیس دمعاهدی مراعات په افغانستان کی وکی ،او په دی مملکت کی دکمو نستی لمسو نه ځان وژغوری ،دافغانستان په پیشر فت کی همکار وی ،او د ار تجا عی محا فلو «داسلا می دولتو اتحادیه » چی دانگریزانو له خوا تلقین کیږی با ید جلو گیری وشی، ځکه چی زمونږ دمنځنی آسیا حا لت ته خطر نا که ده(۳ جون ۲۱ م جوزا ۱۳۰۰ ش)

دوه سوه‌تنه افغانی محصلان هند او اروپاته واستول سوه (جوزا ۱۳۰۰ ش جون ۲۱ م)

په وزیر ستان کی دحاجی عبد ـ الرازق په‌مشری دانگر یزا نو سره دجهاد دوام (جوزا ۱۳۰۰ ش)

سپه سالار سردار محمدنادرخان وزیر حرب ته د اعلی لمر نښا نور کړ سو (جوزا ۱۳۰۰ ش‌جون۲۱م)

دافغا نستان او ایران لو مړی د مؤدت معاهده (۲۲جون ۲۱م‌سرطان ۱۳۰۰ ش)

سپه سالار غازی محمد نا در خان‌د علی آباد په کلا کی امانیه طبی‌مکتب تاسیس کیء (سرطان ۱۳۰۰)

د طلوع افغان هفتگی جریده د مولوی صالح محمد په مدیری په

قند هار کی تاسیس سوه.
(۱۵ سرطان ۱۳۰۰ ش ۳۰ شوال ۳۹ ق ٦ جولائی ۲۱ م)
مکتب حکام په‌کا بل کـــی افتتاح سو (۷ سرطان ۱۳۰۰ شس) نظارت یی په وزیر داخله اړه درلوده.
دشوروی روسی دولت نوی لوی سفیر رسکول نیکـوف دهـرات او قند هار له لاری کابل تـه راغـی (شنبـه ۲۵ سرطـان ۱۳۰۰ شـس ۱۵ جولائی ۲۱ م)
د افغانستان داساسی تشکیلاتو اود ملکی تقسیماتو نظامنامی خپری سوی (سرطان ۱۳۰۰ ش ۳۰ مـی ۲۱ م) .
مولوی غلام محی‌الدین افـغان د دارالمعلمین مدیر اود آخوان افغان رکن په چهار شنبه ۱۲ اسد ۱۳۰۰ وفات سو، دی قند هاری جمریانی‌و.
دبخارا ددولت بیـرق دکابـل د بخارا په سفارت کی ورپول سو ، دلته دشوروی سفیران سورتس ـ او رسکول نیکوف اود انا طولی د حکومت سفیر هم حاضرو (پنجشنبه ۲٦ اسد ۱۳۰۰ ش) .
د شوروی نـوی سفیر رسکول نیکوف دافغانستان وزیر خارجه ته اطمینان ورکیء چی دافغانستان په داخلی چارو کی به مداخله نه کوی اوپه افغانستان کـی دکوم انقلاب راوستوا راده نلری (۳۰ جولایـی ۲۱م اسد ۱۳۰۰) .
دارگ په‌شمالی‌برج کی دشورای دولت افتتاح وسـوه (چهار شنبه ۱۱ اسد ۱۳۰۰ ش) .
مولانا نوردل خان دشیردل خان قمبر خیـل ابریـد ی زوی مشهور مجاهد وفات اوپه تیراه کی ښخ‌سو (۲۰ اسد ۱۳۰۰) .
په ۲۱ اسد ۱۳۰۰ ش اعلان‌وسو چی دپست محصول به وروسته‌نیم اخیستل کیږی .
دشوروی دولت افغا نستان تـه دنظامی او فنی بی عوضو کومکونو وعده ورکړه .
(۲٤ جولائی ۲۱م اسد ۱۳۰۰ ش)
دبرتانیا دنماینده‌سر هنری‌ډابس ښخه د افغانستان د خارجه‌وزیررسمی خواهش چی دترك او یونان په جنگ کی دیـونان سره کومـك ونکړی (۲۰ سنبله ۱۳۰۰ ش) .
عبدالبا قی‌خان‌دافغا نستان‌لومړی جنرال قونسل په مشهد کی مـقرر سو (میزان ۱۳۰۰) .
دمکتب قضات افتتاح په کابل‌کی (عقرب ۱۳۰۰) .
مجموعه عسکریه مجله له حـربیـه وزارت ته‌ښخه‌اخپره‌سوه(۱عقرب۳۰۰)
دافغا نستان او بر تانیا لو مړی معاهده ۱٤ مادی ۲ ضمیمی په کابل کی دمحمود طرزی وزیر خارجه او سرهنری ډابس له خوا لاس لیـك سـوه (۳۰عقـــرب ۱۳۰۰ ش ۲۲ نـــــو مبر ۲۱ م).

۱۹۲۲ م ۱۳٤۱ ق ۱۳۰۰ر۱ ش

له کندهاره محمـد عـلی خان د نائب الحکومه قایم مقام ولاړ اوپر

ځای یی عبدالعزیزخان دتنظیم‌رئیس مقررسو (سه‌شنبه۱۹جدی ۱۳۰۰ش جنوری ۲۲ م) .
د جـدی پـه ۲۰ ورځ ۱۳۰۰ ش ولایاتو ته دغه دتنظیم رئیسان مقرر سول :
قطغن او بدخشان تـه سپه سالار محمد نادر خان غازی وزیر حربیه
پـه وزارت حربیه کی قایم مقام سردار محمد هاشم خان نائب‌سالار عبدالعزیز خان وزیر داخله قند هار نـــه . وزارت داخـله قایم مقـام محمدسرورخان .
محمد ابراهیم خان وزیـر عدلیه مزار شریف‌ته . دوزارت عدلیه قایم مقام میر زمان الدین عدلی مستشار جمعه‌خان دوزیر عدلیه‌معاون میمنی ته .
شجاع الدوله خان وزیـر امنیه هرات‌ته . دوزارت امنیه قایم مقام محمود خان یاور .
صدراعظم سـردار عبد القدوس خان لـه قندهاره کابـل ته راغـی (پنجشنبه ۱٤ جدی ۱۳۰۰ ش) .
د ایـران لـومړی لـوی سفیر اعتلا الملك کابل ته دپیښور له خوا راغی (شنبه ۹ جـدی ۱۳۰۰ ش)
شیر احمد خان دایتالیا په روم‌کی دافغانستان لومړی لوی سفیر مقرر سو او سفارت خانه‌یی هلته افتتاح کړه (جدی ۱۳۰۰ ش) .
د افـغا نستان لومـړی جـنرال قونسل محمد حیدرخان ډهلی تـه ولاړ (۱ دلو ۱۳۰۰) .
د افـغا نستان لـو مړی سفیر عبدالهادی خان په ۱۵ دلو ۱۳۰۰ش دپیښور له لاری لندن تـه رهـــی سـو .
داصلاح هفتگی جریده په خان‌آباد کی دبشیر احمد پـه مدیـری خپره سوه (۲۹ دلو ۱۳۰۰ ش جمادی ـ الاولـــی ۱۳٤۰ ق ۱۸ فـــرو ری ۲۲م) .
داتحاداسلام‌جریده‌په مزار شریف کی دعبدالر زاق خان په‌مدیری نشر سوه (دوشنبه ا حـوت ۱۳۰۰شس ۱۹ فروری ۲۲م) دوی‌هفتی‌وروسته د (بیدار) په نامه تبدیل سوه.
دافغانستان وزیرمختار غلام‌نبی خان مسکـوته ورسیدی (جـمعه ٤ حوت ۱۳۰۰شس ۲۲ فـروری ۲۲م)
دبرتانیا دوزارت مختاری لومړی ډله دتورخم له لاری کابل ته راغلـه (۱۵حوت ۱۳۰۰شس مارچ۲۲م)
غلام جیلانی خان دهرات‌لوامشر سو (دوشنبه ۱۵حوت ۱۳۰۰)
فرا نسیس همفر یز دبر تانیا وزیر مختار او فو ق‌العاده سفیرخپله‌اعتماد نامه اعلیحـضرت امان الله‌خـان تـه وړاندی کړه (۲۲ حوت ۱۳۰۰شس ۱۳ مارچ ۲۲م)
په ۱۳۰۰ ش کال دغـه دولتـی نظامنامی خپری سوی :
۱ ـ د نکاح ، واده، ختنه سوری نظامنامه .
۲ ـ دگمرك دمحصول اخیستلو نظامنامه .

۳ـ دمالیاتو د کار کنارى نظامنامه .

٤ ـدعباراتو او القا بو د لنډ ونى نظامنامه .

٥ ـ د ډاکخانو نظامنامه (۹ سنبله) .

٦ ـ د عسکرى جزا نظامنامه .

۷ ـ د عسکرى کالیو نظامنامه .

۸ ـ د افغانستان د ملکى تقسیماتو نظامنامه .

غازى ترین خان تورى خیل وزیر د توچى د محمد خیلو په غزا کى شهید سو .

مولوى عبدالمجید افغانى اتمان خیل په پیښور کى (جمال افغانى) تالیف کیء.

قاضى خیر الله پیښورى پښتو قاموس خیراللغات وکیښ .

عمر دین مر دانى پښتو تکره شاعر ژوندى و .

د۱۳۰۰ ش کال مالى وار دات ٥۱ ملیونه کابلى ، مصارف ٤۰ ملیونه ذخیره (۱۱) ملیونه وه .

عجب خان اپریدى د غلام حیدر خان ادم خیل زوى د پرنگى سره غزا وکړه اودیوه پر نگى لورئى‌خنى بوتله افغانستان ته راغى اوتر آخره په مزار شریف کى په احترام او او سیدى خو چى۹۵کلن په ۱۳٤۰ق وفات سو (ولادت ئى ۱۲٤٥ ش) دده د بیرته ورکولو لپاره انگریزى حکومت افغانستان ته التیما تموم ورکى ، خو افغانستان ونه مانه .

مولوى عبدالواسع قند هارى دوه توکه تمسک القضات الامانیه داعلیحضرت امان الله خان په فرمان تالیف او چاپ کیء (کابل ۳۰۰ش) لومړى توک حقوق . دوهم جزا (۱۱۱۳) مادى .

په کابل کى د ابلاغ په نامه دیوارى روز نامه د میرزا محمداکبر په‌مدیرى خپره سوه . ـ ۱۳۰۰ش.

۱۳۰۱

۱۹۲۲ م ۱۳۰۱ ش

د پاسپورټ قانون په کابل کى دوزارت داخله له خوا خپو ر سو (حمل ۱۳۰۱ ش اپریل ۲۲ م)

د مکتب اصول دفترى افتتاح په کابل کى (چهار شنبه ٦ ثور

د افغانستان بیرق د لندن پر افغانى سفارت باندى پورته سو (جمعه ۸ حمل ۱۳۰۱ ش ۷ اپریل ۲۲ م) .

دافغا نستان او فرانس لو مړى د سیاسى او اقتصادى روابطو معاهده لاس لیک سوه .

(۲۸ اپریل ۲۲ م ۷ ثور (۳۰۱) .

موسیو فوشه لرغون پوهاند له فرانسى څخه د هرات له لارى کابل ته راغى (چهار شنبه ۲۰ ثور (۱۳۰۱) .

محمد ولى خان دافغا نستان فوق العاده نماینده داروپا او امریکا له سفره کابل ته راغى. ددمدسفر مطلب د آزاد افغانستان پیژند گلوى به توله دنیا کى وه (پجشنبه ۱۱ جوزا ۱۳۰۱ ش ۳۱ مى ۲۲م)

د ایتالیا لومړى وزیر مختار او سفیر مار کویس پیتر نو کابل ته راغى (پنجشنبه ۱۱ جوزا ۱۳۰۱

سلطان احمد خان په انقره کى د افغانستان سفیر مقرر سو (سرطان ۱۳۰۱ جولائى ۲۲) .

فخرى پاشا دترکیى سفیر کابل تەراورسید (٥ سر طان ۱۳۰۱ ش ۲٥ جون م).

د شوروى دولت لومړى قونسل تایژ نیک هرات ته راغى (۱۳ سرطان ۱۳۰۱ ش ۳ جولائى ۲۲)

د چین سیاسى و فد د جنک ـ لن ـ یو نك په مشرى کابل‌ته‌راغى (۱٥ سرطان ۱۳۰۱) .

دافغا نستان بیرق د بمبئى په افغانى قونسل خانه کى د حاجى محمد اکبر قونسل له خوا پورته سو (۲۰ـاسد ۳۰۱).

د افغانستان لومړى جنرل قونسل محمد شریف خان چینى ترکستان ته ولاړ (۸ سنبله ۳۰۱ ش ۳۰ اگست ۲۲ م) ددەسره د چین نمایند گان جنک ـ لن ـ یونک (او) توک ـ تانك هم ولاړل .

غلام صدیق خان د افغانستان وزیر مختار برلن (جرمنى) تەولاړ (۱۱ سنبله ۳۰۱ ش ستمبر) .

وزیر خارجه محمود طرزى ته د اعلى لمر نښان ورکړ سو ، او په پاریس کى د افغانستان سفیر مقرر سو .

دده پر ځاى محمد ولیخان خارجه وزیر سو (پنجشنبه۲٥ جوزا۱۳۰۱) محمودطرزى‌پاریس‌تەولاړ (۱۷سنبله ۱۳۰۱ ش ۸ ستمبر ۲۲ م) .

دافغا نستان لو مړی بو دجه ترتیب سوه (دوشنبه ۱۹ سنبله ۱۳۰۱) .

سردار حیات‌الله خان وزیر معارف او میر هاشم خان وزیرمالیه او محمد سلیمان خان د قطغن او بدخشان نائب الحکومه او محمد سرور خان د قندهار نائب الحکومه او امرالدین خان د سمت جنوبی اعلا حاکم مقرر سو (۱۹ سنبله ۳۰۱) .

انور پاشا دکو لاب په‌بلخوان کی شهید سو (سنبله ۱۳۰۲ش اگست ۲۲ م)

دالمجاهد پنځلس ورځنی اخبار له چمر کنده (مهمنده) دفضل‌الهی هندو ستانی په مدیری د جمعیت عالیهٔ مجا هدین هندی له خوا نشر سو (محرم ٤١ق سنبله ۱۳۰۱ ش)

قند هار ته دبر طانیا لو مړی قونسل نواب محمودخان سد وزی راغی‌ء (یکشنبه ۱میزان ۱۳۰۱ ش ۲۲ ستمبر ۲۲ م)

عبدالجبار خان دامان‌افغان ناشر او سرمحررسو (۱۵ میزان۱۳۰۱ش ۱۷ اکتوبر ۲۲ م)

سید عطا محمد شاه د سید تاج محمد قند هاری زوی مشهور خطاط او عالم په کابل کی وفات سو پنجشنبه ۱۹ میزان ۱۳۰۱ ش ۲۰ صفر ٤١ق .(ولادت ئی په‌قندهار کی ۱۲٦۹ ق)

دافغا نستان‌سفیر سر دار جمعه‌خان له مزارشریف‌څخه بخارا ته‌ورسیدی (جمعه ۲۰ میزان ۱۳۰۱)

د افغانستان او فرانسی‌تر منځ دلر غونو آثارو دلټون معاهده‌وسوه (میزان ۳۰۱ ش ۹ستمبر ۲۲)

دافغا نستان او سینور دات‌ایتا لوی شرکت تر منځ دموټر د حمل‌ونقل قرار داد (۸عقرب ۱۳۰۱ ش)

نوی گمرکی اصول تر تیب او معمول سول (عقرب ۱۳۰۱ ش)

دکابل دارنگ په‌برج شمالی کی دمولوی عبد الوا سع قند هاری په ریاست دپښتو مرکه جوړه سوه، او خپل لومړی پښتو اعلان ئی خپور کی. (عقرب۱۳۰۱ش‌اکتوبر ۱۹۲۲م)

سپه سالار محمد نادر خان په پنجشنبه ۱قوس ۱۳۰۱ کابل ته راغی، او پرځای ئی قطغن‌اوبدخشان ته سردار محمد سلیمان خان نائب الحکومه مقرر سو.

په هرات کی ابتدائی مکتبونه تاسیس سوه (قوس ۱۳۰۱)

د افغا نستان پاچا اعلیحضرت امان الله خان دانگلستان پاچا ته تلگرام وا ستاوه چی دترکیی مسئله دټولو مسلمانانو شریکه ده، خپلو نما ینده‌گانو ته‌دلوزان‌په کنفرانس کی هدایت وکی‌ء چی منصفانه فیصله سی (۳قوس ۱۳۰۱ ش) د دی تلگرام جواب دپنځم جارج له خوا دده له اطمینانه‌سر ه کا بل ته

راورسیدی (۲۸ قو س ۱۳۰۱ ش)

هاشم شایق دبخارا سفیر اود فوق العاده ډلی رئیس په کابل کی له خپله سفارته استعفا وکړه. (٦ جدی ۱۳۰۱ ش) اود افغا نستان تابعیت یی ومانه.

دافغا نستان دمصنو عاتو داستعمال فرمان اعلیحضرت امان الله‌خان‌صادر کی‌ء (جدی ۱۳۰۱ دسمبر ۲۲)

سید قاسم خان دامان افغان مد یر سو (۸ جدی۱۳۰۱ش ۲۹دسمبر۲۲)

په وزیر ستان کی نا آرامی او د انگریزانو سره جنگو نه‌اود افغا نی اخبارو سخت احتجاج (جد ی ۱۳۰۱ ش دسمبر ۲۲)

په ۱۳۰۱ شس کال دغه نظامنامی د دولت له خوا خپری سوی.

۱ـ دللمی کرنی نظامنامه (۱قوس)

۲ـ د ځار ویو دمحصول نظا منامه (۱ قوس)

۳ـ د دولت دخزانو نظامنامه.

٤ـ دتجارتی تقاویو نظامنامه.

٥ـ دتجا رتی شخړو دشرعی محکمی نظامنامه.

٦ـ د حاضری نظا منامه (حمل).

۷ـ دنفوسو دتذکری نظا منامه .

۸ـ دتعزیه داری نظامنا مه.

۹ـ د دولتی تعمیر اتو نظامنامه (سر طان)

۱۰ـ دعمومی بودجی نظا منا مه (۱ قوس) .

۱۱ـ د خورد ضابطانو د مکتبو نظا منا مه .

له پرنگی سره دمومندو دریمه غزا.

جمال باشا دتر کیی مشر او گرزنده وزیر په تفلس کی و وژل سو (۱۳۰۱) دی له کابله تللی و.

عظیم الله خان په ایتالیا کی د افغا نستان سفیر وټاکل سو (۱۳۰۱)

د۱۳۰۱ ش کال دولتی‌وار دا ت ۵۸ملیونه کابلی او مصا رف ٤۰ ملیونه او سپما ۱۵ ملیونه وه.

۱۹۲۳ م ۱۳۰۱ ش

امانیه مکتب (استقلال) په کابل کی افتتاح سو (جنوری ۲۳)

خوشدل خان‌لوی ناب او علی‌احمد خان دمخنی ناظر داخله اواسلم‌خان میر شکار اوعبدالاحد خان مصاحب چی په‌مجا زات بندیان سوی ومعاف سول(دلو ۱۳۰۱ فبر وری ۲۳)

دافغا نستان او بلژیك دمودت‌معاهده امضاء سو ه (۲٤ فبرو ری ۲۳م ٥حوت) . د ۱۳۰۱ ش لو یه جر گه په یکشنبه ۷دحوت په‌جلال‌آبادکی‌د۸۷۲ نمایند گانو په شمول‌د اعلیحضرت امان‌الله خان په حضور کی جوړه سوه ، او لومړی اساسی قانون ئی ومانه چی په جوزا ۱۳۰۲ش ۱۰ اپریل ۲۳م چاپ اوخپور سو .

له کابله دډکی ترشرقی سرحده پوری دتلگراف لین‌جوړاودهند سره ونښت (حوت ۱۳۰۱)

(۱۹۲۳ م ۱۳٤۱ر ٤۲ ق)
دنفوسو دعسکری اجباری جلب

نظا منا مه نشر سوه. (حمل ۲)

دافغا نستان او انگلستان تجارتی معا هده امضا سوه (سرطان ۲ ـ جو لائی ۲۳)

فیض محمد خان دوزارت‌معارف‌په وکالت مقرر سو (سر طان ۲ شس جون ۲۳ م)

سید محسن قند هاری لیکوال او عالم پـه قند هـار کی وفـات سو (۱۳ سر طان ۲)

دافغا نستان او برتانیا لو مړی تجارتی قرار داد (۵جون ۲۳)

داستقلال په جشن کی لومړی‌پلا دتیاتر صحنه جوړه سوه (اسد۲)

سلطان محمد خان علی زی پـه زمیندارو کی یاغی سو، وزیر داخله عبدالعزیز خان ئی دسر کو بی‌لپاره راغیء ،هغه ونیول سو اود ډیـرو ملگرو سره اعدام سو.

(سنبله ۲ ستمبر ۲۳)

عبد الکریم خان بار کزی‌دمزارشریف نائب الحکومه سو (سنبله ۲ شس)

دافغا نستان او ایران لو مـــړی معا هده دجمعی په ورځ ۱۵ سنبله ۱۳۰۲ شس دکابل په عید گاه کـی اعلیحضرت امان الله خان اود ایران وزیرمختار اعتلاء الملك خلکو تـه اعلان کړه . دامعاهده په‌تهران کی د سر طان په اوله ورځ ۱۳۰۰ شس ۱۵ شوال ۱۳۳۹ شس ۲۲ جون۲۱م دایران خارجه وزیر محتشم‌السلطنه او افغانی سفیر عبد العزیز خـان امضا کړی وه .

فوشه دفرانسی وزیـر مختار د هند له لاری کابل ته را ورسید او په چهار شنبی ۳میزان ۲شس ئـی خپله‌اعتمادنامه‌تقدیم‌کړه (ستمبر۲۳)

د دار الامان دښار په جوړ ولـو پیل وسو (چهار شنبه ۲٤میزان۲ش ۱۷ اکتوبر ۲۳ م)

هاشم شایق دبخارا پخـوا نـی سفیر چی افغانی تابعیت منـلی‌ود دار التالیف معاون سو (عقرب ۲)

امیر محمد یعقوب خان د امیـر شیر علی خان زوی په هند کی مړ سو (۲۲ عقرب ۲)

داعلیضرت امـان‌الله خـــان او سپه سالار محمدنادر خان تر منـځ فکری اختلاف پیښ سو اود۱۳۰۲ په قوس کی مریض او مستعفی‌سو (نادر افغان)

المانی سفارت په کابل کی‌افتتاح سو (دسمبر ۲۳ جدی ۲)

د ۱۳۰۲ شس کال مالی عا یدات ٦٦ ملیونه مصارف ۵۱ ملیونه‌سپما ۱۵ ملیونه افغانی وه.

دسوات والی میاگل عبد الودود بونیر او چکیسر هم په سوات ورگډ کړل.

په ۱۳۰۲ شس کال دغه دو لتـی نظامنامی خپری سوی :

۱ـ د افـغـا نستان داساسـی تشکیلاتو لو مـړی نظامـنا مـــه (۱۵ جوزا)

۲ـ دمستو فیانو او اعلی سر شته دارانو وظایف (جدی)

۳ـ دسر کاری تحـو یلخانـو د مالونو دخرڅولـو نظا منـا مـــه (۱۵ عقرب)

٤ـ دتیـرو محـاسبو د تصفیی نظا منا مه (۲۰ حمل)

۵ـ دناقلینو نظامنامه (٤ میزان)

٦ـ د مهاجرینو نظامنامه ۱۸سرطان

۷ـ دسر کاری املاکو دفروش نظا منا مه (۱۷ ثور)

۸ـ دمعارفو دنښانو نظامنا مه

۹ـ دقو نسلگریو نظا منامه.

۱۰ـ دمامورینو درخصتی نظامنامه (۱۲ حمل)

۱۱ـ دملکی ما مورینو د استعفا نظا منا مه (۱۵ دلو)

۱۲ـ دتو قیفخانو او محبوسخانو نظا منا مه .

۱۳ـ دتذ کرهٔ‌نفوس او پاسپورټ او تابعیت نظا منامه (۵ جوزا)

۱٤ـ د دار الامان دودانیو نظامنامه (۱۹ اسد)

۱۵ـ دخا نگی مکتبو نظا منا مه (۱٦ سنبله)

۱٦ـ دحا کمانو او ما مو رینود وظا یفو دتفریق نظامنامه (میزان)

۱۷ـ دقطعاتو اود لوازمو د دایرو دکا تبانو دوظایفوتفریق (۳۱میزان)

۱۸ـ دما مـورینـو دمد یریتـو نظا منا مه (۱۰ عقرب)

۱۹ـ دخارجه وزارت دمحا سبی دمد یریت نظا منامه (۱٤ عقرب)

۲۰ـ دحربیه وزارت نظا منا مه (۲۵ عقرب)

۲۱ـ دمدیریت اودفتر اوراق او مدیریت مکتوب‌نظامنا مه(۱۰عقرب)

۲۲ـ دزراعت دما مو رینو وظایف (۲۵ قوس)

۲۳ـ دوکیل التجاره نظا منا مه (۱۹ جدی)

۲٤ـ دلیلیه اداری اعلان نامـه (۲۱ جدی)

۲۵ـ دبلدیو نظامنامه (۲۵ دلو)

۲٦ـدمامور ینو دجزایی محا کماتو اصول (۲۰ حوت)

۲۷ـ دصنایعو دتشویق نظا منامه

۲۸ـ دپغمان دتعمیراتو نظا منامه

۲۹ـ دعمومی جزا نظا منـا مـه (عقرب ۲ اکتوبر ۲۳)

۳۰ـ دنکاح نظا منامه (قوس۲)

۳۱ـ دزراعت دمد یرانو دوظایفو نظا منامه (سه شنبه ۲۲ جوزا ۲)

سردار عبدالحمید خان دوزارت عدلیه وکیل شو (۱۳۰۲)

دتنگی غارو اوسا لنگ دلاروپه جوړولو پیل وسو.

میرزا محمد یعقو ب کابلی تکړه خطاط وفات سو .

مولوی عبد الوا سع دپښتو مر کی رئیس د محا کماتو رئیس سو ، او عبد الرحمن خـان لودین د پښتـو مرکی رئیس مقرر شو.

شیر احمد مخلص جلال آبا دی شاعر امان الغزات دجر نیل شا ه محمود خان لپاره په فیض آباد کی منظوم کیء (۱۸ محرم ٤٢ ق)

پرنگیانو دوزیر ستان زر مـــك ونیویء.

۱۹۲٤ م ۱۳۰۲ ش

لوی لینن په ۲۱ جنوری ۲٤ = ۱ دلو ۱۳۰۲ په مسکوکی مړ شو،او په افغانستان کی دده پر فقـــدان د تأسف مجلس جـــوړ ســـو او د شوروی دولت دخلکو دهمـــدر دی تشکر وکیء (۳ دلو ۱۳۰۲)

لومړی مستو راتو شفا خا نـــه په کابل کی جوړه ســـوه (دلو۲ جنوری ۲٤)

سر دار محمد ها شم خان نائب سالار دغلام نبی‌خان پر ځای پـــه مسکو کی دافغا نستان وزیر مختار شو (دلو ۲)

دهرات داتفاق اسلام جریدی‌نوم په فریاد تبدیل او صلاح الـد یـن سلجوقی ئی مدیر سو (دلو ۲فروری ۲٤)

اعلیحضرت امان الله خان دلینن پر مرگ دتاء سـف او همـد ردی تلگرام کالینن ته‌وا ستاوه (۹فروری ۲٤ دلو ۲)

دسیا سی علوم‌و مدرسه په خارجه وزارت کی افتتاح سوه (حوت۲)

دبلژیك سره دافغا نستان سیاسی روابط ونښتل (حوت۲)

دمزار شریف داتحاد اسلام‌جریده په ۱۵حوت ۲وتړلـــه سوه اوپـر ځای‌ئی دبیدار جر یده نشر سو ه (حوت۲)

محمـــد ولـــی خـــان دسپه سالار محمد نادر خان پر ځای وزیر حربیه سو (پنجشنبه ۲٤ حوت۲)

په کابینه او لوړو رتبو کی داسی نوی مقرری وسوی (حوت ۱۳۰۲ش)

محمد ولی خان وزیر خارجه ـ وزیر حربیه سو.

سر دار محمود بیگ خان طرزی دپاریس افغانی سفیرـ بیا وزیـر خارجه سو.

غلام محمد خان وزیر تجا رت ـ وزیر داخله سو.

سر دار حیات الله خان وزیـر معارف ـوزیر عدلیه سو.

سر دار فیض محمد خان دمعارفو وکیلـ وزیر معارف سو.

عبد الهادی خان د لند ن افغانی سفیرـ وزیر تجارت سو.

سر دار شیر احمد خان د رومـا افغانی سفیر ـرئیس شورا شو .

زمان الدین خان دکابل وا لـی ـ دهرات نائب الحکومه شو.

محمد سرور خان د داخله وزارت وکیلـ دفراه‌اعلی حاکم شو.

غنه مشر حبیب‌الله خان دوزارت حربیه معین شو.

غلام نبی خان افغانی د مسکـو

سفیرـ دخارجه وزارت معین سو.

سردار عبد الحمید خان د عدلیه وکیلـ دداخله وزارت معین سو.

میرزا محمد ایوب خان سرمنشی ـدمالیی دوزارت معین سو.

علی محمد خان رئیس تدریسات دوزارت معارف معین سو.

میر زا محمد خان دخارجه مستشارـ دتجارت دوزارت معین سو.

۱۹۲٤ م ۱۳۰۳ ش

په سمت جنوبی کی دملاعبد الله او مـلا عبد الرشید له خوا بغاوت شروسو (حوت۲) اومحمد ولی خان وزیر حربیه هلته دبغاوت د مقابلی لپاره ولاړ (حمل ۳) .

په‌کابل کی لو مړی پلا ښار وا لی (بلدیه) جوړه‌سوه (۱٤ حمل ۱۳۰۳

المانی ډیر مستخدمین دهرات او قندهار لـه لاری کابل تـه راغلل. (ثور ۱۳۰۳) .

داعلیضرت امان الله خـــان امـــر صادرکیء چی دقندهار طلوع افغان دی په پښتو هم خپریږی (جوزا ۳ جون ۲٤) .

دآئینه عرفان مجله دمعرف معارف‌پر ځـای د معارفو د وزارت لـه خـوا د دارالتالیف څخه خپـــره ســـوه (جوزا ۳) .

ستارك داتحاد شوروی‌نوی سفیر کابل ته راغی (٤ سرطان ۳) .

دوهمه لویه جرگه په کابل کی دټول افغانستان له نماینده گانو څخه په پغمان کی داعلیحضرت امان‌الله‌خان په‌وینا افتتاح‌سوه (شنبه ۲۸سرطان ۱۳۰۳ ش) دا لویه جرگه داسد په اتمه ختم‌سوه او ۱۹ فقری تصویب سوی .

سردار محمد نادرخان سپه‌سالار اود مخنی وزیر حربیه پاریس تـه پـه افغانی سفارت مقرر سو اوپـه پنجشنبه ۱۹ سرطان ۳ لـه کابله پاریس ته ولاړ .

دپغمان دطاق‌ظفر افتتاح(پنجشنبه ۱۹ سرطان ۳) .

عبدالعزیز خان داخله وزیردحرب دوزارت پـه و کـالت مقـرر ســو (اسد ۳) .

په‌کابل‌کی دوزارت‌حربیه‌له‌خوادسمت جنوبی‌دخبرودخپرولولپاره‌د(حقیقت) روزنامه دبرهان‌الدین کشککی پـه مدیری تا سیس سوه (چهار شنبه ۲۲ اسـد ۱۳۰۳ ش ۱۹۲٤ م) دا روزنامه یوکال‌تر ۱۳۹ شماری‌پوری نشریده .

دسمت جنوبی دعلماوو نوی‌بیعت نامه پادشاه‌ته راورسیده (۲۸سنبله ۳ش اگست ۲٤ م) .

دعمومی جزا لو مړی نظا منامه بشپړه خپره سوه (۱ میزان ۳) .

افغا نستان لو مړی پلادوی‌طیاری رانیولی (اسد ۳) او بیایی‌له‌شوروی روس څخه ٥ طیاری رانیولی، چی‌په چهار شنبه ۹ میزان ۳ کابـل تـه راغلی .

د سمت جنوبی یاغیانو ته د اعلیحضرت امان‌الله خان وروستنی داخطار فرمان له طیارو څخه خپور سو ۱۳ میزان ۳ ستمبر ۲٤ م) .

محمودطرزی وزیرخارجه‌له پاریسه کابل ته راغی (۱۳ میزان ۳) .

دبند غازی دجوړولو کار تمام‌سو چی لس زره جریبه مځکه اوبوی . مصرف یی (۲٤۰ر۷۲۰) کابلی دی. افتتاح یی په ۲۳ عقرب ۳ وسوه .

دکابل موزیم افتتاح سو (دوشنبه۲۵ عقرب ۳)

افغانی قونسلخانه په‌مرو کی افتتاح سوه (دوشنبه ۹ قوس ۳) .

د هرات نائب الحکومه میر زمان الدین خان په هرات کی‌په مفاجات مړ سو (پنجشنبه ۱۹قوس ۳ش ۱۲دسمبر ۲٤م)

چیچرین دشوروی دولت خارجه وزیر دافغانستان سفیر سردارمحمد هاشم خان ته اطلاع‌ورکړه چی دکشك ـ هرات ـ قندهار ـ کابل دتلگرام دلین په جوړولوکی‌فنی او دسامان امداد کوی (۱۰ دسمبر ۲٤م قوس ۳)

دسپه‌سالار غازی محمدنادر خان د ۱۳۰۱ ش یادداشتونه د رهنمای قطغن وبدخشان) په‌نامه په کابل کی دمولوی برهان الدین کشککی په اهتمام چاپ سول ٤٥٦ مخه د نقشواو جدولو سره.

(کابل دوزارت حربیه سنگی مطبع اول جدی ۳)

ـ۱۹۲۵م ۱۳۰۳ش

دافغا نستان دمطبو عاتو لو مړی نظامنامه خپره سوه (۱۰ جدی ۳ ۱جنوری ۲۵م) دا قانون ۱۸مادی لری .

دکابل درو ښا نولو لپاره دتنویر شرکت جوړ سو (جدی ۳)

محمد ابراهیم‌خان دمخنی وزیر عدلیه دهرات نائب الحکومه او عبدالر حمن خا ن بار کز ی ئی فرقه مشر سو (جدی ۳)

عبدلکریم دامیریعقوب خان زوی چی دانگریزپه لمسون ئی دسمت جنوبی په بغاوت حصه اخیستی وه ، هندته‌و تښتید ،دسمت جنوبی نه میاشتی اغتشاش خلاص سو،

ملا عبدالله او ملاعبدالر شیدونیول سوه او کابل ته راوستل‌سوه (دلو ۳)

عبدالکریم رنگون ته ولاړ اوهلته د مولوی یارمحمد تره‌کی په لاس ووژل سو.

دبی وزلانو داداری لومړی‌لایحه‌د پاد شاه په امضاء نشر شوه (۸دلو ۳ ش ۲۹ جنو ری ۲۵ م)

شجاع الدوله دافغانستان وزیر مختار لندن ته ولاړ (۸ حوت ۳)

وزیرواومسیدود پرنگی دانی‌تنگی پر کیمپ حمله وکړه او اته سوه سپاهیان او۱۳ منصب داران ئی ور ووژل.

دپښتوپښتویه (گرامر) په کابل کی دپښتومرکزی‌چاپ‌کړه ۱۳۰۳ش.

پرنگیانو په تمن او تره کی‌دوزیرو او مسیدو پر لښکر حمله وکړه چی ۳٤۰۰ تنه سپا هیان او (۲۳) افسران یی پکی مړه سول او څلور سوه غازیان شهیدان سو ل.

د ۱۳۰۳ ش کال مالی‌عایدات ۷۵ ملیونه کابلی ، مصارف ٦۸ملیونه سپما ۷ میلیونه وه.

۱۳۰٤ ش

۱۹۲۵ م ۱۳۰٤ش ۱۳٤٤ ق

میرزا فقیر دهرات نقاش‌وفات سو

مولوی عبدالراز ق اندړ عالم ا و سیاسی مجا هد په‌کابل کی ۳ ٦ کلن وفات سو (جمعه ۱٦ رمضان ٤۳ ق ۲۲ حمل ۱۳۰٤)

میرزا عبدالطیف منشی او مستوفی په کندهار کی وفات سو یکشنبه ۲۹ حمل ٤ ش ۲۵ اپریل ۲۵م)

مکتب امانی (چی المانی ژبه پکښی زده کیږی)دډاکتر ایوان په‌ریاست په‌کابل کی جوړ شو (۲۵ ثو ر ۱۳۰۳ ش)

علی احمد خان بارکزی دکابل والی سو (جوزا ٤)

ملا عبدالله‌لنگ اوملاعبدالرشید او ٥٤ نور اشرار چی دسمت‌جنوبی په‌بغاوت کی گرفتار سوی وو په دوشنبه ٤جوزا ۱۳۰٤ ش ۲٦ می ۲۵ م دکابل په سیا سنگ کی ووژل سوه.

په‌پرنو ایتالوی مستخد م چی پو افغا نی پو لیس یی وژلی و په دار وځړ و ل‌سو (دو شنبه٦جوزا ٤ش ۲۸ میی۲۵ م) دایتالیاحکومت ددی واقعی په‌باب کی یوه نوټه افغانستان ته ورکړه او منا سبات یی‌خړ کړل .

دقند هار مشهور واعظ اومفسر ـ علی محمد اخند زاده تو خی وفا ت شو (شنبه ۹ اسد ٤ش ۱۷ اگست ۲۵ م)

میر زا محمد یحیی دمحمد علی زوی کابلی شاعر ۷٦ کلن په‌کا بل کی وفات شو (۲۳ اسد ٤ش ۲ ٤ محرم ٤۳ ق) دی دفارسی شعر دیوان‌لری او ولادت یی ۱۲٦۷ق‌وو.

دشوروی اتحاد له سر حده تر هراته دشوروی دولت په امداد د تلگراف لین جوړ شو (سنبله ٤ ستمبر ۲۵ م) اما نالله خا ن قند هار ته په تفتیش ولاړ(دوشنبه ۱۹ میزان ٤ تردوشنبی ۲٤عقربه پور ی) لوی ناب خوشدل خا ن‌په کابل‌کی وفات‌سو(شنبه ۱۵عقرب٤)

اعلیحضرت امان الله خان وزا رت معارف‌ته امر و کړ. چی د پښتو ژبو هلکا نو لپاره په پښتو تعلیم سی .(پنجشنبه ٤قوس ۱۳۰٤ ش)

شوروی روسی عسکرو پر در قد

باندی تجاوز وکی (۲۷ قوس ۱۳۰٤ ش).

مگر د حکومت د اقداماتو په اثر یی بیر ته په ۱۵ ددلو تخلیه کیء ا و افغانی عسکرو ته یی وسپاره .

په قند هار کی ښاروالی (بلدیه) تاسیس سوه (قوس ۱۳۰٤ ش) او لومړی ښاروال عبدالر حمن لودین و .

ملا عبدالبا قی کا کړ قندهاری متخلص په افغا ن دپښتو تبیین الوا جبات لتخریب العا دات نا ظم په قند هار کی وفا ت سو (٦ دلو ٤)

۱۹۲٦ م ۱۳۰٤ ش ۱۳٤٤ ق)

سردار محمد یوسف خان په هندکی وفات او په جمعه او ل حو ت ٤ د لغمان دمهتر لمک په هدیره کی ښخ سو.

د عشر ی نظا م دمیا سا تو **(تول، سکی، ظول) سیستم جار ی** سو او قا نون یی نشر سو ا و پخپله پادشاه په شنبی ۲۹ حوت ٤ رسما اعلان کیء.

دافغا نستان او آلمان د مو د ت معاهده (۳ مارچ ۲٦ م ۱۲ حوت ٤) د ۱۳۰٤ ش کال گرده ما لی عایدات ۸٤ میلونه کابلی، مصارف ٦۰ میلونه، سپما ۲٤ میلو نه وه.

۱۹۲٦ م ۱۳٤۵ ق

اعلیحضرت امان‌الله خان سمت مشرقی ته په رسمی سفر دتفتیش لپاره ولاړ (۵ ثور).

لو مړ ی ډله افغا نی ضابطان دعسکری زده کړ ی لپاره ترکیی ته ولاړل (۱۸ ثور ۵) سر دار شاه‌محمود خان د سمت مشرقی اعلی حاکم شو (۱۸ جوزا ۵) دتعطیل ورځ له جمعی څخه پنجشنبی سوه (٤ سرطان ۵) .

اعلیحضرت امان‌الله خان د امیر د لقب پر ځای (شاه)وبلل شو (۷ جون ۲٦ سر طان).

ددر قد دجز یر ی مشترك (افغان ـ شوروی) کمیسیو ن خپلی مذاکری خلاصی کړی ، او هغه جزیره بیرته افغا نستان ته وسپارله سوه (سه‌شنبه ۲۵ اسد)

په بغمان کی دعلم وجهل دجنگ دپغمانی شهیدانو ځلی جوړ سو ، (شنبه ۳۰ اسد ۵) .

دافغانستان او المان دمودت معاهد ه ٤ مادی یو پروتو کو ل‌چی په ۱۲ حوت ۱۳۰٤ ـ ۳ مارچ ۲٦ م به برلین کی امضا شوی وه په پغمان کی تصدیق‌سوه(۲۲ سنبله ۱۳۰۵ ش).

دافغانستان او شوروی روس‌تر منځ دبیطر فی او عدم تجا وزمعاهده (۷) مادی په پغمان‌کی دوزیرخارجه محمود طرزی او لیو نید ستارك شوروی سفیر له خوا امضاء سوه (۳۱ اگست ـ ۲٦ م سنبله ۵) په مجلس وزرا کی فیصله‌وشوه چی په‌حجاز کی دافغانی حاجیا نو لپا ره یوتاتوبی جوړ سی (۲۲ میزان) .

سر دار محمد نادر خان دافغا نستان له سفار ته‌په‌پاریس کی‌استعفاوکړه (۳۰ نومبر ۲٦م)او پر ځا ی‌یی غلام نبی خان په سفارت مقررسو.

دبر تا نیا دسفارت سره په کابل کی موافقه وسوه چی و یزه دی وړیا او بی قیمته وی (۲۲عقرب اعلیحضرت امان‌الله خان قندهار ته په رسمی تفتیشی سفر ولاړ(۲شنبه ۱٦ـ۱۷ عقرب ۵ ش) .

دزاړه قندهار لوی ډبرین لوښی (دبودا کچکول) دپادشاه په امر د کابل موزیم ته‌یو وړ سو (قو س ۵ش) ددی زاړه شی فارسی نستعلیق نوشتی په ۹۱۹ ق‌لیکای سوی او وقف نامی دی .

۱۹۲۷ م ۱۳۰۵ ش ۱۳٤٦ ق

اعلیحضرت امان‌الله خان د سمت مشر قی په رسمی سفر ولاړ . (چارشنبه ۲۸ جدی ۵) .

دفرانس نوی وزیر مختاراوسفیر کوستاف مار سلفت خپله‌اعتمادنامه وړاندی کړه (کابل ۱٦جدی ۵) .

په هرات کی ددیزلی بر یښنا کارخانه افتتاح شو ه(۲۷دلوه۵)

علی محمد خان دافغانستان وزیر مختار روماته ولاړ (جمعه ۱۵دلوه۵)

انگریزانو دمیان گل په وسیله سوات اشغال کیء چی پر پښتنو قبایلو او افغانستان یی‌بداثرو کیء

ملامحمد صا فی لغمانی دپښتو شاعر اوعرض بیگی (افغانی‌نویس) په‌کابل کی وفات شو .

قاضی میر احمد شاه رضوا نی په پیښور کی دپښتو گرامر (وافیه)

۱۲ مخه تالیف‌اوچاپ کړه(اردو) له پرنګیانو سره دمو مندو خلرمه غزا د حاجی ترنګزی په مشر ی .

په افغا نستان کی دکا بلی روپی پرځای افغا نی (۱۰۰ پوله) رواج سو ه .

په ۱۳۰۵ ش کال دغه دو لتی نظام‌نامی خپری سوی :

۱ ـ دعسکری رتبو نظا منامه.

۲ـ دعسکری‌داخلی خدماتو نظامنامه

۳ـ دتعلیقات دولت نظامنامه .

٤ـ دآمرانو او ضابطانو د تعلیم گاه نظا منامه (۲۹ سر طان).

٥ـ لایحه‌مساکین (۱۱ عقر ب)

٦ـ آذوقه (۲۲ جدی) .

۷ـ دیتیمانو تر بیه (۲۳ جد ی)

۸ـ د سمت شمالی دنهر رزاق نظا منا مه (۲٦ دلو)

۹ـدوزارت‌معارف‌اساسی‌نظامنامه (٥ دلـو)

د۱۳۰٥ ش کال ټول دولـــتـــی واردات ۷۲ ملیو نه افغانی، مصارف ٥۰ملیونه ، سپـــما ۲۲ ملیونه وه.

(۱۹۲۷ م ۱۳٤٦ ق)

دکابل په خواجه ملاکی دپیله کا ری دعمار ت تـــهداب کښیښول ســو، (۲۸ حمل ٦) .

دراديو اداره دکابل په دلکشاکی دوزارت داخله له‌خوا جـوړه سوه (حمل ٦) وروسته دجوزا په‌میاشت کی کوتی لندنی ته نقل سوه .

علیحضرت امان‌الله‌خان دسلطان عبدالعزیز بن‌سعود په‌نامه یومکتوب راستاوه چی په حجاز کی افغا نـی حاجیانو ته د دینی مناسکو آزادی ورکی او اسلامی مقدس ځـایو نـه محترم وساتی (حمل ٦) .

دکابل را دیو خبر ورکیء چی د دریمی لویی جرگی دانعقاد فرمان د رئیس شورای دولت په‌نامه صادر سو چی په ۱۳۰٦ یا ۱۳۰۷ ش کی لو جر گه وسی(ثور٦).

دانیس دهفتگی جریدی تاسیس دغلام محی‌الدین انیس‌له‌خوا په‌کابل کی (۱٥ ثور ٦ ش ٥می ۲۷) .

عبدالعلی مستغنی دکابل مشهور شاعر خپله منظومه بهار نامه گلزار مستغنی دعبدالحی قنـد هاری پـه غوښتنه وویله (۲۸ثور ٦) .

اعلیحضر ت امـان الله خـان د مزار شریف دتفتیش لپاره‌په رسمی سفرولاړ (سه‌شنبه ٦ثور تردوشنبی ۲۳ جوزا ٦ پوری) .

عبدالرحمن لودین دقندهارښاروال دکابل دگمرك مدیرسو (جوزا ٦).

دطیاری الوزولو دزده کړی‌لپاره (۱٥) تنه محصلان‌فرانس ته‌واستول سوه (٤جوزا ٦) .

مهمندو قبیلو د شبقدر پرانگریزی سرحد باندی حم لـــه و کړه او انگریزی طیارو دوی بمباری کړه. (۱۲ جوزا ٦ش ٤ ذیحجه ٤٥ ق) .

دجرایمو لپاره د شرعی محکمو نظامنامه خپره سوه (۳۰ جوزا ٦).

اعلیحضرت امان‌الله خان سمت جنوبی (پختیا) ته ولاړ (اسد ٦) .

د ترکستان نوم دمزار په ولایت تبدیل سو (۸ اسد ٦) .

دکابل په بوستان سرای‌کی اعدادی مکتب دپادشاه په وینا افتتاح سو (۱٥ سنبله ٦) .

دکابل او گردیز پرلار دتیره‌کوتل سړك جوړ سو (سنبله ٦) .

د اعلیحضرت امان الله خـان د اروپا دسفر دعزمه سره دغه مقرری وسوی :

محمد ولی خـان وزیـر حربیه د پادشاه و کیـل اود خارجه وزارت وکیل .

عبدالعزیز خان دا خله وزیـــر د شورای دولت وکیل .

محمود خان یاور دکابل د والی وکیل .

کالینن د شوروی دولت رئیس، اعلیحضرت امان الله خان تـــه د شوروی دسفر دعوت ورکړ (تلگرام ۲٤ اکتوبر ۲۷م عقرب ۱۳۰٦ ش).

د افغانستان او پولینډ د مـودت معاهده په انقره کی تر تیب سوه (۳ نومبر۲۷ م ۱۰ عقرب ۱۳۰٦ش)

اعلیحضرت امان الله خان په ۷قوس ۱۳۰٦ دکابل له خلکو سره وداع وکړه اود قندهار- بمبئی له لاری اروپا تـه رهی سو، دی پـه ۱۸ قوس له قندهاره چمن ته ولاړ، په ۲۲ قوس په بمبئی - په ۱۰جدی په‌قاهره - ۲۰جدی په‌روما - ۲۹دلو په‌برلین - تر ۲۲ حوت په پاریس کـیو، پـه ۲۳ حـوت ۱۳۰٦ ش ۱۳ مارچ ۲۸م لندن ته ورسید. دا سفر لـه دسمبر ۲۷م تر جولایی ۲۸م پوری و .

د افغانستان او ایران دبیطرفی اوتامینیه‌معاهده ۸ فصله‌په کابل‌کی امضا سوه (٦ قوس۱۳۰٦ ش ۲۷ نومبر ۲٦)

مجموعه صحیه دکابل د مدیریت مستقله‌طبیه‌لخوا نشرسوه.(٦قوس)

د افغانستان او شوروی دهوایی پست موافقه نامه (کابل- تاشکند) دغلام صدیق خان وزیر خارجه او لیونید ستمارك شوروی سفیرترمنځ په ۱۷ مادوکی امضا سوه (۲۸نومبر ۲۷م قوس ۱۳۰٦ ش) .

۱۹۲۸ م ۱۳۰٦ش ۱۳٤٦ ق

د نسیم سحر هفتگی ادبـی او انتقادی جریده داحمد راتب له‌خواپه کابل کی تاسیس سوه (۷ دلو ٦ش ۲۷ جنوری ۲۸) .

د افغانستان او سویس دمودت معاهده دری‌مادی په‌برن کی غلام‌نبی خان دافغانستان سفیر او موتـا د سیاسی دفتـر مـشـر امضا کـړه (۱۷ فروری ۲۸ م ۲٦ دلو ٦) .

دکاکا سید احمد خان قندهاری لودین وفات په کابل کی (۱٤حوت یکشنبه ٦) .

د افغانستان او شوروی جماهیر تخنیکی هوایی موافقه په کابل کی امضا سوه (۱۷ حوت ٦ ش ۷مارچ ۲۸م) .

اعتماد الدوله سردار عبدالقدوس دمخنی صدراعظم په کابل کی وفات سو (چهار شنبه ۲۳ حوت ٦ ش) له پرنگی سره دمومندو پنځمه غزا (٦ ش) .

مولوی تاج الدین دملا محمد طیب **زوی دچار یکارقاضی دتحفة‌الامیرفی** بیان سلوك الملوك والتدبیر مؤلف دکوهدامن دقره‌باغ او سیدو نـکی ۹۸ کلن وفـات سـو (ولادت ئـی ۱۲۰۸ ش) .

تر ۱۳۰٦ ش پوری ددارالامان په ودانیو پـه خلورو کالو کـی (٤۰) ملیونه افغانی مصرف سوی .

د ۱۳۰٦ ش کال مالـی واردات ۸۲ملیونه‌افغانی، مصارف ٦٤ملیونه سیما ۱۸ ملیونه وه .

په دغوکلوکی دافغانستان‌مالیات: په سراجیه دوره کی :

یوجریب آبی مځکه دکاله ٥روپی	
یو اوښ	رر ۳ رر
یو آس	رر ۲ رر
یو غویی	رر ۱ رر
یوخر	رر۱۲ پیسی
یوپسه	رر ۷ رر

په امانی دوره کی:

آبی ۱درجه مځکه۱٦ تر۲۰افغانی	
رر ۲ رر رر ۹ رر ۱٥ رر	
رر ۳ رر رر ٥ رر ۸رر	

اوښ	٤ رر
آس	۳ رر
غویی	۲ رر
پسه	٥۰ پوله

دمواشی نظامنامه ۱۳۰٦

اوښ ۳ر۷۰ افغانی .

آس ۸۰ ر ۱ رر

غویی۹۰ ر

خـر ۹۰ ر

پسه ۲٥ ر

(ریسنر -افغا نستا ن)

دافغانستان عواید او مصارف :

عواید :

مالیات	٥۰ ملیونه
گمرك	٤۰ رر
متفرقه	۱۹ رر
مواشی او صکوك	۱۰
گرده	۱۱۹ ملیونه

مصارف :

دحرب وزارت	٤۰ ملیونه
دربار	۲۰ رر
تعمیرات	۱۰ رر
داخله	۱۲ رر
تجارت	٤ رر
معارف	۱٥ رر
عدلیه	۲ رر
مالیه	۳ رر
گرده	۱۱۳ رر
پس انداز	٦ ملیونه

(افغانستان - ریسنز)

۱۹۲۸ م ۱۳۴۷ ق

دگنو څخه دقندجوړولوکار خانه په ۱۴۲۲۷ پونډه دزانگر هوزن له تجارت خانی څخه دجلال آباد لپاره رانیول سوه چی دورځی ۵ ټن بوره جوړولای سی (۲۳ – اپریل ۲۸م).

دآلمان دلیندی‌مان دماشین‌سازی له‌شرکته سره دافغانستان لپاره د وړیو دانډی کولو کارخانه په ۳۰۰۰ پونډه قیمت‌پلابرلین‌کی قرارداد سوه چی په‌قندهار کی‌ودرول‌سی‌اودورځی اس ټنه وړی انډی کوی (۲۴ اپریل ۲۸م ثور ۷) .

دوړینو کالو دکار خانو رانیولو اودرولو قرار داد په برلین کی د اونیون ماتکس له شر کته سره په ۳۴۰۸۰ پونډه قیمت امضا سوه چی دورځی ۵۰۰ متره پشمی ټوکر او دلاسی (۲۵اپریل ۲۸ م) .

دالمان دهوفمن له شر کته سره د کاغذ جوړولو دکارخانی قرار داد ، په ۳۶۶۵ پونډه قیمت امضاسو، دورځی یو لك تختی کاغذ جوړولای شی . (اپریل ۲۸ م)

د نخی کا لو د کار خا نی‌قرار داد په برلین کی‌په ۲۳۷۲۰ پو نډه قیمت امضا سو چی د ورځی ۴۰۰ کیلو سپنسی باسی او زر متره ټوکر ویی (۲۵ اپریل ۲۸)

دافغانستان او لهستان (پولینډ) د جمهور یت سره دمودت معاهده غلام جیلانی خان په‌ترکیه کی افغانی سفیر او هاتسه دلهستان دسفیر تر منځ ۵مادی تصدیق سوه (ثور ۷ش ۳۰ اپریل ۲۸ م) .

دافغانستان او جنوبی امریکا د لیبریا دمؤدت معاهده (۱۱) مادی په پاریس کی دغلام نبی خان افغانی سفیر اوبارون لیمن‌له‌خوا امضاسوه (ثور ۷ ش ۱۶ می).

اعلیحضرت امان الله خان‌په۱۳ثور ۷ش په ورسا (پولنډ) کی‌و .

دافغانستان لهخوا شیراحمدخان دشورا رئیس دالمانی شرکت سره دلاجوردو انحصاری قرارداد نه‌مادی په بر لین کی امضا کیء چی‌دکاله به ۶۰۰ کیلو اعلی لاجورد هرکیلو په ۲۰پونډه او زرکیلو متو سطلاجورد هرکیلو په ۱۲ پونډه او ۱۵۰۰کیلو دریمه درجه لاجورد هرکیلو په ۵ پونډه اخلی (۱۸ می ۲۸م۲۵ثور۷)

اعلیحضرت اما ن الله خان په مسکو کی دکالینن له‌خوا استقبال سو (۳ می ۲۸م ۱۴ ثور ۷ش) په ۳ جوزا په ترکیه‌کی‌و، به ۹ جون ۱۹ جوزا ۷ ش ایران ته راغی، اود هرات له‌لاری‌په سه‌شنبی ۵ سرطان ۷ پسله شپږنیمو میاشتو مسافرته قندهار ته را ورسیدیء (د سفر مصارف او خریداری گرده ۲۰تر۳۰ ملیونه افغانی) .

محمد سرور خان دسمت مشرقی اعلی حاکم مقرر سو (جوزا ۷) .

دافغان او ترکیی دمؤدت معاهده نه‌مادی دوه پروتو کوله په انقره‌کی غلام‌صدیق‌خان دوزارت خارجه‌وکیل **او توفیق رشدی بیگ دتر کیی** خارجه وزیر لاسلیك کړه (۵ جوزا ۷ش ۲۵ می ۲۸ م) .

دافغان او ترکیی عرفانی قرارداد

دافغانی محصلا نو په باب ٤ مادی امضاسو (۷ جوزا ۷ ش ۲۷ مـی ۲۸ م) .

دافغان او مصر دمودت معاهده څلور مادی او پنځه الحاقیی د افغانستان له خواعلی احمدخان د کابل والی اودمصر له خوا واصف بطرس غالی خارجه وزیر امضاکړه (۱۰ جوزا ۷ش ۳۰مـی ۲۸ م)

دافغانستان ـ ایران،دتامینیه‌ترون٦ قوس ٦ ش‌منضم‌پروتو کول څلور مادی په تهران کی دغلا م صدیق خان دخارجه وزارت دکفیل اوفتح الله‌پاکروان‌دایران دخارجه وزارت دکفیل له‌خوا امضا شو . (۲۵ جوزا ۷ ش ۲۵ جون ۲۸ م–

دمجرمینو دبیرته ورکولو پروتو کول دافغانستان اوایران ترمنځ په تهران کی دلسلوکالو لپاره‌امضاسو (۲۵ جوزا ۷ ش ۱۵ جون ۲۸م)

دافغانستان اوبلژیك عرفانی‌قرار داد دافغانی محصلانو دمنلو لپاره څلور مادی امضا سو (جوزا۷)

افغانستان دالمانی شرکت‌ارنست هامبورگر سره دوړیوپریولو دکار خانی دراوړلو او چلو لو تړون په ۱۷۹۰۰ پو نډ ه قیمت امضا کیء (جوزا ۷ ش)

دافغانستان او فرانس ترمنځ د امانیه مکتب دمحصلانو دمنلوموافقه وسوه چی دفرانس په‌پوهنتونوکی به منل کیږی (جوزا۷)

په۱۷ سرطان ۷ دوزارت دربار له خوادریمی لویی جرگی اعلان صادرسواوپه ۲٤ سرطان‌دقندهار نائب الحکومه ته په تیلفون کی وویل سوه چی ٦ تنی ښځی‌نمایند گانی هم کابل ته راولیږی‌چی‌دملکی سره جرگه سی.

دافغانستان او فنلنډ دمؤدت‌معا هده (۱۷ ژویه ۲۸م ۲٦ سرطان ۷)

دنوروز هفتگی جریده په کابل کی نشر سوه (اسد ۷)

د افغانستان د طیاری جمعیت جوړ او مرامنامه ئی خپره سوه (۸ سنبله ۷) .

د فرانسوی دو و شرکتو سره د افغانستان د شمال تر جنوبه د ریل جوړ ولو قرار داد (سنبله۷)

د استقلال او تجدد د گونـد مرا منامه‌دپادشاه له خواخپره‌سوه (۲۰ سنبله ۷) .

شاغاسی محمد سرور خان (بابا) په کابل کی وفات سو .

په کابل کی تور – سور – زرغون ـ کلوب جوړ سو (۲۲ سنبله ۷) .

دریمه لویه جرگه په پغمان کی په چارشنبه ٦سنبله ۱۳۰۷ش‌دپادشاه‌په وینا د زرو تنو وکیلانو په مخ کی افتتاح سوه . او دغه مهم تصاویب یی وکړه: (۱) شو رای دولت په شورای ملی تبدیل سوه .

(۲) د مجازاتو عفو یوازی د پاد شاه حق دی . (۳) د تفتیش عمومی دیوان تأسیس سو (٤) هر **وزارت به دتفتیش یوه‌دائره ولری** (۵) د بی وزلانو او لیونیانو لپاره ټاټوبی جو ړول.(٦)دعسکری‌مکلفیت

دوره دری کاله‌سوه . (۷) دعسکری مکلفیت نقد بدل ممنوع سو (۸) ټول نښانونه لغو سول .

(۹) ملکی رتبی لغو سوی . (۱۰) ټول رسمی القاب لغو سول فقط د عزیز کلمه په له نومو سره لیکی .

(۱۱) په نظامنامو کی دی دهر جرم جزا و ټاکله سی. (۱۲) نقدی جریمه دی هم د یوی نظنا منا می سره سمه اخیستله سی . (۱۳) تجارتی اونوری عصری محکمی دی جوړی سی .

(۱٤) تدریس او وعظ په شهادت نامه پوری مربوط دی د د یو بند ملایان افغا نستان ته تسی را تلای

(۱۵) دافغا نستان پنځلس کلنی سالم خلک دی هر کال پنځه افغانی او مامورین دی دیوی میا شتی تنخواه د عسکری وسلو د رانیولو لپاره ورکوی ، ددی بسپنی لایحه دی شورای ملی جوړه کړی .

(۱٦) شورای ملی دی درشوت د بندولو لپاره لایحی جوړی کړی. (۱۷) که مجرم محکمی ته حاضر نشی دده په غیاب کی دی جزا ورته وټاکله سی ، او قانون دی شورای ملی جوړ کی . (۱۸) شهزاده رحمت الله خان ولیعهد سو. (۱۹) د افغانستان د بیرغ رنګ تور ـ سور ـ زرغون و ټاکل سو ، چی پر غرو د لمر ختو منظر ولری او دورا دور ئی دغنمو وږی وی ، لوړ (الله ـ محمد) پرلیکلی وی . (۲۰) پسله هروپنځو کلو به لو جرگه جوړیږی .

د ۱۳۰۷ ش کال مالی مصارف ٦۹ ملیونه وه د اغتشاش په سبب مالی وار دات وته ټاکل سوه .

د ۱۳۰۷ د سنبلی په میاشت کی د افغانستان د هوا بازی محصلان په خارج کی دونی وو : ۲۵ تنه په روسیه شوروی کی ، ۱۵ تنه په فرانسه کی ، ۲۵ تنه په ایتالیا کی .

له ۱۳۰۲ تر ۱۳۰۷ ش د سنبلی تر میاشتی‌پوری افغانستان دخارجی دولتو سره دغه معاهدی کړی وی:

(۱) د شوروی سره د بیطرفی او عدم تجاوز ترون (۲) د ایران سره د بی طرفی او د تامین ترون (۳) د ایران سره د سر حدی مناز عاتو دمختلطو جرگو ترون (٤) د پیښور او کوټی د افغانی ویزی د دفترونه (۵) د جنوبی امریکا دلیبر یا سره معاهده (٦) د سویس سره معاهده (۷) د پولنډ سره معاهده (۸) د جاپان سره معاهده (۹) له ترکیه سره د مودت معاهده (۱۰) د مصر سره معاهده (۱۱) د ایران سره دتامینیه معا هدی پرو تو کول (۱۲) د حقوقی مجر مینو د استرداد ترون له ایرا نه سره . (۱۳) د فنلاند سره معاهده (۱٤) د ترکیه سره قونسلی موافقه (۱۵) په‌ترکیه ـ ایران ـ شوروی روسیه کی د افغانستان وزارت مختاری په لویو سفارتو وا وښتی . (۱٦) دیمن سره دسیاسی روابطو مذاکره (۱۷) دحجاز سره د سیاسی‌روابطو

مذاکره (۱۸) دچین سره د سیاسی ارتباط مذاکره (۱۹) د برتانیا سره دسر حدی اتباعو دمالی او ځانی تلفاتو د بند ولو لپاره د یوه گډ کمسیون موافقه .

دامیر حبیب‌الله خان په وخت‌کی دمعارفو مصرف ٦۰ زره روپی و په ۱۳۰۷ ش کی ۱۵۰ لکو ته ورسیدیء .

له ۱۳۰۳ تر ۱۳۰۷ پوری ۳۲۲ مکتبونه نوی جوړ سوه او په دغو څلورو کاوکی ٤۸۲۳ تنه له‌ابتدایی مکتبو څخه فارغ سوه ،له عالی‌مکتبو څخه ۱۵۸ تنه راووتل، ۱۵۱ تنه شاگردان خارج ته واستول سول، ۱۷ تنه فارغان له خارجه راغلل .

د ابتدائی مکتبو شاگردان تر ۱۳۰۳ پوری ۱۹۰۰۰

تر ۱۳۰٦ پوری ۳٦۰۰۰

په ۱۳۰۷نوی داخل‌سوه ۱۵۰۰۰

ټوله‌په ۱۳۰۷ ش‌کال ۵۱۰۰۰

ابتدائی معلمان ٦۵۰

دعالی مکتبو محصلان په ۱۳۰۷ ش ۳۰۰۰ .

په ۱۳۰۷ ش عالی مکتبو ته‌نوی داخل شوی شا گردان ۱٦۰۰

دعالی مکتبو دمعلمانو شمیر پـ ۱۳۰۷ ش ۱۰۰ .

دوزارت معارف‌تالیف‌کړی کتابونه ۱۳۳ جلده د وزارت معارف چاپ کړی کتابونه‌له ۱۳۰۳ تر ۱۳۰۷ش ۵۷۵ ر ٦۹۳ جلده.

لـه ۱۳۰۳ تر ۱۳۰۷ ش پـوری گمرکی واردات اضافـه سوی دی (٦۵۱ ر ۰۲۷ر۳۲) افغانی .

تر ۱۳۰۷ ش پوری دغه تجارتی شرکتونه جوړ سوی وو.

شرکت المان ـ شرکت تنویرات شرکت موتر رانـی ـ شرکت دوا فروشی ـ شرکت رفقای افـغان ـ شرکت تشویق افغان ـ شرکت‌اتحاد افغان په کابل کی. شرکت قمر په مزار شریف کی ـ شرکت ضیا په قندهار کی .

په ۱۳۰۷ ش دغه کارخانی وی ـ

(۱) د موټرو د ترمیم او پـرزو کارخانه .

(۲) دصابون او عطرو اوواسلین کارخانه .

(۳) دسمنټو کارخانه .

(٤) د اور لګیتو کار خا نه پـه کابل کی .

(۵) دیخی جوړولو کار خانه پـه قندهار کی .

(٦) دکالـکو او غوړو او صابون کارخانه په مزار شریف کی .

(۷) دسپنهسو جوړولو فابریکه په هرات کی .

(۸) داوړو ژرنده پـه انـد خوی کی .

په ۱۳۰۷ ش دغه کار خانی پـه پلان کی ټاکل سوی وی.

(۱) دقند کارخانه .

(۲) دکاغذ جوړ ولو کار خانه .

(۳) دنخی ټوکرانو کارخانه .

(٤) دپشمی ټوکرانو او کشمیری کارخانه .

(۵) دغوټو کارخانه .

(٦) دمیوی ساتنی کارخانه .

(۷) د پـیو او کوچـو او پنیر کارخانه .

(۸) داوبو کښلو اوتیل‌خاک‌ماشین

په ۱۳۰۷ ش دالمان ـ پولنډ ـ شوروی سره تجارتی او ترانزیتی تړونونه سوی‌وو .

په ۱۳۰۷ ش‌دکابل‌دبر ینبناتنویر ۱۸۰۰۰ خراغوته ورسیدی .

تر سنبلی ۱۳۰۷ ش پوری ۲٦٦ کیلو متره لارپخه سوه .

دمملکت مالی عایدات که‌په ۱۳۰۳ کی پنځه وه په ۱۳۰۷ کی اته‌سوه دامیر حبیب الله تر وخت دوه چنده سوی دی .

له ۱۳۰۲تر۱۳۰۷ ش پوری ٤۹۱ کانونه کشف سول.

په سمت جنوبی کی دځنگلو ریاست جوړ سو.

دطبابت قانون خپور سو چی بی اجازی ئی څوك نسی کو لای.

دافغانستان دملی شورا دانتخاباتو نوی قانون (٥۱) مادی خپور سو (۷ سنبله ۷).

دافغانستان دولایاتو دجرگو قانون ٤ مادی خپور سو (۱۱ سنبله ۷).

له ۱۳۰۳ تر ۱۳۰۷ ش پوری د افغانستان په روغتو نو کی : ٦۳۳۷ جوړ شوی نارو غان .

٥۳۳۰٦۳ تنه کتل سوی نارو غان.

۱۱۲۷۰کوچنیانوته‌دکوی رگ وهل.

٦۱۰ مړه .

دپښتون ژغ ٥۱وږ ځنی مجله په کابل کی نشر سوه ۱۳۰۷ ش.

افغا نستان په ۱۳۰۷ کال ٥۰۰ر ۳٥ توپکه (۱۰٦) توپه (۸) طیاری (٥) زره پوشه (٦)مترالیوز (٦) ټانکه را نیول.

په مزار شریف‌کی دبی سیم تلگراف مرکز جوړ سو . دخان آباد ـ میمنه ـ خوست لپاره‌دتلگراف دستگاهونه را نیول سوه اود کابل دتلگراف او بی سیم لوی دستگاه را نیول سو . (۱۳۰۷)

د۱۳۰۷ ش په سفر کی اعلیحضرت امان الله خان په پاریس او برلن کی دغه فابریکی را نیوی :

(۱) دوړیو ور یشلو فابریکه.

(۲)د کشمیری‌اودلو فابریکه .

(۳) دخړسان اودلو فابریکه .

(٤) دکوره جیم اودلو فابریکه .

(٥)د غوټو جوړ ولو فابریکه .

(٦)د میوی ساتنی ماشین .

(۷)د کوچو ماشین .

(۸)د زراعت ماشین .

(۹)د فولادی کار ماشین .

(۱۰)د دور بینو ماشین .

(۱۱)د طیارو ماشینونه .

(۱۲) دجراحی آلات.

دافغا نستان نوی لوی سفیر غلام جیلانی خان خپله اعتماد نامه دترکیی دجمهور رئیس ته وړاندی کړه (۲میزان ۷)

محمد سرور خان بارکزی دقند هار نایب الحکومه دکابل والی سو، او پر ځای یی عبد الکریم خان بارکزی دقندهار نایب‌الحکومه سو(۳میزان۷)

محمد ولی خان ته دعلاج لپاره د اروپادتگ رخصت‌ورکړسو(عقرب۷)

محمود طرزی داستراحت لپاره له کاره سبکد وشس سو، او پر ځای یی غلام صدیق خان خارجه وزیر سو (عقرب ۷)

احمد علی خان دمخنی افغانی د بر ان سفیر دکابل رئیس بلدیه‌سو (۱عقرب ۷)

د شنوارو سنگو خیلو لومړی‌پلا بغاوت شروع کیء (سه شنبه ۲۱ عقرب ۷) محمد گل خان دسمت مشرقی عسکری قوما ندان دوی ته اخطار ورکیء چی له بغاوته لاس واخلی (نومبر ۲۸م)

یاغی قبایلو جلال آباد محا صره‌کیء (جمعه ۷قوس۷)

سید محمد عمر پیله کش دمیر عبد الر حمن خطاط لمسبی، چی یو خطاط او هنری سړی و، په هرات کی سل کلن وفات سو.

دستوری په مانی کی اعلیحضرت امان الله خان خپل نوی پرو گرام اعلان کیء اود ښځو نقاب یی وا خیست، (۱٥ میزان ۱۳۰۷ م) په دغه مجلس کی افغانی نجونی د تعلیم لپاره ترکیی ته وا ستولی سوی، اوپه قبایلو کی خورا بد اثر خپور سو.

بچه سقاو او سید حسین او د دوی ملگرو په سمت شمالی کی ارتجاعی بغاوت وکیء اواحمدعلی خان هلته رئیس تنظیمیه سو (۱٥ قوس ۷ش دسمبر ۲۸م)

اعلیحضرت امان الله خان په یوه اعلان کی ۱۸ فقری دخلکو خواهشونه ومنل (۲۹ قوس ۱۳۰۷ ش ۸رجب ۱۳٤۷)

والی احمد علی خان دقوس په میاشت ۱۳۰۷ سمت مشر قی ته رئیس تنظیمیه سو، خود جدی په میاشت یی هلته پخپله د پادشاهی اعلان وکیء.

دقوس ۱۳۰۷ ش په آخر کی دسمت مشرقی او سمت شما لی بغا وتونه وخیم سول، اوداعلیحضرت امان الله خان مور او ملکه او نوره کورنی دغلا م‌صدیق‌خان وزیرخارجه او حسن جان سره په ٤ طیارو کی قند هار ته راغله (جمعه ۲۹ قوس ۱۳۰۷ ش)

علی احمد خان دسمت مشر قی رئیس تنظیمه په اداره کی نا کا م سو، په کابل کی دمجلس اعیان افتتاح اعلام سوه (جدی ۱۳۰۷ ش)

دبچه سقاو حملی پر قلعهٔ مرادبیگ اوباغ‌بالاجاری وی(۷ جدی۱۳۰۷ش)

پر پغمان هم بچه سقاو حمله وکړه (۸جدی) طیارو اشرار بمباری کړل، داجنگونه تر ۲٤ جدی پوری جاری وو او په همدغه ورځ امان الله خان کابل پریښو او قند هار ته ولاړ.

غلام نبی خان دافغا نستان نوی لوی سفیر ماسکو ته ور سیدیء (۲جدی ۱۳۰۷ ش ۲۳ دسمبر۲۸)

سلطان احمد خان لوی سفیرخپله اعتماد نامه په تهران‌کی اعلیحضرت

رضا شاه پهلوی ته وړانـدی کـړه (جدی ۱۳۰۷ ش) .

۱۹۲۹ م ۱۳۰۷ ش ۱۳٤۸ ق

جنرال کاظم پاشا داتـو نـو رو ترکو منصبدارانو سره دهنـد لـه لاری قند هار او بیا کابل‌ته‌را غلل (شنبه ۱۵ جدی ۷) .

دوولسو انگریزی طیاروانگلیسی اتباع له کابله پیښور ته بو تلـل ، (۳ جدی ۷) .

امان‌الله خان له سلطنته استعفا وکړه اوپه ۲٤ دجدی قندهار ته‌ولاړ پرځای‌یی مشر ورور عنایت‌الله خان پادشاه سو، مگر بچه سقاو ارگ محا صره کیء او په جمعه ۲۸جدی ۷ دوی انگریـزی طیاری راغلی او عنایت الله‌خان دخپلی کورنی سره په هغو کی پیښور ته ولاړ، پخپله حبیب‌الله بچه سکقاو دخادم د یـن رسول الله‌په نامه امیر ـسیدحسین نایب السلطنه او وزیـر جنـگ ـ عطاالحق وزیر خارجه ـ عبدالغفور تگابی وزیر داخله ـ شیر جان وزیر دربار ـ ملك محسن دکابل والی ـ میرزا مجتبی خان د وزارت مالیـه وکیل سو. (جمعه ۲۸ جدی ۷ ش ۱۸ جنوری ۲۹ م) .

علی احمدخان خپله پادشاهی په جلال‌آبادکی اعلان کړه (۲۵جدی۷) مگرپه ۱۲ دلو خلکو دی چور کی، نود لغمان او کنړ له‌لاری مهمندو او بیا پیښور ته ولاړ .

دامان افغان پرځای هفتگی جریده حبیب الاسلام دغلام محی الد یـن په سر دبیری له کابله خپره سوه (۹حوت ۱۳۰۷ ش ۱۷ رمضان ٤۸).

سپه‌سالار غازی محمد نادر خان اودده ورونه دفرانسی‌دنیس له‌بناره دافغا نستان دامنیت‌لپاره‌را پا ځیدل (۵دلو ۷ش) اوپه ۲۱ ددلو بمبئی‌ته راورسیدل. سپه‌سالارغازی دپیښور اوکوهاټ له لاری دپختیا سر حدته داخل سو (۱۹ حوت ۷) .

په پنجشنبه ٤ دلو ۱۳۰۷ ش ۱٤ جنوری ۲۹م امان‌الله خان په‌قندهار کی بیا پـه فعالیت شرو وکړه او خلکو بیعت ورسره وکیء .

په قنـد هـار کی د اعلیحضرت امان‌الله خان په تایید خلك راټول سول، او خرقه شریفه یی راویستله (یکشنبه ٦ حوت ۱۳۰۷ ش) .

د قندهار علماوو د بـچه سقاو امارت نه‌وه مانه، او دده سره یـی دجنگ فتوا صادره کړه (جمعه ۲٦ شعبان ۱۳٤۷ ق) .

د برتانیا سفیر همفریز له کابله پـه طیاره کـی پیښو ر تـه ولاړ (۱٤ رمضان ۱۳٤۷ ق ۲۵ فروری).

عبـد الکریـم خـان د قند هـار نایب‌الحکومه دهزاره‌جات حاکم‌مقرر سو (۱۲ حوت ۱۳۰۷ ش) .

۱۳۰۸ ش

۱۹۲۹ م ۱۳٤۹ ق

دسمت جنوبی (پختیا) دقو مونو لویـه جرگه دسپه سا لار غـازی محمد نادر خان‌حضورته‌په جاجیو کی راغله (۱حمل ۲۱مارچ ۲۹ م)

په ۷ حمل۸ ش سپه سالارگردیز ته راغی اوپه ۱٦ حمل ارگون تـه ورسید .

په ۳۰ حمل ۸ ش دسمت مشرقی (ننگرهار) داقوامو جرگه دمحمدگل خان مومند سره دسپه سالار حضور ته راغله .

د شوروی دولت رسماً دایران‌دولت ته اخطار ورکیء ،چی‌دافغا نستان‌په کورنیو کارو کی لاس ونه وهی، او دهرات خواته تر خپلو سرحدوتیری ونه‌کی ، که‌پر افـغا نستان مسلح تجاوز وسی، شوروی دولـت دغـه نسی زغمـلای (۱۵ اپریـل ۱۹۲۹م ۲٦ حمل ۱۳۰۸ ش) .

اعلیحضرت امان‌الله خان دقندهار دپنځو زرو تنو سره دبچـه سـقاو د مقابلی لپـاره کابل تـه حرکت وکیء .

(سه شنبه ٦ حمل ۱۳۰۸ ش) په سه شنبه ۲۰ حمل ۱۳۰۸ ش مقر ته ورسیدی اوپه ۳۰ حمل یی غزنی محاصره کیء خوپه ٦ ثور ۱۳۰۸ش امروسو، چی قنـدهاری لښکر دی بیرته مخ پر قندهار رهی سی، پـه ۱۱ ثور مقرته ور سیدل اود ثـور تر آخره پرشا تلل ، اوپه ٤ جوزا ۱۳۰۸ شـ جـو لائـی ۱۹۲۹ م اعلیحضرت امان الله خان دمهمندو له رباطه دسپین بولدك تـر سر حد ووت، اودا دده آخره ورځ وه پخپل وطن کی !

د حبیب‌الله بچه سقاو پـه حکم والی علی احـمد خـان او مولو ی عبدالواسع قندهاری پـه کابل کی ووژل سول (دجوزا اواسط ۱۳۰۸)

اخوند صاحب آدینه محمد شاعر او عالم دفیض آباد دخرقی شریفی ادمدرسی مدرس ۷۰ کلـن وفـات سو .

غلام نبی خان مزار شریف دبچه سقاو له لښکرو څخه ونیو (۱۸ثو ر ۱۳۰۸ش) مگردی دجوزا ترمیاشتی پوری هلته و، په ۹ جوزا تلگرام‌ورته راورسیدیء چی امان الـلـه خـان لـه وطنـه وو ت .نـو دی هـم‌په ۱۰ جوزا تر دریای آمو دشورو ی خاوری ته دپته کیسرله خواتیرسو.

وزیـرو او مسیدو دپـر نـگی د ساړه راغه پر کمپ حمله وکړه خو طیارو بمباری پر وکړه اواته سوه کورونه ئی وروران کـړل ۳۲ تـنه شهیدان سول (۲۹م)

د اصلاح داخبار لومړی شماره د ربیع الاول په اوله ۱۳٤۸ق له‌جاجی څخه دسپه سالار غازی محمدنـادر خان په نامه دده دملگرو له خوا چاپ او خپره سوه، چی دافغا نستان‌خلك ئی دبچه سقاو دنا مشروع حکومت مقابلی ته را بلل (سنبله ۸) مدیر ئی نصر الله و.

دسپه سالار ملی قوا په ٦ ثـور دبچه سقاو دلښکرو سره په څرخ کی وجنگیدل ،دغه جنگونه‌په مختلفو ځایو کی د۱۳۰۸ شـ دمیزان تـر میاشتی پوری جاری‌وو،خوچی‌ملی‌قوا

ترچهار آسیا او چهل ستون پوری راورسیدل ،اوپه ۱٦ میزان ۸ش (۱٤ اکتوبر ۲۹ م) ئی کابل ونیو، او بچه سقاوله ارگه کوهدامن ته رتښتید،او په ۲۳ میزان ۸ ش ۱۷ اکتو بر ۲۹م اعلیحضرت محمد نادرشاه‌په‌کابل‌کی دافغانستان په پادشاهی ومنل سو .

دشوروی دولت دخارجی امو رو معین قره‌خان دخپل دولت له‌خوا په افغانستان کی د اعلیحضرت محمد نادر شاه جلوس په خوښی ومانه (۱۹ اکتو بر ۲۹م ۲۱ میزا ن ۱۳۰۸ ش) .

د اتحاد جماهیر شوروی سفیرکبیر ستارگ دکالینن په امضا خپله اعتمادنامه اعلیحضرت‌محمدنادرشاه ته تقدیم کړه.۱۹ دسمبر ۲۹م قوس ۱۳۰۸ ش .

د ۱۳۰۸ ش کال مالی مصارف تر سنبلی پوری ٤ملیونه‌وه، داغتشاش په سبب نورڅه ندی معلوم .

بچه سقاو اودده ملگری په کابل کی ووژل سوه (۳ نو مبر ۲۹م ۱۱ عقرب ۱۳۰۸ ش) .

۱ـ پخپله حبیب الله بچه‌سقاو.
۲ـ حمیدالله ورور یی .
۳ـ سید حسین وزیر جنگ .
٤ـ ملك محسن دکابل والی .
٥ـ شیرجان دددربار وزیر .
٦ـ محمد صدیق فرقه مشر .
۷ـ محمد محفوظ امنیه قوماندان.
۸ـ قلعه بیگی .

سردار محمد هاشم خان‌صدراعظم سو (۲۲ عقرب ۱۳۰۸ ش) ده خپله کابینه داسی اعلان کړه ۲۳ عقرب: سردار شاه محمودخان دحرب‌وزیر سردار فیض محمدخان خارجه وزیر محمدگل‌خان داخله وزیرـ الله‌نواز خان وزیردربارـ حضرت‌نورالمشایخ وزیر عدلیه‌ـوزیرمعارف‌احمدعلی‌خان محمد اکبرخان وزیر تجارتـ محمد ایوب‌خان وزیر مالیه ـ محمد نوروز خان سر منشی ـسر دار محمداکبر خان صحیه مستقل مدیر ـ

۱۹۳۰ م۱۳۰۸ ش ۱۳٤۹ ق

سردار محمدعزیزخان دافغانستان لوی سفیر په مسکو کی د غلام نبی خان پر ځای مقرر او خپله اعتماد نامه ئی کالینن ته وړاندی کړه (۲٤ فروری ۳۰ حوت ۸) .

سردار شاه‌ولی خان په لندن‌کی افغانی وزیر مختار و .

د افغانستان د کرنی وړ مځکی (۱۳۰۸ ش) .

د هندوکش جنوبی خوا آبی مځکی ۱۳۳ زره هکتاره .

د هندوکش جنوبی خوا للمی مځکی ۷٦ زره هکتاره .

د هندوکش شمال آبی مځکی ۲۷۰ زره هکتاره .

د هندوکش شمال للمی مځکی ٤٦۰ زره هکتاره .

ټولی آبی ٤۰۳ زره هکتاره ـ للمی ٥۳۷ زره هکتاره ـ گرده ۹۳۰ زره هکتاره (افغانستان ریسنر) .

میر هاشم دمخنی وزیر ما لیه ٦۳ کلن په کابل کی مړ سو (جمادی الاولی) .

۱۳۰۹ ش .
(۱۹۳۰م ۱۳٤۹ ق)

محمد گل خان مومند د شمالی سمت رئیس تنظیمیه مقرر سو (حمل ۹) .

اپریدو او نورو پښتنو په ۱۳ اگست ۳۰ مدپیښور پرښار حمله وکړه او دکجوری غزا وسوه

اعلیحضرت محمد نادر شاه د افغانستان او بریتانیا د ۱۹۲۱ ـ ۱۹۲۳ معاهدی تصدیق کړی (جوزا ـ می ۰)

د اعلیحضرت محمد نادر شاه‌په فرمان په کابل کی لو جرگه جوړه سوه (۱۳۰۹ ش)اونوی قانو ن اساسی ئی ومانه ،اوهم دشور ای ملی د انتخاباتو لایحه جوړه سوه (۲۸ سنبله ۹) .

ملا فیض محمد هزاره د محمد خواجه زوی د محمد سعید لمسی دسراج التواریخ اوتحفة الحبیب‌او تاریخ حکماء او فیضی ازفیوضا ت لیکوال په کابل کی وفات سو (چهار شنبه ۱٦ رمضان ٤۹ ق ولادت ئی ۱۲۸۹ ق) .

سید احمد ادیب پشاوری د شهاب الدین زوی د فارسی مشهور شاعر او عالم په تهران کی وفات سو .

(ولادت ئی په خیبر کی ۱۲٦۰ ق) .

د افغانستان سفارت په قاهره (مصر) کی د افغانی وزیر مختار محمد صادق مجددی له‌خوا افتتاح او افغانی بیرغ پر و ر پیدی (پنجشنبه ۲۲ میزان ۹) .

د جاپان او افغانستان د مودت معاهده د سردار شاه ولیخان افغانی وزیر مختار او د جاپان د سفیر ترمینځ په لندن کی امضاء سو ه (۲۷ عقرب۹ ش ۱۹نومبر ۳۰م).

دافغانستان او اتحاد شورو ی ترمنځ د بیطرفی او عدم تجاوز معاهده تجدید سوه ، د افغانستان له خوا فیض محمد خان خارجه‌وزیر او د شوروی له خوا لوی سفیر ستارگ امضا کړه (۹) مادی ۲٤ جون ۲۰ م عقرب ۱۳۰۹ ش .

د کابل والی محمد یعقوب خان دشمالی ولایاتو ر ئیس تنظیمیه مقرر سو (عقرب ۱۳۰۹ ش) خو په دغه کال مړ سو .

جمعیت العلماء په کابل کی افتتاح او اعضاء ئی د حکومت له خوا مقرر سول او د حی علی الفلاح مجله ئی نشر کړه .

دارالعلوم عربی په کابل کی‌جوړ سو ، چی رئیس یی سردار عبدالرسول خان و .

سید هاشم خان افغانی جنرال قونسل په تاشکند کی په یکشنبه ۲٤ عقرب ۱۳۰۹ ش دشورو ی ترکمنستان دعشق‌آباد په حدودوکی وواژه سو .

ابراهیم بیگ په قطغن کی بغاوت وکیء او سردار شاه محمو د

د ۱۳۱۱ ش کال په ضمیمه کی لیکل پوری دی ... د حشن بخش ... وصیت نامه ... ۲۳ میزان (۱۵ اکتوبر

خان وزیر حربیه دهغه مقا بلی نه ولاړ .

مکتب حربیه په شهر آرا کی د اعلیحضرت محمد نادر شاه په وینا بیا افتتاح سو (یکشنبه ۸ قوس ۱۳۰۹ ش) .

عبدالرحمن تره‌کی دمقر په اوبند کی‌باغی سو ،خو په۲۰قوس ۱۳۰۹ عسکرو دی دسرحد خوا ته وشاړه .

د شنوارو (۸۰) تنه نمایندگا ن په کابل کی د جرگی په ډول د اعلیحضرت محمد نادر شاه حضور ته راغلل (د قوس اواخر ۹) .

شیر محمدخان ناشر (خرو تی) د میمنی اعلی حاکم مقرر سو (۲ جدی ۹) .

د مامورینو لپاره درسمی القابو د استعمال امر بیا صادر سو ، (جدی ۹) .

غلام فاروق خان دسمت مشرقی حاکم اعلی مقرر سو (۵جدی ۹ش)

د هرات انجمن ادبی جوړ سو (جدی ۹ ش) .

محمد گل خان داخله وزیر د قندهار رئیس تنظیمه سو (سه‌شنبه ٦ حوت ۹ش) .

شیر احمد خان پخوا نی رئیس شورا په تهران کی افغانی سفیر کبیر سو (حوت ۹ ش) .

مجله اقتصاد دوزارت تجار ت له‌خوا نشر سوه (۱۳۰۹) .

د ۱۳۰۹ ش کال مالی واردات ٦٤ ملیونه ، مصارف ۱۲٦ ملیونه اوکسر ٦۲ ملیونه‌و .

محمد شریف خسته دل دمحمد کریم زوی دکابل شاعر دبیدل پیرو اود دیوان خاوند ٤۲ کلن په کابل کی مړ سو (۹ش).

اتمان خیلو پښتنو دپړانگ غار پنځمه غزا له‌پرنگی سره وکړه اود مله کنډ پولټکل ایجنټ تامس‌گلور یی وواژه او پر نگیا نو اگر ه بمباری کړه . د مو مندو غزاوی هم له پرنگی سره جاری وی . (۹ ش) .

۱۳۱۰ ش
۱۹۳۱ م ۱۳۵۰ ق

غلام صدیق خان په بر لن کی‌افغانی وزیر مختار مقرر سو (جوزا ۱۰) .

احمد علی خان افغانی مختار وزیر له پا ریسه لند ن ته‌تبدیل سو (جوزا ۱۰ ش) اوسردار شاه‌ولیخان په پاریس کی سفیر سو .

کاروان زرد دهرات له لاری افغانستان ته ورسیدی (دجوزا اوائل ۱۰ ش) .

دعلی آباد روغتون د اعلیحضرت محمد نادرشاه په شخصی مصرف (جوزا ۱۰) شروسو، او په اسد ۱۳۱۲ ش ئی کارختم سو.

دکابل انجمن ادبی تاسیس سو او دکابل ادبی مجله‌یی خپره کړه (۱۵ جوزا ۱۰ ش ۵جون ۳۱م ۱۸ محرم ۵۰ ق) .

ددی انجمن مهم غړی داؤ :ـ

۱ـ احمد علی خان درانی مدیر .
۲ـ میر غلام محمد غبار .
۳ـ محمد کریم نزیهی .
٤ـ سرور گویا .
۵ـ سرور جویا .
٦ـ غلام‌جیلانی اعظمی .
۷ـ غلام جیلانی جلالی .
۸ـ قاری عبدالله .
۹ـ عبدالعلی مستغنی .
۱۰ـ امین الله زمریالی .
۱۱ـ محمدقدیر تره‌کی .
۱۲ـ احمد الله کریمی .

دافغا نستا ن او شورو ی اتحاد ترمنځ‌دبیطرفی اوعدم تجاوز معاهده په (۹) مادوکی دفیض محمد خان خارجه وزیر او لوی سفیر ستارك په امضا تجدید سوه (۲٤جون ۳۱ م سرطان ۱۰ ش)

خواجه هدایت الله دهزاره جات رئیس تنظیمیه کابل ته را ستون سو (سرطان ۱۰)

اعلیحضرت محمد نادر شاه شورای ملی پخپله وینا افتتاح کړه(دوشنبه ۱٤ سرطان ۱۰ ش جولائی ۳۱ م)

دقطغن نا آرامی خلاصه سوه اووزیر حربیه کابل‌ته راستون سو (دوشنبه ٤ اسد ۱۰ ش) ده ته داعلی لمر نښان په مکافات کی ور کړ سو . (جولائی ۳۱) په ستمبر کی ابراهیم بیگ تر آمو وا وښت .

دافغا نستان نوی اصول اساسی دشورای ملی له خوا داعلیحضرت محمد نادر شاه په امضا خپور سو (۳۱ اکتوبر ۳۱م ۸عقرب ۱۳۱۰ش)

اعلیحضرت محمد نادر شاه مجلس اعیان (دمشرانو جرگه) پخپله وینا افتتاح کړه (دوشنبه ۲٤ عقرب ۱۳۱۰ شس)

عبد الجمیل خان دمزار شریف نائب الحکومه سو (عقرب ۱۳۱۰)

عبد الرحیم خان دقطغن او بدخشان دنائب الحکومه وکیل مقرر سو (عقرب ۱۰)

دنادر افغان کتاب دبرهان الدین کشککی تالیف طبع سو (کابل عقرب ۱۰)

عبد الاحد خان دشورا رئیس دفراه او چخانسور رئیس تنظیمیه سو (۵ قوس ۱۰ ش)

بودار دفرانس نوی مختار وزیر خپله اعتماد نامه ددلکشا په ماڼۍ کی وړاندی کړه (۲۰ جدی ۱۰)

دافغانستان حکومت چی دجنگ د تحریم معاهده امضا کړیده، دمنچوریا دشخړی په نسبت ئی دجاپان او چین حکومتو ته دجنگ ځنډ ولو نوټه ور کړه (دلو ۱۰)

کابل په گذرگاه کی دارالمجانین جوړ سو (دلو ۱۰)

د ۱۳۱۰ ش کال مالی وار دات گرده ۸٤ ملیونه افغانی مصارف ۱۱۸ ملیونه کسر ۳۳ ملیونه و.

په دته خیلو کی دپرنگی پرکیمپ دغاز یانو حمله، چی دپرنگی په بمباری کی ۳۰ تنه شهیدان سول (۳۱ م)

۱۳۱۱ ش
(۱۹۳۲ م ۱۳۵۱ ق)

په کابل کی عمومی مکتبونه او د طب مکتب چی په اغتشاش کی بند سوی وو بیرته جوړ سول (حمل ۱۱)

دافغانستان اوعربیه سعودیه لومړی معاهده وسوه (۵ می ۳۲ م ۱۷ ثور ۱۱ ش)

افغانستان د دوکالم سر حدی سیمه له چترال څخه وا خیسته ۱۱۱ جریبه مځکه (جوزا ۱۱)

دافغانستان دار الفنون (پوهنتون) لپاره داعلیحضرت محمد نادر شاه په حضور یومجلس وسو، اودداره لا مان ماڼی ئی د دار الفنون لپاره وټاکله (جوزا ۱۱)

محمد تقی اسفند یاری دایران لوی سفیر خپله اعتماد نامه وړاندی کړه (۱۳ سرطان ۱۱)

دعبدالوکیل خان نائب سالار منار په ذه مزنگ کی جوړ سو. (جوزا ۱۱)

دسر حدی پیښو د فیصله کولو موافقه دشوروی اتحاد له سفیر کبیر ستارك سره (۱۷) مادی په کابل کی امضا سوه (۲۲ سنبله ۱۱)

پنځه و لایته (کابل ـ قندهار هرات ـ مزار ـ قطغن اوبدخشان) او څلور اعلی حکومتونه (فراه ـ سمت جنوبی ـ سمت مشرقی ـ میمنه) اعلان سول (۲٤ اگست ۳۲).

سردار شاه محمود خان د حرب وزیر اروپا ته دعلاج لپاره ولاړ، او شهزاده محمد ظاهر خان دحرب د وزارت کفیل سو (عقرب ۱۱).

سردار شاه ولیخان سفیر له پاریسه کابل ته راغی اودده سره غلام نبی خان هم راغی (عقرب ۱۱).

غلام نبی خان څرخی په کابل کی ووژل سو. (۸ نومبر ۳۲ م ۱٦ عقرب ۱۱).

په پختیا کی دری خیل ولاړسول

اوژربیر ته ددوی اغتشاش کښینول سو (۲۱ عقرب ۱۱ ش اکتوبر ۳۲).

په قندهار کی پښتو ادبی انجمن افتتاح سو (پنجشنبه ۹ قوس ۱۱)

دپښتو میاشتنۍ مجله یی هم نشر کړه (۲۰ دلو ۱۱).

سردار محمد عزیز خان په مسکو کی افغانی سفیر په برلن کی لوی سفیر سو. (قوس ۱۱).

عبدالحسین خان دروما سفیر په مسکو کی لوی سفیر سو. قوس ۱۱

سردار محمد نعیم خان په روما کی افغانی وزیر مختار سو (قوس ۱۱).

د عراق اوافغانستان لومړی د مؤدت معاهده (۲۰ ستمبر ۳۲ م ۲۸ قوس ۱۱).

۱۹۳۳ م ۱۳۱۱ ش ۱۳۵۱ ق

د ښکاری دری لار جوړونه ختمه سوه (جدی ۱۱).

د دولتی خزانو اصولنامه خپره سوه (۱۷ میزان ۱۱).

محمد گل خان مومند دشمالی ولایاتو رئیس تنظیمیه مقرر سو او پرځای یی غلام فاروق خان دقندهار نایب الحکومه سو. (شنبه ۱۰ جدی ۱۱).

شوکت بیگ دترکیی لوی سفیر کابل ته راغی (جدی ۱۱) .

اعلیحضرت محمد نادر شاه وزارت معارف ته فرمان صادرکیء چی د ۱۳۱۲ ش کال له ابتداء څخه پـه معارفو کی دپښتو ښو ونـی اقدام وکی (٦ دلو ۱۱) .

په بالا حصار کـی دمکتب حربیه لپاره دودانی فرمان صادر سو. (حوت ۱۱) تهداب یی په۱۷ ثور ۱۲ کښیښو سو .

د افغانستان او برازیل دموذ ت معاهده په انقره کـی امضا سوه . (۲حوت ۱۱ ۲۰ فروری ۳۳)

په ۱۳۱۱ کال دتلگراف خط په گرده افغانستان کـی ۸۸۹۵ کیلـو متره و .

د ۱۳۱۱ ش کـال مالی عایدات ۱۳۳ ملیو نه افغانی مصارف ۱٤۰ ملیونه او کسر اوه ملیونهو .

۱۳۱۲ ش
۱۹۳۳ م ۱۳۵۲ ق

د شیبر اودره ښکـاری لارافتـتاح سوه (حمل ۱۲) .

داستوانی او لیتوانی د حکومتو سره دافغا نستان دمؤدت معا هدی په‌مسکو کهامضاسـوی(جوزا-۱۲)

دخلع سلاح په کنفرا نس کـی دافغا نستان نماینده سلطان احمد خان دانقری افغانی سفیر وتاکـل سو (جوزا-۱۲) .

سر دار محمد عزیز خان په برلن کی افغانی سفیر ، دسید کما ل پـه تفنگچـه وویشتل سو (۱٦ جـوزا ۱۲ ش ٦ جون ۳۳) په پنجشنبـی ۸ سرطان په کابل کی ښخ سو.

علی محمد خان دمعارفو وزیر د افغا نستان له خوا دلندن داقتصادیاتو په کنفرانس کی شامل سو (۲۵جوزا ۱۲)

په قند هار کی دحاجی میرویس‌خان دمزار گنبده داستاد نعیم جان پـه معماری جوړه‌سوه (جوزا -۱۲)

دفوائد عامه په نامه نوی وزارت تشکیل او الله نواز خان ئی وزیـر سو (سرطان ۱۲)

دتجاوز دتعریف قرارداد دافغانستان -ایران -استوانی- ترکیه -رومانیه شوروی اتحاد- لیتوانیا تـرمنـځ په لندن کی امضا سو (جولائی۳۳- سرطان ۱۲)

دعلی آباددروغتون (رفقی سناتوریم) دجوړولو کار چی په ۱۳۱۰ ش شرو سوی و، په اسد (۱۲ ش) ختم سو.

حبیب الله خان طرزی په جاپان کی دافغا نستان وزیـر مختار سو (اسد ۱۲)

دښکاری دری لار افتتاح سوه (۱۹ اسد ۱۲)

علی محمد خان په لندن کی افغانـی وزیر مختار سو، او پر ځـای ئـی احمد علی خان وزیـر معـارف سو (سنبله ۱۲)

محمد عظیم منشی زاده د کابـل د برتا نیا په سفارت کی‌دری تنه‌مړه کړل(۱۵ سنبله۱۲)دی په ۲۱سنبله اعدام سو .

رفقی سنا توریم دکابل په علی آبادکی افتتاح سو.(۱٤سنبله ۱۲)

خواجه هدایت الله دهـزاره‌جات د مخنی رئیس تنظیمه په‌کا بل کی اعدام سو (۲۲ سنبله ۱۲)

غـلام جیلانی خا ن -شیر مـحمـد محمد مهدی -فقیر احمـد په‌کا بل کی اعدا م سول .
(۲٤ سنبله ۱۲)

شر کت سها می افغان په کابل‌کی جوړ سو، چی دطـلا درانیو لـو او پلـو رنی امتیـا ز ئـی در لـو د (۲۸ سنبلی ۱۲)

دانگریزانو اوهو مندو جنـگونـه (میزان ۱۲)

دکابل دمکتب امانیه نوم‌استقلال او دامانی مکتب نوم نجات کیښول سو (میزان -۱۲)

اعلیحضرت محمد نادر شاه د دلکشا دمانی پـه چمن کی دعبد الخالق د

تفنگچی په گولۍ شهید سو ،او په همدغه ورځ المتو کل علی الله محمد ظاهرشاه دده زوی‌دافغانستان پاد شاه سو.

(۸ نومبر ۳۳م چهار شنبه ۱۶عقرب ۱۲د ماپښین دری بجی)

دترکیی لوی سفیر ممدوح شوکت بیگ په ۱۰ قوس اود المان نوی وزیر متخار تسمیکی په ۱۲ قوس ۱۲ خپلی اعتماد نامی تقدیم کړی .

عبدالخالق‌داعلیحضرت‌محمد نادرشاه قاتل په کابل کی اعدام سو (۲۶ قوس ۱۲)

سردار محمد هاشم خان ته د پاچا فرمان صادر سو، چی دی‌صدراعظم دی، او ده خپله کابینه داسی معرفی کړه :سردار شاه محمود خان دحرب وزیر- فیض‌محمد خان‌خارجه وزیر- محمدگل خان‌داخله وزیر -فضل‌احمد خان عدلیه وزیر- احمد علی خان دمعارفو وزیر- میرزا محمد خان د تجارت وزیر اود مالیی دوزیر کفیل الله نواز خان دعامو گټو وزیر محمد اکبر خان دطب مستقل مدیر- رحیم الله خان دپست او تلگراف‌او تیلفون مستقل مدیر (قوس ۱۲)

دپترولو دانحصار شرکت په کابل کی تاسیس سو (قوس ۱۲)

محمود طرزی دافغا نستان دصحافت او سیاست پلار په استانبول کی وفات او ښخ سو (۲۲ نومبر ۳۳ م قوس ۱۲)

۱۹۳۴ م ۱۳۱۲ ش ۱۳۵۲ ق

سر دار محمد قاسم خان په رو ما کی افغانی وزیر مختارسو (حوت۱۲)

دمامورینو د مدیر یتونو اصو لنامه خپره سوه (۱۱ قوس ۱۲)

ذ شرکت سهامی افغان اودشوروی اتحاد دسو افغان تورك ترمنځ د۱۵ زروټنو بوری قرار داد لا سلیك سو (حوت ۱۲)

ښاغلی محمد داؤد دسمت مشرقی عسکری قوماندان اوملکی آمر مقرر سو (حوت ۱۲)

دافغان- ایران سر حدی موافقه د ترکیی دحکمیت مذاو لپاره امضا سوه (چهار شنبه ۱۷ حوت ۱۲)

عبد العلی مستغنی‌دملا رمضان‌هوتك زوی دافغا نستان مشهور شاعر (۶۰) کلن په کابل کی وفات سو (۲۱ حوت ۱۲)

دپښتون شرکت په قند هار کی افتتاح سو (۲۹ حوت ۱۲)

د ملی شورا د دو همی ورځی د انتخا با تو فرمان صادر سو (حوت ۱۲ش ۱۶فرور ی ۳۴ م)

په ۱۳۱۲ ش کال په گرد افغانستان کی (۳۷) مکتبونه وو چی ۴۵۹۱ شاگردان او ۱۶۵ تنه معلمان ئی‌در لودل .

د ۱۳۱۲ ش کال مالی عایدات ۱۰۸ ملیونه‌افغانی‌مصارف ۱۲۰ملیونه کسر ۱۲ ملیونه و.

۱۳۱۳ ش
(۱۹۳۴ م ۱۳۵۳ ق)

د قره قلی انحصار ملی بانك‌ته وسپارل سو (مارچ ۳۴م حمل۱۳ش)

دبلخ دنوی ښار دودانی کار شرو سو (حمل ۱۳)

فریزر تتلر دانگلیس نوی وزیر مختار خپله اعتماد نامه وړاندی کړه (۲۰ حمل ۱۳ ش)

قاری عبدالله ته دملك‌الشعراء لقب ور کړ سو (حمل ۱۳)

د سویس دتقلیل سلاح په جرگه کی جنرال محمد عمر خان دحربی ارکانو رئیس دافغا نستان له خوا شامل سو (جوزا ۱۳ ش جون ۳۴)

دخارویو (مواشی) دمحصول اصولنامه خپره سوه (۱۵ ثور ۱۳۱۳)

دگمر کـو نو دمحصول‌اصولنامه خپره سوه (ثور ۱۳)

د امریکا داتازونی دولت ،افغانستان په رسمیت ومانه (۱۱ اگست ۳۴م ۲۹ اسد ۱۳)

دافغا نستا ن او مجار ستا ن‌د مودت معاهده(۲۵ اگست۳۴م۱سنبله ۱۳ ش)

شهزاده احمد شاه وزیر یدیء (۲۳ ستمبر ۳۴م ۳۱ سنبله ۱۳ش)

په کابل کی داو لمپیك ټولنه جوړه سوه (سنبله ۱۳ ش اگست ۳۴ م)

افغا نستان په مجمع ملل کی داخل سو (۲۵ ستمبر ۳۴م میزان ۱۳)

دافغا نستان خارجه وزیر فیض‌محمد خان دافغان- ایران سر حداتو ته نژدی داعلیحضرت رضا شاه پهلوی حضور ته ور غیء (۲۲ میزان ۱۳)

دکابل په پوهنتون کی دسائنس پوهنځی افتتاح سو (۲۹میزان ۱۳)

جنرال فخر الدین التای د ترکیه دحکمیت مشردافغان-ایران سرحدی شخړو دحل‌لپاره په‌یکشنبه ۱۸عقرب ۱۳ کابل ته را غیء او په ۱قوس۱۳ هرات ته ولاړ .

دقند هار په سنگین کی دنهر سراج دکیندلو کار بیا شروع سو (قوس ۱۳)

ریوټر له تهرانه په ۲۳ قوس ۱۳یو خبر خپور کیء چی دزور آباد په سرحد کی دافغا نستان خلکو پر ایرانی خاوره حمله کړیده ،افغانی اخبارو داخبر ترتردیدکیء (۲۴قوس ۱۳)

مو لوی محمد بشیر هندی مهاجر او په‌چمرکندکی دالمجاهدخپروونکی ووژل سو(قوس ۱۳ش دسمبر۳۴م)

سید کمال دسردار محمد عزیز خان قاتل په‌برلن کی اعدام سو(۲۲جدی ۱۳)

جنرال فخر الد ین التای خپل سر حدی حکمیت تمام کیء او په ۲۸ جدی ۱۳ دشوروی له خوا انقری ته ولاړ.

دهندو ستان دعسکری نما یش دلیدلو لپاره عبد الاحد خان فرقه مشر او عبد الغفور خان فرقه مشر دهلی ته‌ولاړ(۲۸ جدی ۱۳)

دزور آباد پر شخړو دافغا نستان‌او ایران موافقه امضا سوه (۴دلو ۱۳)

دلندن افغانی وزیر مختار علی‌محمد خان په سویس کی وزیر مختار او په بین المللی مجمع کی نماینده سو (حوت ۱۳)

الله نواز خان په المان کی وزیر مختار مقرر سو (حوت ۱۳)

محمد اکبر خان په روما کی افغانی وزیر مختار سو (حوت ۱۳)

غلام یحیی خان دخارجه وزارت لومړی معین دطب مستقل رئیس سو (حوت ۱۳) .

محمد صادق خان مجد دی په مصر کی افغانی وزیر په حجاز کی هم‌وزیر مختار سو (حوت ۱۳)

افغانستان دجامعه ملل دښځو د خر څولو دانسداد په مجاهده کی شامل سو (حوت ۱۳)

کابل او مزار شریف په تیلفون سره ونښلول سوه (حوت ۱۳) .

د ۱۳۱۳ ش کال مالی وارد ات ۱۲۰ ملیو نه مصارف ۱۶۱ ملیونه کسر ۴۱ ملیونه افغانی‌و .

دافغانستان ملکی تشکیلا ت په ۱۳۱۳ ش کال داسی ؤ

ولایات	حکومات کلان	محلی حکومتونه	علاقداری
۱- کابل	۴	۲۵	۴
۲- قندهار	۳	۱۷	۲۱
۳- هرات	۲	۸	۱۹
۴- مزار شریف	۱	۱۲	۱۴
۵- قطغن و بدخشان	۱	۱۷	۱۷
۶- سمت مشرقی	۱	۱۱	۱۰
۷- سمت جنوبی	.	۵	۲۵
۸- میمنه	.	۵	۶
۹- فراه	.	۲	۶

په ۱۳۱۳ ش کال په افغانستان کی گرده (۳۹) مکتبونه‌وو، چی ۶۱۵۷ تنه‌یی شاگرد دان او ۲۰۶ تنه معلمان‌وو .

میر احمدشاه‌رضوانی دشکو ستا ن افغانی او بها رستان ا فغا نی او نورو کتابونو مؤلف په پیښو ر کی وفات سو (۳۴م – ۵۳ق. ولادت یی په اکبر پوره کی ۱۲۷۹ ق)

سردار عبدالرحمن خان دسردار عبدالو هاب خان زوی چه عالم ، فکور او شاعر سړی و، په‌فراه کی وفات سو ۳۴ م ۱۳ ش ۵۳ق (ولادت‌یی ۱۲۸۹ ق) .

۱۳۱۴ ق
۱۹۳۵ م ۱۳۵۴ ق

د افغا نستان او اتحاد جماهیر شوروی تر منځ دمچخو دمبار زی موافقه نامه ۱۲ مادی فیض‌محمدخان خارجه وزیر او ستارگ د شوروی سفیر امضا کړه . (۱۶ مئی ۳۵م ثور ۱۴) .

دامریکا لو مړی سفیر و هار نی بروگ کابل ته راغی (ثور ۱۴ مئی ۳۵) .

ملامحمد یعقوب فراهی دملامحمد خان نورزی زوی عالم او مؤلف او شاعر په‌فراه‌کی‌وفات‌سو. (۱۳۱۴ش ۵۴ق) (ولادت‌یی ۱۲۸۴ ق) .

آثاریی : تذکره آتش فشان – گنج شهیدان – دیده یعقوب – حواشی بر اقلید س .

هورنی بروك دامریکا لومړی وزیر مختار، خپله اعتماد نامه تقدیم‌کړه. (۱۳ ثور ۱۴– می ۳۵).

دایران نوی‌لومړی سفیر علی‌اکبر بهمن خپله اعتماد نامه تقدیم کړه (۱۸ثور ۱۴ –می ۳۵)

کرنل لارنس چی دافغانستان په اغتشاش ۱۳۰۷ ش کی لاس ذرلود په لندن کی مړسو (۲۸ ثور ۱۴ مئی ۳۵) .

دکوټی لو یه‌زلزله وسوه‌چی‌په‌جنوبی افغا نستان کی‌هم اثروکی‌ء (جمعه۹ جوزا ۱۴ جون ۳۵) .

دملی شورا اجلاس وپرانستسو (۸جون ۳۵ جوزا ۱۴) .

صحیه اود پست او تلگراف او تیلفون وزارتونه تا سیس سول، غلام یحیی خان وزیر صحیه ، او رحیم الله خان دپست او تلگراف او تیلفون وزیر مقرر سو (جوزا ۱۴ جون ۳۵) .

دقندهار نهر سراج دهلمند له روده بیاجوړ اوافتتاح‌سو (دوشنبه ۲۶ جوزا ۱۴– جون ۳۵) .

عبدالرحیم خان دهرات نا ئب سالار وزیر فواید عامه سو، اوپر ځای ئی غلام فاروق‌خان دهرات نایب‌الحکومه مقرر سو (۲۷ جو زا ۱۴–۳۵)

دقندهار په باباولی کی دبریښنا کارخانه افتتاح سوه (سه شنبه ۱۷ سرطان ۱۴– جولائی ۳۵) .

دحاضری اصولنامه نشر سوه . (۱۰ سرطان ۱۴) .

د تجار تی تقاوی او کوریری اصولنامی خپری‌سوی ۱۰سرطان۱۴

ښاغلی محمد داؤد دقندهار ملکی اوعسکری مشر قند هار ته راغی (جمعه ۲۷ سرطان ۱۴– جولایی ۳۵)

مفتی جزایری دمصر وزیر مختار په‌کابل‌کی خپله اعتمادنامه وړاندی کړه (۱۴ ش) .

سلطان احمد خان د افغانستان وزیر مختار په قاهره کی مقرر سو (اسد ۱۴– آگست ۳۵) .

محمد صادق‌خان مجد دی په جده کی وزیر مختار سو (اسد ۱۴– اگست ۳۵)

محمد انورخان نایب سالار دحرب دوزارت معاون سو . (اسد ۱٤ ـ اگست ۳۵) .

دقندهار ادبی انجمن کابل ته نقل کړ سو، (اسد ۱٤ـ اگست ۳۵)

دقندهار دنوی بنار ودانی جوړی سوی (سنبله ۱٤ ستمبر ۳۵) .

انگریزانو ته دمو مندو قبیلو ولاړیدل. (ستمبر ۳۵ میزان ۱٤) .

له گمرك څخه د دیپلو ماسی مالونو او بگاژونو دمعافی اصولنامه (۱۲ میزان ۱٤) .

دانگلیسی لښکروپر مومندو باندې حملی وکړی، اود افغانستان اخبار وخپل تشویش وښو، که انگلیسی لښکر ځانونه د ډیورنډ برید ته را رسوی دابه دافغانستان لپاره خطروی ته به سرحدی قبیلو کی به عام غاو بورته سی (میزان ۱٤ـستمبر ۳۵)

دایران خارجه وزیر کاظمی دهند او قندهار له خوا کابل ته دسیاسی مذاکراتو لپاره په دو ستانه سفر ردغلیء (۱٦عقرب ۱٤ ،نومبر۳۵)

دبی وزلو دروزنی اصولنامه، اود عمومی گټو لپاره داستملاك اصولنامه خپره سوه (۱۸عقرب ۱٤) .

کاغذی نوټونه د مالیی د وزارت له خوا خپاره سوه او اصولنامه یی هم خپره سوه(قو س ۱٤ دسمبر۳۵)

دجاپان سفارت په کابل کی جوړ سو (نومبر ۲۵قوس ۱٤).

پرو فیسور غلام محمد خان مشهور نقاش په کابل کی و فات سو (قوس ۱٤ـ دسمبر ۳۵) .

دلوگر دسرخاب ډم جوړ سو، چی دری لکه جریبه مځکه اوبوی (۱۹ قوس ۱٤ـ دسمبر ۳۵) .

۱۹۳٦ م ۱۳۱٤ ش ۱۳۵٤ ق

جاپان ته داوړو تحصیلا تو لپاره

یوه ډله محصلان وا ستول سوه (جدی ۱٤ جنوری ۳٦) .

دجو هری رنگو نو د راوړلو اصولنامه خپره سوه. (۲۵جدی۱٤).

سردار علی شاه خان د قندهار عسکری او ملکی آمر مقر ر سو (۲٦ جدی ۱٤ جنوری ۳٦) .

عبد الصمد خان په روما کی د افغانستان وزیر مختار مقرر سو . (۲٤ دلو ۱٤) .

په قند هار کی دوړیو دسوداگری لپاره دوطن شرکت تا سیس سو. (حوت ۱٤ـ مارچ) .

د خارجی اتباعو د ا ستخدام اصو لنامه خپره سوه(۱۱ حوت ۱٤).

سپه سالار شاه محمود خان دحرب وزیر، دعلاج لپاره اروپا ته ولاړ، او سردار شاه ولیخان د حرب دوزارت کفیل سو (۸ حو ت ۱٤ ما رچ)

د ۱۳۱٤ ش کال مالی وارداا ت ۱۲۱ ملیونه مصارف ۱۳٤ ملیونه کسر ۱۳ ملیونه افغانی و .

په ۱۳۱٤ ش کال ۵۰ مکتبونه په افغا نستان کی و چی ٦۱۸٦ تنه شاگردان او ۲۰۹ تنه معلما ن یی لرل.

۱۳۱۵ ش
۱۹۳٦ م ۱۳۵۵ ق

د امریکا سره د مؤدت معاهده (۲٦ مارچ ۵ حمل ۱۵).

دشوروی اتحاد سره دعدم تعرض وتجارتی تړون (مارچ ـ۱۲حمل۱۵)

دشوروی نوی سفیر کویر سکی اگریمان صادر سو (۱۵حمل ۱۵ش اپریل ۳٦) .

دافغانی ۱٦ورزش کارانو شمول دبرلن په اولمپیك ټو لنه کی(۱٦حمل ۱۵ـ اپریل) .

شرکت سهامی ملی په بانك ملی تبدیل سو (۲حمل مارچ).

دملکی او عسکری مامورینو په معاش کی زیاتوب (دوشنبه ۱۷حمل ۱۵ـمارچ).

د پل خمری د نساجی شرکت تاسیس سو (۱٦ثور ۱۵ می)

په کابل کی د ښځو سناتو ریم افتتاح سو (۲۵ جوزا ـ۱۵ـ جون ۳٦).

ددوا خانو اصو لنامه خپره سوه (۱۵ ثور ۱۵) .

په قندهار کی دوړیو او بدلو کارخانه افتتاح سوه (۲۸ جوزا، ۱۵ـجون ۳٦) .

پهافغانستان کی لومړی قرآن شریف چاپ سو . (۱۰ سنبله ۱۵ ـ ستمبر ۳٦) .

دکابل پو هنتون دطب دپو هنځی تهداب په علی آباد کی کښیښول سو (۲٤ سنبله ۱۵ـستمبر ۳٦)

دهلمند د اوبو په باب کی دافغان ایران گډ کمسیون په چخانسورکی ختم سو (۲۵ سنبله ۱۵ ستمبر ۳٦) .

په غزنه کی دحکیم سنایی دمزار تعمیر (۱۵ میزان۱۵ر۸ اکتوبر۳٦).

سر دار شاه محمود خان دحرب وزیر په مسکو کی (۳ میزان ۱۵ـ ستمبر ۳٦)

سردار محمدهاشم خان صدراعظم دعلاج لپاره اروپاته ولاړ (۱۹میزان ۱۵ ـ ۱٤ اکتوبر ۳٦) د صدراعظم وکیل سردار شاه ولیخان و .

د پست اصولنامه خپره سوه . (۷ میزان ۱۵) .

د پښتو در سمیت او ملی ژبی والی فر مان صا در سو، چی مامورین ئی تر درو کالو زده کی (عقرب ۱۵ نومبر ۳٦) .

د تابعیت اصولنامه خپره سوه. (۱٦ عقرب ۱۵) .

سید عبدالله د خارجه وزارت عمرمی سیاسی مدیر په دریای آمو کی غرق سو (جمعه ۱۹ قوس ۱۵ د سمبر ۳٦) .

د شورای ملی د دریمی دوری لپاره د وکیلانو د انتخاب په شاهی اعلان سره امر وسو (۱۵ جدی ۱۵ د سمبر ۳٦) .

په ۱۳۱۵ ش کال په افغانستان کی ۹۲ مکتبو نه‌و، چی۹۲۷۵ تنه شاگردان او ۳۰۹ تنه معلمان ئی لرل .

د ۱۳۱۵ ش کال مالی واردات ۱٦۱ ملیونه مصارف هم ۱٦۱ ملیونه افغانی و .

دکابل د ۱۳۱۵ ار تزا قی مواد:
اوړه ۲٤٦۲ خرواره ـ غـو ړی ۳۳۰ ـ نری وریجی ۱٤٥۲ ـ پنړی وریجی ٥۹٥ ـ مالګه ۸۸٤ ـ ماش ۱٥۲ کورت ۱۰۹ خرواره ـ پسونه ۱٦٥۱٥۹ . وزی ۲۱۰۲۸ غـویـی ۱٥٦۷ .

میرزا سکندر نقاش د میرزارضا هروی نقاش شاګرد په هرات کـی وفات سو . (۱۳۱٥ ش) .

دمصر د وزیر مختار عبدالرحمن عزام اګریمان صادر سو (حـوت ۱٥ مارچ ۳۷) .

۱۳۱٦ ش .

(۱۹۳۷ م ۱۳٥٦ ق) .

بو ولس ترکـی منصبداران د عسکری چارو لپاره استخدام سول (٦ حمل ۱٦ ش ۲۷ مارچ ۳۷) .

سردار احمد علی خان په تهران کی افغانی لـوی سفیر او سردار محمد نعیم خان وزیر معار ف سو (۱۷ حمل ۱٦ ش اپریل ۳۷) .

د نفتـو د استخـراج لپـاره د افغانستان او انلانډ اکسپلو ریشن شرکت تړون ۲۳ مادی (ثور ۱٦ش اپریل ۳۷) .

سردار محمد نعیم وزیر معارف د انجمـن ادبـی رئیس سو (۲٥ جوزا ۱٦ ش مئی ۳۷) .

د انگستـان د پاد شاه د تاج اغو ستلو په جشن کی په‌پار یس کی د افغانستان مختار وزیر سردار شاه ولیخـان او عبدالصمد خان د روما وزیـر مختـار او سردار سمد الله خان‌ذشاهی فر قـی قـومنـدان د افغانستان لـه خـوا اشتراک وکـی (۱۲ مئـی ۳۷ م جوزا ۱٦) .

د افغانستان ـ ایران ـ عـراق ترکیی تر منځ د سعد آباد تـړون امضا سو (۱۷ سرطان ۱٦ ش ۷ جولائی ۳۷) .

پښتو ټـولنـه په کابـل کـی افتتاح سوه او انجمن ادبی ورسره ګډ سو (سرطان ۱٦ جـون ۳۷)

په زرغون ښار او کټه واازکی ځنی قبایل ولاړ سول ، مگـر ژر مطیع سول (سنبله ۱٦ شس اگست ۳۷) .

دالمان دنور نبـرگ په جـرگه کی عبدالمجید خان د ملـی بانک رئیس او محمـد احسان هـوایـی قومندان شرکت وکـی (۸ میزان ۱٦ ش ۱ اکتوبر ۳۷ م) .

پر پښتو ژبه بانـدی د وینا و ټولنـه د فیض محـمد خان وزیـر خارجه په وینا د کابل په سینماکی افتتاح سوه (۱۰میزان ۱۳ـاکتو بر)

شیر احمد خان د دولت وزیر مقرر سو (۱۷ میزان ۲۰ اکتوبر)

د شرقی اتفاق شورا په جینوا کی د سعد آباد د تړون د مملکتوپه گـډون وسوه (۲۱ ستمبر ۳۷)

د چکوسلواکیا سره د مـؤدت معاهده لاس لیک سوه ۲۰ میزان

۱٦ ش ۱٤ ستمبر ۳۷ م) .

د افغانستان او برازیل د مؤدت معاهده په پاریس کی امضا سوه . (۱۸ عقرب ۱٦) .

د هند د تجارتی وکالت اداره په کابل کی جوړه سوه (۱٥ عقرب ۱٦ ش ۸ نو مبر ۳۷ م).

عبدالشکور خان پخوانی قاضی القضات په قند هار کی وفات سو (۲۰ عقـرب ۱٦ ش ۱۳ نـومبـر ۳۷ م) .

د ابن سینا د ۹۰۰ کال تلینه په کابل کی وسوه (۲۰ عقرب ۱٦ش ۱۳ نومبر ۳۷ م) .

د ترنگزو حاجی صاحب په آزاد سرحد کی وفات سو (قوس ۱٦ش نومبر ۳۷ م) .

د بی سیم تلگراف دستگاه پـه میمنه کی و درول سوه (۱ قوس ۱٦ ش ۲۳ نومبر ۳۷) .

په کابل کی شرکت ارزاق افتتاح سو (جدی ۱٦ د سمبر ۳۷).

پـه کابل کـی د میوی شرکت افتتاح سو (جدی ۱٦ ش د سمبر ۳۷) .

د کونستهتین الکزند رویـچ د شوروی لوی سفیر اگریمان صادر سو (٥ جدی ۱٦ د سمبر ۳۷) .

د افغانستان او ترکیی د مؤدت اواقتصا دی‌تړون تر لسو نورو کلو پوری په انقره کـی تجـدیـد سو (۱۰ جدی ۱٦) .

۱۹۳۸ م ۱۳۱۷ ش ۱۳٥۷ ق

د کـابـل پـوهنتـون د طب د پوهنځی لومړی ډله‌محصلان راووتل (۱٥ جدی ۱٦ش ٥ جنوری۳۸).

دمعارفو وزارت دپښتو درسـی کتابونو په تالیف شرو وکړه (۲۰ جدی ۱٦ ش ۱۰ جنوری ۳۸ م) .

د کابل په ارگ کی کتابخانه تاسیـس سوه (۲دلو ۱٦ شس ۲۱ جنوری ۳۸ م) .

د چک وردگ د بریښنا کـار خانـه جـوړه سوه (۱۹ دلـو ۱٦ فروری ۳۸) .

محمد گل خان مومند د پښتو قاموس په کـابل کـی چاپ کیء (۱۳۱٦ ش).

د ۱۳۱٦ ش کال دولتی عایدات ۲۲۰ ملیونه اومصارف هم دغونی‌و.

د لوفت هـنزا طیارو هفتگـی الوتنی د کابل او برلن تـر منـځ شرو سوی (۱۳۱٦) .

په ۱۳۱٦ کال په افغانستان‌کی ۱٥۰ مکتبونه و ، چی شاگردان‌ئی ۱۷٥۲٦ تنه او معلمـان یـی ٥۸٤ تنه وو .

۱۳۱۷ ش .
(۱۹۳۸ م ۱۳۵۷ ق) .

د قره قلی انحصاری شرکت په کابل کی جوړ سو (۱۰ حمل ۱۷).

د بدخشان او پامیر لار جوړول شرو سوه (۱۰ حمل ۱۷) .

دودانیو شرکت (۱ باگ) د افغا نستان او چکو سلواکیا په‌گډه په کابل کی جوړ سو (۱۱ حمل ۱۷ ش ۲ اپریل ۳۸) .

دشوروی دولت دمزار اومیمنی او هرات قونسل خانی او د افغا نستان دتا شکند او مر و قو نسلگری لغوسوی(۱۲ حمل ۱۷ ش ۱۳ اپریل ۳۸) .

د جاپان سره د افغانستان تجارتی تړون وسو (۱۸ حمل ۱۷ ش ۹ اپریل ۳۸) .

د شوروی اخبار داتور چی د افغانی سفارت یو غړی د روس او جاپان اختلاف تودوی رد سو، او افغانستان پردی خبره دشوروی دولت ته پرو تهست وکی (۲۸ حمل ۱۷ ش ۲۸ اپریل ۳۸) .

د قند جوړ ولو او پټر ولو انحصاری شر کت په کابل کی‌جوړ سو ،(۳۱ حمل ۱۷ش اپریل ۳۸).

علامه اقبال‌دلاهور مشهور شاعر اوپوهاند وفات اوپه لاهور کی‌ښخ سو، دده پروفات په ټول‌افغانستان کی تاسف وسو. (۳ ثور ۱۷ش ۲۲ـاپریل ۳۸).

دلته بند لار دجلال آباد پر خوا جوړه سوه (۸ثور ۱۷ش اپریل۳۸).

دخوشحال خان مکمل کلیات په قندهار کی عبدالحی حبیبی چاپ او خپور کیء ۱۱۲۸ مخه (جوزا ۱۷ش مئی ۳۸ م) .

داکار دقندهار دملکی او عسکری مشر ښاغلی محمد داؤد په حمایت وسو .

د افغانستان او شوروی تر منځ دمضرو خزندو ددفاع موافقت نا مه په کابل کی امضا سوه (۲٦ مئی ۳۸م جوزا ۱۳۱۷ش) .

دافغا نستان‌هوایی‌قوا په‌خریداری سوو طیارو له ایتالیاـ برتانیا څخه تقویه سول اود هوا بازی دزده‌کړی لپاره محصلان برتانیاـ شو روی اتحاد ـ ایتا لیا ته واستول سوه اووسلی هم رانیولی سوی‌دمی ۳۸ـ جوزا ۱۷).

محمد علی‌خان قندهاری دافغانستان دشطرنځ قهر مان سو (جوزا ۱۷ـ جون ۳۸) .

په شنوارو کی د محمد افضل عبدل خیل سرکوبی (۵ سرطان۱۷ جولایی ۳۸) .

سعدی شا می او محمد علی چی له هنده د اغتشاش لپاره سلیمانخیلو ته راغلی و هند ته وتښتیدل ۱۰ سر طان ۱۷جولایی۳۸

دپښتو مستعجل دارالمعلمین په کابل کی جوړ سو . (۱۲ سرطان ۱۷ جولایی ۳۸) .

دکوچی یاغیانوسرکوبی (سرطان ۱۷ جولایی ۳۸) .

دافغانستان اوترکیی دمؤدت معاهده تجدید سوه (۲٤ جون سرطان۱۷).

دتیلو داستخراج شر کت انلا نـد اکسپلور یشن دخپله قرار داده‌څخه دځینو سیاسی چارو له سببه انکار وکیء او خپله عذر نامه یی وړاندی کړه (۱٤ اسد ۱۷ش ٦ اگست ۳۸)

د افغانستان او ایران د پست موافقه نامه په کابل کی امضا سوه (۱۰ـاسد ۱۷ ش ۲ـاگست ۳۸).

عبدالرحیم خان دوزیر په رتبه د صدارت معاون او عبدالحسین خان دفوایدعامه وزیر او عبدالمجید خان دتجارت وزیر او میرزا محمد خان‌د مالیی وزیر سو (۲۳ سنبله ۱۷ش ۱٤ ستمبر ۳۸) .

باقر کاظمی د ایران لوی سفیر خپله اعتماد نامه وړا نـدی کـړه، (۲۵ سنبله ۱۷ش ۱٦ستمبر ۳۸) .

د سیاسی علو مو یوه اکاډمی په کابل کی دوزارت معارف لـه خوا جوړه سوه (۱۱ میزان ۱۷) .

دافغانستان خارجه‌وزیر دانگلیس خارجه وزیر ته دفلسطین پـه باب دزیرمی تلگرا ف ولیږه (میزان ۱۷ اکتوبر ۳۸) .

دهند خارجی سکرتر سراو بری متکاف کابل ته‌راغیء ، پراقتصادی او سرحدی اقوامو اود فلسطین پر شخړو ئی دافغا نستان‌دخارجه‌وزیر سره خبری و کړی (میزان ۱۷ش اکتوبر ۳۸ ش).

غازی مصطفی کمال اتاترك پـه پنجشنبه ۱۸ عقـرب ۱۷ ش ۱۰ نومبر ۳۸م په استانبول کی وفات سو او دده پاتا په افغا نستان کی په ډیر افسوس وا خیستله سوه او په جنازه کی ئی سردار شاه‌ولیخان اشتراك وکیء.

سر دارفیض‌محمد خان په تر کیه کی افغانی لـوی سفیر مقـرر سو (۲٤عقرب ۱۷ش ۱٤ نو مبر ۳۸)

علی محمد خان وزیر خارجه سو (۵ قوس ۱۷ ش)

سلطان احمدخان په‌مسکو کی‌افغانی لوی سفیر سو (۸ قو س ۱۷ ش)

محمد قاسم‌خان‌دهرات‌نائب الحکومه سو .(۲۵ قوس ۱۷ ش)

۱۹۳۹ م ۱۳۱۷ ش ۱۳۵۸ ق

ښاغلی محمد داؤد دسمت مشرقی دتنظیم رئیس سو (۱۰جدی ۱۷ش ۱۷ جنوری ۳۹)

په قند هار کی دعبد القادر خان‌ختك پښتو دیـوان لومړی پلاد ښاغلـی محمد داؤد پـه حمایت دعبد الحی حبیبی په تصحیح او اهتمام دمقدمی سره خپور سو.

اته ملیونه افغانی دصنعتی پلان لپاره منظوری سوی،چی دپنبی‌کرلو اود اودلو کارپرمخ‌بوزی (دلو۱۷ش ۱۱ فروری ۳۹)

دهامند داوبو دویشنی تړون دایران له سفیره سره په خارجـه وزارت کی ترتیب سو(٦دلو ۱۷فروری۳۹)

چی وروسته ملی شورا هغه رد کیء دسیاسی علومو اکا ډیمی دحقوقو په فاکولته تبدیل سوه (۸ حوت ۱۷ ش ۲٤ فروری ۳۹) .

د۱۳۱۷ ش کال دولتی وار دات ۱۷۳ملیونه مصارف ۱٦۳ ملیو نه سپمالس ملیونه وه.

په ۱۳۱۷ ش کال په افغا نستان کی ۲۲۸ مکتبونه‌و ، چی ۱۸۸۷۷ شاگردان او ۸۳۳ معلمان یی‌لرل .

۱۳۱۸ ش

(۱۹۳۹ م ۱۳۵۹ ق)

د افغا نستان لوی سفیر سردار شاولیخان له‌پاریسه کابل‌ته راغیء (۵ حمل ۱۸ش ۲٦ مارچ ۳۹) .

په زمینداور کی محمد افضل خان علی زی یاغی او ونیول سو (۱حمل ۱۸ ش ۲۱ مارچ ۳۹)

محمد نوروز خان په‌ایران کی‌افغا نی لوی سفیر او احمد علی خان په‌لندن کی وزیر مختار او ذوالفقار خان په جاپان کی وزیر مختار مقرر سول (۱۰ حمل ۱۸ ش ۱ اپریل ۳۹)

دتجارت دوزارت نوم په ملی اقتصاد بدل سو (۱۵ حمل ۱۸ش ۱۵اپریل ۳۹)

دعراق دپاچا امیر غازی دمړینی تعزیت په‌کابل‌کی (۲۰ حمل ۱۸ش ۲۰ اپریل ۳۹)

سر دار احمد شاه خان وزیر دربار دایران دولیعهد دواده په مراسمو کی گډون وکیء (۲۰ حمل ۱۸)

وزیرخارجه علی‌محمدخان دسعدآباد دترو ن په مجلس کی د شمـــو ل لپاره تهران ته ولاړ (۱۳ حمل ۱۸)

شیر محمد خـان ناشر دقطغن او بد خشان نائب الحکومه په کابل‌کی وفات سو(۲۸حمل ۱۸ش ۱۸اپریل ۳۹) .

دقندوز دتیلو کنبلو فابریکه‌افتتاح سوه چی هره ورځ پنځلس زره‌کیلو کالکی کاروی (۱۰ ثور ۱۸ش ۱مي ۳۹)

په کابل کی دعمران شرکت جـوړ سو (۱۸ سرطان ۱۸ش ۱۱جولائی ۳۹ م)

دافغا نستان او هالینډ دمودت‌معاهده (۲٦ جولائی ۳۹م ۲اسد ۱۸)

دافغا نستان او المان دتجا رتی مبا دلاتو او تادیاتو تړون (۱۰ اسد ۱۸ ش ۳ اگست ۳۹) .

ملا پاینده محمدچی دهډی داستاد په نامه مشهور اود مـلا نجم الـدین مرحوم خلیفه و په کابل کی وفات سو (۲۰ اسد ۱۸ ش اگست ۳۹) .

سر دار علی شاه خان دقنـد هـار ملکی او عسکری مشر مقـرر سو (۹ سنبله ۱۸ش ۲ ستمبر ۳۹)

په شاهی‌فرمان‌په دوهم‌عمومی جنگ کی دافغا نستان کامله بیطرفی‌اعلان سوه (۱۳ سنبله ۱۸ ش ٦ ستمبر ۳۹)

سر دار محمد نعیم خان وزیر معارف د صدارت عظمی معاون مقـرر سو (۱۳ سنبله ۱۸) .

غلام فاروق خان دداخله وزارت‌وکیل سو (۱میزان۱۸ ش۲۳ ستمبر۳۹)

محمد اسماعیل خان دکابل والـی سو (۱ میزان ۱۸ ش)

په ۱۳۱۸ کال دغه اصو لنامی خپری سوی :

(۱) ترډمونو او ولو لاندی کیدونکو مځکو دخرڅولو اصو لنامه ۲۲میزان

(۲) دښاروالیو دمحصو لاتواصولنامه ۱۰ قوس

(۳) دپاسپورټ اصو لنا مه.

عسکری قـوا ښه تجهیز سول (۳ اکتوبر ۱۹ میزان ۱۸)

دپښتو لومړی مفصل گرامر په کابل کی دمحمد اعظم ایازی له قلمه‌پښتو ټولنی چاپ کیء (عقـرب ۱۸ شس نومبر ۳۹ م)

آقای سهیلی دایران لوی سفیر په کابل کـی مقرر سو، (٤عقرب ۱۸ش ۱۸ اکتوبر ۳۹) .

په کابل کی د سید جمال‌الدین افغان‌دسلمی تلینی‌مراسم اجراسول (قوس ۱۸ش۹ دسمبر ۳۹) .

په کابل‌کی‌وزارت معادن تاسیس او رحیم الله‌خان یی وزیرمقرر سو (۱٦ قوس ۱۸ش دسمبر ۳۹) .

د مطبوعاتو مستقل ریاست پـه کابل کـی جـوړ او صلاح الدیـن سلجوقی‌یی په کابینه کـی مستقل رئیس سـو، (٤ جـدی ۱۸ش ۲٦ دسمبر ۳۹).

دعسکری مکلفیت قانون نافذسو (۱۲ جنوری ٤۰ جدی ۱۸) .

دکابل رادیو ۲۰ کیلوواته‌منځنی څپه افتتاح سوه (۱۲ جـنوری ٤۰ جدی ۱۸) .

۱۹٤۰ م ۱۳۱۸ ش ۱۳۵۹ ق

د ملـی شورا ا ـخلورمـی دوری دوکیلانو د ټاکنی لـه پاره اعـلان خپور سو (۱ دلو ۱۸) .

دپښتو لومړی جیبی قاموس پـه قندهار کـی دلعل محمد کاکـړ او عبدالحی حبیبی‌له‌خوا چاپ او خپور سو (دلو ۱۸م).

د۱۳۱۸ ش کال دولتـی وار دات ۱٦۷ ملیونه مصار ف ۲۰۰ ملیونه کسر ۳۳ ملیونه افغانی و .

په ۱۳۱۸ ش کال په افغانستان کی ۳۱۲ مکتبونه‌او ۵۰ زره‌شاگردان او ۱۵۰۷ تنه معلمان‌وو .

په دغه کال دافغانستان دقره‌قل تجارت له‌امریکا سره شروسو، چی گـرده صـاد رات ٦۰۸، ۱۷۱۱ ډالره‌وه .

محمد عبیدالله خان افغا ن دهند د پښتنو تاریخ (یادگار سلف) پـه ډهلی کی چاپ کیء (۱۸ش).

میرزا محمدجان دمیرزاسعیداحمد زوی دکابل شاعـر او محاسب او خطاط په عاشقان وعارفان کی ښنخ سو (۱۸ ش) ده دامیر شیرعلی‌خان دولیعهد په تبر یك کی هـم یـوه قصیده ویلی‌وه ۱۲۹۰ ق .

۱۳۱۹ ش
۱۹٤۰ م ۱۳٦۰ ق

ملا محمد یوسف هراتی دقندهار سابقه دار معلم په گرشك کی وفات سو (حمل ۱۹ مارچ ٤۰)

دافغا نستان بانك اساس نامه‌خپره سوه (٥ جوزا)

دتجارت داطاقو اصو لنامه خپره‌سوه (٥ جوزا)

د۱۳۱۹ ش کال دولتی واردات ۱٤۸ ملیونه مصارف ۱۷۲ ملیو نه کسر ۲٤ ملیونه افغانی و.

په ۱۳۱۹ ش کال په افغا نستان کی ۳۲٤ مکتبونه ٦۰ زره شاگردان او ۱۹۹۰ تنه معلمان وو.

په دغه کال دقره قلی صا درات ۳٥٤، ٦۷٤، ٤ ډالرو ته ور سیده.

میرزا خداداد ثاقب دمزار شر یف فارسی شاعر وفات سو (یکشنبه۱۳ ذی الحجه ٥۹ق).

میر زا محمد اسحاق زرین قلم دغوث الدین زوی دکابل خطا ط وفات سو (۱۹ش)

داحمد شاه ابدالی پښتو دیوان د عبد الحی حبیبی په ترتیب اواهتمام پښتو ټولنی چاپ کیء (کابل)

۱۳۲۰ ش
(۱۹٤۰ م ۱۳٦۰ ق)

دچك وردگ دبریښنا کار خانه چی په ۱۳۱٦ ش کال شرو سوی وه بریښنا یی ٤٤ زره ولټه کابل‌ته جاری سوه (حمل ۲۰) .

دبوری اوقند اونساجی شرکتونه جوړسول (مئی ٤۰- جوزا ۲۰ ش).

دا فغانستان او شور وی اتحاد تجارتی قرار داد(۲۹ جولایی ٤۰م اسد ۲۰).

دافغانستان تاریخ په دوه ټوکه کی زرمخه په فارسی ژبه داحمدعلی کهزاد تالیف چاپ اود تاریخ ټولنی خپور کی، له‌قبل التاریخ څخه بیاد اسلام تر راتگه .

۱۹٤۱ م ۱۳۲۰ ش ۱۳٦۰ ق

اقتصادی پلان اعلان سو چی په ٥کالوکی به‌افغانستان ٥۰فیصده‌خپل دلباس اړتیا او ۸۰ فیصده به‌دبوری اړتیا پوره کوی (جنوری ٤۱جدی- ۲۰) .

ژو زف هاکن فرانسوی‌مستشرق چی‌له ۱۹۲٤م څخه‌یی په افغانستان کی تاریخی تحقیقات کړی وو ، داسپانیا دشمال غرب په دریاب‌کی په کښتی کی ډوب سو (۲٤فروری ٤۱ حوت ۲۰) .

دپښتو جیبی قاموس (لس زره لغتونه)دمحمد اعظم ابازی تا لیف، پښتو ټولنی چاپ کیء (کابل) .

دعسکری مکلفیت نوی اصولنامه خپره سوه (۱٤ میزان ۲۰) .

د ۱۳۲۰ ش کال دولتی واردات ۱٦۱ ملیونه مصارف ۱٦٦ ملیو نه کسر (٥) ملیونه افغانی‌و .

د ۱۳۲۰ ش کال افغانستان ۳۳۱ مکتبونه ٦٤ زره شاگردان ۲۱۹۰تنه معلمان درلودل .

۱۳۲۱ ش
۱۹٤۱ م ۱۳٦۱ ق

افغا نستان خپله بیطرفی په‌دوهم جهانی جنگ کی بیا تایید کړه (۲۸ جولائی ٤۱سرطان ۲۱)

افغا نستان دبر تانیا او شوروی اتحاد په غو ښتنه جر منیان او ایتالو یان له مملکته وایستل(۱۹ اکتو بر ٤۱ میزان ۲۱)

حاجی‌ولی محمدمخلص دسلطان‌محمد زوی دقند هار تکړه نقاد پښتوشاعر هلته ٦۲ کلن وفات سو (۳دلو ۲۱) (ولادت ئی قند هار ۱۲٥۹ ش)

شیخ محمد رضا هروی خطاطنقاش، منجم ،مورخ او شاعر په کابل کی وفات سو. (۱٥ صفر ٦۱ ق)

دپښتانه شعراء لو مړی ټوک دعبد الحی حبیبی تالیف دپښتو ټولنی له خوا په کابل کی چاپ سو.

په ۱۳۲۰ کال دغه اصو لنامی خپری سوی :

(۱) دتجارت اصو لنامه ۳۰ جوزا
(۲) دتجارت دثبت‌اصو لنامه۳۰جوزا
(۳) دتجارتی دفتر ونو اصو لنا مه ۸سرطان
(٤) ددلالی اصو لنامه ۲۳سرطان .
(٥) دافلاس او ډیوالی توب اصولنامه ۱٥ قوس.

د ۱۳۲۱ ش کال دولتی واردات ۱۰۳ ملیونه مصارف ۱٦۳ ملیو نه کسر ٦۰ ملیونه افغانی و.

په ۱۳۲۱ ش کال افغا نستان ۳٤۲ مکتبونه ۷۲۲۰۳ شا گردان او ۲٥٤۸ تنه معلمان لرل.

۱۳۲۲ ش
(۱۹٤۳ م ۱۳٦۲ ق)

قاری عبدا للـه ملك الشعراء د حافظ قطب الدین زوی په کابل کی ۷٥ کلن مړ او ښخ سو (جمعه۹ثور ۲۲) ولادت ئی کابل ۱۲۸۸ ش و.

دافغا نستان قو نسلگری‌په‌نیویارك کی افتتاح سوه (۱٥ مئی ٤۳ م)

د افغانستان لومړی وزیر مختار عبد الحسین عزیز خپله اعتماد نامه دامریکا رئیس جمهور ته وړاندی‌کړه (٥ جون ٤۳ جوزا ۲۲) .

د ۱۳۲۲ ش کال دولتی واردات ۱۱۷ ملیونه مصارف ۱۸۰ ملیونه کسر ٦۳ ملیونه افغانی و.

په ۱۳۲۲ کال ټول د قره قلی صادرات ۸۳۹ ، ۱۸۰۱ پوسته په ٦۹۰، ۰۸۳، ۸ ډالره قیمت وه.

سرا ورل ستین مشهور انگلیسی مستشرق او پوهاند په کابل کی مړ اوښخ سو(سه شنبه ۲ عقرب ۲٦ اکتوبر ٤۳)

دسعد آباد ترون تر پنځو کالو وروسته پخپله تجدید سو (۲۸ دسمبر ٤۳ قوس ۲۲)

په ۱۳۲۲ ش افغا نستان په ۳٥۳ مکتبو کی ۱۲٦، ۸٤ تنه شا گردان او ۲٤٥٤ معلمان لرل.

دلوی احمد شاه بابا شرح حال دمیر غلام محمد غبار تالیف په‌کابل کی په فارسی چاپ سو ۳٥۲ مخه.

۱۹٤٤ م ۱۳۲۲ ش

د افغا نستان او چین دمودت معا هده لاسلیك سوه (٥ مارچ حوت ۲۲)

۱۳۲۳ش
(۱۹٤٤ م ۱۳٦٤ ق)

دهرات لوی مسجد نوی تر میم او تزئین سو.

دپښتو شاعر عبد العلی اخندزاده خالوزی کاکړ دملا عبد الخالق زوی دملا عبدالر حمن لمسی په ۱۹۳۰ م دخان قلات قاضی القضات، په ۱٦ شوال ٦٤ق دپښین په خالوزو کی وفات او ښخ سو (ولادت ئی خالو زی ۱۸۷۲ م ۱۲۸۹ ق)

میر سید عالم محمد دامیر سید عبد الاحد زوی دبخارا پخوانی پاچا په کابل کی ٦٤ کلن و فات او په شهدای صا لحین کی ښخ سو (شنبه ٥ جمادی الاولی ٦۳ق ۹ثور ۲۳) دده جلوس په بخارا کی ۱۳۲۹ ق.

میر محمد علی آزاد دقاضی میر محمد حسن زوی دفارسی شاعر او منشی او مولف په کابل کی وفات سو (پنجشنبه ۲۰ ذیحجه ٦۳ ق ۱٥ قوس ۲۳) ددهولادت په بالاحصار کی رمضان ۱۲۹٥ ق.

دسید جمال الدین افغانی تابوت له استانبوله کابل ته را وړل سو او په پوهنتون کی ښخ سو(یکشنبه ۱۰ جدی ۲۳)

پته خزانه دپښتو تذکرهٔ شعراء د محمد هوتك تالیف (۱۱٤۲ ق) د عبد الحی حبیبی په اهتمام کشف او له کابله چاپ او نشر سوه (۲۳ ش)

دعبد الرؤف بینوا تالیف پښتنی میر منی په کابل کی چاپ سو.

د ۱۳۲۳ ش کال دولتی واردات ۲۱۹ ملیونه مصارف ۱٦۷ ملیو نه سپما ٥۲ ملیونه وه.

په ۱۳۲۳ ش کال د افغا نستان په ۳٤۸ مکتبو کی ۸۷،٥۳۹ تنه شا گردان او ۲٥۲۲ تنه معلمان لرل.

د ۱۳۲۳ کال ټول دقره قلی صا درات ۱،۹۱۰،۰۱۹ پو سته په ۱۲،۷۱۱،۲٦٥ ډالره وه

✦✦✦

صد راعظم سو (۹مئی ٤٦ جوزا۲۵)
ایران سره هوایی موافقه وسوه (۲٦ میزان ۲۵)
په‌ملل متحدکی دافغا نستان لومړی نماینده عبد الحسین خان شامل‌سو (۱۹ نومبر ٤٦ عقرب ۲۵)
دملل متحد عامی غونډی دافغانستان گډون په هغه موسسه کی وما نه (۹ نومبر ٤٦ عقرب ۲۵)
عبد الرحیم خان دعامو گټو وز یر دحکومت دمخالفت په تور ونیول‌سو (۲۹ جنوری ٤٦ جدی ۲۵)
دکابل پوهنتون دطب او حقوقو او ادبیاتو دفا کو لتو په‌شمول جوړسو (۲۵ ش)
په ۱۳۲۵ کال دغه اصو لنا می خپری سوی .
۱ـ دعایداتو دمالیاتواصو لنا مه
۲ـ د حکومت د اداری چارو د عمومی تفتیش اصولنامه ۱۰ ثور .
۳ـ دملکی مامورینو دمحاکمی‌اود محکمو دتشکیل اصول ۷ جوزا .
په ۱۳۲۵ کال ټوله د افغا نستان ساتلی طلاوی دنیویا رك په‌فدرا ل بانك‌کی (۹۳۷،۷٦۷) او نسه طلا په(۷٦۳، ۲۳۵، ٤۳۵) افغا نی‌قیمت وه اوهم (۱۸٦۹٤۵) مسکو کی طلاوی په (۵۱۸۰٦۵۰) گر مه وز ن او (۵۱۲۵٦٤۷۳۵) افغانی قیمت موجودی وی .
په ۱۳۲۵ کال ټول د قره قلی صادرات ۱،۵۹۸،۲۸۹ پوسته په ٤۲۲، ۱۹۸، ۲۱ ډالره‌وه .
په ۱۳۲۵ کال افغا نستان په ۳۲۹ مکتبوکی ۳٤٤، ۹۳ شاگردان او ۲٦۷۷ تنه معلمان درلو دل .

د ۱۳۲۵ ش کال گرده دولتی عایدات ۳۳۸ ملیونه مصار ف ۳٤٤ ملیونه اوکسر ٦ ملیونه‌افغانی وی.
په ۱۳۲۵ کال دافغا نستان ځینی احصائیی :
پو سته‌خانی : ۲۳٦ پیاده رو ٤۲ موټر رو .
محکمی :
۱ تمیز + ۱۰ مرافعی + ۱٦۱ ابتدائی = گرده ۱۷۲ .
ما لی د وایر : ۷ مستو فیه + ۳ سر ښته داری + ۱٦٦ کنترو لی اداری = گرده ۱۸٤ .
پښتو ملکی کور سونه : گرده ٤٤٦، معلمان‌ئی ۲۰۹ـ زده کوونکی ۱۳۳۸۰ .
نشر الصوت : یوبروډ کاستنگ ناشر الصوت ۱۳ـتر احصائیی لاندی شخصی راډیو گانی ۳٦۲۰ .
دنخی کار خانو محصو ل : ۷۲٤،٦۹۳، ۱۰متره ټوکر او۲۸۰۲۱ کلچی صابون .
د کابل نقلیات: ۳۸۷۵ بایسکله ۸٦۲ تیزرفتار موټرونه، ۱۳۲۱لاری ۷۵۱ گاډی، ټوله دکراچیو او موټر سایکل سره = ٦۸۲۵ .
د کابل حیوانات: ۷٦۷، ۳،۸۸۰ دزراعت دائری : ولایات ۹ + امتحانی قوریه ۲ + سیروم سازی ۱ + د ځاروپوروزنه ۱ + دکرنی‌ازموینښت ځایونه ٤ = ټول ۱۷ .
دکابل ودانی : کورونه ۹۵۰۰ سرایونه ۱۱۲ـ دکا نونه ۵٤٦۲ ـ حمامونه ۲۷ـ یخدان ۱۵ داوبو نلو نه ۱۵۲ کیلو متره ـ مسجدونه ۲۰۰ .

معادن : دتالقان مالگه۱،۱۳۲،۸٦٤
سیره‌ـ داندخوی‌مالگه ۱،۲۰۹،٦۷۲
سیره‌ـ دهرات دغو ر یان ما لگه ۸٤٦،۲۹٤ سیره‌ـ دتاشقرغان مالگه ۱۱۳،۲۸۱ سیره‌ـ دقندهار مالگه ۱۲۰،۰۰۰ سره‌ـ دغو ر بند مالگه ٤٤۰۰سیره مساوی‌ټوله۳،٤۲٦،۵۱۱
سیره ـ ډبرین سکاره (۱۷٦۸۸) سیره.
دحکو متواداری: نائب الحکو مگی ۷ اعلی حکام ۳ لوی حاکمان ۲۲ لومړنی درجه حاکمان ۲۰ دوهمه درجه ۳۳ـدریمه درجه ۳۸ـخطرمه درجه ٤۱ـ علاقه‌داری ۱٤۲ـ ټوله ۳۰٦ .
قضا: په‌ټول‌افغانستان‌کی ۲٤۷۵ حقوقی او ۱۸۷۲ جزایی فیصلی سوی وی .

دکابل نفوس: چی‌دبوری کوپون یی ا خیستی دی (۱۰٦،۱۹۱) تنه .
دخارجی ټو کر واردات :
۰۲۸، ۹٤۸، ۹۱ متره.
دامریکا اوړه: ٤۱۲، ۲٦۵ سیره خارجی بوره: ۸۸٤، ۲۷۰ سیره روغتونوته: ۱۹۲، ۳۷۱ تنورجوع کړیده
دکابل ښار دکانونه:
دډوډی هوټلو نه ۳۵ـ سماوار چی ۱۵۱ ـ کلچه پزی ٤٤ ـ وریجی‌والا ۵۰ ـ کبابی ۳۵ ـ سابه والا ۳۵ پالوده والا ۵۹ ـ میوه والا ۵۳ ـ بقال ٤۰۸ ـدوډی والا ۱۰٤ـ بنیه گر ۱٦۵ ـ قناد ۱۵۱ ـ عطار ۱۷۵ـزرگر ۱۷۷ـدرملتو نونه‌ـ۱۰

۱۳۲۶ ش .
(۱۹۴۷م ۱۳۶۸ ق)

د افغانستان او شوروی دراديو تلگرافی معاهده ۱۶ مادی په کابل کی امضاء سوه (۱۳ اپریل ۴۷ حمل ۲۶) .

دافغانستان و فد تا شکند ته ورسیدی چی د شوروی مملکته سره سرحدونه و ټاکی (۲۴ اپریل ۴۷م ثور ۲۶).

ځکه چی دهندوستان ویش ومنل سو، نو افغانستان برتانیا اود هند حکومت ته ولیکل، چی دافغانستان له سر حداتو تر ابا سینه پوری خلك پښتانه دی او ښایی چی دوی پخپله دافیصله وکړی، چی آزاد پاتیږی، که له افغا نستان یاهندیاپا کستا نه سره گډیږی (۱۳جون۴۷ جوزا۲۶).

برتانیا افغانستان ته جواب ورکی چی د ۱۹۲۱ کال په تړون کی سرحدونه منل سوی دی، نو ځکه هندو ستانیا نو ته دقدرت دانتقال په وخت کی باید افغانستان په شمال غربی سرحد کی هیڅ ډول مداخله و نه کړی (۳ جولایی ۴۷ سرطان ۲۶) .

افغانستان دپښتو نستان د خلکو دحقوقو مطالبه بیا برتانیاته وکړه(۱۰ جولایی ۴۷ سرطان ۲۶).

سردار شاه‌محمود خان صدراعظم لندن ته ولاړ (۲۶ جولایی ۴۷ م اسد ۲۶) .

سردار شاه محمود خان نیویارك ته ورسیدیء (۳ ـ اگست ۴۷ م اسد ۲۶) .

ایران په سیستان کی دهلمند د اوبو دلږوالی‌شکوه وکړه (۱۸ستمبر ۴۷م سنبله ۲۶) .

افغا نستان دپښتنو په طرفداری دپاکستان‌دشاملیدو‌پر خلاف‌دملل‌متحد غونډه کی رای ورکړه . (۳۰ستمبر ۴۷ میزان ۲۶) .

د افغانستان او سویډن د مؤدت معاهده (۲۲ـ اکتوبر ۴۷م۲۸ میزان ۲۶).

نجیب‌الله خان دافغانستان نماینده دپښتونستان دځکلو دحقوقومذاکره د پاکستان د مشرانو سره وکړه (نومبر ۴۷ عقرب ۲۶) .

دصافو او نورستانیانو د جنگ په بندو نه کی دعسکر و مدا خله (۲۹ نومبر قوس ۲۶) .

۱۹۴۸ م ۱۳۲۶ ش ۱۳۶۹ ق

عبد الحسین عزیز د افغانستان نماینده په کشمیر کانفرانس کی وغوښته چی‌دقبایلی‌سیمو پروضعیت باندی د افغانستان سره مشوره رسمی (۲۲ جنوری ۴۸ دلو ۲۶).

په ۱۳۲۶ کال دغه اصولنا می خپری سوی .

۱ـ دترافیك‌اصو لنامه ۱۷سنبله.
۲ـ دښاروالیواصو لنامه۱۰سنبله.
۳ـ دعسکری جزااصولنامه۳میزان.
۴ـ دعسکری محاکماتو اصولنامه ۱۳ میزان .

د ۱۳۲۶ ش کال دولتی واردات ۲۸۱ ملیونه او مصارف ۲۸۳ ملیونه کسر دوه ملیونه افغانی‌و .

په ۱۳۲۶ ش کال افغانستان په ۳۳۸ مکتبو کی ۹۸،۶۳۱ شاگردان او ۲۷۴۷ معلمان لرل .

په دغه کال ټول دقرقلی صادرات ۲،۴۱۶،۲۰۸ پوسته‌په ۱۶،۲۵۰،۹۹۷ ډالره وه .

دکابل صحی اداری: سناتوریم ۲ دکوچنو روغتون۱ـ دښځو روغتون۱ دبندیانو روغتون۱ گرزنده روغتون۲ عمومی روغتو نونه ۳ـ گرده ۲۱ شفاخانی :قندهار ۵ـ مزار ۶ هرات ۷ قطغن ۸مشرقی۵ میمنه ۳ فراه ۲بدخشان ۱ = گرده ۷ دکابل ښار ۲۱ مساوی گر ده ۶۷

۱۳۲۷ ش
۱۹۴۸ م ۱۳۶۹ ق

سردار محمد نعیم خان‌په‌اتازونی کی دافغانستان‌لوی سفیر مقررسو: (۱ اپریل ۴۸ حمل ۴۷ حمل ۲۷) شاه عبدالله بدخشی د بدخشان د جرم د میر محمد سید خان زوی چی لیکوال او محقق سړی و په کابل کی په ۲۶ حمل ۱۳۲۷ ش وفات سو (ولادت ئی په‌جرم بدخشان کی ۱۳۳۰ ق)

محمد یحیی نادم میمنه وال د دیوان خاوند شاعر په میمنه کی ۷۹ کلن وفات سو (سه شنبه ۷ ثور ۲۷) .

د بر تانیا سفیر سو (۲۳ اپریل ۴۸ ثور ۲۷) .

سردار فیض محمد خان په بر تانیا کی د افغانستان لوی سفیر سو (۶ می ۴۸ ثور ۲۷).

دامریکا وزارت مختاری په کابل کی په لوی سفارت بدله سوه او لو مړی لوی سفیر ای‌ـ پالمیر خپله اعتماد نامه وړاندی کړه (۵ جون ۴۸ جوزا ۲۷) .

افغانستان په راډیو او مطبوعاتو کی د پښتونستان تحریک شروع کیء او پاکستان‌خان عبدالغفار خان بندی کیء (۱۶جون ۴۸جوزا ۲۷)

د افغان او شوروی اتحاد گډ کمسیون د سرحداتو ټاکنه بشپړه کړه او موافقت نامه ئی امضا سوه (۲۹ ستمبر ۴۸ سنبله ۲۷) .

کسر شپږ ملیونه افغانی و .

د ۱۳۲۷ ش کال دولتی واردت ۳۱۱ ملیونه مصارف ۳۱۷ملیو نه په ۱۳۲۷ ش کال په ۳۲۵ مکتبو کی ۶۶۰ ، ۹۸ شاگردان او ۲۷۵۸ معلمان وو .

په دغه کال گرده د قرقلی صادرات ۸۶۶ ، ۳۶۵ ، ۱ پوسته‌په ۲۲،۶۰۵،۷۲۱ ډالره وه.

په دغه کال د مالگی واردات مالیه وزارت ته (۳۵۷، ۴۲۲ ، ۱) اود ډبرینو سکرو (۱۹۵ ، ۵۶۱) سر گیلیس سکوائر په کابل‌کی افغانی وی .

په دغه کال کی د کابل د سینما گانو عایدات (۲٦۹ ، ٤۸۷ ، ۱) افغانی وی .

په دغه کال افغانستان له خارجه ۱٤۱،۳۵۱ بوری بوره ۵ـ۹۸،۰٤٤ سیره په (۳۹٦، ٤٦۵، ٤۱) افغانی را نیولی وه . او داخلی د بغلان بوره له ... ، ۳۲ ټنو لبنو څخه ٤۲،٦۸۳ بوری ۵٤۷،۲۲۵ سیره سوی وه.

دا ډیواصو لنامه خپره سوه(۱۵اسد) داحمد تو کلی کتاب (روابط سیاسی ایران وافغانستان)له‌تهرانه چاپ سو (۲۷ش)

۱۳۲۸ ش
(۱۹٤۹م ۱۳۷۰ق)

خارجه وزارت‌وویل چی‌دپاکستانی گورنرجنرال داخبره‌چی‌قبایلی‌سیمی دپاکستان نه‌جلاکیدونکی برخی دی دجناح‌د۱۹٤۸م له‌وینا‌سره مخا لفه ده (۲٤مارچ ٤۹م ٤ حمل ۲۸).

د افغانستان شارژ دافرپه کراچی کی د وزیرستان پربمباری باندی دپاکستان حکومت ته غاوو کی (۲ اپریل ٤۹ حمل ۲۸) .

لویس ډر یفیوس په کابل کی دامریکا لوی سفیر سو (۲۰ اپریل ٤۹ ثور ۲۸) .

افغانستان پر سرحداتو باندی د پاکستان خواته دگاډیو تگ‌راتگ مقیدکیء (٤ جون).

پاکستانی طیارو پرمغلگی بمباری وکړه او ۳۲ تنه افغانان یی‌مړه‌کړل اود افغانستان حکومت پردی واقعه سخت احتجاج وکی (۱۲ جون ٤۹ جوزا ۲۸) .

الفریډ گاردنر په کابل کی د برتانیا لوی سفیر سو (۲۰ جون ٤۹ جوزا ۲۸) .

فیض محمد خان دافغانستان لوی سفیر په لندن کی وویل، چی افغانستان به‌دپاکستان سره دخپلی شخړی د فیصلی لپاره د برتانیا کو مك وغواړی،مگر پاکستان‌وویل: چی په سرحدی صوبه کی دمخه د خلکو رایه اخیستله سویده ، اود داکار دپاکستان په داخلی چاروکی مداخله‌ده (جوزا ۲۸) .

د شورای ملی اومه دوره چی آزاده شوراوبلله سوه افتتاح‌سوه (۳۰ جون ٤۹ سر طان ۲۸).

دپاکستان خارجه وزیر وویل : چی پاکستان به‌دافغا نستان‌سره د اقتصادی همکاری خبری وکی، خود قبایلی سیمو مسئله به‌ردکی. (۱۱ جو لایی ٤۹ سر طان ۲۸).

د افغانستان ملی شورا ډیورنډ لین ردکیء، اود پښتو نستان‌دخلکو جهادیی دآزادی لپاره تاییدکیء . (۲٦ جولایی ٤۹م اسد ۲۸) .

مولوی سیف الرحمن الکوزی د افغانستان قاضی عسکر ۱۱۰ کلن دپیښور دچار سدی په دوابه او مهتره کلی کی وفات او ښخ سو . (شنبه ۷ جمادی الاولی ٦۹ ق ۱۳۲۸ ش) .

د سوات والی میانگل عبدالودود

خپل زوی عبدالحق جهان زیب خپل جا نشمین کیء اودریاست حکمرانی ور وسپارله سوه (۱۲ دسمبر ٤۹ قوس ۲۸) .

۱۹۵۰ م ۱۳۲۸ ش ۱۳۷۱ ق

د افغا نستان او هند دروغی او مؤدت معاهده وسوه (٤جنوری ۵۰م ۱٤ جدی ۲۸)

افغا نستان دچین دخلکو حکومت په رسمیت وپیژاند (۱۳ جنوری ۵۰ جدی ۲۸)

سلطان احمد خان افغانی لوی سفیر خپله اعتماد نامه په مسکو کی د شوروی اتحاد مشر ته وړاندی کړه (۲٦ جنوری ۵۰ دلو ۲۸)

دافغا نستان پاد شاه په رسمی میلمستیا مصر ته ولاړ (۸ مارچ ۵۰ حوت ۲۸)

۱۹٤۹ م ۱۳۲۸ ش ۱۳٦۹ ق

دمنهاج سراج جوز جانی دطبقات ناصری کامله نسخه دعبد الحی حبیبی په تعلیق او تحشیه په لاهور او کوټه کی سنگی چاپ سوه.

دوهمه طبع ئی له کابله دوه ټوکه او مکمله ۱۹٦۳ ر ۱۹٦٤ م

د ۱۳۲۸ ش کال دولتی وار دات ۳۲۹ ملیونه مصارف ۳۳٦ ملیونه‌او کسر اوه ملیونه افغانی و.

په ۱۳۲۸ ش کال په ۳۲۸ مکتبو کی ۹۵،۹۸۲ زده کوونکی او ۲۸۳۳ ښو ونکی وو.

په دغه کال کرده دقره قلی صا درات ۱،٦۵٦،٦۱٦ پو سته په ۱۰،٤۳۷،۲۳۷ ډا لره وه.

په دغه کال‌مالیه‌وزارت‌ته دمالکی عاید ات (۲،۰۲۷،۹۲۰) اود ډبرینو سکرو (۱،۱٦۰،۹۸۷) افغانی او د کابل د سینما گانو عا یدات (۱،٦۵۵،۸۸۷) افغانی اود دولتی املا کو عاید ات (۱،٦۵٤،۳۸۹) افغانی اود گمرك محصول (۱۳۵،۹۲۲،۸۸۵) افغا نی وی. او افغا نستان ته گرده (۲،۹٦۵،۹۰۷) گیلنه پټرول را وړل سوی وو.

دافغا نستان بانک دارا ئی:

طلا ۵۱۲،۵۸٤،۹۵۵

نقره ٦٤،۵٦۸،۲۸۵

خارجه اسعار ۱٤۱،۷۸۳،۷۲۱

در لتی نوټ ۱۷۵،۹۳۷،۱۳۵

مسکو ک ۱،۳۸٦،۹۷۳

بانکی نوټ ۸۵،۳۹٦،۷۲۵

گرده (٦۵۷،٦۹٤، ۹۸۱) افغانی.

دافغا نستان بودجه :

دمخکی او ځاروو مالیه ۱۱٤ملیونه

د گمرك محصول ۱۵۰ رر

پر عایداتو مالیات ۳۵ رر

دبانکو گټی ۱۵ ملیو نه

دو لتی انحصا رات ۱٦ رر

کا نونه او متفرقات ٦۰ رر

گرده عایدات ۳۹۰ رر

مصارف هم دغونی دی.

دافغا نستان دبرینښنا دپیدایښت اندازه :

دجبل سراج اوبه ۱۰۰۰ کلیواته
دچك وردگ اوبه ۳۳۰۰ رر
دقند هار اوبه ۳۳۰ رر
د هرات اوبه ۹۰ رر
ویزلی ۱۵۰کلیواته
د پغمان ۵۰ رر
دپل خمری ۴۸۰۰ رر
د سروبی ۲۴،۰۰۰ رر

توله تخمینی دبر ینبنا قوه (۳۴) زره کیلواته .

دافغا نستان صادرات خارج ته:
وچه میوه ۴۰ زره تونه
قیمت ۱۲۵ ملیونه افغانی
لنده میوه ۱۵ زره تونه
قیمت ۴۵ ملیو نه افغا نی
عقاقیر او لرگی ۱۵ زره تونه
قیمت ۴۰ ملیو نه افغا نی
پنبه ۱۲ زره تو نه
قیمت ۱۲ ملیو نه افغا نی .
قره‌قلی اونور پوستونه ۲ملیونه
قیمت ۲۵۰ ملیو نه افغا نی .
وړی ۸ زره تونه
قیمت ۴۰ ملیو نه‌افغانی .
غالی ۶۰ زره متر مربع
قیمت ۷ ملیو نه افغانی .
نور مواد ، کو لمی ، کمبلی، پو ستین ، خرمن ۵ ملیونه افغانی.
اودلی شیان شل ملیو نه افغانی.
گرده صادرات :یولك تونه او تخمینی قیمت‌ئی ۵۵۰ ملیونه افغانی
دافغا نستان دمخکی له۳۰۰،۰۰۰ مربع میل څخه فقط پنځمه بر خه‌آبی یاللمی کرل کیږی چه له‌هغه څخه ۱۹۱،۰۰۰ تو نه غنم ۱۲۸،۰۰۰ ور بشی ۳۴۷،۰۰۰ جو ار۲۵،۰۰۰ پنبه ۳۵،۰۰۰ قندی لبلبو۲۵،۰۰۰ ور یجی – ۱۸۹،۵۰۰ حبوبات – ۱۰۰،۰۰۰ تونه‌میوی اخیسته‌کیږی.

دافغا نستان واردات لکه کالی ، بوره، چای، دواوی، دخا نیات، ماشینونه ، موټرونه ،دبرینبناسامان د ودانی لوازم، لوښی، فلزات اونور تر ۳۰ زره تونه.

څلور ملیونه گیلنه تیل.

ټول: ۵۰۰ تر ۶۰۰ ملیونه افغانی دکانی او مصنوعی مالگی پیدا ینبت ۱۵ زره تونه په لس ملیونه افغانی، کانی سکاره لس زره تونه په لس ملیونه افغانی.

د افغانستان بانك‌سرمایه ۱،۱۸۲ ملیونه .

دکاغذی نوټ خپرونه ۸۴۵

د نیویارك په ریز رو بانك کی پشتوانه (۷۶۷، ۹۳۷) اونس‌طلا .

دکابل‌په خزانه کی(۶۵۰، ۵،۱۸۰ گرامه)

بی سکی طلا او (۱۸۶ر۹۴۵) مسکوکه طلا .

او (۵۶۷،۰۰۰، ۶۴) مسکوك نقره .

دریز رو بانك دطلا قیمت : (۷۳۵ ، ۵۶۴ ، ۵۱۲) افغا نی (د افغانستان بانك رسمی راپورټ ۱۳۲۸ ش) .

په ۱۳۲۸ ش کال د افغا نستان

نفوس ۱۲ ملیو نه تخمین سوی دی .

په ۱۳۲۸کال دغه اصو لنا مه خپری سوی :

۱–دنکاح اوسنتی اوواده اصولنا مه ۸حمل .

۲– دپاتا مراسم ۲۸ حمل .

۳– دصنایعو دتشویق اصولنامه ۳۰ حمل .

۱۳۲۹ ش
(۱۹۵۰م ۱۳۷۱ ق)

د افغانستان پادشاه په ر سمی میلمستیا ایران ته ولاړ (۲۷ مارچ ۷ حمل ۲۹) .

د افغانستان حکو مت وغوښتل چی دپاکستان‌دلوی سفارت غړی دی ددی ځای قوانین نه‌ماتوی (۲۶مارچ ۵۰م۶ حمل ۲۹) .

د افغانستان او شوروی داجناسو دمبادلی موا فقت نامه ۱۴ ما د ی امضاء سوه (۱۷ جو لا یی ۵۰ سرطان ۲۹) .

دمتحدو ملتو دتخنیکی امداد ډله کابل ته راغله چی په انکشافی‌پلانو کی مشوره ورکی (۲۲ جون ۵۰ سرطان ۲۹) .

جون ۱۹۵۰ – اپریل ۱۹۵۲ م
جوزا ۱۳۲۹ – ۱۳۳۱ ش دقندهار په شمال شر قی ۴۰ کیلو متری دهله کی دارغند او پر رود یو ډم جوړ سو:

لوړتیا ۵۰ متره – اوږد والی ۵۳۰ متره– پسور ۱۰متره– ظرفیت یوملیون جریب مکعب– د ډم نس ۳۰۰، ۲۵ جریب– دډم داوبو اوږد والی ۱۸کیلو متره– پسوریی اوسط ۲کیلو متره– مځکه تر اوبو لاندی ۴۸۰،۰۰۰ جریبه – دبرینبنا قوه ۶۴۰۰ کیلواته .

د یونسف سره دسلو زرو ډالرو دامداد قرارداد د کوچنیانو دمړینی دلږولو لپاره (۱۱ جولا یی ۵۰ سرطان ۲۹) .

دافغانستان او اتحاد شورو ی‌د څلورو کالو تجارتی قرارداد (۱۸ جولایی ۵سرطان ۲۹).

دافغانستان اوشرق اردن دمودت معاهده (۲ ستمبر ۵۰م ۱۰ سنبله ۲۹ ش) .

د افغانستان او لبنان د مودت معاهده (۶ ستمبر ۵۰م ۱۴ سنبله ۲۹ ش) ..

د افغانستان او سوریه دمودت معاهده (۱۲ اکتوبر ۵۰م ۱۹ میزان ۲۹ ش) .

د سردار شاه محمود خان نوی کابینه داسی‌اعلان سوه :(۱۴اکتوبر ۵ میزان ۲۹) .

ښاغلی محمد داؤد دحرب وزیر علی محمد خار جه و ز یر – عبدالاحد داخله وزیر– محمد نوروز مالیه وزیر– میر سید قاسم عدلیه وزیر – عبدالمجیددمعارفو وزیر – میر محمدحیدر دملی اقتصاد وزیر

غلام فاروق صحیه وزیر- محمداکرم دفواید عامه وزیر- محمد نعیم‌دکانو وزیر .

له افغانستا نه یهود اسراییل نه‌لاړل (اکتو بر ۵ میزان ۲۹).

افغانستان دپاکستان‌داتور ردکی چی په ۳۰ ستمبر ددی ځای قبایلی یا عسکری خلك تر سرحداتو تیر سویدی (۲٤ اکتوبر ۵عقرب ۲۹).

له‌اوومنارو څخه چی دهران پـــه مصلاکی پاتـه وی یـوه ونړیده . (چهار شنبه ۱۸ دلو ۲۹) .

۱۹۵۱ م ۱۳۲۹ ش ۱۳۷۲ ق .

د امریکا دمتحده ایالاتـو سـره دتخنیکی مرستی قرارداد (۹فروری ۵۱ حوت ۲۹) .

جارج میریل دامریکا لوی سفیر کابل ته وتاکل سو (۱۹ مارچ ۵۱م ۲۸ حوت ۲۹) .

د ۱۳۲۹ ش کال دولتی واردات ۳۹۷ ملیونه مصارف هم دغونی‌و .

پـه ۱۳۲۹ ش کـال پـه ۳۳٤ ښوونځو کی ۷۸۸، ۹۹ زده کوونکی او ۳۰۰۷ ښوونکی‌وو .

په دغه کال کـی گـرده مالیات برعایدات ۲٤۹ ملیونه وه . دمخکو مالیه ۱۷۹ر ٤۲٦ ر۲۸- دمواشـی مالیه ۲۷۲،٤۷۱،۲۸- اصنافی مالیه ۰۲٦، ٤۲۸- او گـر ده مـالیـه (٤۷۸، ۳۲۵، ۵۷) افغانی‌وه .

د افـغـا نستان بانـك دا رایی ۱۳۲۹ ش :

طلا ۸۱٤، ۵۰۲، ۵۱۲ افغانی .

نقره ۲۸۵، ٦۰۳، ٦٤ رر

خارجه اسعار ۹۵۲، ۱۳۱، ۳۵٦ افغانی .

دولتی نوټ ۹۰۲، ۹۸۰، ۱۷۵ افغانی .

مـسـکـــو ك ۵۵۲ ، ۳۲٤، ۱ افغانی .

بانـکی نـوټ ۸۱۵، ۵۱۷، ۷۱ افغانی .

گـــر ده ۰٦۲،۳۲۰ ، ۱،۱۸۲ افغانی .

دافغانستان بانك‌مفاد ٤۲،۱۰۷،۲۰٦ افغانی .

داسعارو قیمتونه (۱۳۲۹ ش) .

سل‌ډالره په‌رسمی قیمت۱٦۷۵- افغانی. په‌آزادقیمت ۲۰۹۵- افغانی.

سل هندی کلدا ری قیمت ۳۵۱ افغانی په آزاد قیمت ٤۳۹ افغانی

سل پاکستانی‌کلداری قیمت ۵۰٦ افغانی په‌آزاد قیمت ٦۳۳ افغانی.

سل‌سویسی فرانکه قیمت ۳۸۷ افغانی په‌آزادقیمت ٤۸٤ افغانی.

۱۳۳۰ ش
۱۹۵۱ م ۱۳۷۲ ق

سردار شاه‌محمودخان صدراعظم امریکا ته په رسمی میلمستیا ولاړ (۲۵ اپریل ۵۱ ثور ۳۰) .

دملل متحده کومك دشمال دنفتو دکشف لپاره (۲۸ مئی ۵۱جرزا۳۰)

۱۹۵۲ م ۱۳۳۰- ۳۱ .

صوفی عبدالحق بیتاب دعبدالاحد عطار زوی ته چی په ۱۳۰٦ق دکابل پـه قصاب کوچه کـی زیږیدلی‌و . دملك‌الشعراء لقب‌ورکړسو (۱۸دلو ۳۰ ش) .

سید صدیق‌گوهری دمزارشریف دسیدعثمان زوی شاعر او خطاط او نقشبندی صوفی ٦۸ کلن په‌مدینه کی وفات او په جنت البقیع‌کی ښخ سو، (۳۰ ش) .

د افغانستا د پنبی تولیدات چی پخوا شپږ زره ټنه‌وو، اوس ۱۳زره ټنو ته ورسیده .

د ۱۳۳۰ ش کال‌واردات اومصارف ۳۸۸ ملیونه افغانی وی .

په ۱۳۳۰ ش کال په ۳۹۷ نارینه مکتبو او ۱۱ د ښځو مـکتبو کـی ۹۳،۳٦۷ متعلمان او ۵۳۷۱ متعلمات او ۲۸۷۸ معلمان او ۲۵۰ معلمات‌وو.

د ۱۳۳۰ کال ترپایه دافغانستان دقـره‌قلی صـادرات ٦٦۳ ، ۹۲۱ پوستکه .

د پنبی صادرات ۰۰۵ ټنه شو روی اتحاد ته ـ ۱۵۰۰ ټنه هند ته ـ ۱۰۰۰ ټنه جرمنی ته .

۱۳۳۱ ش
۱۹۵۲ م ۱۳۷۳ ق

افغانستان د اتحاد شوروی هغه نوټه ردکړه، چی گوندی دملل‌متحده دتخنیکی امداد متخصصان دشوروی سرحدونه نزدی کوم فعالیتونه‌کوی (۲۳ ستمبر ۵۲ میزان ۳۱) .

۱۹۵۳ م ۱۳۳۱ ش ۱۳۷۳ ق

امریکا دغنمو رانیولو لپاره یونیم ملیون ډالره پور افغانستان ته‌ورکی (۸ جنوری ۵۳ جدی ۳۱) .

د هند سره هوایی موا فقت‌نامه وسوه (٦ دلو ۳۱ ش) .

سلطان احمد خان خارجه وزیـر مقرر سو. او علی‌محمد خان یوا ز ی دصدارت معاون پاته سو (۱۸ مارچ ۵۳ حوت ۳۱) .

د ۱۳۳۱ ش کال دولتی واردات ۵۳٦ ملیونه مصار ف ۵۳۵ ملیونه افغانی کسر ۹ ملیونه افغـا نـی

په ۱۳۳۲ ش کـال د نارینه وو ښوونځی ۵۲۸ دښځو ښوونځی ۱۷ وو، چی په دغو کی ٦۲۲، ۹۹ تنه هلکان او۲٦۳ ، ٦ نجونی‌وی، معلمان ۳۰٦٤ تنه‌وو‌ښځی ښوونکی‌یی ۲۸۷ تنی‌وی .

۱۳۳۲ ش
(۱۹۵۳ م ۱۳۷٤ ق

سر دار شاه‌محمود خان دناروغی په سبب له صدارت ته استعفا وکړه او ښاغلی محمد داؤد تـه دکابینی جوړولو فرمان صادر سو (٦ ستمبر ۵۳ سنبله ۳۲)

ښاغلی محمد داؤد خپله کابینه‌داسی اعلان کړه:

علی محمد دصدارت عظمی معاون- محمد عارف ددفاع وزیر- سر دار محمد نعیم خارجه وزیر- عبد الملك دمالیه وزیر کفیل- عبد الحکیـم د فواید عا مـه و زیر- عبدالمجیـد د معا رفو وزیر - غلام فاروق صحیـه وزیر - محمد یوسف دکانو وز یر -شمس‌الدین مجروح دقبایلومستقل رئیس - میر محمد یوسف دزراعت مستقل رئیس-صلاح الدین‌سلجوقی دمطبو عاتو مستقل رئیس.

سر دار محمد هاشم خان چی له ۱۹۲۹ څخه تـر ۱۹٤٦ م پـو ری صد راعظم و، په کابل کی وفات سو (۲٦ اکتوبر ۵۳ - ۳ عقرب۳۲)

دامریکا دصا دراتو- وار داتو بانك اتلس نیم ملیونه ډالـره دهلمند د سیمی‌دانکشاف لپاره‌پور افغانستان ته ورکړ ء .(نومبر ۵۳ قوس ۳۲)

ښا غلی محمد داؤد صد راعظم ، پاکستان ته دامریکا عسکری ا مداد، دافغا نستان دروغی‌اود ساتنی لپاره خطر ناك وګاڼه (۳۰ دسمبر ۵۳جدی ۳۲)

دهلمند پر رود دکجکی لوی ډم جوړ سو (۵۳ م ۳۲ ش ۷۳ ق)

ظـرفیت ئی ٦،۳۰۰،۰۰۰ جریـب مکعب.

لوړتیا ۱۰۰ متره.

پنډ والی :لوړ ۱۰ متره، کښتـه ۲۰ متره.

د ډم نس: ٦۰،۰۰۰ جریبه.

د اوبو اوږد والی ۵۸ کیلو متره.

تر اوبولاندی مځکی : ۵۵۰،۰۰۰ ایکړه.

میرزا میر آقا حسینی هروی‌خطاط دمیر محمد کاظم زوی په هرا ت کی وفات سو. (۲۲ سرطان ۳۲)

دپل خمری کار خانی د۱۵ زرودوکو نوی ماشینونه پر کار سوه.

د ګل بهار د او دلو کار خـا نـه چه ۱۸۰۰ دستګاه هونه او ٦۰ زره دوکه لری .

او د کاله ۵۸۵۰ ټنـه سپنهسی وریشمی بشپړه سوه (۱۱پریـل ۵۳ حمل ۳۲) .

۱۳۳۳ ش
۱۹۵٤ م ۱۳۷٤ ق

افغانستان د آسیا لپاره دمتحـدو ملتو داقتصادی کمسیون غړی سو. (۲۰ اپریل ۵٤ ثور ۳۳) .

هاشم شایق دمحمد یعقوب‌بخاری زوی دبخارا پخوانی سفیر په کابل کی وفات او ښخ سو (چهار شنبه ۱۵ ستمبر ۱۹۵٤ م سنبله ۳۳) .

ښاغلی محمد نعیم خار جه وزیر کراچی ته ولاړ ،چی د افغانستان‌او پاکستان پر روابـطو خبری وکـی (۱۷ستمبر ۵٤م سنبله ۳۳) .

ښاغلی محمد نعیم خار جه وزیر به‌یوی هفتی‌رسمی میلمستیاسعودی عرب ته ورسیدی (۲۸ اکتوبر ۵٤ ښاغلی محمد نعیم خارجه وزیـر اعـلان و کـی چی د پښتو نستـان مسئله دسیمی نیولو خبره نده،بلکه غواړو چی د هغه ځای پښتنو تـه موقع ورکړسی، چی خپل‌خواهشونه ښکاره کړای سی (۷ نو مبـر ۵٤ عقرب ۳۳) .

د افغانستان او یوگوسلا ویـا د مودت معاهده (۳۰ دسمبر ۵٤م ۸ جدی ۳۳ ش) .

۱۹۵۵ م ۱۳۳۳ ش ۱۳۷۵ ق

دمخنی صدراعظم سردار شاه‌محمود غازی دپاکستان دصد راعظم سره ولیدل (۱٤ جنوری ۵۵ جدی ۳۳)

افغا نستان اودچین دخلکوجمهوریت خپل سیاسی روابط دلویو سفارتو په ټکانه ومنل (۱۹ جنوری ۵۵جدی ۳۳) .

دمشرانو په جرګه کی دافغا نستان دعسکری تقویت تصویب ومنل سو (۲۵ جنوری ۵۵ جدی ۳۳)

دافغا نستان ددایرة المعارف ټولنی یو ټوک دافغا نستان په نامه خپور کیء چی عمومی معلومات لری.

له چکو سلواکیا څخه یوه د سمنټـو کار خانه رانیوله سوه (۱۵ فبروری ۵۵ دلو ۳۳) .

جاپان دقندوز دچینی جوړ ولو پـه کار خانه کی دسر مایی ور کو لو موافقه وکړه(۲۵بروری ۵۵دلو ۳۳).

د ۱۳۳۳ ش کال دولتی وار دات ۱٤٤۱ ملیونه‌اومصارف ۱۱٤۱ملیونه او سپما ۳۲۷ ملیونه افغانی وی.

د ۱۳۳۳ ش کا ل پو هنشمیـر . (۷۷۰) دنرو ښوونځی -۲۱دنجونو ښوونځی- نارینه زد ه کو ونـکی ۲۷۰ ر۱۰٦- نجونی زده کوو نکی ۸،٦۷۸- نارینه ښوونکی ۳٤۷۵- ښځی ښو ونکی ۲٦۸ -

۱۳۳۴ ش
۱۹۵۵ م ۱۳۷۵ ق

ښاغلی محمد داؤد صد راعظم پاکستان ته اخطار ورکیء چی په غربی پاکستان کی د پښتو نستان دسیمو ګډول ناوړی نتیجی لری .
(۲۹ مارچ ۵۵ م ۸ حمل ۳٤) .

په کابل کی مظاهره کوونکو د پاکستان د سفارت او د سفیر د تاټوبی سره مظاهره وکړه .
(۳۰ مارچ ۵۵ م ۹ حمل ۳٤) .

په قندهار کی د پاکستان د قونسل خانی سره مظاهری و سو ی
(۳۱ مارچ ۵۵ م ۱۰ حمل ۳٤) .

په پیښور کی پر افغان قونسل خانه باندی حمله وسوه (۱ اپریل ۵۵ حمل ۳٤) .

په جلال آباد کی د پاکستا ن د قونسل خانی سره مظاهری وسوی (۱ اپریل ۱۹۵۵ حمل ۳٤) .

انګریز ـ ترکی ـ امریکا په کابل کی د پاکستان د سفارت سره پر مظاهرو تشو یش ښکار ه کـیء (٤ـ اپریل ۵۵ حمل ۳٤)

پاکستان د افغانستان د حکومت جواب و نه مانه، او ددپلوما تا نو کورنی ئی له کابله وایستی پـه جلال آبادکی خپلـه قونسلګر ی وتړله (۱۲ اپریل ۵۵ حمل ۳٤) .

وزیر خارجه ښاغلی محمد نعیم د بندونګ کنفرانس ته ولاړ (۱۸ اپریل ۵۵ حمل ۳٤)

د افغانستان اوانډ ونیزیا دمودت تړون لاس لیك سو . (۲٤ اپریل ۵۵ ثور ۳٤) .

جمال عبدالناصر د مصر لـوی مشر په رسمی میلمستیا کابل ته راغی . (۲۹ اپریل ۵۵ ثور ۳٤) .

افغانستان موافقه وکړه که پـه پیښور کی د افغانی بیرق دسپکاوی تلافی و سی . نو به په کابل کی د پاکستان دبیرق دسپکاوی تـلا فـی وسی ، او د سفارت د تلفاتوعوض به ورکړه سی . (۲۹ اپریل ۵۵ثور ۳٤) .

افغانستان پاکستان د هغواموالو دناوان مسؤول و ګاڼه. کـو م چـی د پیښور یا کوټی له لاری راځی .
(۱٤ می ۵۵ ثور ۳٤) .

پاکستان خپلی قونسل خانی په افغانستان کی وتړلی او خواهش ئی وکیء ، چی افغانستان دی هـم خپلی قونسل خانی په پاکستان کی بندی کی (اپریل ۵۵ ثور ۳٤) .

په افغانستان کی د عسکـرو د تیار سیء امر صـادر سو (۱٤ مـی ۵۵ ثور ۳٤) .

افغانستان او پاکستان دسعودی عرب بو ګانی (منځګـړی) و منلـه (۱۳ می ۵۵ ثور ۳٤) .

د شوروی اتحاد سره د پنځـو کالو موافقه وسوه ، چـی دواړه مملکتونه دی خپل اموال دوړ یـا ترانزیټ په ډول د یوه بل په مملکت کی ژړی راوړی .
(۲۱ جون ۵۵ جوزا ۳٤) .

د افغانستان اوشوروی د ترانزیت موافقه نامه ۸ مادی په ماسکو کی امضا سوه (۲۸ جون ۵۵ سرطـان

د سعودی عرب منځګړی د خپل تجویز ناکامی اعلان کړه (۲۸ جون ۵۵ سرطان ۳٤) .

د چین د خلکو د حکومت لـو ی سفیر تین ـ کوو ـ یوخپله اعتماد نامه په کابل کی وړاند ی کړه (۵ جولائی ۵۵ سرطان ۳٤) .

افغانستان د بین المللی بانـك غړی سو (۱٤ جولائی ۵۵ سرطان

په افغانستان کی دتـیا سیء او اضطرار حالت ختم سو (۲۸ جو لای ۵۵ م اسد ۳٤).

دافغا نستان او شوروی د پستی اتحاد موافقه (۱٤ اگست ۵۵ م اسد ۳٤) .

هندو ستان د کـوټـا طـیار ی افغا نستان ته را واردوی (۱۷اگست ۵۵م است ۳٤) .

دافغانستان خارجه وزیر اودپاکستان لوی سفیر د مخالفانه انګروزو (پرو پاګند) دبندولو موافقه وکړه ـ (۹ ستمبر ۵۵ سنبله ۳٤) .

د پاکستان پر لوی سفارت دهغه دولت بیرق بیرته په کابل کـی ورپول سو (۱۳ ستمبر ۵۵ سنبله ۳٤) .

د جلال آباد د پاکستان پرقونسل ګری دهغه دولت بیرق بیرته جګ سو (۱٤ ستمبر ۵۵ سنبله ۳٤) .

دپیښور د افغان پرقو نسلګری بیا د افغانستان بیرق و درول سو (۱۵ ستمبر ۵۵ سنبله ۳٤) .

افغانستان په پاکستان کی دیوه بونټ دجوړو لو سره مخالفت وکیء خو پاکستان ونه مانه .

(۱۱ اکتو بر ۵۵ میزان ۳٤).

افغانستان خپل لوی سفیر لـه کراچی څخه راوغوښت او سیاسی روابط ئی ورسره پری کـړه (۱۷ اکتوبر ۵۵ میزان ۳٤) .

پاکستان هم خپل لوی سفیـر له کابله وغوښت (۱۸ اکتوبر ۵۵ میزان ۳٤) .

افغانستان پر پاکستان پروټسټ وکیء چی ولی دافغانستان ترانزیت مالو ته زیات اړیکی اچوی (۸ نومبر ۵۵ عقرب ۳٤) .

په کابل کی لویه جرګه جـوړه سوه چی پس له پنځو ورځو خبرویی دپښتونستا ن دخلکو څـخه را ی اخیستنه وغوښته چی خپل مقر رات پخپله فیصله کی. جرګی وغوښتل چی حکو مت با یـد د پـا کستـا ن سره د قوت تعادل چی د امریکـا وسله ئی اخیستی ده و ساتـی. او پښتونستان د پاکستان یو ټوکونه پیژنی (۲۰ نومبر ۵۵ عقرب ۳٤).

فاطمه د ښځو د مکتب لومړی معلمه او شاعره په کابل کی وفات سوه جمعه ۱۱ عقرب ۳٤ش (ولادت ئی په بالاحصار کی ۱۲۸۸ ق) .

د دفاع وزیر محمد عارف استعفا وکړه (٦ دستمبر ۵۵ قوس ۳٤) .

دشوروی دولت مارشال ورشیلوف کابل ته راغی (۱۸ دسمبر ۵۵قوس

داتحاد شوروی مشر و زیـر بلګانین او دکمو نسټ پا ر تـی سکرتر خرو شچیف پـه رسمـی میلمستیا کابل ته راغلل (۱۵ ـ۱۸ دسمبر ۵۵ قوس ۳٤) .

اتحاد جما هیر شوروی د پښتونستان په باب د افغانستا ن مو قف تایید کیء (١٦ د سمبر ٥٥ قوس ٣٤) .

د افغانستان او اتحاد شور وی دری تړونونه امضا سوه (١٨دسمبر ٥٥ قوس ٣٤) .

١ ـ دسلو ملیونو پور تړون .

٢ ـ د ١٩٣١ م د بیطرفی او عدم تعرض د تړون تجدید .

٣ ـ د خارجی سیاست داصولو توضیح ، چی د افغانستان بیطرفی قوی کوی .

د امریکا حکومت وغوښتل چی د افغانستان او پاکستان تر منځ د پښتونستان په‌شخړه کی دمنځګړی بوګانبس وکی (٢١ دسمبر ٥٥قوس ٣٤) .

١٩٥٦ م ١٣٣٤ ش ١٣٧٦ ق

د پاکستان په‌غوښتنه د افغانستان قونسل له کوټی څخه کابل ته راستون سو او دغسی هم دپاکستان عسکری اتاشه له کابله وغوښت سو (٨ جنوری ٥٦ جدی ٣٤)

په ١٣٣٤ ش کال ټول دولتی‌واردات ١٣٠١ ملیونه افغانی او مصارف همد غونی و.

د ١٣٣٤ پو هنشمیر: ٧٥٠ دنرو ښوونځی ـ٢٣ دنجونو ښوو نځی ـ ١١١،١٢١ تنه هلکان ـ٩٩٦٩نجونی ـ٣٥٨٤ نر ښوونکی ـ٣٢٩ ښځی ښوونکی ـ

١٣٣٥ ش
(١٩٥٦ م ١٣٧٥ ق)

دافغا نستان او شوروی اتحاد د هوایی سرویس موافقه لس مادی په کابل کی امضا سوه (٢٤ مارچ ٥٦م ٤ حمل ٣٥)

افغا نستان دسیتو دغه إدعا رسما رد کړه ،چی ډیورنډ لین‌دافغا نستان او پاکستان سرحد دی.
(٢٦ مارچ ٥٦م ٦ حمل ٣٥)

داتا زونی (امریکا) دبین المللی همکاری ادارى ٩٩٧ زره ډا لـره دکو لمبیا دپو هنتون دار المعلمین ته ور کړه چی دانګریزی ژبی پرو ګرامونه دافغا نستان په متو سطو مکتبو کی تقویه کی، اود انګریزی معلمان په ورو زی. (٣١ مارچ ٥٦م ١١ حمل ٣٥)

دشو روی اتحاد له خوا دکابل ښار والی ته ١٥ بسو نه اودسل بستره شفا خانی إسباب اهـداء سو (٣١ مارچ ٥٦ م حمل ٣٥)

خلیفه قزل ایاق نقشبندی پیر د شمبر غان په قزل ایاق کی ٩٦ کلن وفات‌سو.

(٢١ حمل ٣٥ شـ ٢٩ شعبان ٧٥ق. تولد ئـی پـه کرکی کـی : ١٢٧٩ ق)

راتګ ئی له بخارا څخه افغا نستان ته: ١٣٣٨ ق

د افغا نستان عسکـری هیئـت چکو سلواکیا ته ولاړ (٤ـ١٨ اپریل ٥٦ حمل ٣٥)

دافغا نستان او پاکستان هوائی موافقه امضا سوه، چی دکراچی لـه لوری اروپا ته سفر وسی (٧ مئی٥٦ ثور ٣٥) .

د افغا نستان دملکی هوا بازی لپاره ١٤ ملیو نو پور موا فـقه لـه اتازونی سره وسوه (٢٧ جون ٥٦ جوزا ٣٥) .

د ترکو صدراعظم عدنان مندرس په رسمی میلمستیا کابل ته راغـی (٢٦ـ٣٠ جولایی ٥٦م اسد ٣٥) .

دننګرهار داوبو لګولوپروژه اتحاد جماهیر شوروی‌برخپله غاړه‌واخیسته (٢٦ جو لایی ٥٦ م اسد ٣٥) .

د افغانستان او پولینډ تجار تی قرارداد (٤ اګست ٥٦ م اسد ٣٥)

دپاکستان صدر اعظم اسکندرمیر زا کابل ته راغیء (٧ـ١١ اګست٥٦م اسد ٣٥) .

ښاغلی محمد داؤد صدرا عظم د عسکری وسلو رانیولو موافقه نامه له چیکو سلواکیا او شوروی اتحاد سره اعـلان کـړه (٢٥ اګست ٥٦ سنبله ٣٥) .

دپان امریکن سره موافقه وسوه چی‌له ١٤ ملیونو ډالرو پور څخه په دوه‌نیم ملیونه پیلو تـان اود ملکی هوایی میدانو کار کوونکی و روزی، اوپه ٥ ملیونه به‌د قندهارهوایی‌ډګر جوړوی. (١٢ ستمبر٦٥ سنبله٣٥)

دایران سره هوایـی تګ راتګ شر وسو (٤٢ ستمبر ٥٦ میـزا ن

له شوروی اتحاد او چکوسلواکیا څخه لومړی جوړه وسله راورسیده (۲۷ستمبر ٥٦ میزان ۳٥) .

ښاغلی محمدداؤد صدراعظم شوروی اتحاد ته ولاړ (۱۷ـ ۳۰ ستمبر ٥٦ میزان ۳٥) .

پرولس جټ طیاری د شوروی اتحاد له خوا دافغان هوایی قواو ته ورسیدی (۲۸ اکتوبر ٦عقرب ۳٤).

د افغانستان حکومت دملل متحد تو جه را وګرزوله چی داسرا ئیل برتانیاـ فرانس حمله پر کانال سویز با ندی د ملل متحد دمنشور مخالفت دی (٥نومبر ٥٦ م ١٦ عقرب ۳٥) .

د افغانستان اوبرما دمودت تړون (۸ نومبر ٥٦م ١٦ عقرب ۳٥ ش) .

جنرال محمد عمر په هند کی دافغانستان لوی سفیرسو (۱۰نومبر ۱۹٥٦ عقرب ۳٥).

افغانستان د سویز کانال لپاره دملل متحده په پولیسی قواوو کی خپله برخه وړاندی کول ومنله .

(١٦ نومبر ٥٦ عقرب ۳٥) .

ښاغلی محمد داؤد صدراعظم په کراچی کی د پاکستان له مشرانو سره پر پښتو نستان باندی خبری وکړی. (۲ دسمبر ٥٦ قوس ۳٥) .

۱۹٥۷ م ۱۳۳٥ ش ۱۳۷۷ ق

داتحاد شوروی سره تجار تی پروتوکول امضا سو (۸جنوری ٥۷ جدی ۳٥) .

چاوـ ان ـ لای دچین دخلکو د جمهوریت صدراعظم افغانستان ته راغیء (۱۹ـ۲۳جنوری ٥۷جدی۳٥)

م ـ سی گیلیټ په کابل کی د برتانیا لوی سفیر سو (۲۷ جنوری ٥۷ دلو ۳٥) .

په کابل پوهنتون کی د اقتصاد دپوهنځی دجوړولو سپارښت وسو (۳۰ جنوری ٥۷ دلو ۳٥)

د افیونو دکنترول دموافقت نامی تائید په ملل متحده کی دافغانستان دنماینده له خوا وسو ٤ فر و ری ٥۷ دلو ۳٥) .

راډیو مسکو پښتو پروګرام شرو کیء (۱۰ فروری ٥۷ دلو ۳٥) .

د ۱۳۳٥ ش کال دولتی واردات ګرده ۱۸۲۲ ملیو نه افغانی او مصارف هم دغونیو .

د ۱۳۳٥ ش کال پوهنشمیر : ۷٤۸ د نرو مکتبو نه ـ ۲٦ د نجو نو مکتبو نه ـ ۹٦۷ ، ۱۱٤ هلکان ـ ۱۲٥، ۱۱ نجونی ـ ۳٥۹۰ معلمان ـ ۳۷٤ معلمات .

په ۱۳۳٥ ش کال د افغانستان تجارتی صادرات ۲۰۷۹ ملیو نه او واردات ۲۳۰۷ ملیونه وه .

۱۳۳٦ ش

(۱۹٥۷ م ۱۳۷۷ق

د امریکا د میانه شرق خاص لوی سفیر جیمز ریچارډ کابل ته راغی او یوه مشترکه اعلامیه خپره سوه چی افغانستان د ایزنهاور اقتصادی پروګرام د منځنی شرق لپاره په خوښی منی (۳۱ مارچ۳ اپریل ٥۷ حمل ۳٦ .

ښاغلی محمد داود صدر اعظم ترکیی او چکوسلواکیا او پولینډ او استریا او مصر ته ولاړ (١٤ اپریل تر ١٩منی ٥۷ حمل ـ ثور ۳٦) .

ښاغلی محمد نعیم خارجه وزیر ترکیی او پاکستان ته ولاړ (١٤ ـ ۲۹ اپریل ٥۷ حمل ۳٦) .

له چکوسلواکیا سره د امداد د زیاتوب موافقه وسوه (۲۷ اپریل **٥۷ حمل ۳٦) .**

دپاکستان صدراعظم سهروز دی کابل ته راغی ، دواړو مملکتو **د سیاسی روابطو د بیانښلولو موافقه سره وکړه ، د ۱۹٥٥ په اکتو برکی سیاسی روابط سره شلیدلی وو (۸ ـ ۱۱ جون ۷٥ جوزا ۳٦) .**

افغانستان د اتومیک انرجی د بین المللی اختیار اصول ومنل (۱٥ جون ٥۷ جوزا ۳٦) .

اتازونی ... ، ۷٥۰ ، ٥ ډالره پور د هلمند د سیمی لپاره او ۰۰۰ ، ۸٦۰ ۲ دلارو او د پر سونل روزنی لپاره افغانستان ته ورکی (۳۰ جون **٥۷ سرطان ۳٦) .**

د پاکستان سره هوایی موافقت نامه وسوه (**۱ سرطان ۳٦) .**

عبدالملک وزیر مالیه معزول او بندی سو (**۷ جولایی ٥۷ م اسد ۳٦) .**

یوه پټه ناکامه د اغتشاش اچولو دسیسه کشف سوه اوعاملین یی ونیول سوه (۱۱ جولایی ٥۷م اسد ۳٦) .

د افغانستان پادشاه د شوروی اتحاد مملکت ته رسمی سفر وکی (۱۷ ـ ۳۱ جولایی ٥۷ سرطان ۳٦) او په رسمی ګډه اعلامیه کی وویل سوه : **چی اتحاد شوروی به د افغانستانه سره د تیلو په تلاښ کی کومک وکی ـ او هم به د سرحدی** شخړو لپاره یو خاص کمیسون **وټاکی ـ او هم به د مشترکو اوبو د استعمال لپاره یوه موافقه سره وکی .**

د افغانستان او چین د خلکو د جموریت تجارتی **قرار داد (۲۸ جولایی ٥۷ م اسد ۳٦) .**

په پاریس کی د افغانستان لوی سفیر غلام محمدشیرزاددتجارت وزیر سو (۱۰ ډګست ٥۷م اسد ۳٦)

ښاغلی **محمد نعیم وزیر خارجه** وویل ، **چی د وسلی رانیولو د موافقت نامی سره سم چی په** ۱۹٥٦ کال دشوروی اتحاد سره **امضا سوی وه ، د ۲٥ ملیونو ډالرو**

وسلی راسیدلی دی (۳۱ اگست۵۷ ۷۵ سنبله ۳٦) .

ښاغلی محمد داؤد صدر اعظم په چین کی خپل سفر شروع کی (۲۲ اکتوبر ۵۷ عقرب ۳٦).

د افغانستان او اسپانیا د مؤدت معاهده (۲۸ اکتوبر ۵۷ م ۶ عقرب ۳٦ ش) .

اندری گرو میکو د جماهیراتحاد شوروی خارجه وزیر د افغانستان‌له استاڅو سره په مسکو کی د نوی سر حدی موا فقت نامی په باب‌کی خبری وکړی (۲۱ د سمبر ۵۷ قوس ۳٦) .

د سید قاسم رښتیا تا لیف (افغانستان در قرن ۱۹) **په کابل کی چاپ سو .**

۱۹۵۸ م ۱۳۳٦ ش ۱۳۷۸ق

شوروی اتحاد په افغانستان کی دتیلو سروی ومنله (۸ جنوری۵۸م ۱۸ جدی ۳٦) .

ښاغلی محمد داؤد صدر اعظم د اتحاد جماهیر شوروی دپیشنهاد تایید وکی ،چی دلویو مشرانو کنفرانس دی جوړ سی . (۱۱ جنوری ۵۸ م ۲۱ جدی ۳٦) .

د افغانستان او شوروی اتحاد د سر حداتو قرار داد (۵۱) مادی په مسکو کی امضا سو (۱۸جنوری ۵۸ م ۲۸ جدی ۳٦) .

د افغانستان پادشاه پاکستان ته په رسمی میلمستیا ولاړ . (۱ ـ ۵ فبروری ۵۸ دلو ۳٦).

د ترکیی سره هوایی موافقت نامه وسوه (۲۵ دلو ۳٦) .

دافغانستان پادشاه د (۲) هفتو په رسمی میلمستیا هند ته ولاړ (۱۱ ـ ۲٦ فبروری۵۸ حوت ۳٦) .

د ۱۳۳٦ ش کال دولتی واردات ۲۱۱۳ ملیونه افغانی او مصارف همدونی و.

د ۱۳۳٦ کال پو هنشمیر : ۸۵۰ د هلکانو مکتبونه ـ ٦٤ د نجونو مکتبونه ـ ۹۵۸ ، ۱۲۸ هلکان ـ ۵۷۸ ، ۱۲ نجونی ـ ۳۷٦۵ معلمان ـ ٤۳۱ معلمات.

په ۱۳۳٦ کال د افغانستان صادرات ۲٦٤۸ ملیونه او واردات یی ۲٤۱۵ ملیونه افغانی وی .

۱۳۳۷ ش .

۱۹۵۸ م ۱۳۷۸ ق) .

د عربو دمتحد جمهوریت (مصر)

سره کلتوری موافقت نامه امضا ء سوه (۳۰ مارچ ۵۸ حمل ۳۷) .

دافغانستان دملل متحده نماینده په افغانستان کی دافیونو دکرلو او وړلو منع کول اعلان کړل (٦ مئی ۵۸ ثور ۳۷) .

د افغانستان او اتازونی کلتوری موافقت نامه (۲٦ جون ۵۸ جوزا۳۷)

دشوروی اتحاد سره دآمو له‌اوبو څخه دگټی اخیستو پروتو کول (۲٦ جون ۵۸ جوزا ۳۷ .

ښاغلی محمد داؤد صدر ا عظم داتازونی په سفر ولاړ (۳۰جون ۵۸ جوزا ۳۷) .

اتازونی موافقه وکړه‌چی دافغانستان سره له سپین بولدك ترکابله‌دلویی لاری جوړ ولو کومك وکی ، اوهم پاکستان ته ۰۰۰، ۷۰۸، ۷ دالره ورکی، چی دحمل ونقل لاری د افغانستان خواته‌سمی‌کړی ۳۰جون ۵۸ جوزا ۳۷) .

دمخکنی لاری څخه دپاکستان‌سره دمال راوړلو موافقه (۱۷ جولایی ۵۸ سرطان ۳۷) .

داطریش سره هوایی موافقت‌نامه (۲۰ سرطان ۳۷) .

افغانستا ن دعراق نوی حکومت په رسمیت وپیژاند . **(۲٦ جولایی ۵۸ سرطان ۳۷) .**

دچکوسلواکیا صدراعظم کابل ته راغی (۲ـ۵ ستمبر ۵۸ سنبله ۳۷ چکوسلواکیا ومنله چی په قند ها ر کی دتیلفون دمبادلی مرکز جوړکی. **(۱۱ ستمبر ۵۸ سنبله ۳۷) .**

د افغانستان دمتحده‌ملتو نماینده داخبره ردکړه، چی‌گوندی افغانستان دایران‌ـ ترکیی او پاکستانه سره یوکنفدراسیون جوړوی (۱ـاکتوبر ۵۸ میزان ۳۷) .

د هالینډ سره هوایی موافقت‌نامه (۲٤ میزان ۳۷) .

مارشال ورو شیلو ف د **اتحاد جماهیر شوروی مشر افغانستان ته راغی (۱ـ۵ اکتوبر ۵۸ میزان ۳۷)** دافغانستان تجا رتی اود حمل ونقل قرار دادونه دچکوسلواکیا او پولینډ سره‌نوی سوه (۷ نومبر ۵۸ عقرب ۲۷) .

دخارجی سر مایه گذاری قانون نشر سو (۱۸ نومبر ۵۸ عقرب ۳۷)

۲ افغانیگی او پنځه افغانیگی سکی چالوسولی (۷دسمبر ۵۸ قوس۳۷)

۱۹۵۹ م ۱۳۳۷ ش ۱۳۷۹ ق

ښاغلی محمد نعیم خارجه وزیر دشوروی اتحاد په سفر ولاړ (۱ـ٦ جنوری ۵۹ جدی ۳۷) .

اتازونی پنځوس زره ټنه غنم افغانستان ته راولیږل (۱۲ جنوری ۵۹ جدی ۳۷) .

هنری بایروډ په‌کابل‌کی داتازونی لوی سفیر سو (۲۰ جنوری ۵۹ جدی ۳۷) .

د افغانستان او شور وی اتحاد دراډیو تیلفونی ارتباط موافقت نامه ۱۳ مادی وسوه (٤فبروری ۵۹م) ښا غلی محمد داود صدر اعظم هندوستان ته ولاړ (۵ـ۱۳ فبروری ۵۹ دلو ۳۷

ښاغلی محمد داؤد صدراعظم د بغداد پکټ، د بین‌المللی تشویش سبب وگاڼه (۹ مارچ ۵۹ حوت۳۷)

۱۳۳۸ ش
۱۹۵۹ م ۱۳۷۹ ق

دمتحدو ملتو سکرتر جنرال ډاګ همرشولډ کابل ته راغیء (۲۲ـ۲۴ مارچ ۵۹ حمل ۳۸) .

دامواللو دمبادلې پروتوکول داتحاد شور وی سره (۲۳ اپریل ۵۹ ثور ۳۸) .

ښاغلی محمدداؤد صدراعظم اتحاد جماهیر شوروی ته ولاړ (۱۸ـ۲۲ مئی ۵۹ ثور ۳۸) .

د شوروی اتحاد سره د قندهار هرات ـ کشك د ۷۵۰ کیلومترولویی لاری دجوړولو موافقت نامه وسوه (۲۸ مئی ۵۹ جوزا ۳۸) .

د افغانستان او شوروی اتحاد د اقتصادی همکاری دتوسعی موافقت نامه اود هرات ـ قندهار دلاری پخول ۷۵۰ کیلو متره (۲۸ مئی ۵۹ جوزا ۳۸) .

د افغا نستان او شوروی اتحاد موافقت نامه ددروپلو جوړ ولو لپاره په بهسود ـ کا مه اسمار کی ټوله اوه مادی (۱۸ جولا یی ۵۹ سرطان ۳۸) .

دافغا نستان یوه عسکری ډله ترکیی اود عربو متحد جمهور یت (مصر) ته ولاړه (۱۵ جولائی ۵۹ سرطان ۳۸)

دجلال آباد دکانال او بر یښنااو اوبولو پروتو کول ۵مادی لهشوروی اتحاده سره (۲۳) اگست ۵۹م۳۱ اسد ۳۸) پهدی پروژه کی د درونتی دبند ارتفاع ۲۲متره او دا وبو بهیدنگ ئی په یوه ثانیه کی ۱۳۰ مکعب متره اود بریښنا اندازه ئی یوولس زره کیلواته ده. دکانال اوږدوالی ۷۰ کیلومتره دی، چی گرده ۱۲۹ زره جریبه مځکهاو بوی، اوهر جریب پهلس زره افغا نی(۲۰۰ ډالره)تما میږی .ټول مصار ف ئی ۳٦٦ ملیونه مساو ی۱۸ ملیو نه ډالره دی اوعایدات ئی دکاله ۲۱٤ ملیونه افغانی تخمین سوی وو .

دننگر هار داوبو لود پرو ژی لپاره اتحاد جماهیر شورو ی نو ر امداد ومانه «۲۳ اگست ۵۹سنبله ۳۸» دښځو دلخ مخی اعلان وسو اود استقلال په جشن کی په لخمخ راو وتی. «۳۱ ا گست ۵۹ سنبله ۳۸» جواهر لال نهرو د هندو ستان صدراعظم افغانستان ته راغی ،ا و دده په میلمستیا کی افغانی ښځو پهلخ مخ گډون وکی .«۱٤ستمبر۵۹ سنبله ۳۸».

ښا غلی محمد نعیم خارجه وزیر دچین په سفر ولاړ (۵ ستمبر ۵۹ سنبله ۳۸)

ښاغلی محمد نعیم خار جه وزیر واشنگټون ته ولاړ، اود پاکستا ن دایوب خان دنوی حکومت لهنماینده سره ئیلومړی لید نه وکړه (۱۱ اکتو بر ۵۹ عقرب ۳۸) .

ښاغلی محمد نعیم خار جه وز یر یوگو سلا ویاته ولاړ (۲۰ـ ۲۸ اکتوبر ۵۹عقرب ۳۸) .

دافغان اوسو یټ ددو ستی ټولنه تأسیس سوه (۲۸ اکتوبر ۵۹عقرب ۳۸).

دافغانستان او ترکیی کلتو ری موافقت نامه «۷نومبر ۵۹ عقر ب ۳۸».

دآمو دریا گډه سرو ی داتحا د شوروی او افغانستان له خواشروع سوه چی دبریښنا او اوبو لو لپا ره ډمپر جوړ کی. (۱دسمبر ۵۹قوس ۳۸).

داتا زونی دجمهو رمشر ایزنهاور شپږ ساعته پهکابل کی تیر کړ هاو افغا نستان تهئی داقتصادی مرستی داوږ دولو ډاډ ورکیء .
(۹ دسمبر ۵۹ قوس ۳۸)

پهقندهار کیدیوهمرتجعا نهحرکت کښینول دپو لیسو او عسکرو په وسیله (۲۱ سمبر ۵۹جد ی۳۸) .

الله بخش یو سفی دپښتنو تاریخ (تاریخ آزاد پټهان) دوهتوکه پهاردو وکیښ «کرا چی چاپ ۵۹م» د۱۳۳۷ شپ کال عایدات اومصارف ۲۱۱۳ملیو نه افغانی و ی.

د۱۳۳۷ کال پوهنشمیر :۸٦۳ د هلکانو ښوونځی ـ٤۰ دنجو نو ښوونځی ـ۱٤۰،۹۷۸ هلکان۱٤۰۳٦ نجونی ـ ۳۸۹۷ نارینه ښوو نکی ـ ٤٦۱ښځی ښوونکی .

په ۱۳۳۷ کال دافغانستانصادرات ۲۰۸۸ملیونه او وار دات ئی ۳۲۷٤ ملیونه افغا نی وی .

دټول افغانستان دمیو یصادرات خارج ته (۱٤٤،۵۰۲۵٤۰)افغا نی وی .

(انیس ۷ جون ۱۹۵۹)

۱۹٦۰ م۱۳۳۸ ش ۱۳۸۰ق

دافغا نستان اویو گو سلا ویاد تجارتی او اقتصادی ا و تخنیکی همکاری قرار داد «٦جنوری ٦۰جدی ۳۸».

ښاغلی محمد نعیم خارجه وز یر پاکستان ته ولاړ (۱۰ جنوری ٦۰ جدی ۳۸).

افغا نستان دشوروی اتحاد هسره دکابل پرزود داوبو لو او بریښنا دپروژی موافقت وکی ء «۱۹جنوری ٦ جدی ۳۸».

سپه سالار شاه محمودخا نغازی دمخنی صدراعظم اویاکلن وفا ت سو. (د۳جدی شپه ۳۸).

دیوگوسلا ویا سره هوایی موافقت نامه «۱٦جدی ۳۸».

دغربی آلمان سره هوایی موا فقت نامه وسوه (۲۰ جدی ۳۸) .

داتحاد شو روی صد راعظم خرو شچیف کابلته راغی، دسویټ دکومك پروژیئی وکتلی ، دکلتوری همکاری قرار دادئیامضا کی، ا و افغانستان تهئی دپښتو نستان په شخړه کی دتایید وعده ورکړه(۲ ـ ۵مارچ حوت ۳۸).

دافغانستان او اتحاد شور و ی فرهنگی موافقت پاڼه پهپښتو ٦مادو

په کابل کی دور صدراعظمانو لاس لیك کړه . (٤مارچ ٦٠حوت ٣٨) .

پاکستان دپښتو نستان په‌شخړه کی داتحادی شوروی‌تایید دپاکستان په داخلی چارو کی مدا خله وبلـه (٦ مارچ ـ٦حوت ٣٨).

اتحا دشوروی پنځو سن زره ټنه غله افغا نستان ته اهداکړه «٦مارچ ٦ حوت ٣٨»

ښاغلی محمد دا ؤد صدرا عظم وویل چی پاکستان په افغا نستا ن کی داصلاحاتو پر خلاف پرو پاګنډ کوی، خود افغانستان دولت غواړی چی خلکو ته دحکومت دطرز دټاکلو اود سیاسی ګوند ود جوړو لو حق ورکی (٧ مارچ ـ٦ حوت ٣٨)

ښاغلی محمد دا ؤد صدرا عظم ایران ته ولاړ .(١٧ مرچ ـ٦ حو ت ٣٨).

د ١٣٣٨ ش کال دولتی واردات و مصارف ٢٤٢٨ ملیونه افغانی وی

د ١٣٣٨ ش کال پو هنشمیر : ١٠٢٨ دنرو ښوونځی ـ٦٥ دنجونو ښوو نځـی ـ ١٤٨،٢٩٥ هلکـان ١٧،٣٠١ نجونی ـ ٤١٥٦ ښوونکی ـ٥٢١ ښځی ښوونکی.

په ١٣٣٨ کال دافغانستان صادرات ٢٧١٦ ملیونه او وار دات ئی٣٦٤٩ ملیونه افغانی وی.

١٣٣٩ ش

(١٩٦٠ م ١٣٨٠ ق)

د قند هـار او هرات او کشک دلویی لاری بـه جوړولو پیل وسو (٣ اپریل ٦ حمل ٣٩)

اعلیحضرت امان الله خـان غازی دسویت زرلیند په زوریخ‌کی ٦٨کلن وفات سو (دوشنبه ٢٥ اپریل ٦٠م ٥ ثور ٣٩)

په شنبی ٧ مئی ٦٠م مازد یگـر ٤ بجی په جلال آباد کی دخپل‌پلار امیر حبیب الله دخنکه ښخ سو .

(ولادت ئی دپغمان ددرهٔ زرگر د حاجـی اسـد خان په کور کـی ٥ ذی قعده پنجشنبه ١٣٠٩ ق)

دیوگو سلاویا خارجه وزیر کابل ته راغیء (٢٧ اپریـل ٦ ثـور ٣٩) جکن نارنه دهامی جی په کابل کی‌د هندلوی سفیر سو(٦مئـی ٦ثـو ر ٣٩)

ښاغلی محمد داؤد صدرا عظم چـی مسکو ته دعلاج لپاره‌تللی و، داتحاد شوروی دصدرا عظم خرو شچیف سره ئی ولیدل (١٣ می ٦ثور ٣٩

دافغا نستان خارجه وزیر پاکستان او اتازونی ته پرو تسټ ور کیءچی ولی دا تا زونی (یـو ـ٢) طیـاری دافغا نستان پر خاورو تجاوز کړی دیء (١٨ مئی ٦ ثور ٣٩)

انقزل کلا دبندر دفنی معـا ونت پروتو کول دافغا نستان او شوروی اتحاد ترمنځ ٥ مادی امضا سو(٢٥ مئی ـ٦ جوزا ٣٩)

دافغا نستان او ایران ترمنځ دحمل ونقل موا فقت نامه امضا سوه (٢٦ جون ـ٦ جوزا ٣٩)

دجنګلك دموټر دترمیم کار خانه افتتاح سوه (٢ جولائی ٦٠م اسـد ٣٩)

د شوروی اتحاد دتیلو دپلټنی ډلـی په شمالی افغا نستان کی دپټرولو او طبیعی ګاز دپانګو دپیدا کو لـو اعـلان وکیء (١٥ جولا ئـی ٦٠ م اسد ٣٩)

چکو سلوا کیا دیو ملیونو ډالرو تخنیکی مرسته ومنله (٤ اگسـت ٦٠ سنبله ٣٩)

دافغا نستان او سویډن سیا سی روابط دلوی سفارت په ټکانه لـوړ کړل سوه (٨ اگست ٦٠ سنبله٣٩)

د شوروی اتحاد سره ددوو کالو دحمل ونقل قرار داد(١٠ اگست ٦٠ سنبله ٣٩)

دوو پاکستانیو طیارو دافغا نستان پر فضا دقند هار پر سیمه تجاوز وکیء (١٣ اگست)پاکستان وویل چی دا سهوه ده ،نوطیاری اوپیلوټان ئی بیرته پا کستان ته ستا نه سول (١٧ ستمبر ٦٠ میزان ٣٩)

د درونتی کانال داتحاد شوروی په مرسته جوړ او افتتاح سو(١٨ اگست ٦٠ سنبله ٣٩)

دچین دخلکو د جمهوریت خارجه وزیر چین- یی افغا نستان ته راغی (٢١ـ٢٦ آگست ٦٠ سنبله ٣٩) .

د افغا نستان او چین دمودت او عـدم تعر ضـ معاهده امضا سوه (٢٦ اگست ٦٠م ٤ سنبله ٣٩ ش)

تجارتی اود ادایني موافقت‌نامه هم‌تجدید سوه .(٢ ستمبر٦٠سنبله ٣٩)

د اتازونی دانکشافی پانګی څخه یو لك ډالره مرسته دآریانا هوائی شرکت ته ور کړه سوه (٢ستمبر ٦٠)

دپو لینډ صد راعظم کابل ته‌راغیء اودتخنیکی همـــکـاری قرار داد وسو (١٩ ستمبر ٦٠ سنبله ٣٩)

کابل راډیو داخبره رد کړه چی ګوندی افغا نستان دپاکستان پـر سر حداتو باندی خپل عسکر زیات کړی دی .(٢٦ ستمبر ٦٠ میزان ٣٩)

دالمان دفیډرالی حکومت داقتصاد وزیر لوډ ونګ ار هارډ کابل تـه را غیء (٣ اکتوبر ٦٠ میزان ٣٩)

د افغا نستان پاچا دعربو متحد جمهوریت (مصر) ته ولاړ. (٢٢ـ ٣١ اکتوبر ٦٠ عقرب ٣٩) او پـه (٣١ اکتوبر ٦٠ عقرب ٣٩) یوگو سلا ویا ته ور سیدیء.

خارجه وزارت پـر پـا کستان پروتسټ وکیء چی ولی پاکستانی عسکرو پر تومن خیلو باندی حمله کړیده (٣٠ نومبر ٦٠ قوس ٣٩)

دایران صد راعظم کابل ته‌راغیء او تجارتی او ترا نزیتی قرار داد ور سره امضا سو (٣ دسمبر ٦٠ قوس ٣٩)

دباختر اژانس د تاس اژانس قرار داد سره وسو (۱۹ دسمبر ٦ قوس ۳۹)
۱۹٦۱ م ۱۳۳۹ ش ۱۳۸۱ ق

د افغا نستان او هند دتجارت دزیا توالی موا فقت نامه امضا سوه (۱۵ فبروری ٦۱ دلو ۳۹)

پر باجوړ باندی دپا کستان بمباری (۱ مارچ ٦۱ حوت ۳۹)

دجاپان سره دتخنیکی امداد موا فقت نامه (۱۵ مارچ ٦۱ حوت ۳۹)

د۱۳۳۹ شس کال دولتی واردات او مصارف ٤٥٠٠ ملیونه افغا نی وی.

د ۱۳۳۹ یں کال پو هنشمیر : ۱۱۱۲ دهلکانو ښوو نځی- ۱۲٦ دنجونو ښوو نځی - ۹۳۳، ۱۷۰ هلکان ٦٤۱، ۲۲ نجونی -٤۳٥٤ ښوونکی ۷۰۰ ښځی ښوونکی .

په ۱۳۳۹ کال‌دافغانستان‌صادرات ۲۲٤٤ ملیونه او واردات یی ۳۹۰٥ ملیونه افغانی وی .

۱۳٤۰ ش
۱۹٦۱ م ۱۳۸۱ ق

ښاغلی محمد داود صدرا عظم پسله طبی عملیاتو له‌روم څخه‌مسکو ته‌ولاړ، او هلته‌یی د خرو شچیف سره مرکه وکړه، دپراودا روزنامی ولیکل چی دپښتنو له‌وضعیته سره شوروی اتحاد بی علاقی ندی . (٥ اپریل ٦۱ حمل ٤۰) .

د افغانستان او فیدرال جر منی کلتوری موافقت نامه امضا سوه (۱۸ اپریل ٦۱ حمل ٤۰) .

د افغانستان او چکو سلوا کیا کلتوری موفقت نامه‌امضا سوه (۲٤ اپریل ٦۱ حمل ٤۰) .

افغانستان دپاکستان هغه تو ر ردکیء چی‌گوندی دافغانستان‌عسکر په سرحدی جنگو کی برخه لری (۱۹مئی ٦۱ ثور ٤۰).

دفرانس سره هوایی موافقت نامه (۲٥ ثور ٤۰) .

دافغانستان او بلغاریا تجارتی تړون وسو (۳ جون ٦۱ جوزا ٤۰)

ښاغلی محمد داود صدراعظم وویل- چی پاکستان د وحشیانو په څیر پر پښتنو په‌هغو طیاروبمباری کوی چی داتازونی له خوا ورکړی سوی دی.اوهم یی‌په ٥ ورځوکی تر ۱۲۰۰ تنو پوری دپښتنو مشران‌په پیښور کی په جزا محکوم کړی دی ده داخبره ردکړه چی افغانستان د دپښتنو قبایل ولاړیدو ته‌لمسوی (٦ جون ٦۱ جوزا ٤۰) .

دافغانستان پاچا دملی شورا په افتتاحیه ویناکی دپښتونستان‌دخلکو لپاره دخود مختاری حقوق وغوښتل اودکتر عبدالظاهر دملی‌شورارییس کړسو (۸ جون ٦۱ جوزا ٤۰) .

پاکستان پر افغانستان دتیری او لمسون تورولگاوه او پرو تسټ یی ورکیء ۱٥ جون ٦۱ جوزا ٤۰) .

د افغانستان جټ طیاره دکابل د بدی‌هوا په سبب په پیښور کی کښینسته (۱۸ جون ٦۱ جوزا ٤۰).

دراډیوکابل په قول دافغا نستان دپادشاه اود پاکستان د صدرایوب خان دملاقات امکان سته. (۲۰ جون ٦۱ سرطان ٤۰) .

پاکستان اعلان وکیء چی افغانی پونده بیله پاسپورټه او ویزی او بین المللی صحی اجازته پاکستان ته‌نسی را تلای (۲۲ جو ن ٦۱ سرطان ٤۰) .

پاکستان وویل : چی باید د مشرانو تر سره لیدنی دمخه‌د افغانستان او پاکستان تر منځ یوه دوستانه فضا موجوده سی . (۲۳ جون ٦۱ سرطان ٤۰) .

د اتازونی سره د پنځو سوزرو ټنو غلی راوړلو قرار داد (۲۳ جون ٦۱ سرطان ٤۰) .

ښاغلی محمد داؤد صداعظم په لنډن کی د انگریز د خارجه وزیر هوم او د ملکه الیزابت سره ولیدل (۲٦ جون ٦۱) .

د باجوړ او کورم پر کلو باندی د پاکستانی عسکرو حملی (جون ٦۱ سرطان ٤۰) .

ښاغلی محمدنعیم وزیرخارجه وویل چی دپښتنو خو د مختاری غوښتنه هغه یوازینی خبره ده چی د افغانستان او پاکستان روابط یی سره خراب کړی دی ، او پر هغه باندی باید خبری وسی .

دلته د پاکستان د تمامیت او سیمی خبره نسته ، بلکه د پښتنو په قبیلو کی د پاکستان جار حانه اعمال نه زغملی کیږی . (۲۸ جون ٦۱ سرطان ٤۰) .

افغانستان او مکسیکو خپل سیاسی روابط د لوی سفارت ټکانی ته لوړ کړل (۲۹ جون ٦۱ سرطان ٤۰) .

افغانستان او نیپال هم خپل سیاسی روابط د لوی سفارت ټکانی ته لوړ کړل (۱ جولایی ٦۱ سرطان ٤۰) .

ښاغلی محمد داؤد فیدرال جرمنی جمهوریت ته ولاړ . (۳ - ۸ جولایی ٦۱ سرطان ٤۰) .

د اتحاد شوروی د اتومی انرجی هیئت له وزیر خارجه ښاغلی محمد نعیم سره وکتل . (۸ جولایی ٦۱ سرطان ٤۰)

په‌اتازونی کی‌افغانی‌لوی‌سفیردرئیس جمهور کنیدی د لیدنی پر وخت د خپل حکومت عمیق تشویش پردی خبره ښکاره کی ، چی پاکستان امریکایی وسلی پر پښتنو قبایلو باندی استعمالوی . (۲۳ جولایی ٦۱ م اسد ٤۰) .

د بلجیم سره هوائی موافقت نامه (۱۹ اسد ٤۰) .

د افغانستان او چکوسلواکیاملکی هوائی موافقت نامه (۳۱ جو لا یی ٦۱) .

د افغانستان او متحده عربی جمهوریت ملکی هوائی موافقت نامه

(۲آگست م ۱۰ اسد ٤٠).

پاکستان دافغانستان قونسلګری او تجارتي وکالتونه وتړل ، اوتولی دترانزیټ اسانی ئـــی هم پـــر افغانستان بندی کړی (۲۳ اگست ٦١ سنبله ٤٠) .

افغـانستان د پاکستان د ۲۳ اگست د نوټی په جواب کی وویل چی د پاکستان دغه اقـدام یـو د دښمنی عمل بولـی او دسیاســـی روابطو سره پر یکول به ئی نتیجه را وخیـــژی . (۳۰ اگســت ٦١ سنبله ٤٠) .

ښاغلی محمد داؤد صدراعظم د نامنسلکو مملکتـو د کنفـرانس لپاره بلګراد ته ولاړ (۳۰ اگست ٦١) .

پاکستان په یوه سپین کتاب کی پـر افغانستان تـورولګاوه چـی د توسیع غوښتنی سیاست لـری‌اود پاکستان د قونسلګریو د کارو مانع دی (!) (۲ ستمبر ٦١سنبله ٤٠) دافغانستان اوپاکستان سر حدو نه وتـړل سوه، او دما لو ترانـز یـټ هم بندسو.(۳ستمبر٦١ سنبله٤٠).

افغانستان خپل سیاسی روابط د پاکستانه سره وشلـولـه . (٦ ستمبر ٦١ سنبله ٤٠) .

افغانستان هغه پیشنهاد ردکـی چی برتانیا د پاکستان منافـع پـه افغانستان کی وساتی (۷ ستمبر ٦١ سنبله ٤٠) .

دیـروشلـم اسلامـی کـانګرس خواهش وکړ چی افغانـــستان او پاکستان خپل اختلافونه سره حـل کی (۱۲ ستمبر ٦١ سنبله ٤٠) .

ښاغلی محمد نعیم خارجه وزیر جماهیر اتحاد شوروی تـه ولاړ . (١٦ـ٢٠ ستمبر ١٦ سنبله ٤٠)

افغانستان د پاکستان هغه ادعا تکـذیب کـړه ، چـی د افغانستان اقتصادی محاصره‌پخپله دافغانستان له لاسه ده چی د پاکستان له لاری د خپلو تجارتی اموالـو د تیرولـو لپاره نور وسایل نه منی . مگـــر افغانستان وویل . پاکستان غواړی چی د قونسلګریو اوتجارتی وکالتو په بنـدولـو سره افـغانستان پـه اقتصادی محا صره اخته کړی.(۱۷ ستمبر ٦١ سنبله ٤٠).

پاکستان . دایران منځکړ یتـوب د پښتونستان د شخړی د حـل لپاره ومانه (۱۸ ستمبر ٦١ سنـبله ٤٠)

سعودی عـربـی حـکومت پـه افغانستان کی د پاکستان د منافعو ساتنه ومنله (۱۹ ستمبر ٦١) .

د عربو متحده جمهوریت ومنله چی د افغانستان منافع په پاکستان کی وساتی (۲۱ ستمبر ٦١ سنبلـه ٤٠) .

د افغانستان خارجه وزیر ښاغلی محمدنعیم وویل : چی‌افغانستان بـه تر هغه وخته خپل ترانزیتی مالونه د پاکستان له خوا رانوړی نخوچـی د افغانستان قونسلګری او تجارتی

دفترونه هلته بیا خـلاص نسی . (۲۷ ستمبر ٦١ میزان ٤٠) .

د پاکستان صدر ایـوب خان د افغانستان د سیاسی او تجـارتـی ادارو بیا خلاصول نه ومنل ، ځکه چی دده په قول هغه اداری دتخریبی چارو لپاره استعمال کیدی . (۲۹ ستمبر ٦١ میزان ٤٠) .

د اتازونی رئیس جمهور کنیدی د افغانستان پاچا او صدر ایوب‌خان ته پیغامونه راولیږل چی هغه دولت بـه د افغانستـان او پاکستـان د سیاسی روابطو د بیا نښلونی لپاره خپل ښه مساعـی ونـه سپموی . (٤ اکتوبر ٦١ میزان ٤٠) .

راډیو کابل هغـه خبر رد کـی چی گوندی افغانی عسکرو د باجوړ پر د وو کلو حمله کړیده ، بلکـه دایی وویل . چی هلتـه پاکستان بمباری کوی . (۹ اکتوبـــر ٦١ میزان ٤٠) .

دشوروی اتحاد عســـکری ډله د ۱۱ ورځو میلمستیا لپاره کـابل ته‌راغله ۱۱اکتوبر ٦١ میزان ٤٠).

د افـغانستانـه سره د اتحـاد شوروی د تخنیـکـی او اقتصادی همکاری موافقت نامه ١٦ اکتوبـــر ٦١).

افغانستان د امـریکا د متحـدو ایالاتو د رئیس کنیدی له خوا دده دشخصی نماینده په ډول دلیونګ ستون مرچنټ ټاکنه ومنله ، چـی دی به خپل ښه مساعی دافغانستان اوپاکستان دشخړی دپـــر یکړی لپاره په کار واچوی . (۱۹ اکتوبر ٦١ میزان ٤٠).

د سویس سره هوایی موافقت نامه (۲۵ میزان ٤٠) .

دشوروی اتحاد دفواید عامـــه‌د وزیر معین کابل ته راغی چی هغـه پروژی وگوری کومی چی د شوروی اتحاد په کومک جوړیږی . (۲٤ اکتوبر ٦١ عقرب ٤٠).

د رئیس جمهور کنیدی خاص نماینـده لیونګ ستـون مـرچنټ افغانستان او پاکستان ته راغی خو د پښتونستان د شخړی حل یـی نه وموند ، او دایی ومنل چی خپل ښه مساعی به له دیپلو ماسی لاری جاری وساتی . (۲ ـ ۸ نـومبـر ٦١ عقرب ٤٠).

د چکوسلوا کیـا سره تـجارتی پروتوکول امضاسو، چی‌دافغانستان ډیره میوه به رانیسی. (٥ نومبر ٦١ عقرب ٤٠) .

افغانستان او پاکستان دواړو یو دبل پر سرحداتو دعسکرو ټولولو شکـوه وکـړه ، (۱۲ نـومبر ٦١ عقرب ٤٠) .

ښاغلی محمدداؤد صدراعظم وویل چی افغانستان به د خپلی بیطرفی پالیسی ساتی، مگر پاکستان ته‌یی دلمسون اخطار ورکړ . (١٤نومبر ٦١ عقرب ٤٠) .

یوه ضمیمه ترانزیتی موافقت‌نامه دشوروی اتحاد سره امضاء سوه چی د افغانستان ترانزیتی مالوته نوری اسانی هم په هغه مملکت کی وکړه سی . (۱۹ نو مبر ۶۱ عقرب ۴۰) .

۱۹۶۲ م ۱۳۴۰ ش ۱۳۸۲ ق

دافغانستان نماینده په ملل متحده کی وویل :

چی افغانستان دپښتونستان‌لپاره دحقیقت پالونکی ډلی راتلو ته تیار دیء، خوافغا نستان به هغه وخت داشخړه ملل متحده ته راوړی که‌د مذاکری له‌لاری حل‌نسی. (۹جنوری ۶۲ جدی ۴۰) .

دافغانستان او شوروی اتحاد د مصرف عامه د اجناسو ور کولو موافقت نامه اته‌مادی امضا سوه (۱۳ جنوری ۶۲ جدی ۴۰) .

په پاکستان کی دایران لوی‌سفیر دپاکستان ـ ایران ـ افغا نستان فیډریشن پیشنهادکیء . ۲۰جنوری ۶۲ جدی ۴۰) .

محمد انور بسمل دناظر صفرخان زوی ددری شاعر او صوفی په‌کابل کی وفات سو (۳جدی ۴۰) .

دشوروی اتحاد سره د هوا‌مناسی دانکشاف لپاره دخلورو کالوموافقت نامه (۲۳جنوری ۶۲ دلو ۴۰) .

جان ایم ستیویس په کابل کی داتازونی لوی سفیرسو (۲۴جنوری ۶۲ دلو ۴۰) .

افغانستان خپل سرحدونه اته هفتی له پاکستانه سره خلاص کړل چی داتازونی امدادی مالونه راوړل سی. (۲۹ جنوری ۶۲ دلو ۴۰) .

داتازونی دجمهور رئیس کنیدی بل شخصی نماینده چستر باولیس کابل ته راغیء (۲۷ فروری ۶۲ حوت ۴۰) .

د ۱۳۴۰ ش کال دولتی عایدات او مصارف ۲۰۱۲ ملیو نه افغانی وی .

د۱۳۴۰ کال پوهنشمیر : ۱۲۴۸ دهلکانو مکتبونه ـ ۱۷۸ نجو نو مکتبونه ـ ۲۰۳۶۱۲ هلکان ـ ۳۱،۶۸۹ نجونی ـ ۴۸۲۸ ښوونکی ـ ۸۷۰ ښځی ښوونکی .

په۱۳۴۰کال دافغانستان صادرات ۴۰۲۵ ملیونه او واردات‌یی ۴۴۵۹ ملیونه افغانی وی .

۱۳۴۱ ش
(۱۹۶۲ م ۱۳۸۲ ق)

د افغا نستان او شو روی اتحاد دکورجوړولو اودکابل ښار پراخولو د همکاری موا فقت نامه لس مادی امضاسوه (۲۲ حمل ۴۱ش ۱۱اپریل ۶۲)

ښاغلی محمد داؤد صدراعظم دوهم پنځه کلنی پلان اعلان کیء چی ۳ر۳۱ بلیونه افغانی مصرف لری.له دغو څخه یوه دریمه برخه په کانو او صنایعو او یوه څلورمه په په اوبو لګولو او کرنی ـاو یوه څلورمه په موا صلاتو او لارو خرڅیږی (۱۴ اپریل ۶۲ حمل ۴۱)

له ایرانه سره دپنځو کالو د ترا نزیټ موا فقت نامه امضا سوه. (۲۰ اپریل ۶۲ حمل ۴۱)

د پل خمری دبر ینښنا فا بر یکه دشوروی په امداد افتتاح سوه(۶ مئی ۶۲ ثور ۴۱)

دافغا نستان او شو روی اتحاد (۱۸) ملیونو روبلو او ۲۵ ر ۱۶ ملیونو ډالرو دپور موا فقت نامه د سالنګ دلاری‌جوړ ولو اودجلال‌آباد دکانال دنورو چارو لپاره وسوه (۱۷ مئی ۶۲ م ۲۷ ثور ۴۱)

پا کستان دایران دپاد شاه هغه پیشنهاد ومانه چی دافغا نستان سره دپاکستان داختلاف په پر یکړه کی منځګړی‌وکی. (۱ جولائی ۶۲ سرطان ۴۱)

افغا نستا دایران دپاد شاه هغه پیشنهاد ومانه ، چی دپاکستانه‌سره دافغا نستان داختلاف په پریکړه‌کی منځګړی‌و کی ۱۲جولای۶۲ـسرطان ۴۱. دپولنیه سره دافغانستان هوائی موا فقت نامه (۶ سرطان ۴۱)

په کابل کی داعلیحضر تینو محمد ظاهر شاه اومحمد رضاپهلوی او په راو لپنډی کی د اعلیحضرت محمد رضا پهلوی او جنرال ایوب خان ابتدا ئی خبری وسوی، چی څنګه دافغان ـپاکستان اختلاف‌سره حل کاندی. (۲۷ـ ۳۱ جولائی ۶۲ سرطان ۴۱)

په‌کابل اوتهران کی‌یوه‌مشترکه‌اعلامیه خپره سوه چی اعلیحضرت محمدرضا پهلوی به خپل ښه مساعی جاری و ساتی، چی دافغا نستان اوپا کستان روابط سره ښه سی. (۱ اگست ۶۲ م اسد ۴۱)

جنرال ایوب خان دپا کستان رئیس جمهور په کوټه کی وویل :چی که دپا کستان ـافغا نستان ـایران ترمنځ‌یوکا نفیډ ریشن جوړ سی، نو به دوی دخارجی فشاره سره مقابله وکړای سی. (۶ اگست ۶۲م اسد ۴۱)

دافغا نستان پاچا سو روی اتحاد ته په سفر ولاړ (۶ـ۱۵ اگست۶۲م اسد ۴۱)

دپاکستان دجمهور رئیس ایوب‌خان بیاد درو مملکتو دکا نفیډ ریشن خبره تکرار کړه او دائی و ویل : چی ددغو درو هیوادو مشران دی‌په تهران کی ژر سره وګوری. (۱۵ اگست ۶۲ م اسد ۴۱)

په تهران کی دافغا نستان او
پا کستان دخارجه وزیرانو مجوز
ملا قات دوخت نلرلو په سبب و
ځنډ یدیع.
(۱۲ ستمبر ٦۲ سنبله ٤۱)
ایرن غاووکیع چی پرهلمند باندی
دم جوړ ولو له ایرانه اوبه گرزولی
او کنبتونه ئی سوځلی دی. (۱۹
اکتوبر ٦۲ میزان ٤۱)
دافغا نستان دجرمنی دفیډ رال
جمهوریته سره د (۲۰۰) ملیو نو
مارکو دپور قرار داد امضا کیعچی
دبرینبنا دفابریکی اودزیم دوچولو
اودچنبنگ داوبو اود صنعتی چارو
لپاره گټه ځنی واخیستله سی.
(۲٤ اکتوبر ٦۲سنبله ٤۱)
دپاکستان خارجه وزیر وویل :
چی دافغانستان اوپاکستان دنمایند
گانو مجوزه لیدنه داعلیحضر ت
محمد رضا شاه پهلوی سره معطله
سوه ۱۲ اکتوبر ٦۲ سنبله ٤۱
دافغانستان یوی تجا رتی ډلی
دایران لهمامورینو سره دافغانستان
دمالونو دوړو راوړو او په خر مشهر
اومشهد کیدگدامواونورو مشکلاتو
دهیسته کولو خبری وکړی. (۱۰ـ
۳۰ نومبر ٦۲ قوس ٤۱)
ښاغلی محمد نعیم وزیر خارجه ،
پاکستان دشخړو په اوږدولو وغانده
(۱٤ دسمبر ٦۲ قوس ٤۱)
د خواجه عبدالله انصاری طبقات
الصو فیه په۷۳۸ مخه کیدعبدالحی
حبیبی دتعلیقاتو سره په کابل کی
چاپ سو (میزان ۱۳٤۱)
۱۹٦۳م ۱۳٤۱ ش ۱۳۸۲ ق
جان ستیویس داتا زونی لوی
څښه باندی درئیس جمهورکنیدی
سفیر دافغا نستان او پا کستان پر
سره خبری وکړی. (۱۸ جنوری٦۳
دننگرهار پوهنتون دطب دپو هنځی
جدی ٤۱)
سو (٥ فروری ٦۳ دلو ٤۱)
په افتتاح سره په جلال آباد کیجوړ
اتا زونی ټول دمرستی مالونه
دایران له لاری افغا نستان ته وا
ستول (۱۲ فروری ٦۳ دلو ٤۱)
داتحاد جما هیر شو روی دمرستی
موافقه نامه دافغا نستان سره (۲٥
فروری ٦۳ دلو ٤۱)
ښا غلی محمد داؤد صدرا عظم
استعفا وکړه (۱۰ مارچ ٦۳ م ۱۹
حوت ٤۱)